# د اخوان المسلمین اسلامي تحریک

## ماضي او حال

د شلمي پیړۍ د ستر او عظیم ترین اسلامي تحریک
علمي او تفصیلي جایزه، د ایمان او ثابت قدمۍ، د
قربانۍ او سرښندنې لازوال داستان



Ketabton.com

لیکوال: محمد شوقی ذکی
تقریظ: د اسلامی نړۍ مفکر مولانا ابوالحسن علی ندوی رحمه الله
ژباړه: محمد هاشم شاهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اخوان المسلمین اسلامي تحریک ماضِي او حَال

د شلمي پیړۍ د ستر او عظیم ترین اسلامي تحریک علمي او تفصیلي جایزه، د ایمان او ثابت قدمۍ، د قربانۍ او سربښندني لازوال داستان

تصنیف: محمد شوقي ذکي

تقریظ: د اسلامي نړۍ ستر مفکر مولانا ابوالحسن على ندوي رحمه الله

ژباړه: محمد هاشم شاهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| | |
|---|---|
| مقدمه | سید رضوان علی ندوي |
| تعارف | سید رضوان علی ندوي |
| تقریظ | مولانا سید ابوالحسن علی ندوي رحمه الله |
| مقدمه | ډاکټر محمد کما ل خلیفه |
| لومړی باب | د اخوان المسلمین د دعوت یوه عامه جائزه |
| لومړی فصل | د دعوت تاریخ |
| دوهم فصل | د اخوان فلسفه او د هغوی اهداف |
| = | دین اوسیاست |
| = | اسلام د یو ټولنیز نظام په حیث |
| دریم فصل | د اخوان المسلمین ادارتي تنظیم |
| دوهم باب | مصري ټولنه او د اخوان خدمات |
| لومړی فصل | ټولنیز خدمات |
| دوهم فصل | تقافتي خدمات |
| دریم فصل | د مسلمانو ځوېندو سرګرمۍ |
| څلورم فصل | اقتصادي خدمات |
| پنځم فصل | طبي خدمات |
| دریم باب | تبصره - اعتراضات - وړاندویني |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

ډاکټر سید رضوان علی ندوي

### د کتاب قصه

دا کتاب د نن ورځي نه تقریباً یو څلوېښت کاله مخکي د ۱۹۵۷م کال د اګست په میاشت کي د مکتبة الحسنات "رامپور" انډیا نه چاپ شوی دی، د چاپ نه مخکي چي د کتاب په اړه ما کوم تعارف لیکلی وو دهغه په پای کي ۱۷ نومبر ۱۹۵۵م تاریخ تحریر شوی وو، چي په دې لحاظ د اردو ژباړي اشاعت ما ۴۳کاله مخکي بشپړ کړی وو، هغه وخت زه ۲۶کلن وم.

اصلاً د دې کتاب اصلي عربي نسخه ما هغه وخت د ځان سره د مصر نه راوړې وه چي زه د [۱۹۵۳ نه تر ۱۹۵۵] پوري هم هلته پاتي شوی وم، کوم وخت چي د رامپور نه راستون شوم د قدرمن استاد مولانا سید ابوالحسن علی ندوی صاحب(حضرت مولانا میاں علی مدظله) په مشوره باندي مي د یاد کتاب ژباړه په پنځه، شپږ میاشتو کي بشپړه کړه او د تقریظ د لیکلو لپاره مي مسوّده مولانا مدظله ته وروسپارله، او بیا په یو بل ستر علمي سفر سوریې(شام) ته روان شوم، د دمشق پوهنتون د کلیة الشریعه(د شرعیاتو په فاکولته کي/شریعت فیکلټي) کي د خپل تعلیم د پوره کولو او د خپل لومړي عربی تصنیف "العز بن عبدالسلام" د طباعت(۱۹۶۰م) نه وروسته زه د لا لوړو زده کړو لپاره انګلستان ته ولاړم، هلته په کېمبرج پوهنتون کي د پي ایچ ډي لپاره داخله راکړل شوه چي په ۱۹۶۳م کي بشپړه شوه.

په همدې دوران کي دا کتاب د مکتبة الحسنات، رامپور نه په ۱۹۵۷م کي چاپ شو، د دې کتاب کومه نسخه چي په دمشق کي زما لاس ته راورسیده، د مطالعه کولو وروسته مي زړه ته راتېر په دمشق کي پاکستاني سفیر ډاکټر وقار همداني ته ورکړه، موصوف د آکسفورډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون نه د اسلامي تاريخ په بخش کي پي ايچ ډي کړې وه او د مشهور "مستشرق مارگوليته" شاگرد وو، زما دده سره د دمشق په مشهوره او په قلمي کتابونو مالامال کتابخانه(المکتبة الظاهرية) کي پيژندگلوی او تعارف شوی وو، دی په جوناگړ کي پروفيسر پاتي شوی وو او په اسلامي او عربي علومو کي ئې ډيره دلچسپي درلوده، چون د علمی ذوق سړی وو، نو ځکه مي هم دده سره شناخت او راشه درشه زياته شوې وه، ډيره موده وروسته په ۱۹۷۸م کي چي کله د لومړي ځل لپاره د امريکا په سفر ولاړم، نو ده مي هلته ډير په زړه پوري ښه راغلاست او خدمت وکړ، دی هغه وخت د تقاعد وروسته د اسلامي نړۍ درابطې په دفتر کي مسئول او په ملگرو ملتونو کي د رابطې نماينده وو، ده د ښې ساري اخلاقو د درلودو له کبله زه تر هوايي ميدان پوري راورسولم، ملگري ملتونه ئې راباندي وليدل، او د جمعې لمونځ مي دده سره د ملگرو ملتونو په اپارتمان کي په يوه مخصوص ستر اطاق کي اداء کړ، او بيا مي د هغه ځای په "کيفې ټيريا" کي د هغه سره ډوډی وخوړله، ده په نيويارک کي هم زما د اوسېدو انتظام د يوه اندونيزيايي ځوان محمد نور په فلاټ کي وکړ، چي د سعودي په کونسلگري کي ئې دنده درلوده.

د کېمبرج نه د دکتورا د اخيستلو وروسته زه د وظيفې په نيت د رياض(سعودي عرب) "پاچا سعود پوهنتون" ته ورغلم، داغسي مي په شام او انگلستان او بيا په سعودي کي د دوه کلني هستوگني په دوران کي چي د اردو ژبي سره بې ربطه پاتي شوی وم او د انگريزي او عربي ژبي د مسلسل اشتغال په سبب حتی ما خپل لومړی تأليف کړی کتاب هم تقريباً هېر کړی وو.

پوره يوه لسيزه وروسته چي کله ما پاکستاني تابعيت(Nationality) په لندن کي ترلاسه کړی وو، نو د يو پاکستاني په حيث کراچي ته راغلم، او ددې ځايه رامپور ته ولاړم نو د مکتبة الحسنات د مالک مولانا عبدالحی صاحب نه مي د خپل کتاب په اړه وپوښتل، خبر شوم چي په پاتي شويو کتابونو کي خو پيدا نه شو، نو ځکه ئې هم اوس کومه چاپي نسخه راسره نشته، چي دې ځواب ډير پريشانه کړم.

په عربي پوهنتونونو کي چي زما تدريسي سلسله په ۱۹۶۳م کي پيل شوې وه، هغه ځلېرويشت کلونه يعني تر ۱۹۸۷م پوري جاري پاتي وه، په دې دوران کي مي څوارلس کلونه د لېبيا په بنغازي پوهنتون کي، او لس کلونه(البته په دوه وو مراحلو کي) مي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعودي عرب په پوهنتونونو کي خدمات ترسره کړل، په پای کي مي استعفی ورکړه او کراچي ته راوګرځېدلم، او د همهغه وخته مي د خپل لومړي چاپ شوي اردو کتاب تلاښ پیل کړ، په همدې موخه مي د کراچي او لاهور او... کتابخانې پلټلي وې، هندوستان ته هم ولاړم او د دهلي، رامپور، ندوه او لکنو په کتابتونونو کي هم وګرځېدلم، کتاب مي ونه مونده، خو اوس شپږ یا اوه میاشتي مخکي زما یوه ځوان، علم دوست او د مطالعې شوقي ملګري د واپډا انجینیر(Wapda چي پاکستاني برقي شرکت دی) راشد شیخ صاحب زما په غوښتنه یاد کتاب په مکتبه مرکز جماعت اسلامي منصوره کي پیدا کړ او د هغه فوټو سټېټ(Copy) ئې راولیږه، چي په دې توګه ما د پوره څلوېښت کاله وروسته خپل کتاب ولیده، بخت مي دلته پر ځای وو چي کله په ۱۹۹۲م کي طوفاني سیلابونه راغلل او د یادي کتابخانې په سلګونه جلده کتابونه ئې خراب کړل، خو د هغو ټولو اوبو باوجود د اخوان المسلمین په اړه زما لیکل شوی نادره کتاب همداسي محفوظ او خوندي پاتي شو.

لوستونکي به شاید دا ګمان هم ونکړای شي چي د ځوانۍ په وخت کي زما د تألیف شوي کتاب د یو ځل بیا په موندلو سره زه څومره خوښي احساسومه، هسي هم زما د تصنیف او تألیف سلسله د ۴۳کلونو راپه دې خوا مسلسل شروع ده او متعدد کتابونه مي په عربي او انګریزي ژبو کي د مختلفو هیوادونو نه چاپ شوي دي، او د اردو ژبي دوه کتابونه مي تر چاپ لاندي دي، خو ددغي لومړی علمي ذخیرې سره مي د زړه الفت یو بل ډول وو، اوس چي مي ددوهم چاپ لپاره نظر ثاني ورباندي وکړ ګورم چي په یاد کتاب کي د منځني ختیځ د عظیم ترین تحریک اخوان المسلمین په اړه انتهایي مهم تفصیلات او معلومات موجود دي، که څه هم دا هر څه اوس نسبتاً زاړه شوي خو د هغوی تاریخي او معلوماتي حیثیت پر خپل ځای همداسي پاتي دی، په شلمه پیړۍ کي د اسلامي تحریکونو د مطالعه کوونکو لپاره او بالخصوص د دغه تاریخ جوړونکي تحریک عظیم تاریخ د مطالعه کوونکو لپاره دا کتاب نن هم ډېر مهم دی، او په دې کي زموږ د هیواد د اسلامي تحریکونو تنظیمي، اقتصادي، علمي او په تعلیمي میدانونو کي د رهنمایئ او لارښووني لپاره ډېر څه پراته دي.

د اخوان المسلمین په اړه که څه هم په عربي او انګریزي ژبو کي ډېر کتابونه لیکل شوي دي، خو ما تر اوسه په دې اړه کوم جامع کتاب ندی لیدلی، چي د یاد کتاب سره یې پرتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړای شم، دا يو نایاب کتاب دی نو ځکه مي هڅه وکړه چي د دوهم ځل کتلو وروسته ددوهم ځل لپاره چاپ کړای شي.

په ياد چاپ کي د لاندي ټکو اضافه شوې ده:

- د يوې تفصيلي مقدمې په ليکلو سره د ۱۹۵۴م نه را پدېخوا د اخوان المسلمين د تحريک پر مدوجزر رڼا اچول شوې ده، او په دې دوران کي چي دوی د کوم دردوونکي وخت او حالاتو نه تېر شوي د هغو کړاوونو ځيني اړخونه ليکل شوي دي.

- ددي اوږدې مقدمې په ليکلو سره ياد کتاب يو ځل بيا تازه(Uptodate) شوی، يعني په ۱۹۷۱م کي چي اخوان ته په مصر کي يو ځل بيا د انور سادات په وخت کي د محدودي مودې لپاره د فعاليت اجازه ورکول شوه، او د هغه وخت نه تر اوسه(۱۹۹۸م) پوري پر همهغو تحريکي سرګرميو رڼا اچول شوې ده.

- د کتاب د عبارتونو په رواني ستونزو کار شوی.

- ډيري نوي حاشيې پکي اضافه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اخوان سره زما تعلق:

په نني عصر کي به شايد داسي کوم تحريک وي چي ددومره جبر و قهر، قيد و بند، د دار و زيندئ، او د کيني او عداوت له داسي پُرابتلاوو پړاوونو نه راتېر شوی وي د کومو نه چي دغه اسلامپال تحريک را تېر شوی او بيا دي هم هغه ژوندی او فعال وي، زه چي څرنکه په مصر کي د اخوان المسلمين د کامرانه او مقبولو ورځو شاهد يم همداسي د هغوی د ځپونکو شپو او د کړاوونو نه د ډکو ورځو عيني شاهد هم يم.

د اخوان سره زما تعلق مصر ته له تګ نه مخکي د مکې مکرمې نه پيل شوی وو، ددغو حوادثو تفصيل دادی چي زه په ۱۹۵۰م کي د "معظم استاد مولانا علی صاحب مدظله" او "مرحوم و مغفور مرشد حضرت شاه عبدالقادر رای پوري" په څنګ کي حج ته ولاړم، هلته مي د علمي زده کړي په موخه درې کاله تېر کړل، په همدې کال د مصر نه يو ځوان مشر استاد سعيد رمضان د اخوان په نماينده ګي راغلی وو ما هم د مولانا مدظله د شاګرد او کارکوونکي په حيث د هغه سره تعارف او ليدنه وکړه، چي وروسته مو دا شناخت تر کلونو پوري په سوريې، مصر او جينوا کي همداسي باقي پاتي شو، ما د ياد پُراثره او احسن الکلامه ځوان اخواني مشر(چي دی د اخوان د مؤسس شهيد حسن البناء رحمه الله زوم هم وو) وينا او خطبه چي د وظيفې له مخي وکيل(Lawyer) وو د لومړي ځل لپاره په مکه کي واورېده، ده هغه وخت د مکې په يوازني هوټل(اوتيل بنک مصر) کي يوه جلسه کړې وه، ما د لومړي او آخري ځل لپاره مولانا عبدالعليم صديقي(د مولانا شاه احمد نورانی صاحب والد مرحوم) په انګريزي ژبي د تقرير په حالت کی وليدی، چي په عربي ژباړل کېده او دده سره سره مي د خپل معظم استاد علی ندوی مدظله عربي تقرير هم واورېده.

په مکه مکرمه کي د قيام په وخت کي پر عربي ژبي او ديني زده کړي سربېره زما دا کار هم وو چي د حج په وخت کي د عربي نړۍ د خلکو سره تعلقات وساتم او وپالم، د دوهم حج پر وخت د مصري تحريک اخوان المسلمين يو هيئت د اسکندريه پوهنتون د يو تن استاد ډاکټر عبدالعزيز کامل په مشرئ راغلی وو، په هغه کي د اسکندريې پوهنتون او قاهرې پوهنتون ځيني شاګردان هم شامل ول، د دوی له جملې نه مي د قاهرې د پوهنتون د يو تن

(c) ketabton.com: The Digital Library

محصل(محب الحسنی المُحجري) سره ملاقات او ملګرتیا وشوه چي د خط په واسطه ئې لا هم دوام وموند.

وروسته چي کله په اګست ۱۹۵۳م کي مصر ته ولاړم نو د محب المحجري سره مي ولیدل، په پیل کي زه د ښار په منځ کي عابدین قصر ته نږدې پر شارع(څړک)عبدالعزیز باندي په یوه فلاټ کي د ځینو نورو پاکستاني محصلینو سره هستوګن شوم، یوازي وم او د اطاق کرایه هم ډېره وه، محب المحجري چي د ښار د یوې څنډې په یوه نوې آباده شوې سیمه"الدُّقي" کي اوسېدی، زه ئې هم جبراً د ځان سره خپل فلاټ ته بوتلم، که څه هم داځای د ښار نه نسبتاً لري وو خو پراخ وو او کرایه ئې هم کمه وه، په همدې فلاټ کي د مصر د نورو ښارونو نه راغلي څلور تنه نور اخواني ځوانان هم مېشت ول، چي ددوی له جملې نه دوه تنه په کوم مکتب کي استادان، یو تن د قاهرې پوهنتون چي نږدې وو محصل او آخري ځوان په یوه شرکت کي کاریګر وو، محب المحجري خپل اطاق ماته پرېښوده ځکه دی د کوم دوستانو کور ته د اوسېدو په نیت ولاړی، ما ددغو اخواني ځوانانو سره د مصر په همدغه فلاټ کي نږدې یو نیم کال تېر کړ، چي زما لپاره ډېر مهم وو، د دلبیرس-الجوهر څړک، د الدقی سیمي په یاد فلاټ کي مي د هغه ساده ځوان سره هم ملاقات وشو چي د پیپونو د جوړولو او فټنګ کار یې کاوه یعني نل ساز(Plumber) وو، هفته یا لس ورځي وروسته دا تور ورباندي ولګېده چي ګواکي ده پر جمال عبدالناصر د اسکندریې په ښار کي د یوې جلسې په دوران کي ډزي کړیدي، دا څنګه ښکرور بې سر او پښو دروغ وه، په دغسي حقایقو یوازي ماغوندي کسان خبر دي چي د هغه ساده ځوان سره ئې لیدلي ول، یا ده ته نږدې ول، په هر صورت دی ونیول شو او څو میاشتي وروسته د فوځي محکمې له لوري د اعدام په سزا محکوم شوی وو.

ددې وروسته پراخ مصر پر ما تنګ شو، د قاهرې پوهنتون د کلیة الدارالعلوم(دارالعلوم پوهنځي) کي زما د شمولیت او داخلې خبره همداسي پاتي شوه، خو وروسته الله جل جلاله زما دغه شوق چي په عربي پوهنتون کي به درس وایم په دمشق کي را پوره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ترتیب زه د اخوان المسلمین د الدقي سیمي د یوه یونټ(Cell) یو فرد وشمېرل شوم، اکثراً به د سه شنبې په ورځ هفته وارو اجتماعاتو او غونډو ته د اخوان مرکزي دفتر Head) (Quarter الحلمیة الجدیدة ته ورتلم، په یادو عمومي غونډو کي به اخواني مشرانو او یا له خارج نه راغلیو مېلمنو تقریرونه کول، همدلته مي یو ځل د ایران د تحریکِ فدائیان ځوان او زړه ور مشر نواب صفوي په عربي ژبه د تقریر په حالت کي ولیده، ددې انقلابي مشر تقریر ډېر د فصاحت او بلاغته ډک وو، د الله اکبر زرګونو ملکوتي شعارونو د اخوان مرکز په لرزه راوستی، څو کلونه وروسته ایراني شاه په اعدام محکوم کړ.

په همهغو ورځو او همدې مرکز کي مي د اخوان د تحریک د عام مرشد(عمومي مشر) متقاعد قاضي حسن الهضیبي صاحب سره د ملاقات شرف په برخه شو، د تحریک د مؤسس او لومړي عام مرشد(حسن البناء مرحوم) وروسته چي په ۱۹۴۹م کي د مصر د استخباراتو له لوري په شهادت رسیدلی وو، دی دوهم عام مرشد وټاکل شو، حسن الهضیبي صاحب د مصر د ستري محکمې(Supreme Court) (محکمة النقض والابرام) متقاعد قاضي پاتي شوی وو، وروسته چي کله پر اخوان المسلمین د "جمال عبدالناصر" په واسطه د مصیبتونو غرونه رامات شول او د قید و بند او حکومتي ظلمونو یوه بې پایانه او دردېدونکې لړۍ پیل شوه دغه سپین ږیري او متقاعد قاضي چي ډېر زړه سواند، نرم مزاجه او نرم ګفتاره مذهبي مشر وو، ته د اعدام سزا واورول شوه، دا ۱۹۵۴م کال وو، وروسته دا سزا په ۲۵پنځه ویشت کلن د جزا او نقصان حبس(Penal Servitude) باندي واوښتله، د ډېرو کلونو د تېریدلو وروسته دی بیرته آزاد شو، او په ۱۹۷۴م کي وفات شو.

## اخوان المسلمین او مصري انقلاب :

کوم وخت چي زه مصر ته ولاړم، هغه وخت د شاه فاروق په خلاف د مصري انقلاب یو کال تېر شوی وو، دا وخت په مصر کي د اخوان المسلمین د شهرت او مقبولیت ډېر مهم عصر وو، ځکه کوم مصري شاهي نظام چي په مصر کي د انګرېزانو لپاره یو سمبولیک حیثیت درلود د هغه په خلاف د اخوان ردِعمل د پام وړ وو، چي وروسته به د یاد کتاب په ځینو فصلونو کي دا واضحه شي چي اخوان څو ځله مسلسل د انګرېزانو په اشاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نڅېدونکو سمبوليکو دولتونو سره په ټکر کي واقع شوی وو، د فلسطين د ۱۹۴۸م په ناکامي جګړي کي د ونډي اخيستلو وروسته دوی په فوځ کي د نورو مصري مشرانو تر څنګ په پټه او مخفي توګه د مصري فوځي او سياسي قيادت په خلاف په ياده جګړه کي ددغه ناقصي کارکردګی او غداری په خلاف سرګرمه ول، ډېر کم خلک خبر دي چي د جولای ۱۹۵۲م کال نه په مصري فوځي انقلاب کي د جمال عبدالناصر او انور سادات او نورو سره سره اخوان هم په پټه د خپلو سترو فوځي افرادو په ذريعه ډېر ستر رول لوبولی وو، زه شخصاً هغوی پيژنم او د هغو افسرانو نومونه مي هم په ياد دي چي تر جمال عبدالناصر په رتبه لوړ او يا دده سره هم منصبه او ملګري ول، جنرال رشاد مهنأ، کرنل ابوالمکارم عبدالحيّی، کرنل عبدالرؤوف عبدالمؤمن او نور... کرنل عبدالرؤوف عبدالمؤمن وروسته په ۱۹۵۷م کي زموږ سره په دمشق کي يوه غرمه تيره کړه، کوم وخت چي زه په دمشق کي په يوه اپارتمان کي د څو جلاوطنه اخواني ځوانانو سليمان الهضيبي او محمد عرفه سره يو ځای اوسيدلم، هغه وخت کرنل عبدالرؤوف د ظالم عبدالناصر او سوشلسټ مصري فوځي مشر د انتقام په نښه وو، دی په مخفي توګه له مصره وتلی وو او د سوريې له لاري ترکيې ته روان وو.

عرض مي کاوه چي د مصري فوځي انقلاب وروسته او په دې انقلاب کي د اخوان د شرکت په سبب په حکومت کي ددوی د مقبوليت دا يو روښانه عصر وو، جمال عبدالناصر او انقلابي کونسل اخوان ته د ځينو وزارتونو وړانديز هم کړی وو، خو د اخوان قيادت د خپلو ديني او فکري شرايطو د نه تسليمولو په سبب د محدودو وزارتونو منل او د هغوی ياد وړانديز رد کړ، په هر صورت په لومړيو دوه کلونو کي د انقلابي حکومت سره ددوی تعلقات او اړيکي ډېري ښې وې، پاچا جنرال نجيب، جمال عبدالناصر او نور انقلابي وزيران څه موده وروسته د شهيد حسن البناء رحمه الله قبر ته د فاتحې لوستلو لپاره تللي ول، نور تفصيلات به لوستونکي په کتاب کي ولولي.

## اخوان د انقلابي حکومت سره په اختلاف کي او پر دوی ظلم و ستم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمال عبدالناصر د استبدادي اقداماتو او اشتراکي(Socialist) افکارو په سبب د اخوان او فوځي مشرتابه تر منځ اختلافات پيدا شول، اخوان د جمهوريت په ځېر نظام او انتخاباتو حامي و داعي وو، خو عبدالناصر د خپلو سازشونو په وسيله اسلامپال پاچا (جنرال نجيب) له حکومته لري کړ، انتخابات ئې تر نامعلومې نيټې پورې وځنډول، د هيواد نظام ئې د اسلامي کولو پر ځای او حکومتي چارې ئې د اسلامي اصولو مطابق د پرمخ وړلو نه رامنع کړلې، د اختلافاتو دا لړۍ هغه وخت اوج ته ورسېدله چې په مصر کې د مېشتو انګريزي اشغالګرو ځواکونو په اړه د انګريزانو سره مذاکرات ترسره کېدل، اخوان ددغو نرمو شرايطو په خلاف وو، پر کومو شرايطو چې جمال عبدالناصر او دده د مرستندويه انقلابي کونسل غړي تيار ول، د انګرېزانو سره پر دې مسئله باندې په مذاکرانو کې په مصر کې د هندوستان سفارتخانې ډير ستر او مُهم رول اداء کړی وو، زما دا انکشاف به حتماً نوی وي، خو زه هسې اوريدلی او بې اساسه خبرې نه ليکم بلکې د شخصي معلوماتو پر اساس داسې وايم، زه هغه وخت هندوستاني وم، يو پخوانی هندوستاني سياسي کارکوونکی او د مولانا ابوالکلام آزاد او سُبهاش چندر بوس او نورو پخوانی ملګری او کانګريسي مسلمان غړي مولانا عبدالله المصري هغه وخت مصر ته راغلی و[1].

ده راته ويلي وو چې زه بايد په قاهره کې هندوستاني سفير علی ياور جنګ بهادر (Brave Warrior) ته عربي ژبه ورزده کړم، زه دوه ځلې د عربي د تدريس لپاره سفارت خانې (Embassy) ته ورغلم، په همدې وخت کی هغه د ملګرو ملتونو د غونډې په مناسبت نيويارک ته ولاړی، د سفارتخانې عسکري ملحق(ملټري اتاشي) ډګروال مدن په دغه موقع زما نه وغوښتل چې ده ته عربي ووايم، نږدې يوه مياشت وروسته(په هفته کې يوه ورځ) چې ما هغه ته ابتدائي عربی ويلې وه، ده وروسته ځکه د زده کړې نه معذرت وکړ چې د

..............................................................

[1] د ده سره مې د لومړي ځل لپاره په مکه مکرمه کې ملاقات شوی وو، موصوف هلته او په نورو عربي هيوادونو کې د هندوستاني جاسوسي ادارې(RAW) لپاره کار کاوه، لکه څرنګه چې زما او د نورو ندوي ملګرو په مکه مکرمه کې د پاکستاني سفارتخانې د افرادو سره رابطه بحاله وه، بلکې خپله د پاکستاني سفير "بهار کې مسعود صاحب" سره زما ملاقات وو(ماد حجاز والي"وائسرائے" امير فيصل د لومړي ځل لپاره د پاکستاني ملي ورځې په مناسبت د سفارتخانې په استقباليه کې ليدلی وو) نو ځکه عبدالله المصري صاحب د مولانا(ډاکټر) عبدالله عباس ندوي دهلوي په وينا زموږ په خلاف هندوستاني حکومت ته راپور ورکړی وو چې ګواکې موږ د پاکستان لپاره جاسوسي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېزانو سره په مصري مذاکراتو کي دی ډېر مصروف دی، په همهغه زمانه کي د مصر یا جمال عبدالناصر د هند د جواهر لال نهرو سره ملګرتیا زیاته شوه، چي وروسته د روسانو په لور په کږېدلو سره لا محکمه شوه، او د پاکستان سره د مصر تعلقات یا خراب او یا هم ډېر ساړه شول، حالانکه د مصري فوځي انقلاب په پیل کي دا تعلقات ډېر نږدې، د ورورۍ، دوستانه او مضبوط ول، او اخوان خو بیا د اسلام په نوم او علت د پاکستان سره ډېر جوړ وو.

زما په یاد دي چي په جنوري ۱۹۵۴م کي د اخوان موجوده نوي معمر مرشد او د هغه وخت ځوان مصطفی مشهور د منیل الروضه په محله کي د اخوان په مسجد کي د همدې انګریزي فوځونو د انخلاء پر مسئلې د جمعې د خطبې نه مخکي ډېر پُر جوش تقریر وکړ چي په هغه تقریر کي ئې پر فوځي حکومت سخت انتقاد وکړ، لمونځ هم د مصطفی مشهور صاحب په امامت کي ترسره شو، خو د جمعې د لمونځ نه فوراً وروروسته چي تر اوسه لا لمونځ کوونکي په مسجد کي موجود ول پولیسو د ټوپک په واسطه ډزي وکړې، خلک یو لور بل لور ته په منډو شول، زه هم د خپل اخواني ملګري حسین اسکندري سره یو ځای د سیمي نه محفوظ ووتلم، ډېر خلک ونیول شول، مصطفی مشهور هم ونیول شو خو وروسته ئې خوشي کړ، خو یوځل بیا په اګست ۱۹۵۴م کي ونیول شو او په لس کلن حبس محکوم شو، چي دا بیا یوه بېله قصه ده.

په هغو ورځو کي به مصري جاسوسي پولیسو زموږ د فلاټ نګراني او څارنه کوله، په جولای ۱۹۵۴م کي د انقلاب د دوهمي کلیزي پر مهال جمال عبدالناصر په اسکندریه کي خپل په غونډه کي د یو سازش له مخي چي دده د افرادو له لوري په پوره احتیاط سره ډزي وشوې، دومره احتیاط چي د ډزو نښه اصلاً د سټیج نه بلکي په بل لور وه، همدا سازش ئې پلمه کړ او پر اخوان ئې ددې ترور د هڅي تهمت پوري کړ، پورته ذکر شوی د پائپونو کارکوونکی(عبدالطیف) په همدې تور ونیول شو او په فوځي محکمه کي ئې دوسیه پیل شوه، خو د یوې یا دو میاشتو په کمه موده کي ئې سمدستي اعدام(شهید) کړ، پر اخوان ئې کړۍ ډېره تنګه کړه، د اخوان په خلاف ئې په تلویزیونونو او اخبارونو کي(چي ټول دولتي Nationalised شوي ول) باقاعده پلان شوي منظم کوششونه(پروپاګند) پیل شوه، د حکومتي بدماشانو په ذریعه ددوی مرکز وسوځول شو، د اخوان مکمل قیادت ئې بندي کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په رأس کي ئې علماء، مشائخ، د سترو شرکتونو مالکان او د پوهنتونونو پروفیسران شامل ول، دا هر څه ددې لپاره وشول چي د اخوان له لوري د ائیتلافي حکومت سره اختلاف د تل لپاره وځپل شي او اخوان بیا ددې وړتیا تر لاسه نکړي چي د بل حکومت په مقابل کي دي د اختلاف سر پورته کړي.

دا خبره مصري فوځي قیادت ته ډېره ښه معلومه وه چي اخوان یو رضاکارانه نیمه عسکري تنظیم(النظام الخاص) لري، چي د هغه سره د فلسطین د ۱۹۴۸م کال د جګړي پاتي شوې ډېره اسلحه موجود ده، چي د مصر د حکومت په اجازه یې خوندي کړې وه او یو څه سلاح د حکومت له لوري هم ورکول شوې وه، جمال عبدالناصر او د هغه ډېری فوځي ملګري چي د فلسطین په یادي شوي ناکامي جګړي کي موجود ول ددې خبري نه خبر ول. اوس نو په ډېر جسارت سره پر دوی دا تور هم پوري شوی وو چي اخوان دغه اسلحه د انقلابي حکومت په مقابل کي د بغاوت لپاره په غیر قانوني توګه جمع کړې وه، او ددوی دا دسیسه او پلان وو چي د فوځي قیادت ارکان قتل کړي او حکومت او واک یوه رجعت خوښوونکي (Reactionary) حکومت ته وسپارل شي، په دغه زمانه کي د "رجعیه"(رجعت خوښوونکې) اصطلاح په حکومتي میډیا کي ډېره پورته کښته کیده، او د همدې پردې تر شا د دینداري او اسلامپالني په خلاف ډېر زهر شیندل کیدل.

زه په دې مناسبت د یوه بل راز نه هم پرده پورته کوم چي په پاکستان او هندوستان کي به ډېر محدود کسان تري خبر وي، هغه دا چي د اخوان المسلمین د امن خوښوونکي اسلامي تحریک د ځپلو او تباه کولو لپاره ټول پلان او کار د امریکا په مرسته ترسره کېده، په ۱۹۶۷م کي د مصر و اسرائیلو د جګړي پر مهال چي مصر په ډېر ذلت سره ماتي وخوړله، وروسته چي د مصر فضائي او هوائي ځواک ناڅاپه د اسرائیلو په هوائي بمباردونو کي مکمل تباه شوی وو، یوه اسرائیلي مخفي جاسوس یو کتاب لیکلی وو چي عربي ژباړه یې د (عند ما تحطمت الاسراب) په نوم شوې، ما یاد کتاب د همدې جګړي نه څو میاشتي وروسته په بنغازی کي لوستی وو، د کتاب انګریزي نوم مي په یاد ندی خو ممکن داسي به وو (When the Squdrons were Crushed). مصنف چي په دغه وخت کي ئې په مصر کي د اسرائیلو لپاره ښه بریالی جاسوسي کوله ددې خبري نه پرده پورته کړېده چي د مصر د انقلاب وروسته چي کله په شرق اوسط کي د انګرېزانو د نفوذ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه وړلو لپاره د مصري حکومت له لوري د امريکا سره موافقت شوی وو، جمال عبدالناصر د مصري استخباراتي پوليسو په بدل کې چې د انګريزانو په لاس روزل شوي وو او د پاچا خدمتګار ول د يوې نوي استخباراتي پوليسي شبکې د منظم کولو او جوړولو لپاره د امريکا نه مرسته وغوښتله، په امريکا کې هغه وخت د جرمني د نازيانو نه تښتيدلي ډير فوځي او پوليسي افسران موجود ول، امريکا هغوی مصر ته وليږل، ددوی نه ځيني نازيان ظاهراً مسلمان شول، او دوی خپل نومونه د فلسطين د مفتي(محمد امين الحسيني) په نوم محمد امين ته ورته کېښودل، دا خبره بايد ياد وساتل شي چې ددوهمي نړيوالي جګړي پر مهال الحاج امين الحسيني د انګرېزانو د لاسونو نه په تېښته او جرمني ته په رسېدلو بريالی شوی وو، د انګرېزي استعمار په خلاف ئې د برلېن د راډيو نه پروپاګند کول، نو ځکه چې کوم جرمني ووايي چې دده په لاس ئې ايمان راوړی دی په مسلمانانو او بالخصوص اخوان کي ډير محبوب بلل کېده، د همدې لاري نه دغه دروغجن نازيان د مسلمان شوي جرمن وزير داخله "زکريا محی الدين" د منصوبې له مخي د اخوان په منځ کي ځای پر ځای کړل شول، او دوی ته دا دنده ور وسپارل شوه چې د اخوان په صفونو کي د جرمني د مسلمانانو په صفت سرايت وکړي، او د اخوان د نيمه عسکري تنظيم تمريني(Training) او تربيتي چاري پر مخ يوسي، دوی به په دې ډول سره وکولای شي چي د اخوان مخفي او پټو اسلحو ته لاس رسئ پيدا کړي، او بيا مصري حکومت ته راپور ورکړي، دا کار په ډيره راز داري او مهارت سره ترسره شو، نازيانو خو هسي هم د داسي کارونو د سرته رسولو لپاره په خپل هيواد کي مهارت تر لاسه کړی وو، له دې لاري د جمال عبدالناصر فوځي حکومت د اخوان المسلمين د نيمه عسکري او استخباراتي تنظيم په اړه تفصيلي معلومات لاس ته راوړل، د اسکندريه په جلسه کي پر جمال عبدالناصر باندي ددوی د سازش له مخي ډزي وشوې، چي وروسته ئې د څيړلو لپاره فوځي محکمه تشکيل شوه او د هغي محکمې مخي ته هر څه کېښودل شول، په دې طريقه ئې اخوان بدنام کړ، د هغه په خلاف ئې دروغجني دوسيې ترتيب کړې او په څو مياشتو کي ئې څو د ګوتو په شمېر خو تر ټولو ستر اخواني مشران لکه د ستري محکمې مشهور وکيل او ممتاز قانون پوه او مصنف "عبدالقادر عوده"، ازهري عالم "شيخ فرغلي" او نور شپږ کسان اعدام کړل، خو د انقلابي کونسل هغه رکن او د انقلابي محکمې هغه مشر(کرنل جمال سالم) چي دغه پاک نفسه اشخاص ئې په اعدام محکوم کړي ول ډير ژر ليونۍ شو او د نيويارک په يوه شفاخانه کي ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چي د اخوان المسلمين د تحريک په ځپلو کي د امريکا او جمال عبدالناصر تر منځ په تعاون او مرسته کي شک لري هغه دي د امريکا د استخباراتي شبکې(CIA) د مؤسس "مائلز کوپلېنډ Miles Coopland "کتاب(The Game of Nations) "د قومونو لوبه" مطالعه کړي، چي تفصيلاً پکي ليکل شوي چي څرنګه امريکا په سوريه کي په ۱۹۴۹م کي د فوځي انقلابونو سلسله پيل کړه، او دغه ستر امريکايي جاسوس په دغو لوبو کي کوم کردار ولوبوه، او بيا ده څرنګه جمال عبدالناصر او د هغه د ځينو نږدې ملګرو سره تعلقات پيدا کړل او په مصري فوځي انقلاب کي ئې څومره ونډه او رول درلود، دی جمال عبدالناصر ته څومره نږدې وو، دا کتاب د ۶۰شپيته ايمي لسيزي په پيل کي چاپ شوی وو، مصر، سوريې او عراق ته ددغه کتاب راوړل سخت منع وو، په عربي هم دغه کتاب د "لعبة الامم" په نوم وژباړل شو او بيروت چاپ کړ، زه ددغو دواړو هيوادونو نه په خارج کي وم، کېدای شي په پاکستان کي ئې هم اردو ژباړه شوې وي.

د انقلابي مصري حکومت اړيکي او روابط د امريکا سره د ۱۹۵۴م کال په پای کي هغه وخت خرابي شوې چي کله مصري هيئت امريکا ته تللی وو او هلته ددوی سره يوازي دوه ميليونه ډالر مرسته وشوه، دغه دوه ميليونه ډالر مرسته مصري انقلابي فوځي حکومت د ځان لپاره د توهين او سپکاوي مترادف وبلله، ددې وروسته جمال عبدالناصر د روسيې نه د فوځي مرستي غوښتنه وکړه، او د روسانو سره ئې اړيکي پراخي کړلې، ددغو روابطو په جوړولو کي د کمونيستې ګوند او انقلابي کونسل يو رکن(خالد محی الدين) ستر رول ولوبوی، هندوستاني حکومت يا جواهر لال نهرو د خپل رسوخ او منځګړيتوب نه ګټه پورته کړه او دغه نوي پيل شوي اړيکي ئې لا ژوري او عميقي کړې، بالاخره مصر د جمال عبدالناصر په وخت کي د روسيې غيږي ته ولويدو، خو لکه څرنګه چي د اسرائيلو سره د اختلافاتو د حلولو او د فلسطين په مسئله کي روسيې کوم مثبت کردار نشو لوبولای نو ځکه هم جمال عبدالناصر د خپل مرګ نه څو مياشتي مخکي د مسکو د سفر نه تر راستنېدلو وروسته خپل نائب ولسمشر انور سادات ته د امريکا سره د اړيکو پراخولو لپاره زرغونه اشاره (Green Signal) ورکړه، او بالاخره د جمال عبدالناصر د مرګ نه وروسته مصر يوځل بيا د امريکا خوا ته ورمنډه کړه، اسرائيلو ته هم تسليم شو او سفارتي اړيکي ئې ورسره فعاله کړې، کوم وخت چي د امريکا سره د مصر د انقلاب په وخت اړيکي جوړي شوي وې يو ځل بيا په ښکلي يارانې واوښتې، اوس بيا دا دي کلونه وروسته دا اړيکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل عروج پړاو تیروي، او مصري حکومت چي مشري ئې د څه مودې نه د یوه پخواني فوځي افسر په لاس کي ده د امریکا په اشاره کار کوي.

امریکا په ډېره چالاکي او بیداري سره دصلیبي عداوت او دښمنی تر چتر لاندي اخواني تحریک چي د غربي اثراتو منلو ته کله هم چمتو نه وو خپله په همغه مصري انقلابیونو وځپی.

په حقیقت کي جمال عبدالناصر په خپل حکومت کي تل یو داسي فرد وساته چي د امریکا سره ئې پټي او مخفي اړیکي ساتلې، دا کس د مصر داخله وزیر(زکریا محی الدین) وو چي ده لکه څرنګه چي پورته یادونه وشوه د امریکا نه هغه نازي پولیس افسران ترلاسه کړي ول، چي د هغوی په واسطه ئې مصري استخباراتي پولیس پر نازي خطوطو او طریقو منظم او ځای پر ځای کړل، هغه نازیان چي د مسلمانانو په نومونو سره د اخوان په تنظیم کي شامل شول او د هغوی جاسوسي ئې وکړه، د اخوان په ځپلو کي ئې د مصري حکومت مرسته وکړه، همدغه زکریا محی الدین وروسته په ۱۹۶۷م کي د مصر او اسرائیلو د فیصله کوونکي جګړي د مخنیوي لپاره د امریکا په وساطت د دغو ترینګلو اړیکو د جوړولو لپاره او د رامنځ ته شویو جګړو د احتمالي خطراتو د لري کولو لپاره دوه ورځي وروسته واشنګټن ته روان وو چي ناڅاپه اسرائیلو د جون د میاشتي په یوه سهار وختي د ډیري شدیدي فضائي حملې په ترڅ کي ټولي مصري جنګي الوتکي بمبارد کړې، د مصري هوایي ځواک مشر چي ټوله شپه ئې په یوه غونډه(Parti) کي د شرابو په څیښلو تېره کړې وه سهار ټند د شرابو په نشه مست پروت وو.

نو ځکه هم د شک او شبهې ځای ندی پاتي شوی چي د مصري فوځي حکومت په لاس د اخوان په ځپلو کي د مګّاري امریکا لاس وو، دا ځکه یوازي اخوان د مصر داسي سیاسي او عمومي طاقت وو او لا هم دی چي یو طرف ته د بې دینه کمونیزم او سوشلزم با اثره مخالف او بل لوري ته د غربي سیکولرزم او غربي ثقافت او تمدن د اثراتو او نفوذ سرسخت دښمن وو او دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر کومه ځایه چي د امریکایي جمهوریت پرستی او جمهوریت غوښتني د دعوو تعلق دی، نو هغه د اسلامي هیوادونو لپاره ندي، دوی په اسلامي هیوادونو کي فوځي انقلابونه راپورته کړل او هغوی ئې تائید کړل، د پورته ذکر شوي امریکایي جاسوس "مایلز کوپلینډ" په کتاب کي پر وړاندي شویو شواهدو سربېره د الجزائر واقعه تازه ده، چي په منصفانه انتخاباتو کي درې کاله مخکي د اسلامي ګوند(Front) په بریا باندي ناهیلي امریکا هلته د فوځي کودتا حمایت وکړ او کودتاچي غیر قانوني دولت ئې په رسمیت ومنی، چي اوس هره ورځ په ساده جامو کي د فوځونو په لاسونو بې ګناه الجزائریان وژل کیږي، بیا هم ددغو ټولو ظالمانه کړنو تور د هغه ځای پر اسلامي تنظیم او کارکوونکو پوري کیږي، چي په دې وحشت کي فرانسه هم شامله ده، څو میاشتي مخکي چي یو الجزائري فوځي په لندن کي د سیاسي پناه اخیستلو وروسته هلته د "آبزرور" اخبار ته په خپله مصاحبه کي ډیر حقایق وویل؛ ده د الجزائري فوځ پر هغو مظالمو اعتراف وکړ چي ده شخصاً دداسي ظلمونو د ترسره کولو لپاره خپل په لاسونو د الجزائري فوځي حکومت له لوري په "پاریس" کي یوه تنظیم ته پنځه لکه نقد "فرنک" ورکړي ول، او دوهمه تازه ترینه واقعه د ترکیې ده چي هلته فوځ یو منتخب لومړی وزیر(نجم الدین اربکان رحمه الله) د څوکۍ نه لري کړ، ددغه لومړي وزیر یوازینی ګناه دا ده چي ګوند ئې اسلامپال دی، او د ایران سره ئې یو ستر اقتصادي تړون لاسلیک کړی وو، امریکا ددغه منتخب جمهوري حکومت د پرځولو په اړه نه کومه پښېمانتیا او یا خفګان څرګند کړ بلکي د فوځي کودتاچي حکومت د کودتا او مداخلت حمایت ئې اعلان کړ.

## د اخوان المسلمین د ابتلاوو او زحمتونو دوهم پړاو:

په اګست ۱۹۵۴م کي چي د مصنوعي او خودساخته ډرامې او واقعې وروسته د اخوان د کارکوونکو د نیولو او ځورولو کومه لړۍ پیل شوه، او په نتیجه کي ئې په زرګونو اخواني ځوانان او په حکومت او کارخانو کي مزدوران او کارکوونکي محبسونو او زندانونو ته ولیږل شول، د لسو نه نیولې تر شلو کلونو پوري حبس ورته ټاکل کېده، په زرګونو ځوانان د مُخفي لارو نه د سوډان او لیبیا په لور تیښتي او جلاوطنی ته اړ شول، ددې کال په اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ګران ملګري(محب المحجري) یوه واقعه راپه یاد شوه، ده هغه وخت په نوي انقلابي ورځپاڼي الجمهورية(جمهوريت) کي کار کاوه او هره هفته به زموږ ليدو ته راتلی، خو ناڅاپه ورک شو، بيا يوه مياشت وروسته راغی، په داسي حال کي چي د سر ويښتان ئې کوچني ول، د يو ثابت قدمه او مؤمن ځوان په شان ئې راته وويل چي د اخبارو د مدير(انقلابي فوځي آمر) انور سادات په امر بندي شوی وو، که څه هم پر ده کوم ثبوت او الزام نه وو بيا هم د اعتراف کولو او تحقيق و تفتيش په نيت ئې درې هفتې په زندان کي بندي کړی وو، د سر ويښتان ئې ورخريلي ول، په درو ئې وهلی وو، وروسته ئې خپله ملا را وښوده چي د زياتو وهلو په واسطه ئې د ملا رنګ شين اوښتی وو، د يو يو ځای نه به يې پوست هم جلا شوی وو، ده چي د مصري پوليسو د تعذيب او ښکنجې(Torture) کوم واقعات راته بيانول په اورېدلو سره ئې زموږ زړونه په لرزه راغلل، ددغو تعذيبونو او شکنجو په دوران کي به ئې په ساعتونو ساعتونو د يخي پر کوندو لوڅ تړلي ول، د مقعد د لاري به ئې د بايسکل په پمپونو خيټي ته هوا ورکوله، او څو څو ورځي به ئې مسلسل د تيزو ګروپانو رڼا ته غورځولي ول، او تر ټولو ستر تکليف به لا داوو چي سهار و ماښام به ئې د مور په ښکنځلو سپکول، د لا تعذيب او وحشت لپاره به ئې د ځينو بنديانو ميندي او خويندي زندان ته راوستلې او ددوی په مخکي به ئې تجاوز ورباندي کاوه.

دا ټولي د تعذيب، آزار و اذيت هغه نوي طريقې وې چي مصر ته راليږل شويو نازي افسرانو مصري فوځيانو ته ورښودلي ول، هر بندي چي به د محبس نه راووتی همدا قصې به ئې پر خوله وې، ددغه دولتي تروريزم هدف دا وو چي د اخوان اسلامپال تحريک د تل لپاره وځپي، خو الله الحمد چي مصري سوشلسټ(اشتراکي) جلّاد جمال عبدالناصر په دغه ذليل کار کي هم ناکام شو، دده دا منصوبه او پلان هم وو چي کوم اخوانيان چي په محبسونو ننويستل شوي دي د هغوی مېرمني او ماشومان د فقر او غربت نه په تنګ راشي، او خپل خاوندان، وړونه، زامن او سرپرستان دې ته اړ کړي چي د حکومت په وړاندي تسليم شي، خو کوم اخوانيان چي د مصر نه وتښتيدل د زرګونو په تعداد کي سعودي عرب، کويټ، سوډان، شام او نورو سيمو ته ولاړل، دوی د خپلي ګټي نه څه حصه پر خپلو ماشومانو سرېبېره هغو اخواني کورنيو ته هم لېږله چي سرپرستان به ئې بندي ول، په دوی کي استاد سعيد رمضان هم وو چي ما ئې پورته يادونه وکړه، دی هغه کَس وو چي هغه وخت به ئې په قاهره کي د "المسلمون" په نوم مياشتنی ګڼه خپروله، دی د ۱۹۴۸م نه تر دوه درې کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري په پاکستان کي هم اوسيدلی وو، هغه وخت حسن البناء شهيد رحمه الله دی د قيد و بند نه د خوندي ساتلو په موخه پاکستان ته رالیږلی وو.

د مصر وروسته په سوريه کي د اخوان المسلمين ګوند ډير قوي وو، د دمشق په پوهنتون کي د قانون پوهنې په بخش کي د اسلامي قانون پروفيسر او وروسته د کلية الشريعة(د شريعت فاکولتې) مدير او زما استاد ډاکټر مصطفی السباعي دلته د اخوان المسلمين عمومي مشر وو، په ياد پوهنتون کي دغه تنظيم ډير مضبوط وو، مرحوم سعيد رمضان صاحب(هغه چي وروسته ئې د جرمني نه په اسلامي قانون کي دکتورا اخيستله) هم د خپلي کورنۍ سره دلته راغلی وو، د همدې ځايه ئې د المسلمون مياشتنی ګڼه چاپوله او نشروله، کوم وخت چي زه په ۱۹۵۵م کي دمشق ته د تعليم لپاره ولاړم، ډير ځلي به دده کورته ورتلم، د مصر غوندي دلته هم اخواني محصلين او استادانو زما سره د سکه ورونو غوندي رويه او سلوک کاوه، خو د مصر د اخواني ملګرو ځای بيا جلا وو، د هغوی خو مينه دومره زياته وه چي د اختر په رخصتيو کي ئې زه په ډير اصرار سره لري پروت يو ښار "منصوره" ته نږدې خپل کلي"دکرنس" ته بوتلم هلته ئې څلور پنځه ورځې داسي مهماني راکړه چي کله ئې هم نشم هېرولای، د محب المحجري سره سره د هغو ټولو ځوانانو(چي اوس به سپين ږيري وي) نومونه مي په ذهن کي همداسي محفوظ ساتل شوی وي، د دوی له جملې نه يوه استاد حسين اسکندراني(د يو مکتب استاد) چي کله زه د کښتۍ په واسطه د سعيد پورټ نه د کراچي په لور راتلم نو د قاهري نه ډير لري دغه ښار ته زما درخصتولو په نيت راغی.

پر اخوان المسلمين چي په ۱۹۵۴م کي مصري انقلابي حکومت کوم ظلمونه وکړل او دا اسلامپال تحريک ئې منع اعلان کړ د هغه نه يوازي دوه کلونه وروسته په ۱۹۵۶م کي چي کله جمال عبدالناصر د سويز کانال مصري کول(ملي کول) غوښتل او په دې تړاو د برطانيې، فرانسې او اسرائيلو له لوري مصر ته ګوتڅنډنه وشوه، او دوی ټول د مصر په خلاف په يو صف کي ودريدل مصر ته ئې د جګړي اخطارونه ورکړل، پدې وخت کي اخوان المسلمين د حکومت ټول وحشتونه هېر کړل او د هغوی د ائيتلاف په وړاندي ئې د خپل مصري دولت حمايت او ملاتړ اعلان کړ، رضاکارانه خدمات ئې پيل کړل دا همهغه کال وو چي ما په دمشق پوهنتون کي د ټولو محصلينو سره هلته فوځي تمرينات(زده کړه) وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپه برطانيې، فرانسې او اسرائيلو په ګډه پر مصر باندي حمله وکړه، په دغه مختصره حمله کي مصر ماتي وخوړله، اسرائيلو د "سينا پر دښتي" چي مصري سيمه وه قبضه وکړه، برطانيې او فرانسې يو ځل بيا د سويز کانال پر علاقه قبضه وکړه، د امريکا د ولسمشر "آئزن هاور" په مداخلې او منځګړيتوب سره دغو هيوادونو خپل فوځونه د مصر نه بيرته وايستل، په دې شرط سره چي مصر به د اسرائيلو کښتی په سويز کانال کي نه ايساروي، فرانسې او برطانيې ته به هم د سويز کانال د درآمد(ګټي) نه ددوی مالي معاوضه ورکوي، اسرائيلو هم د سينا د دښتي نه خپل فوځونه ټول کړل خو پر پولي ئې د مصر پر ځينو سيمو لا هم خپله قبضه جاري وساتله.

په هر صورت ددغه جګړي او ماتي وروسته مصري فوځي حکومت د اخوان په خلاف په خپلي دښمنی کي کمي راوستله، که څه هم ددوی مرکزي دفتر او ضبط شوي املاک د دولت له لوري ورته واپس نشول، خو ددغي جګړي په دوران کي چي کوم بې ګناه اخوانيان په زندانونو کي پراته ول آزاد شول، دوی يو ځل بيا د استاد شهيد سيد قطب رحمه الله په مشري او لارښوونه کي د خپل پرامنه اسلامي دعوت په چارو مصروف شول، سيد قطب د مصر مشهور اديب، نقاد او د اسلامي ذهنيت درلودونکی مفکراو مصنف وو، خو دده تحريرونو او د اخوان يو ځل بيا احياء جمال عبدالناصر ته خوند ورنکړ، ده سيد قطب زنداني کړ او ټول هغه ځوانان چي دده همغږي ول محبسونو ته واستول، وروسته يې پر سيد قطب باندي دده د يو کتاب(معالم فی الطريق) پر اساس په فوځي محکمه کي دوسيه وڅيړله او دائې په دروغو ثابته کړه چي ياد کتاب د مصري حکومت په خلاف تحريکونکی دی بيا ئې په ۱۹۶۶م کي په اعدام محکوم کړ، نورو سلګونو اخوانيانو ته يې هم د قيد او بند سزاوي ورکړې، پدې ډول سره دا د اخوان المسلمين د ابتلاوو دوهم پړاو وو، په دې امتحاني پړاو کي ددوی تر ټولو ستر مفکر او مصنف چي په محبس کي ئې د څو کلونو د زحمتونو وروسته د شلمي پيړۍ بې نظيره تفسير(فی ظلال القرآن) وليکی، شهيد کړل شو، خو الله تبارک و تعالی په خپل کامل قدرت سره يوازي يو کال وروسته د اسلام لپاره د سرښندونکي او په بند و قيد کي د پرتو مصيبت ځپلو مؤمنانو انتقام په ۱۹۶۷م کي د اسرائيل و مصر د جګړي په صورت کي چي مصر شرميدلې ماته وخوړه واخسيت، په زرګونو مصري فوځيان بندي شول، د مصري اُردو عياش مشر ځان وژنه وکړه، د مصر او روسيې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګريتوب بې فائدې پاتي شو، او په ۱۹۷۰م کي د جمال عبدالناصر کمبله هم ټوله شوه، ده خپل نائب ولسمشر ته وصيت وکړ چي د روسيې پر ځای پر امريکا تکيه وکړي.

## اخوان المسلمين د جمال عبدالناصر نه وروسته:

په ۱۹۶۷م کي پر پراخي مصري سيمي(سينا) د اسرائيلو قبضه وه، ددې سيمي سره سره ئې د سويز کانال او مکمل شرقي ساحل سيمي تر تسلط او اشغال لاندي نيولي وې، ددوی په اجازه د نورو ټولو هيوادونو کښتۍ د سويز کانال نه تيريدی شوې، انور سادات غوښتل په کومه طريقه اسرائيلي فوځونه د شرقي ساحل نه لري کړي، ددې لپاره ئې خپلي داخلي پاليسي ته تغيير ورکړ، ده په زرګونو بېګناه اخواني بنديان له زندانونو نه آزاد کړل، د ډيرو بنديانو دوسيې ئې سمدستي ختمي کړلې، او د جمال عبدالناصر د اشتراکيت پر ځای ئې د اسلام شعار پورته کړ او خپل ځان ته ئې د الرئيس المؤمن(مسلمان مشر/زعيم) لقب غوره کړ، که څه هم د اخوان همهغه پخوانی د۱۹۵۴م کال حالت نه وو او نه هم د دوی املاک او جائيدادونه ور واپس کړل شوه خو يو ځل بيا د کار او عمل آزادي ورکړل شوه، ددې سره سره چي هغه په لکونو مظلوم مصريان چي د جمال عبدالناصر د سوشلزم(اشتراکيت) د قانون په مټ ځپل شوي ول او د اسلام د شعار په اوچتولو سره ويريدل، هغوی د آرام ساه واخيسته، د اسرائيلو د دښمنۍ لپاره ټول مصريان يو مُتي شول او کله چي انور سادات ددې جوګه شو چي د اسرائيلواشغال پای ته ورسوي نو په ۶ اکتوبر ۱۹۷۳م کال کي ئې ناڅاپه د شپې په تياره کي د سويز کانال پر شرقي څنډه حمله وکړه او اسرائيلي فوځ ته ئې ماتي ورکړه، او وروسته ئې د امريکا په مرسته د اسرائيل سره د تړون پر اساس د سينا پراخه علاقه بيرته لاس ته راوړه.

په کال۱۹۷۱م کي يو پخواني اخواني مشر عمر التلمساني د (۱۷) اولس کلن حبس وروسته آزاد شو، دی په ۱۹۷۴م کي د اخوان عام مرشد(مشر) انتخاب شو، ده په ډيره دور انديشي او ځيرکتيا سره يو ځل بيا د پاشل شوي اخوان صفونه سره يو ځای کړل، ډيرۍ اخوانيان چي په ۱۹۵۴م کي په پنځلس کلن حبس محکوم شوي ول، او د هيواد نه لري په خارج کي اوسيدل هيواد ته راستانه شول، ځيني د زندانونو نه خوشي شول، تر اوسه لا اخوان ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد کي د آزاد سیاسي فعالیت اجازه نه وه ورکول شوې وه، اخوان د "وفد" او ځیني نورو سیاسي ګوندونو سره په ګډه په انتخاباتو کي برخه واخیستله، او په پارلمان کي ئې د اسلامي قدرونو آواز اوچت کړ، د عمر التلمساني په دور کي په مصر کي پخوانی سیاسي مجلې "الدعوة" او نوري یو ځل بیا چاپ شولې، دوولس کلونه مسلسل ددریم عام مرشد په صفت د اخوان د قیادت کولو وروسته بالاخره په ۱۹۸۶م کي وفات شو او حامد ابوالنصر څلورم عام مرشد وټاکل شو.

د اخوان دغه څلورم عام مرشد د ۱۹۳۳ نه د اخواني تحریک غړی وو، او په ۱۹۵۴م کي ده ته د ۲۵ کلن بند سزا ورکول شوې وه خو په محبس کي د ۲۰ کلونو تیریدلو وروسته په ۱۹۷۴م کي آزاد شو، د ده په عصر کي اخوان یو ځل بیا په مصري ټولنه کي خپل وجود په اثبات ورساوه، مختلف کاري تنظیمونه (Unions) ئې د پوهنتونونو په زده کړه اییز چاپیر او په ملي ادارو کي د پېل په څیر یو ځل بیا داخل شول او دده په عهد کي په اپریل ۱۹۸۷م کي اخوان د دوو نویو مصري سیاسي ګوندونو ضرب العمل او ضرب الاحرار سره حلف وکړ او د مصر په پارلماني انتخاباتو(مجلس الشعب) کي ئې ونډه واخیستله، د لومړي ځل لپاره د اخوان (۳۶) ارکان د پارلمان غړیتوب ته بریالي شول، چي په نتیجه کي په پارلمان کي د اپوزیسیون قیادت او مشري د دوی لاس ته ورغله.

اخوان پر ایمرجنسي او عاجلو قوانینو د احتجاج په صورت کي، د عادلانه او شفافو انتخاباتو د ګارنټي د نشتون په سبب په ۱۹۹۰م کي په عامو انتخاباتو کي د نورو اپوزیسیوني ګوندونو سره یو ځای بائیکاټ(رد) وکړ، په ۱۹۹۲م کي ئې د لوکل باډیز په انتخاباتو کي ونډه واخیستله، او په ۱۹۹۳م کي ئې د حُسني مبارک د دریم ځل لپاره په صدارتي انتخاباتو کي د شرکت سره مخالفت وکړ چي په نتیجه کي د حکومت د غضب په نښه شول، ددوی پر ۸۲ممتازو کارکوونکو او مشرانو په فوځي محکمه کي د مختلفو دروغجنو دوسیو پر سر مقدمه وچلیده او ۵۴نفره یې محبس ته ورځني واستول، په ۱۹۹۵م کي دوی د مجلس الشعب(پارلمان) په انتخاباتو کي ونډه واخیستله.

د عام مرشد ابوالنصر په عهد کي د ګوند مکمل ادارتي او تنظیمي جوړښت د شوری پر بنیاد څلویښت کلونه وروسته یو ځل بیا قایم شو، د اخوان د اعلی ترینه تنفیذي کمیټی(مکتب الارشاد) د غړو او عام مرشد انتخابات کول او غوره کول په عملي بڼه پیل شول، حامد ابو

(c) ketabton.com: The Digital Library

النصر صاحب هغه لومړنی اخواني مشر وو چي د مرحوم ضیاءالحق په وخت کي په ۱۹۸۸م کي د اسلامک کونسل آف یورپ په غونډه کي چي په اسلام آباد کي رابلل شوې وه برخه واخیستله، د افغاني مجاهدینو د قیادت او مشرتابه سره ئې ملاقات وکړ، د درهٔ خیبر نه ئې لیدنه وکړه، په ۲۰ جنوري ۱۹۹۶م کي ئې له دې فاني نړۍ نه سترګي پټي کړلې، دده د تدفین نه فوراً وروسته هغه زرګونو اخوانیانو چي دده په جنازه کي ئې برخه اخیستې وه د مرحوم عام مرشد د لومړي مرستیال استاد مصطفی مشهور سره بیعت علی الاعلان اجتماعي وکړ.

په ۱۹۲۸م کي د اخوان المسلمین د تأسیس نه نیولي تر پنځم عام مرشد پوري څلورو مشرانو ته په لاندي تفصیل سره د اخوان د قیادت او مشرتابه ویاړ ورپه برخه شوی.

- شهید الاستاد حسن البناء مرحوم د ۱۹۲۸م نه تر ۱۹۴۹ پوري
- متقاعد قاضي حسن الهضیبي مرحوم د ۱۹۵۱م نه تر ۱۹۷۳ پوري
- الاستاد عمر التلمساني مرحوم د۱۹۷۳م نه تر ۱۹۸۶ پوري
- الاستاد حامد ابوالنصر مرحوم د ۱۹۸۶م نه تر جنوري ۱۹۹۶

## د اخوان اوسنی قیادت او تازه ترین صورتحال:

موجوده عام مرشد استاد مصطفی مشهور چي ما ئې یادونه په ۱۹۵۴م کي د اخوان په یوه مسجد کي د خطیب په حیث وکړه چي هلته بیا د پولیسو له لوري ډزي وشوې او زه هم هملته موجود وم، دده عمر اوس یعني په ۱۹۹۸م کي ۷۷کاله دی، دی په اولس کلنی کي یعني هغه وخت چي د "منیا" په ښار کي ئې په عالي لیسه کي درس وایه د اخوان سره یو ځای شوی وو، بیا ئې په قاهره پوهنتون کي په ۱۹۴۳م کي په علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاصادر (Meterology) کي ګرېجوېشن وکړ، او د هيواد په ګمرک کي ئي دنده پيل کړه، درې کاله وروسته۱۹۴۶م کي ئي په همدې علم کي ماسټري وکړه، نو ځکه هم دنورو اخواني مشرانو غوندي د عالي تحصيلاتو درلودونکی وو، د لومړي عام مرشد پرته نورو ټولو اخواني مشرانو د اخوان تر سايې لاندي د ديني علومو زده کړي او فهم و فراست تر لاسه کړی وو.

استاد مصطفی مشهور د دين په خاطر څلور ځله د قيد و بند مصيبتونه وګالل، لومړی ځل د شاه فاروق په عهد کي په ۱۹۴۸م کي زندان ته ولاړی، درې کلونه هلته پاتي شو، په ۱۹۵۱م کي د آزاديدلو وروسته يو ځل بيا د جمال عبدالناصر په عهد کي په ۱۹۶۵م کي ونيول شو، او په لس کلن حبس محکوم شو، په ۱۹۷۱م کي د انور سادات په وخت کي آزاد شو، په دې ډول سره ئې د شاه فاروق او جمال عبدالناصر په وخت کي ۱۹کلونه په سياسي حبس کي تېر کړل.

په ۱۹۸۱م کي چي کله د يو نوي سخت دريځي ډلي او ديني تنظيم"جماعة التکفير و الهجرة" په لاسونو د فوځي نمائش(Prade) په وخت کي انورسادات ووژل شو، که څه هم اخوان ددې کار نه بلکل بې خبره او بې ربطه پاتي وو، خو بيا هم ډير اخواني مشران ونيول شول، ځکه دا ځل بيا اخوان د سادات پر سفر اسرائيلو ته مخالفت څرګند کړی وو، دوی دا نه خوښول چي د اسرائيلو سره دي اړيکي جوړي شي، بالخصوص تر هغه چي د القدس ښار فلسطينيانو ته نه وي سپارل شوی، په هر صورت د خوشبختی ځای دا وو چي په دې موده کي مصطفی مشهور د هيواده بهر وو، نو ځکه د نيولو نه خوندي پاتي شو، بيا چي کله پنځه کلونه وروسته د مصري حکومت شکوک او شبهات لري شول، او اخوانيان بېګناه وموندل شول، نو په ۱۹۸۶م کي مصطفی مشهور هيواد ته راستون شو، په همدې کال د اخوان معمر مشر شيخ عمر التلمساني رح د نړی نه کوچ وکړ، ده هم د ۱۹۵۴م نه نږدې شل کلونه په زندان کي تير کړي ول، د استاد عمر التلمساني رحمه الله د وفات پر وخت حامد ابو النصر د هغه ځای ناستی وټاکل شو او مصطفی مشهور ئي لومړی معاون غوره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري دی چې د جمال عبدالناصر د مرګ وروسته کوم وخت چې په مصر کې په مدار مدار سره د اشتراکیت(سوشلزم) بت مات شو او په حکومتي ظلم او تشدد کې څه نا څه کمبود راغی، خلک هم هوسا شول، کله چې سیاسي ګوندونو او دیني جماعتونو ته د تشکیل او فعالیت اجازه ورکړای شوه، نو په مصر کې د "جماعة التکفیر والهجرة" او "الجماعة الاسلامیة" په نوم باندې دوه نوي تنظیمونه تأسیس شول، لومړی جماعة چې د انور سادات په وخت کې چې اسرائیلو ته دده د سفر او نویو اړیکو د جوړولو سخت مخالف او دیوه شدید ردِعمل په صورت کې رامنځ ته شوی وو، او ددوی افرادو په ډیر ماهرانه پلان او همت و جرأت سره انور سادات وواژه، هغوی خپلو اهدافو ته د ورسیدلو لپاره د شدید عکس العمل حمایت کاوه، همدا "تکفیر الجماعة الاسلامیة" وو یعني په تیرو څو کلونو کې چې کوم بهرني سیاحان په غیر انساني او افسوسناک حالت کې وژل شوي دي په هغو ټولو وژنو کې دغه دوه تنظیمونه ذیدخل ول، اخوان ددوی سره هیڅ نوع اړیکه نلري، او نه هم د اخوان په فکري انداز او عملي منهج کې د سخت دریځي او تشدد نښه شته، کوم وخت چې جماعة التکفیر والهجرة په مصر کې غیر قانوني اعلان شو، یو بل سخت دریځی ګوند د "جماعة التنظیم الجهاد" په نوم تأسیس شو.

همدا دلیل وو چې کله استاد مصطفی مشهور د خپل انتخاب نه فوراً وروسته د کویټ د مشهوري او کثیر الاشاعت اوونیزې"مجلة المجتمع" سره تفصیلي مصاحبه وکړه په هغه کې ئې په ډیر وضاحت سره دا اعلان کړی وو چې موږ د "جماعة الاسلامیة" او "تنظیم الجهاد" سره هیڅ اړیکي نلرو، موږ په هیڅ صورت سخت دریځي او تشدد نه خوښوو، په اخوان کې چې د "النظام الخالص" په نوم کومه داخلي شعبه وه او مصطفی مشهور هم یو وخت د هغې ډلې غړی وو، د مصري انقلاب نه ډیر مخکې په فلسطین کې د یهودانو او په مصر کې د انګریزانو په مقابل کې تأسیس شوې وه، دوی هغه وخت د هغوئ په خلاف ردِعمل او تشدد ته جواز ورکړی وو ځکه هغوی اشغالګران ول، خو اوس حالات بالکل بدل شوي دي، اوس موږ د سخت دریځي سره کوم ارتباط نلرو، زموږ د بدنامولو په موخه د حکومت له لوري موږ ته داسې الفاظ منسوبیږي، خو حکومت کله هم دا ثابته نکړه چې موږ په مذکوره بالا سخت دریځیو او یا هغو تنیظیمونو سره ارتباط درلود، حال دا چې موږ تل د سخت دریځی مخالفت کړی دی، کله چې د ۷۰یمې لسیزې په پیل کې موږ له زندانونو نه آزاد شوي یو په هیواد کې چې څومره تروریستي واقعې شوي دي په یوه واقعه کې هم یو اخواني ندی شریک شوی، اوسنی صورتحال خو دادی چې په تیرو څو کلونو کې د حکومتونو له لوري دا هڅه کیږي چې د اخوان لپاره حالات څرنګه سخت کړای شي، د هغوی دلیل دادی چې یو خو ئې پورته یادونه وشوه چې اخوان په عامو انتخاباتو کې د حکومت پر لاس وهنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراض په صورت کي له انتخاباتو نه بائيکاټ اعلان کړی وو، او يو ځل ئې بيا د ۱۹۵۵م د انتخاباتو نه وروسته د حُسني مبارک پر دريم ځل صدارت ته د انتخابيدلو په اعتراض کي په پارلمان کي شديد مخالفت وکړ، نو ځکه هم د پخواني مرشد ابوالنصر په آخري عهد کي د اخوانيانو نيول او ځورول پيل شول، په فوځي محکمو کي دروغجني دوسيې ورباندي وځيرل شولې، چي تر اوسه لا حکومت پر دوی د کار او عمل کړی ډيري تنګي ساتلي دي، حقيقت خو دادی چي حکومتونه په مصري ټولنه کي د اخوان د نفوذ او مقبوليت نه په ويره او تشويش کي دي.

استاد مصطفى مشهور د المجتمع د مجلې د نماينده د دغو پوښتنو په ځواب کي چي په راتلونکي کي به د دوی کاري لايحه څه وي؟ وويل:"موږ د اسلامي دعوت د غوښتنو او د بنديزونو تر فشار لاندي خپل کارونه په توازن کي ساتل غواړو، او د هغه مطابق به لاري چاري غوره کوو، خو تر ټولو مهمه خبره داده چي اسلام د امن، آزادی او انصاف دين دی، د رحمت دين دی، پر هغه دبنياد پرستئ (Fundamentalism)او سخت دريځی چي کوم تورونه لګول کيږي هغه بالکل بې اساسه او بې بنياده دي، موږ دغه ټول الزامات او افواهات ردوو، مکرراً ددې خبري اعلان کوو چي اخوان پر خپل اعتدال خوښوونکي کاري اسلوب باندي پابند اوسي، موږ يوازي د اصلاحاتو غوښتونکي يو، موږ د هيواد په مينه او محبت کي مخلص يو، موږ پوهيږو چي اسلام زموږ د ټولني د ټولو مشکلاتو بهترين حل وړاندي کوي، ځکه اسلام د بشر او کائيناتو د خالق او پيدا کوونکي له لوري راليږل شوی دی، حال داچي نور ټول نظامونه د انسانانو په لاسونو او ناقصو ذهنونو جوړ شوي دي.

ده لا زياته کړه چي: "موږ د اسلامي دعوت د غزولو او پراخ کولو لپاره ټول وسايل په کار اچوو، خلکو ته به دا وايو چي آيا اسلامي قوانين د شريعت خلاف دي، او دا چي ددوی ګټه او فائده په همدې دين کي ده چي دوی په خپل انفرادي او اجتماعي ژوند کي د اسلام په اصولو برابر ولاړ شي، تر کومه ځايه چي د حکومتي چارواکيو سره د مذاکراتو او د دوی د بدګمانيو د لري کولو خبره ده، موږ دوی ته ښه راغلاست وايو، او لکه څرنګه چي د مرشد لومړي مرستيال استاد مأمون الهضيبي(د پخواني متقاعد قاضي او د اخوان د پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام مرشد حسن الهضيبي مرحوم بچی چي خپله هم يو متقاعد جيوري ممبر[1] دی) مخکي هم اعلان کړی وو چي زموږ له لوري په دې اړه کوم ځنډ نشته او موږ هيله کوو چي موږ ته دا موقع راکړل شي، او خپل منځي خبري سره وکړو خو حکومت خپلي دروازې زموږ پر مخ تړلي دي، دا ډير ضروريدي چي زموږ او حکومت تر منځ افهام و تفهيم وشي، موږ خپل لرليدونه، تګلاري او نظرونه د يو بل سره شريک کړو، موږ په ډاګه دا خبره کوو چي موږ د اقتدار لپاره د اقتدار وږي او غوښتونکي نه يو، او نه هم موږ په حکومتي لاسته راوړنو کي ددوی سيال (Rival) يو، موږ خو يوازي دا غواړو چي دوی د الله جل جلاله شريعت نافذ کړي، ډيره موده مخکي په پارلمان کي زموږ نماينده شيخ صلاح ابو اسماعيل مرحوم د حکومت سره په پارلمان کي د خپل منځي بحث و تمحيص وروسته يو پلان چمتو کړی وو، خو افسوس چي حکومت هغه پلان او هغه ټولي وعدې هيري کړلې، په هر صورت زموږ غوښتنه داده چي موږ غواړو د حکومت سره مخامخ ناستي او مذاکرات ولرو، خپل منځي هم نظره تګلاري جوړي کړو او د امن ماتوونکو ښکار او په نښه نشو.

استاد مصطفی مشهور چي د المجتمع د نماينده سره نوري څه خبري په ۱۹۹۶م کي وکړې د هغه مصاحبې خلاصه ده وه چي: دوی د تيري نيمي پيړۍ نه پر اخوان د حکومت په لاس دنازل شويو مصيبتونو څخه ويريدلي ندي او نه هم د خپلو نيکو اهدافو د کاميابۍ په اړه کوم شک او شبهه لري، داځکه زموږ د ژوند د اوامرو فيصله يوازي پر بشري عواملو (Human Factors)متکي نده بلکي په هغو کي ټل الهي عوامل (Divine Factors) کاروونکي دي، دوی د الهی قدرت دتائيد او حمايت نه مأيوس ندي او نه هم بايد کوم مسلمان مأيوس شي"، ده په ډير ډير صراحت سره داخبره وکړه چي اخوان بلکي ټول مسلمانان نبايد ددې خبري نه مطلقاً وويريږي او نه هم مأيوس شي چي اسلام دښمن طاقتونه چي هر ځای د کامل اسلام په خلاف هڅي کوي، ددوی سره سلاوي شته، توپونه او ټانکونه لري، طيارې لري حال داچي مسلمان کمزوره او د انتشار او جلاوالي ښکار شوي، "موږ د ژوندانه چارو ته د ماده پرستانو د نقطهٔ نګاه نه نه ګورو، الهی عوامل بايد خپل فکري محور وګرځوو، دا ځکه د هر کار اصل د الله ج په لاسونو کي دی، نصرت او مرسته

..............................................................

[1]جيوري ممبر: مشاور يعني په پخوانيو نظامونو کي به په محکمو کي د قاضي تر فيصلې اورولو د جيوري ممبرز په نوم ځينو مشاورينو د ملزم په اړه قاضي ته د مشورې ورکولو په موخه خپله فيصله ور اوروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي د هغه له لوري کيږي، مستقبل او آينده يوازي د اسلام ده، دا ځکه اسلام هغه دين دی چي الله جل جلاله د ټول بشريت لپاره د قيامت تر ورځي پوري غوره کړيدی، نو که مخالفين هر څه وکړي دا دين به ختم نکړای شي، موږ بايد د هيلو او اميدونو شمعي په خپلو زړونو کي بلي وساتو او هر څه چي رامنځ ته شي صبر ورباندي وکړو، ثابت قدم پاتي شو، موږ بايد پر دې کامل يقين ولرو چي الله سبحانه و تعالی به موږ کله هم يوازي پرېنږدي.

دا الفاظ د لومړي ځل لپاره د يوه اخواني مشر له خولې نه نه دي وتلي، بلکي د لومړی ورځي نه د مرشد حسن البناء په عصر کي همدا دده الفاظ او همدا ئې يقين او د فکر انداز و عمل وو، همدا دليل دی چي په مختلفو عصرونو کي پر دوی د مصيبتونو غرونه رامات شوي دي، ظاهراً تل دا تحريک ځپل شوی، خو ددوی د اخلاص، صبر او مېړاني په پايله کي الهی نصرت ددوی سره پاتي شوی او دوی ته ئې نوی ژوند(روح) ورکړی، همدا پر الهي عامل (Divine Factor)باندي ددوی ايمان او په زړونو کي د يقين د شمعي د بلولو په سبب اخوان المسلمين د تيري نيمي پيړۍ نه د انتهايي سختو حالاتو سره مقابلي وکړې او بالاخره د الله عزوجل په حمايت او مرسته په لوړ سر بريالي تري راوتلي دي.

په پای کي د يوې مهمي نقطي وضاحت ضروري دی، هغه دا چي په مصر کي د سياسي ګوندونو لپاره د "حزب" توری استعماليږي خو د اخوان د ګوند سره د "حزب" توری کله هم نه کارول کيږي، د هغه دولتي نوم"جماعة الاخوان المسلمين" دی، نو ځکه هم کله چي د مصري انقلاب فوراً وروسته ټول ګوندونه(احزاب) منع اعلان شول، اخوان ددغه قانون سره په ټکر کي نشو واقع خو کله چي د انور سادات په وخت کي يعني د ۷۰لسيزي په پيل کي پر احزابو پابندی ختمي شولې خو دوی ته بيا هم د مکمل سياسي فعاليت اجازه ورنکړل شوه، نو ځکه هم په عامو ملکي انتخاباتو کي دوی يوازي په هغه صورت کي برخه اخيستلای شوه چي د نورو سياسي ګوندونو سره ئې حلف(ائيتلاف) کړی وای، او دخپل سياسي فعاليت د آزادی په موخه ئې د مصر په ستره محکمه کي قانوني عريضه وړاندي کړې او ورباندي منلې وای، يعني دوی بايد دا ثابته کړې وای چي په ۱۹۵۴م کي ددوی پر سياسي فعاليت د (Ban) لغوه کولو امر نه وو اطلاق شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه يوه ضروري خبره داده چې د استاد مصطفى مشهور د وينا مطابق د ۱۹۸۴م په عامو انتخاباتو کې د حکومت له لوري ويل شوي ول چې په قانوني (Formal) لحاظ گوندونه جوړ کړل شي، موږ چې کله خپل گوند رسمي کول غوښتل، ددوی له لوري راته وويل شول چې د ديني "گوند" جوړولو او د فعاليت اجازه به قطعاً نه درکول کيږي، ځکه په مصري قانون کې ئې جواز نشته، ددوی په وينا دليل ئې دا وو چې د داسې گوندونو د جوړيدلو سره د ډله ييزو او گوندي فسادونو خطر موجود دی، خو د حکومت دا ويره بې اساسه ده، زموږ اړيکې د عيسايانو سره د امام حسن البناء، استاد الهضيبي او خپله عمر التلمساني او استاد حامد ابو النصر رحمهم الله په وختونو کې ډير ښه پالل شوي وې، خپله قبطي(مصري عيسايان) حضرات ددې خبرې ښه شاهدان دي، موږ په هيڅ صورت د تنگ نظرى او تعصب پلوي نه يو، او نه هم خپل گوند د داسې تعصبونو پر اساس جوړوو، خو موږ ته وويل شول چې حکومت کله هم موږ ته د سياسي گوند جوړولو اجازه نه راکوي، دغه صورتحال ته په کتو سره ځينو اخواني ځوانانو د "حزب الوسط" د اعتدال گوند په نوم يو سياسي گوند تشکيل کړ، موږ هم دوی منع نکړل، او بالفعل دغو اخواني ځوانانو د خپل نوي سياسي گوند منشور او لايحه عمل په وزارت داخله کې د گوندونو د امورو د کميټې(لجنة شؤن الاحزاب) مخې ته کيښودل، خو غالباً چې حکومت به ددغه گوند د تأسيس اجازه ورنکړي.

په هر صورت موږ اخوانيان برابر ددې هڅه کوو چې د حکومت سره د گُفت و شنيد او مذاکراتو فرصت راته برابر شي، او موږ ددوی سره د خپل طريقۀ کار په اړه يو مفاهمت وکړو، موږ د تشدد او سخت دريځي مخالف يو، او د ملکي قوانينو پابندي غواړو، ددغو ټولو باوجود پر موږ د کار او فعاليت کړۍ تنگيږي، زموږ سره دوه مخې رويه کيږي، موږ نيول کيږو په خلاف مو محکمې پيليږي او په انتخاباتو کې د شرکت نه منع کيږو."

د اخوان عام مرشد استاد مصطفى مشهور دا خبرې په جنوري ۱۹۹۶م کې په خپلې مصاحبې کې کړې وې، تازه ترين معلومات دا دي چې په دغه بد صورتحال کې هيڅ بدلون ندی تر سترگو شوی، دوې درې مياشتې مخکې د شهيد امام حسن البناء کشر وروړجمال البناء چې د مزدورانو د ترقۍ د تنظيم مشر دی، د پاکستان په دوره راغلی وو، د موصوف عمر چې نږدې ۷۸کاله دی ماته وويل: "اخوان اوس هم د حکومت د ظالمانه چلند په ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، هغه ټول املاک چې تري ضبط شوي ول د هغوی نه تر نن پوري دوی ته ددوی د سلګونو لکو د اپارتمان او مرکزي دفتر معاوضه نده ورکول شوې، نه هم ددوی د سلګونو کارخانو او کمپنیو مالکانو ته ددوی د املاکو کوم بدل ورکول شوی، دوی ته حتی د سیاسي فعالیت اجازه هم نده ورکول شوې."

زموږ د هیواد زیاتره خلک د اخوان د کارکردګي نه بې خبره دي، هغوی نه یوازي په مصر بلکي په شرق اوسط او اروپا کي د نن نه نیمه پیړۍ مخکي د اسلام بیدارۍ او اسلام سره مینې هغه عظیمي څپې په خروښ راوستلې چې په عربي هیوادونو کي د حاکمو اشتراکي او سوشلسټو نظامونو هم ونکولای شول چې خاموش ئې کړي، په مصر کي په ۱۹۵۴م کي او وروسته په ۱۹۶۶م کي چې کوم ظالمانه او وحشیانه سلوک ددوی سره وشو ددغو یو خړ انځور په پورته کرښو کي یاد شو، خو بیا د الهی تائید او جمال عبدالناصر د مرګ نه وروسته هغوی د مرګ او ژوند د کشمکش نه په امان شول، او په مصر کي د هوساکی ساه اخلي، حال دا چي په سوریه او عراق کي فوځي اشتراکي نظامونو ددوی د ځېلو او له منځه وړلو په موخه ډیر کارونه کړي دي، پر دوی بې ساري ظلمونه وشول، د خپلو هیوادونو نه وشړل شول، پر فعالیتونو ئې شدیدي پابندۍ لګیدلي دي، هغه هر څه تر نن پوري همداسي پاتي دي، داځکه دغه فوځي دیکتاتوري واکمنان له تیرو دېرشو کلونو نه پر سیمه حاکم دي، خو الحمد لله په سوډان او اردن کي د اخوان لپاره د فعالیت میدان خالي دی، اوس ددوی فعالیتونه په اروپا او امریکا کي هم په پوره زور او شور سره جاري دي.

په اوسني عصر کي د اسلامي نړۍ عظیم ترین مفکر او محقق او داسلام ستر داعي مولانا سید ابوالحسن علی ندوی صاحب"حضرت مولانا میاں" په حق شناس او حق ښوونکي قلم باندي چي له نن نه څلوېښت کاله مخکي کومه مقدمه او تقریظ لیکل شوی هغه ګواکي د حق آواز وو، زه د هغه په زمزمه کولو سره دا تفصیلي مقدمه ختموم، "لاییغضهم الا المنافق و لا یحبهم الا مؤمن. الایة

**مفهوم**: یوازي به کوم منافق کس ددوی سره عقده ساتي او دښمني به ورسره کوي، خو هر مؤمن به ددوی سره مینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کي د خپل محترم ملګري جميل حيدر رضوي نه مننه کول خپل په ذمه دده حق بولم چي په روان لوستلو کي يې زما سره همکاري وکړه، او په خپلو ګټورو مشورو سره ئې و نازولم، زه د ډاکټر نوراحمد تاز نه هم منندوی يم چي د موضوع په اړه ئې زما لپاره د کويټي مجلې "المجتمع" ځيني شميرې راته پيدا کړې.

ورور مي مولوي فضل ربي ندوي د مجلس نشريات اسلام مالک په خاصه توګه زما او لوستونکو د منني مستحق دی چي ددغه دوهم ځل چاپ چاري ئې په خپله اوږه واخيستلي، اللهم اجعلنى من الذين يستمعون القول فيتبعون احسنه، وصلى الله على حبيبه النبى الامى وسلم.

رضوان علي ندوي

کراچي: ۳/ربيع الاول/۱۴۱۹ه

مطابق: ۲۸/جولای/۱۹۹۸م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعارف

د "اخوان المسلمین" تحریک اوس د کوم پېژندګلوي محتاج ندی، هر عام انسان چي لیک لوست کولای شي، اخبار مطالعه کوي ددې ګوند نه په اجمالي توګه باخبر دی، تیر کال[1] بالکل په همدغه ورځو کي چي اخوان د مرګ او حیات د کوم پړاو نه راتیر شو، او په کوم ثبات او مېړاني سره چي دوی د حق او باطل په معرکه کي"چو مرګ آید، تبسم بر لب اوست" د کومي نموني او مثالي زغم ښکارندویي وکړه، هغه یوازي د هغه چا لپاره نه چي د اسلام پر پیغام باور او یقین لري بلکي د انسانیت، حُریت، انصاف او رواداری په قیمت باندي د باخبره انسانانو او احترام کوونکو کسانو زړونه نرم او ویلي کړل، اخوان ئي ددوی زړونو ته نږدې کړ، د برصغیر"پاک و هند" اسلامي صفحاتو پر دې موقع د دین، انسانیت او آزادی د حقوقو د نصرت او حمایت پوره حق اداء کړ، او په خلکو کي ئې د اخوان المسلمین د اسلامي تحریک سره دلچسپي او همدردي لا زیاته کړه.

په مارچ ۱۹۵۵م کي هندوستان ته د رارسېدلو او د اخوان سره د عامه مینې دراته معلومېدلو وروسته مي ارادې لا تقویت وموند چي په مصر کي د اخوان د تحریک سره د نږدې پاتي کېدلو په وخت پیدا شوې وه، هلته دا هیله راته پیدا شوې وه چي باید د اخوان د تحریک تعارف په ښه او حقیقي انداز کي په هندوستان کي وشي، په مصر کي د یو نیم کال اوسېدو په موده کي ما اخوان د هغوی په مختلفو سیاسي حالاتو یعني آزادي او پابندی او مختلفو صورتونو یعني انفرادي او اجتماعي ، دیني او ټولنیز ژوند کي له نږدو نه ولیدل، دهغوی د مخالفت او عداوت، د حبس و تعذیب، د دار و رسی مراحل زما سترګو ولیدل او غوږونو مي واوریدل، دا ټول اسباب ددې خبري غوښتنه کوي چي د اخوان په اړه یو کتاب وړاندي کړم، عجیب اتفاق وو چي په همدې ورځو کي په مصر کي دا کتاب چاپ شو، چي دا مي نو د خوب تعبیر وو، ددې کتاب پر خصوصیاتو او امتیازاتو باندي مي د فکر کولو وروسته دا فیصله وکړه چي خپله د کوم کتاب د لیکلو پر ځای به مي ددې کتاب ژباړل ډیر ګټور وي، لکه څرنګه چي تاسي به وروسته د کتاب په اصلي مقدمه کي وواياست چي دا یوه تحقیقي او علمي مقاله ده، چي د ټولنیزو علومو د ستر تعلیمي سند"دیپلوم" د ترلاسه کولو په موخه د قاهرې پوهنتون ته وړاندي شوې وه، خو د لیکوال هدف ددې کتاب د لیکلو نه یوازي د سند ترلاسه کول نه وو بلکي پوره هڅه ئې کړېده چي داخوان المسلمین د تحریک یو جامع علمي او تحقیقي تعارف وکړي او حقیقت دادی چي دی په خپل دغه هڅه کي تر ډیره حده بریالی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره بالخصوص ديادولو وړ ده چي دا کتاب اخوان ته په نږدې ماضي کي وړپېښ شوي د هغه خوني حوادثو او ددوی د عهد د ابتلاوو او مشکلاتو نه مخکي ليکل شوی دی، د تصنيف او ليکني زمانه او اوس حالات هم ډير مختلف دي، د کتاب د لوستلو په وخت دا خبره په ذهن کي ياد ساتئ چي د "اخواني مرکز" د اسلامي مصر تپيدونکي زړه کوم تصوير چي تاسي په دغه کتاب کي ګورئ، ما هغه زړه په خپلو سترګو د سوځېدلو په حالت کي ليدلی دی، دوه منزله يا درې منزله اپارتمانونو چي په هغه کي ستر کتابتونونه، مساجد، چاپ خاني، دواخاني، د علمي او تحقيقي فيتو"کېسټانو" ثبت شوي، غرض دا چي د اخوان هر څه موجود ول ټول د جنال عبدالناصر د سوشلستي حکومت له لوري وسوځول شول.

د کتاب په نوم کي يو څه ترميم ددې ځای د حالاتو مطابق ما روا بللی، اصلي نوم ئي"اخوان المسلمين او مصري ټولنه" دی، مصنف په ځينو ځايونو کي د تشريح او وضاحت لپاره ځيني انګريزي مترادف الفاظ هم کارولي دي، ما ددغه مختلفو حلقاتو د معنی او ښه پوهاوي په نيت دا دائره لا پراخه کړې ده، يعنی تقريباً ما د ټولو ضروري مختلفو علمي اصطلاحاتو مترادف الفاظ ليکلي دي.

په مصر کي د خپل مختصر مدت قيام يوه عزيزه او ګران بيه تحفه ما ډالی کړې ده، د تحفې په قيمت او افاديت کي به تاسي هم شک ونکړئ، ګواکي وړاندي کوونکي ئي حق ندی اداء کړی، هغه هيله کوي چي د نظر خاوندان دي زما د لغزشونو او اشتباهاتو نه صرفِ نظر وکړي او په خپلو ګټمنو مشورو دي مي ونازوي.

رضوان علی ندوی

۵ / نومبر / ۱۹۵۵ سرائےِ ګېټ رام پور

يادونه: ددې کتاب تعارف په ۱۹۵۵م کي ليکل شوی وو.(مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## تقريظ

د شرق اوسط تر ټولو د ستر اسلامي تحريک(الاخوان المسلمون) او د هغه د جليل القدره مؤسس او داعي شيخ حسن البناء مرحوم نوم مي تر ټولو مخکي غالباً په ۱۹۴۵م/۱۹۴۶م کي اوريدلی وو، دوهمي نړيوالي جګړي د هندوستان او عربي هيوادونو تر منځ داسي لري والی او واټن پيدا کړی وو چي د هغه سيمي حالات دلته معلومول ډير ګران ول، تر ډيري مودې پوري مصري جرائد، وسائل او مطبوعات (چي زموږ لري پرتو سيمو د مسلمانانو لپاره د خپلو عربي وړونو د حالاتو او خيالاتو نه د خبرېدلو يوازنی ذريعه وه) بند ول، غالباً ځينو ملګرو چي په هغه وخت کي ئې د حج شرف په برخه شوی وو، ددغه تحريک او د هغه د مؤسس مؤثر او زړه راښکونکي جاذب شخصيت يادونه کوله، دوی ته په مکه مکرمه او مدينة الطيبة کي دده د ملاقات او تعارف موقع په لاس ورغلې وه، دوی دده د بې نظيره خطابت، اخلاص او خپل هدف سره د ميني او حسنه اخلاقو نه ډير متأثر شوي ول، په دغه زمانه کي د شيخ معمول دا وو چي کال په کال به د خپلو ملګرو، صوتي نشري آلاتو او نورو ضروري وسايلو سره حج ته راتلی، د حج په وخت کي به ئې ډير تقارير کول، په ۱۹۴۷م کي چي کله زه هلته حاضر شوم شيخ پدې کال حج ته نه وو راغلی، او ماته دده د زيارت شرف راپه برخه نشو، ددې نه يو څه موده وروسته دده د شهادت حادثه رامنځ ته شوه، دده د ليدلو او ملاقات ارمان مي همداسي پاتي شو، د ۱۹۴۷م د هغه حج په سفر کي او په حجاز کي د قيام په دوران کي ما ددې شديد احساس وکړ چي غربي تهذيب عربي هيوادونه په بشپړه توګه متأثر بلکي مفلوج کړيدي، نو اقبال ګواکي دغو هيوادونو ته په ليدو سره ويلي دي:

"فرنګي شيشه ګر کے فن سے پتھر هوګئے پانی"

تعليم آفته ځوانان د اسلام د اصحابو د راتلونکي او مستقبل نه مأيوس او د اروپا د مادي ترقی او ژوند د فلسفې نه محسور(په سحر کي راګير) شوي ول. چيري هم ددغه تهذيب و

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمدن او د ژوند د نظام په خلاف د بغاوت او د اسلام د بیا احیاء او حالاتو د اصلاح لپاره د هڅو هیڅ درک نه لګیدی، په دغه سفر کي پر حجاز سربیره بل ځای ته دتلو تصادف ونشو، خو د نورو عربي هیوادونو د حُجّاجو سره مي ډیر ملاقاتونه وشول، په دوی کي ډیرو ښو ښو د علم او معرفت خاوندانو او دین دوستو کسانو راسره ولیدل، خو په مدینه منوره کي مي څو ځوانان ولیدل چي د اخوان لاروي ول، په دوی کي مي ژوند، دعوتي جذبات او اعتماد تر سترګو شو داسي چي په نورو خلکو کي نه لیدل کیږي.

په ۱۹۵۰م کي چي کله الله تعالی جل جلاله د دوهم ځل لپاره حجاز ته د تلو سعادت راپه برخه کړ نو په ځوانانو کي مي خاص بدلون ولیده، ددین په اړه چي په دوی کي د کومي مأیوسۍ او د کمتری احساس معلومیده د پخوا په پرتله ئې ډیر تغییر کړی وو، چي کله تحقیق وشو خبر شوم چي دا د اخوان د دعوت نتیجه وه، د حجاز ځینو ځوانانو او ادیبانو پر دې اعتراف وکړ چي د حسن البنا شخصیت او دده د دعوت له امله که دوی د اسلام سره نه وای متعارف شوي نو حتماً به د الحاد ښکار شوي وای، د اسلام په لور د راګرځیدلو سبب شیخ حسن البنا او دده جاذب شخصیت او د هغه زماني دیني دعوت دی.

په ۱۹۵۱م کي چي کله مصر ته د سفر زمینه برابره شوه، ما په ډیر شدت سره دا هیله کوله چي باید ددې تحریک مطالعه وکړم، ددوی په اړه مخامخ معلومات تر لاسه کړم، د شیخ د پخوانیو ملګرو، دده د معتمدینو او دده په لاس د روزل شویو ځوانانو سره ملاقات وکړم، او ددې عظیم دعوت اصول او د بریا اسباب معلوم کړم، دا زما خوش بختي وه چي د شیخ پخواني ملګري، د کار شریکان او دده شاګردان او دوستان او خواص موجود ول، زما د عربي تصنیف(ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین؟) چي زما د سفر نه څو میاشتي مخکي نشر شوی وو، د اخوانیانو له لوري په ډیره مینه لوستل شوی او بدرګه شوی وو، اخوان په ډیري پراخي سینې او د هر نوع تعصب پرته دا کتاب په خپلو خاصو تبلیغاتي لیکچرونو کي شامل کړی وو، دا کتاب زما او ددوی تر منځ د تعارف ذریعه وو، بیا نو د یوې معروفي اداري سره تعلق او ارتباط ساتل د اخوان لپاره(چي د عالم اسلامي د وحدت او تعارف و تعاون په سبب تر ټولو ستر داعي دی) ډیر د کشش او ذوق ځای وو، تر کومه ځایه چي دشیخ په اړه د تاریخي او شخصي معلوماتو تعلق دی د هغه لپاره تر ټولو ډیر مستند او قابل اعتماد ذریعه دده د قدرمن والد صاحب محترم شیخ احمد عبدالرحمن البنأ ذات دی، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی د پلرني شفقت او خپل ویاړلي او د نجات ورکوونکي بچي په اړه ټول ضروري خبري او جزوي معلومات راغونډ کړل[1]، ددې نه علاوه د شیخ د درس او کار ملګري او د اخوان مربي استاد بهي الخولي(صاحب تذکرة الدعاة) چي دده عاجز د مخوصو دوستانو او عزیزانو نه وو، ده د یو ملګري په حیث د معاصر او مشاهد ملګري په اړه خپل مشاهدات، معلومات او تأثرات راته واورول، ددغو دواړو مشرانو علاوه د هغو څو ځوانانو سره مي هم ملاقات وشو چي د شیخ خاص معتمد، معاونین او د راسته لاس غوندي ول، مثلاً استاد صالح عشماوي، د الدعوة مجلې مدیر، استاد منیر دلّه د ستري محکمې قاضي، استاد عبدالحکیم عابدین، استاد سعید رمضان، ددغو اصحابو نه مي د شیخ د ژوند او د هغه د شخصیت د مختلفو اړخونو په اړه مستند معلومات تر لاسه کړل، ددغو مشرانو سره تر ملاقات کولو وروسته مي داسي احساس کړه لکه د شیخ د زیارت کولو نه چي محروم نه یم پاتي شوی.

د دغو حضراتو نه چي مي څه واوریدل او خپله د شیخ چي مي کوم اثرات ولیدل د هغه نه د دې خبري پته راته ولګیده چي دده شخصیت د تاریخ د هغو غیر معمولي اشخاصو نه وو چي الله تعالی جل جلاله ئې د کوم تحریک او دعوت د چلولو او په کوم عهد کي د اسلامي انقلاب د را اوچتولو لپاره پیدا کوي، او د قیادت وسیع او پراخ صلاحیتونه ورکوي، پراخ او روښانه ماغزه، ګرم، د مینې ډک او نرم زړه، فصیحه او بلیغه ژبه، تسخیر کوونکي اخلاق او زړه راښکونکی شخصیت، دا ټول دده ترکیبي عناصر ول، زه چي کله د اقبال دا شعر وایم نو بې خوده مي د شیخ حسن البنأ مرحوم شخصیت د سترګو مخي ته ودریږي، او داسي ښکاري چي شاعر بس ده ته په لیدو سره دا شعر ویلی:

نگه بلند، سخن دل نواز، جانِ پُر سوز

یهی هے رختِ سفر میرِ کاروان کے لیے

په پوره یقین سره ویلای شم چي د سید جمال الدین افغاني رحمه الله وروسته په عالَم اسلام کي او بالخصوص په منځني ختیځ کي تر شیخ حسن البنأ ډیر طاقتور، او عهد آفرین شخصیت بل ندی پیدا شوی، د ځینو حیثیتونو له امله ده ته پر سید جمال الدین افغاني رحمه الله باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره فوقیت حاصل وو، د سید جمال الدین علمي اثر په علمي او سیاسي حلقاتو کي محدود پاتي شو، ده اسلامي تحریک نه وو چلولی خو حسن البنأ په عربي نړۍ کي په هري طبقي باندي اثر واچوی، او د شلمي پیړۍ تر ټولو ستر او هر اړخیز تحریک ئې تأسیس کړ.

له بده مرغه په کومه زمانه کي چي زه په مصر کي وم، د اخوان تحریک غیر قانوني اعلان شوی وو، ددوی غونډي نه کیدلې خو ددې اعتماد پر اساس چي د هغه د ذمه دارانو سره زما حقیر په ارتباط پیدا شوی وو، ماته د دوی په خصوصي مجالسو کي د شرکت اعزاز راپه برخه شو، ماته د دوی د حالاتو او خیالاتو د اوریدلو او د خپلو وړو اظهاراتو د وړاندي کولو موقع راکول شوه، په یوه خصوصي مجلس کي چي د اخوان د انتظامي مجلس ارکان یا زړه او ماغزه شریک ول، ماته د خپلو اظهاراتو د بیانولو موقع راکړل شوه، زما د وینا دومره پذیرایي وشوه چي اندازه ئې له دې نه لګولی شو چي دوی هغه د یوې جلا رسالې په شکل کي چاپ کړه، او تر کوم وخت پوري چي اخوان د دوهم ځل لپاره ممنوع اعلان شوی نه وو، دا رساله درې ځلي چاپ شوه، ددغي رسالې نوم دی"أرید أن أتحدث الی الاخوان" (د اخوان سره دوې خبري)، ماته د کوم دیني او سیاسي ګوند په اړه دومره د پراخي سیني او ستر لرلید تجربه نه وه شوې، هلته د قیام په وخت کي ماته د شیخ محمد الغزالي په مشری کي(چي د اخوان د ادبیاتو(لټرېچر) ستر مصنف دی) د مصر ځینو کلیو او باندو ته د باربار تګ کولو فرصت برابر شو، په هر ځای کي د اخوان د جوش و خروش، میلمه پالني او اسلام دوستی، محبت او اخلاص او د تعصب د نه شتون او وسیع النضري داسي مناظر مي ولیدل چي ټول عمر به ئې یاد ساتم، او ددغو ټولو نه د شیخ حسن البنأ د تربیت او تأثیر او دده د عوام شمول او سیرت سازي اندازه راته ولګیدله، دا راته څرګنده شوه چي دغه وړوکي بڅري څومره ایماني حرارت پیدا کړی دی، ددغه تحریک د مطالعې او کومو خلکو چي تعلق ورسره درلود، هغوی د نږدو نه تر لیدلو وروسته چي زه په خاص ډول له کومو اړخو نه ډیر متأثر شوی یم هغه لاندي ډول دي:

(۱) دې تحریک په داسي قوم او ټولنه کي چي د غربي تهذیب و تمدن د نویو خرابیو نه په پوره ډول سره متأثره شوي ول او تر هغه مخکي د ترکي سلطنت او شخصي حکومت د اثراتو نه متأثر شوي، او د "مشرقینو په طبقه" کي شامل شوي ول، په داسي عملي قوت او د سربښندني په جذباتو، سادګي او جفاکشي پکي پیدا کړه، چي مثل ئې په اوسنی زمانه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندل ډېر مشکل دي، خپله د دوی د مشر او قاید(شیخ بهی خولي) د وینا مطابق چي نرم و نازک قوم وو(الشعب الرخو الرقيق) ته دوی نوی ژوند ورکړ، ګواکي د اقبال دا فکر او هیله ئې تر سره کړه:

کبوتر کے تنِ نازک میں شاهین کا جگر پیدا

ددوی ددغه عملي قوت، د فداکاری جذبې او عقابي شان ته په کتلو سره باید د استاد کامل الشريف د کتاب"الاخوان المسلمین فی حرب فلسطين" مطالعه کړای شي.

(۲) دوهم شی چي زه ئې واقعاً ډېر متأثر کړی یم هغه د اخوان مینه، ګرم جوشي او د دوی خپل منځي روابط، اړیکي او تعلقات دي، دومره مستحکمي اړیکي، اخلاص، مودّت او د وروری احساس او ملګرتیا ما په ډېرو کمو دعوتونو او جماعتونو کي لیدلي دي، د اخوان تحریک یوه داسي نړیواله ورور ولي پیدا کړه چي هر فرد ئې بل کس ته د خپل حقیقي ورور په سترګه ګوري، او د هر قسم ګوندي، حزبي او یا جمعیتي تعصب او تبعیض پرته د هغه د مرستي لپاره چمتو والی ښیي، یوه مصري اخبار یو ځل په طنزي شکل سره لیکلي ول: زه پوهیږم چي دا د اعتراف انتهاء ده، چي که شیخ حسن البنأ په اسکندریه کي "وپرنجي" نو په اسوان سیمه(دمصر جنوبي سرحد) کي به د "یرحمک الله" ږغونه پورته شي، نه یوازي د خپل عام مرشد بلکي د جماعة د هر کس لپاره ددوی همدا جذبه ده، دوی عملاً د یو بل سره پدې الفاظو تعارف کوي"اخوک فی الله فلان ..." ددوی د طرزِ عمل او سلوک نه دا روښانه کیږي چي دوی پر اخوة فی الله باندي عقیده لري او پر همهغه د عمل کولو پوره هڅه کوي.

(۳) دریم شی چي زه ئې ډېر متأثر کړی یم دادی چي ددې تحریک د ژوند سره نږدې اړیکي دي، دوی د ژوند نه تېښته نه کوي بلکي دوی تل پر ژوند اثر انداز وي، د هغه د مسائلو او مشکلاتو د حلولو هڅي کوي، د عوامو او عملي ژوند سره ئې اړیکي ټینګي وي، دې تحریک د عوامو په ژوند کي دخل اندازي کړې ده، د هغه د خرابیو اصلاح ئې راوستلې ده، او پر ګام ګام ئې د هغوی د مرستي هڅه کړېده، زه باور لرم چي ددې تحریک په بریا، مقبولیت او ژور تأثیر کي د دغه عمل دخل ډېر زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) ددې تحریک څلورم روښانه مظهر دادی چې د دیني او عملي اختلافاتو نه په لرې ساحه کې ئې خپل کار وکړ، چې دا ئې پر کمزورې اړخ هم حسابلای شو، خو که د اسلامي نړۍ موجوده دیني او اخلاقي زوال، د الحاد و زندقه حملات او د مسلمانانو ذهني انتشار مخ ته کېښودل شي نو دا د یو اسلامي دعوت لپاره خوش قسمتي بللای شو چې دوی خپل وخت په خالص اصلاحي او تعمیري کارونو او اساسي دعوت کې لګوي.

(۵) د اخوان د تحریک تر ټولو بریالی او روښانه اړخ به داوي چې دوی په مصر(او نورو عربي هیوادونو) کې د الحاد ولادینیت د لا خپرېدلو مخه ونیوله، او د دین په اړه د استخفاف و بې وقعتی او ذهني ارتداد و تفاوت چې کوم پرمختګ لا په زیاتېدو وو کنټرول کړ، کوم خلک چې د مصر د صحافت او ادب نه خبر دي ښه پوهیږي چې ملحدینو او سیکوالرنو په هیواد کې د دین په خلاف یو ستر محاذ پرانیستی وو، او د فرانسوي انقلاب د علمبردارانو په څېر ئې پوره مصري اسلامي ټولنه د خپل"ترقي خوښوونکي" ادب او خپل "مشکوکو خیالاتو او تحقیقاتو" او د خپل طنز و تمسّخر په ذریعه محوه کول، او د "یُوحِی بَعضُهُم اِلَی بَعضٍ زُخرُفَ القَولِ غُرُوراً) مصداق ول، ددې متحد محاذ په خلاف په کوم دیني ګوند، حتی په ازهر کې هم د آواز اوچتولو او د مقابلې کولو جرأت نه وو، د اخوان مخالفین هم په دې اعتراف کوي چې د اخوان تحریک دغه خلک کمزوري او مأیوس کړل، د الحاد د برملا دعوت ورکولو او دین نه د وګرځیدلو په خلاف جرأت په سترو سترو ادبي زعماوو کې نه وو پاتې شوی، خو اخوان د غیرتي ځوانانو او د صاحب جمعیت مسلمانانو یو داسي لښکر پیدا کړ چې ملحدینو ته د خپلو ملحدانه خیالاتو او تصنیفاتو د چاپ او خپرولو او اخباراتو او رسائلو په واسطه د دین او اسلامي تهذیب په خلاف د تمسخر، طنز و استهزاء جسارت پاتې نشو، بیا ئې ددغو ځوانانو تر څنګ د داسي اسلامپالو ادیبانو، ناقدینو او قلم خاوندانو او د فن او هنر د ماهرینو یوه ټولنه چمتو کړه چې په علمي او فني طرز باندې ددغو ملحدینو مقابله وکړي، او اسلامي ادب روښانه کړي، چې د اخوان دغه کارنامه دومره ستره لاسته راوړنه ده چې کوم کس چې په زړه کې ئې د ایمان رڼا وي، ددې خبرې د اعتراف کولو پرته نشي پاتې کیدای، لکه څرنګه چې زما مخې ته د دغو هیوادونو سابقه ژوند او اوسنی دیني او فکري انقلاب موجود دی، او د خپل اوږده قیام پر اساس مې د هغه مشاهده او تجربه کړې ده چې اخوان د نوي نسل زړه او ماغزه په څه ډول متأثر کړي دي، او د دیني شعائرو د اظهار او اعلان ئې څرنګه جرأت پکې پیدا کړی دی، او کومو خلکو چې د دیني مظاهرو او شعائرو، د دیني عقائدو اوحقایقو په اظهار کې د شرمندګی او حقارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس کاوه اوس ئې په څه ډول اظهار کوي، د دغو ذاتي مشاهداتو او تجربو نتیجه وه چي زما د ژبي نه په یو تقریر کي د اخوان په اړه په غیر اختیاري توګه دا الفاظ ووتل چي:"لا یحبهم الا مؤمن ولا ببغضهم الا المنافق"، (د اخوان سره به هغه څوک مینه کوي چي په زړه کي ئې ایمان وي او هغه څوک به نفرت ورسره کوي چي په زړونو کې نفاق وي).

واقعیت دادی چي که اخوان یو څه موده نور هم په عملي سیاست کي برخه نه وای اخیستې یا په عملي سیاست کي نه وای مصروف شوی، او خپل اصلاحي او دعوتي کار ئې په پوره قوت سره جاري ساتلی وای نو په عربي هیوادونو کي به یو عظیم اسلامي انقلاب راپورته شوی وای، او بالاخره به یو نوی ژوندون پیدا شوی وو.

زه د مستندو او باوري ذرائعو نه خبر شوی یم چي د خپل ژوند په آخري ورځو کي شیخ حسن البناء ته خپله د دغه کار ډیره صدمه رسیدلې وه، چي دوی له وخت نه مخکي سیاسي میدان ته راووتل، او لمن ئې په ازغیو کي بنده شوه، ده ډیر ارمان درلود چي دوی ته یو ځل بیا د خالص دعوتي او تربیتي کار موقع په لاس ورشي او دوی په خپل جماعة او ټولو مسلمانانو کي هغه استعداد پیدا کړي چي د هغه وروسته هغوی هر قسم ذمه داري پوره کړای شي او تر هر امتحان و آزمائش ووځي.

د مصر نه د راستنېدلو وروسته مي هیله وه چي د اخوان د تحریک په اړه مفصل او مستند معلومات په هندوستان کی نشر شي او د دوی صحیح تعارف وشي، په هندوستان کي د دې تحریک په اړه ډیري غلط فهمی او ناقص معلومات خپاره شوي، ضرورت وو چي د دغه عظیم تحریک و دعوت، د هغو د ارتقایي مدارجو، د هغوی د کار پر طریقو، او د نتایجو په اړه ئې کوم مستند کتاب چاپ کړل شي، چي په ذریعه ئې د اسلامي دعوت لپاره کارکوونکي استفاده څني وکړي، او لږ تر لږه مخالف او موافق د دغه تحریک سره(چي په اوسني عصر کي د تر ټولو مظلومو تحریکونو نه یو دی) انصاف وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر د خوښی ځای دی چې ګران سید رضوان علی صاحب د اخواني حلقاتو سره ډیر نږدې پاتې شوی دی، دی نږدې دوه کلونه په مصر کې پاتې شوی دی او هغه وخت ئې هم لیدلی چې د اخوان تحریک او دعوت آزاد او په میدان کې برملا وو، چې بیا د جمال عبدالناصر په پیرزوینه هغوی په ډیر شدت سره وځپل شول، رضوان علی صاحب په عربي او اردو دواړو ژبو کې ماهر دی او د خپلو ذاتي معلوماتو د طباعت، او ادبي ذوق او تحریري سلیقې پر اساس ددې کار لپاره ډیر وړ دی، د خدای جل جلاله شکر دی چې د لومړي ځل لپاره په اردو کې داسي مستند کتاب د دې تحریک په اړه چاپیږي، هیله ده چې مطالعه ئې د اسلامي کارکوونکو لپاره په زړه پوري هم وي، ګټور او د معلوماتو نه ډک او سترګې خلاصوونکی او لاربنود هم.

و ما التوفيق الا من عند الله

۲۶/شوال/۱۳۷۶ه

جون/۱۹۵۷م

دائره شاه علم الله، رائے بریلي

ابوالحسن علی ندوي رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مقدمه

(ډاکټر محمد کمال خلیفه د قاهرې پوهنتون پروفیسر)

اسلامي عقیده په مختلفو مراحلو کي د مختلفو ټولنو سره مخامخ شوې ده، چي په تهذیب و تمدن، په طرزِ فکر او معاشرت کي د یو بل سره مختلفي وې، کله په داسي ټولنه کي پاتي شوی چي هغوی د خپلو فطري سخت دریځیو، عزیمت خوښوونکو او طبعي تعصب سره اسلام ته ښه راغلاست ویلی دی، چي په نتیجه کي ئې هغو خلکو د آیات و احادیثو د احکامو په لفظي پابندي کي د شدت نه کار اخیستی دی، او په هغه کي ئې هیڅ ډول تأویل ندی منلی، دا د اسلام لومړنی عصر دی، د دغه وروسته اسلامي عقیده بالکل د مختلفي مرحلې نه تیره شوه، دا د هوساکۍ خوښوونکې، د اسلامي حکومت د عروج، ترقی او وسعت و پراخی زمانه وه، دا هغه وخت وو چي د فکري آزادی د دائرې د وسعت او ټولنیزو سرگرمیو او د پراخ میدان د هموارولو لپاره په دیني احکامو کي د تأویل نه کار اخیستل شوی، د هغه وروسته اسلامي عقیده د داسي خلکو په لاسو کي ولوېده چي د نوي او زاړه فکري تذبذب او متزلزلو باورونو ښکار شوي ول، یا داسي خلک چي نه به د مؤمن اتباع پکي ول او نه د مجتهد اجتهاد، بلکي حاکمانه رغبتونو او ظالمانه خواهشاتو دوی ړانده کړي ول، یو طرف ته د حاکمانو د جور و ظلم په وړاندي اطاعت او سپر غورځونه وه او بل لوري ته د صحیح عقیدې نه پر کړه لاره تګ.

ددې ټولو چي کوم طبعي نتایج ول هغه را وړاندي شول، یعني اسلامي حکومت ته د هغه د علمبردارانو د عقیدې او ایمان په طاقت چي تش لاسي وه په زوال منتج شو، اسلامي ټولنه د یوې اوږدې مودې لپاره د امن و اضطراب په کشمکش کي مبتلاء شوه، په دې ډول سره د دغه سقوط نه وروسته وړوکي وړوکي اسلامي سلطنتونه هم د طاقت او کمزوری په مراحلو کي ولړزېدل، تر داسی حده چي بالاخره هغوی ټول د غرب لپاره د غوړي ګولې په څیر شول، او د اسلامي سلطنت او د شاهنشاهیت داستان ځیري شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماني بدلون وکړ، او وخت راغی چي شرق بیا رابیدار شي، لکه څرنګه چي د یو او بل ځای نه د انقلاب آوازونه را اوچت شول، چي په دوی ټولو کي ستر غږ د سید جمال الدین افغاني رحمه الله وو، چي د اوږدې او ژوري تیارې وروسته د رڼا یو بڅری وو، دې د کار سرې یو ځل بیا اسلام ته په ټولنه کي د پخواني حیثیت ورکولو لپاره بې ساري هڅي وکړې، په اسلامي نړۍ کي چي د دین په نوم کوم سیاسي فساد را اوچت شوی وو د هغه سره ئې ډغري ووهلې، او تر آخري سلګۍ پوري ئې خپلې هڅي جاري وساتلې، د ده د دې اصلاحي جهادي علم احساس یوازي د ځینو مخصوصو معاصرینو سره وو، جمال الدین افغاني رحمه الله د خپل حیات او ژوند پړاو تیر کړ، او د ځان نه وروسته ئې ځیني د کار خلک پرېښودل، په دوی کي یو محمد عبده دی چي په پیل کي ئې د افغاني د مسلک مطابق خپل دعوتي سفر پیل کړ، خو وروسته ئې بل ډول آرام علمي جهاد ته ترجیح ورکړه، چي د ده په نظر د دین او ټولني لپاره ډیر مؤثر وو، ده هم د یوه فکري او علمي انقلاب د راپورته کولو وروسته هغه لار ونیوله چي تر نن پوري اسلامي ذهن د ده د فکري طریقې نه متأثر دی، د متابعینو یوه وړه ډله د ده پر علمي لار روان دي او د اسلامي تصانیفو خزانه مستقیماً زموږ مخي ته راځي.

د محمد عبده وروسته حسن البنأ مرحوم راغی چي د دوی دواړو نه ئې اخذ وکړ، او یوه داسي عمومي لار ئې غوره کړه چي ایماني جمعیت ئې برقرار وساته، د تعلیم داسي طریقه ئې انتخاب کړه چي له امله ئې اسلامي صحیح عقیده ترویج ومومي، د اسلام او د هغه د نظامِ حیات صحیح او پراخ فهم په خلکو کي پیدا شي، د دغه هدف لپاره ده هغه هڅي وکړې چي ټول ګوته په غاښ ورته پاتي شول، تر داسي حده چي بالاخره دی په دې بریالی شو چي اسلام ته په ټولنه کي همهغه پخوانی ارزښت ورکړي، ده دا کار په ډیر تدبر او خوږو وینا سره په عامه او ساده ژبه وکړ، چي د هر عام و خاص لپاره د غوره کولو او منلو وړ وو، په یو داسي تخلیقي روح سره ئې ترسره کړ چي لرلید ئې پر بنیادي اسلامي اوصولو باندي او د هغوی پر قایمولو ولاړ وو، دی د فروعي اختلافاتو نه بالکل لري وو، په دې شکل سره دی د ټولو د اعتماد و باور او میني مرکز و محور وګرځیدی، ده د قوی الایمانه ځوانانو نه یوه داسي ډله چمتو کړه چي د وطن د حقوقو د حصول او اسلامي و عربي وقار د ساتلو لپاره داسي قربانۍ ورکړي او ورکوي ئې چي دوست او دښمن ئې دواړه اعتراف ورباندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولني د اصلاح لپاره ده يوه بله عملي لاره غوره کړه يعني ټولنيزي، اقتصادي، طبي او تربيتي اداري ئې د اسلام په نوم باندي تأسيس کړې، په دې ډول سره په مدار مدار په خلکو کي خود اعتمادي پيدا شوه، د زړونو په تل کي پټ ايمان ته ژوند ورپه برخه شو، خلک هغه ځای ته راغلل چي دوی د اخوان په شان او په هغه ډول چي په لومړي اسلامي عهد کي وو، د اسلام صحيح او کامل فهم ئې درک کړ، نو په دې مثل سره دغه باهمته مشر د خپل پيغام د اداء کولو وروسته خپله لار واخيستله، او يو پوره سپيڅلی با ايمانه نسل ئې شاته پرېښود، چي د نبوي انوارو او الهی وحيو په سايه کي په ټوله نړۍ کي خپاره شول، او د ايماني ميراني او مقدس جهاد مثالونه بې پرېښودل.

پر حسن البنأ مرحوم او د ده پر دعوت(اخوان المسلمين) ډيرو خلکو قلمونه را اوچت کړيدي، او شايد په شرق کي کوم داسي ديني تحريک نه وي چي په دومره کثرت سره يو څه ورباندي ليکل شوي وي، لکه څومره چي د اخوان په اړه ليکل شوي دي، خو په دې ټولو ليکنو کي زياتره ئې په احساساتي انداز سره ليکل شوي دي، چي د ايماني جذباتو زېږنده ده، خو د دې برعکس ځيني داسي کتابونه هم ليکل شوي چي په هغو کي د دغه دعوت جائزه په علمي بڼه اخيستل شوې ده، او د حقايقو او واقعاتو په رڼا کي د هغو د لوستلو هڅه شوې ده، ياد کتاب د دغه دوهم صنف د کتابونو له جملې نه يو دی، ددې کتاب دوهم خاصيت دادی چي د اعداد و شمېر په اړه پر هر څه استناد ندی شوی بلکي په ذاتي ډول سره د مربوطو ادارو نه تر لاسه شوي شميرې او احصائيې دي.

دا هغه ټول اسباب ول چي پر اساس ئې ما د دغه کتاب په سلسله کي نګراني کولو او مشورې ورکولو ته بڼه راغلاست ووايه، په دې کي چي کومي هڅي ما کړي دي، دا د ځان لپاره د خوښی باعث بولم، په مؤلف کي مي د موضوع په ارتباط دلچسپي، استعداد او علمي فکري انداز احساس کړ او غوښتنه مي ځني وکړه چي د دغي مقالې په تيارولو کي خپلي هڅي دوه برابره کړي، او دا مقاله يوازي د امتحان د بريا او د اسنادو د ترلاسه کولو ذريعه ونه ګرځوي بلکي ددا سي کتاب په شکل کي ئې وړاندي کړي چي په هغه کي د مخصوص طرزِ فکر او عمل تشريح شوې وي، د کتاب مصنف د حقايقو او واقعاتو د وړاندي کولو لپاره د مبالغې نه بالکل کار ندی اخيستی بلکي د علمي امانت او دقت ئې پوره خيال ساتلی، زه پوهيږم چي د وقت پابندي او شخصي وسائل او د موقع د تنګ لمنی باوجود ده خپل دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت(مسؤلیت) په بهترینه او احسنه طریقه سره سر ته رسولی دی، د دغو ټولو وروسته زه صاحبِ کتاب ته د هغه د پراخو هڅو او منصفانه روح په اړه په داد ورکولو ځان مجبور بولم او کتاب لوستونکو ته پرېږدم چي د هغه د نقص او غوره والي فیصله خپله وکړي.

"محمد کمال خلیفه"

د اخوان المسلمین د دعوت عامه جایزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## د دعوت تاریخ

ما غوښتل چي خپل په دغه کتاب کي خالص علمي انداز غوره کړم، او د اخوان المسلمين تاريخ په يو داسي انداز کي وړاندي کړم چي اولاً په مصر کي او بيا وروسته په نورو عربي او اسلامي هيوادونو کي د خلکو پر اذهانو څرنګه خپور شوی، نو ځکه مي هم دا هڅه کوله چي د دې دعوت د تاريخ په وړاندي کولو سره د کوم شخص سره بحث ونکړم، که څه هم هغه خپله د دعوت باني وي بيا هم... خو وروسته مي دا احساس کړه چي دا ممکن نده، او بيا دا کار زما د خالص علم خوښوني سره هم په ټکر کی دی، ځکه د اخوان د دعوت پر تاريخ باندي چي ما کوم څه لوستي دي د هغو نه دا پته راته ولګېده چي دغه دعوت تر ټولو مخکي د مرحوم حسن البنأ رحمه الله د فکر نتيجه وو.

د ده د ځوانېدلو سره دا دعوت هم ورسره را ستر شو، په خپل لومړني دور کي دی د فسق و فجور او بې حيايي په خلاف د بغاوت يو بڅری وو، چي د نوي ځوان حسن البنأ په زړه کي چي اوس لا په ابتدائي مدرسې(مدرسة رشاد دينية) کي متعلم دی، د محموديه د والي(رود) په څنده کي د يوې بادباني کښتۍ پر سر باندي راځوړنده د تهذيب خلاف لوڅه مجسمه ګوري او په زړه کي ئې د هغه په خلاف د بغاوت اور بل شي، دا سليم الفطرته ماشوم فوراً پوليسو ته ورځي او د خپلي کرکي د اظهار سره سره هغوی ته اطلاع هم ورکوي، مسلمان پوليس ددې ماشوم د ايماني وجدان نه متأثر کيږي او غوښتني ته ئې لبيک وايي، سمدستي هملته ځان ور رسوي او د کښتۍ خاوند ته د مجسمې په اړه اخطار ورکوي او مجبوروي ئې چي له کښتۍ نه ئې لري کړي، په دې ډول سره ماشوم په خپل هدف کي بريالی کيږي.

د ايماني بغاوت دغه اور چي د يوه کوچني ماشوم په زړه کي بل وو همداسي بَل پاتي شو، او د ژوند تر پايه د يوې لحظې لپاره هم سوړ نشو، دی دغه مړه ايمان د يوې لحظې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم تېر نه ایستی، چي کوم صاحبِ ایمان دا خبره بې قرار نکړي چي خپله عقیده قولاً او عملاً په خپل ځان کي وګوري او د خلکو په شخصي ژوند او ټولنه کي هغه جاري وویني، د نارینه اوښځي سره د ایمان دغه مقدسه شعله په ده کي لا په ستربېدلو شوه، چي وروسته هغه خپل ژوند ښښونکي لیکنو ته انتقال کړه چي اندازه ئې د ځینو داسي جملاتو نه کولای شو، "زموږ او نورو خلکو په منځ کي بس دومره فرق دی چي د دوی ایمان ویده وي، یا پر یو اړخ بل اړخ کیږي، چي نه ئې دوی خبرو ته چمتو دي او نه د هغه مطابق د عمل کولو لپاره، حالانکه همدا ایمان په اخوانیانو کي ژوندی و بیدار، قوي او څپې وهونکی پُر سوز ایمان دی."

داسي ښکاري چي په حسن البنأ مرحوم کي د قیادت صلاحیتونه د ماشومتوب نه هم ځای په ځای شوي وو، ځکه دی په ابتدایي ښوونځي کي د خپل تعلیم په وخت کي تل په خپلو ملګرو کي ممتاز پاتي شوی وو، دی د ماشومانو قیادت ته نوماند شوی وو، کوم وخت چي په مدرسه کي"د اخلاق حسنه انجمن" تشکیل شو، نو دده ملګرو دی ددغه انجمن د صدارت لپاره غوره کړ.

قدرت ده ته حتی په ماشومتوب کي لا د قومي او دیني قیادت د تمرین موقع ورکوله، او په ده کي ئې د دیني لارښووني او هدایت د کار رمزونو ته پرورش ورکاوه، او دا هم شاید د حُسنِ اتفاق یوه کارنامه وه چي دده لپاره د"مدرسة رشاد دینیة" انتخاب د دیني درسګاه په حیثیت باندي وشو، تر څو د پیله لا دی د دغه عظیم ترین عملیات په مناسبت غوره روزنه ومومي چي دده په انتظار وو، یعني د مصر د تر ټولو غوره دیني تحریک(اخوان المسلمین) د لارښووني او صدارت ذمه داري پر اوږو واخلي او د اخوان"عام مرشد/عمومي مشر" وټاکل شي.

خو یاد مدرسي انجمن دغه نوی طالبعلم او دده پُر جوشه ملګرو ته ډیر مؤثر په نظر نه ورغی، نو ځکه دوی د مکتب نه بهر یو بل اجمن جوړ کړ چي نوم ئې"انجمن انسداد محرمات" وربانډي کېښوده، چي د عمل میدان ئې د نوم نه هم واضح وو، او د دې لپاره ئې مختلفي طریقې غوره کړیدي، یوه طریقه دا وه چي هر داسي شخص ته د خطونو په واسطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلاع ورکول شي چي د محرماتو مرتکب کيږي، او اسلامي عبادتونه په احسنه طريقه نه اداء کوي.

بيا چي کله دی د "دمنهور"[1] په تربيتي مکتب کي شامل شو، او د "حصافية"[2] د سلسلي سره تر تعلق وروسته د خپل شيخ نه متأثر شو، نو دده په افکارو کي يو څه نوره ترقي هم راغله، اوس نو ده د خپل حصافيي[3] ورونو سره په ګډه"انجمنِ حصافحية اصلاحية" تأسيس کړ او خپله ئې د دغه اجمن د معاونيت(سيکرټري)وضايف سرته رسول، د ياد انجمن هڅي په دوو خاصو ميدانونو کي محدودي وې:

- د اخلاقِ حسنه وو د خپراوي دعوت، د منکراتو او خپرېدونکو محرماتو نه منع.
- د مسيحي مشينري(Missionary) مقابله، چي د علاج، د تعليم، خياطي ماشينونو او د ماشومانو سره د مرستي تر عنوان لاندي د مسيحيت دعوت کوي.

د "دمنهور " په تمريناتي مکتب کي د تعليم د ختمولو وروسته چي کله دی قاهرې ته راغی او په "مدرسة دارالعلوم العليا[1]" کي ئې داخله واخستله نو دلته په "جميعة مکارم اخلاق اسلامية" کي شامل شو، دا وخت په قاهره کي دا يوازينی ديني جماعت وو، حسن البناء په پوره پابندي سره د دغه جمعيت په غونډو او لکچرونو کي شرکت کاوه، او په ځينو مساجدو کي به ئې د ممتازو او باعمله علماوو په مواعظو کي هم حاضري ورکوله.

........................................................

[1] د مصر يو ښار

[2] د مصر د تصوف او سلوک يوه سلسله ده.(مترجم)

[3] د حصافيي طريقې لاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په قاهره کي چي ده ته کوم فسق و فجور، عامه خرابي او د اسلامي اخلاقو نه بېګانګي په نظر ورغله، ده دا احساس وکړ چي يوازي د مساجدو اسلامي وعظونه تر خلکو رسول کفايت نه کوي، په دې موقع کي د حسن البنأ مرحوم تخليقي عظمت راڅرګند شو، يعني کوم عام خلک چي مساجدو ته نه راځي، تر هغو کسانو چي د مساجدو وعظ و نصيحت ته راځي ډير ضرورت مند دي، ځکه دا خلک د دين سره بالکل بې تعلقه او د مواعظو د اورېدلو نه بالکل اجنبي او پردي دي، ولي به موږ خپل اصلاحي دعوت د دوی خواته نه ورو ړو، بالاخره همداسي وشول، ده د دارالعلوم د ځينو ملګرو او د ازهر د ځينو دوستانو په مخ کي يو وړانديز وکړ، چي وړو هوټلونو(کيفي)[2] او شخصي ټولنو ته ورشو او خپل دعوت ورته وړاندي کړو، په پيل کي ئې ملګري دغه عظيم فکر ته حيران شول، خوښ ئې نکړ، خو فيصله پر دې وشوه چي د دې خبري د منلو او نه منلو فيصله به ئې د تجربې د نتيجې پر اساس باندي کوو، دوی تجربه وکړه چي ډيره بريالى شوه، او د هغه نه د راتلونکي کار لپاره هم حوصله افزايي وشوه، د دوی نه يوه حلقه د ګرميو په رخصتيو کي په ښارونو او کليو کي د دعوت خپرولو لپاره تشکيل شوه، د دې تجربې نه يو خو دوی ته خود اعتمادي ورپه برخه شوه، او بل خوا ته همدا تجربه په ټولنيزو حقايقو کي د دوی د نيک نوم او مقبوليت سبب شوه.

د هغه وروسته په ترکيه کي د کمالي انقلاب، د خلافت د خاتمې او دين و سلطنت په منځ کي د تفريق او جلاوالي په نتيجه کي په مصر کي د لادينيت او آزادی يو نوی سيلاب راغی، د ډيموکراتيک ګوند بنياد کېښودل شو، چي عام محظر ته د راوتلو نه مخکي لا تر ځمکي لاندي شو چي پلان ئې د آزادی او جمهوريت پرته بل څه نه وو، دا وخت د جمهوريت او آزادی دعوت د اخلاقي فساد او بې حيايي د عاملو دوهم نوم وو، ورځپاني، مجلې، مياشتنى ګڼي او د کتابونو چاپ پيل شو، چي هدف ئې پرته د دې چي د دين اثر په ټولنه کي وځپي او يا ئې له منځه يو سي بل څه نه وو، او د قوم و ملت سينې د ايمان نه بالکل تشي کړای شي تر څو د ډيموکراتيک ګوند د منشأ او د هغه د مصنفينو د افکارو مطابق د فکري او عملي آزادی نه برخمن شي.

..............................................................

[1] موجوده دارالعلوم، قاهره پوهنتون(ژباړن)

[2] دا بايد واضحه شي چي د قاهرې په ژوند کي"مقاهي" يعني د چای ځايونه(Coffee Shopes) د وړوکو وړوکو کلبونو حيثيت لري، او د ژوند يو جُزء دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بې دينی ددې سيلاب په مخکي عموماً په اسلامي حلقاتو او خصوصاً د حسن البنأ په زړه کي ډير شديد ردِ عمل پيدا شو، د خپلو اورېدونکو، ليدونکو او علماوو او مشايخو سره هر ځای چي دی رسيدلای شو د هغوی سره ئې د خپلو خيالاتو اظهار کاوه او ديني درد به ئې د هغوی مخي ته ايښوده.

په دې ارتباط ده برابر د سيد رشيد رضا مرحوم، شيخ دجوي مرحوم، شيخ محمد الخضر حسين او سيد محب الدين خطيب غوندي د ملت د مشرانو سره وکتل او ياد صورتحال ئې په کوم ايجابي تحريک باندي د مقابلې لپاره هڅاوه، تر داسي بريده چي دده دغو هڅو رنګ راوړ، او پدې ډول سره د "مجلة الفتح" ظهور وشو او بيا جميعة الشبان المسلمين[1] رامنځ ته شو.

داسي ښکاري چي د تحريک اخوان فکر دده په ماغزو کي هغه وخت ځای نيولی وو او را څرګند شوی وو چي کله دی په دارالعلوم کي طالب علم وو، په يو درسي موضوع کي د مضمون ليکني په وخت چي ده په څه ډول سره د خپلو خيالاتو اظهار کړی وو د هغه نه ښه اندازه لګولی شو، موضوع دا وه؛

"د تعليم نه تر فراغت وروسته په ژوند کي ستاسي هيلي"!

حسن البنأ مرحوم وليکل چي د پوهنتون نه تر فراغت وروسته زما دوه آرمانونه دي:

يو خاص: يعني د امکان تر حده به خپلي کورنۍ او دوستانو ته راحت او آرام ور رسوم، چي څه کمي به پکي نه وي.

........................................................

يادونه:[1] د Y.M.C.A په مقابله کي د مصر پراخ ترين تهذيبي، کلتوري او اسلامي انجمن دی، چي ښاخونه ئې د نړۍ په مختلفو مشهورو هيوادونو کي خپاره شوي دي، دوی د مصر او نورو سيمو په متوسطه او لوړي طبقې ټولنو او خلکو کي ډير مستشبس دي، هڅه کوي چي دا خلک اسلام ته نږدې کړي، چي تر يو حده برياليي هم دي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم عام: هغه دا چي مدرس او مصلح جوړ شم، چي ټوله ورځ د ماشومانو په زده کړه کي مصرف کړم نو بیا د شپې له خوا د دوی سرپرستانو ته زده کړه ورکړم، دوی د دوی د دیني هدف نه، د سعادت د چشمې نه، او د ژوند د حقیقت نه باخبر کړم، او د دې کار لپاره کله د تقاریرو او ویناوو نه ګټه پورته کړم او کله بیا د تألیف او تصنیف نه او کله به د ګرځېدلو او سفرکولو نه.

ډیرو خلکو ته به دا خبره د تعجب وړ وي چي په دومره کم عمري کي یو وړوکی طالبعلم داسي وچي هیلي ظاهروي، حال دا چي پدې عمر کي په جذباتو کي اور بل وي، هیلي او اُمیدونه ځوان وي، ځواني خپل پر عروج د دغو ټولو لذتونو او د هغوی د سړولو غوښتونکې وي، خو چي تعجب کوونکو ته دا جوته شي چي حسن البنأ د پخوانی دینداري کورنۍ یو فرد وو، نو د دوی تعجب او حیرت به تر ډېره حده کم شي، د ده والد احمد عبدالرحمن البنأ[1] یو مشهور محقق عالم وو، په احادیثو کي دده تألیفات ډیر مستند دي،(الفتح الرباني شرح مسند الامام احمد بن احمد او د مسنَّد شافعي نه څوک ندي خبر!!!) په دې ډول سره د حسن البنأ د سیرت په تشکیل او دیني دعوت په لور د میلان په تربیې کي د ټولني د مخصوصو عواملو سره سره کورني او وراثتي عوامل هم ذېدخل دي.

دوهم لور ته یوازي د مصري ټولني د هغه وخت ضروریات هم د یو داسي اصلاحي هڅي غوښتونکي ول چي بنیاد ئې پر دین باندي قایم وي، لکه څرنګه چي موږ یادونه وکړه دا هغه وخت وو چي اخلاقي ابتري او پستي او ټولنیزه بې لار روي عامه وه، او د دغو ټولو ګمراهیو علاج د داسي اخلاقي کدرونو پرته ممکن نه وو چي د عقیدې نه مأخوذ شوی وي، او په زړونو او ماغزو کي خاص او مقدس ځای ولري.

............................................

[2] دده قدرمن والد ددې لیکني د لیکلو تر وخته پوري ژوندی دی، ماته په مصر کي د ده سره د ملاقات شرف راپه برخه شو، د احادیثو یو آرام خادم او د سترو اسلافو نمونه، کله چي ما د هغه سره وکتل، دی په یو کوچني اطاق کي چي ممکن د مطالعې اطاق یا دفتر به ئې وو، په خپل علمي کار کي مصروف وو، پر یوې کوچنی چولې باندي ئې مصري قهوه راته تیاره کړه او راباندي وئې څیښله.(مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسن البنأ د تاريخ ليکونکي به دا درک کړي چي هغه د خپل دغه پروګرام نه چي د طالبعلمی په زمانه کي ئې په يوه درسي مضمون کي ليکلی او د خپل ځان لپاره ترتيب کړی وو يو انچ هم لري نشو، دده عامه غوښتنه دا وه چي پر مسلمانانو د دين هدف را څرګند کړي، د سعادت دغي چشمې ته دوی را نږدې کړي، او ددې ستر هدف لپاره د ويناوو او تقاريرو، د تأليفاتو او تحاريرو، د سفر او ګرځېدو وسائل ترتيب کړي، زه ويلای شم چي د حسن البنأ په لاشعوري او بې خبری کي دې مضمون برابر ځای ونيولو، او د خپل شخصيت تصوير هغه ته په همدې هينداره کي په نظر ورغی، ددې تر ټولو ستر دليل دادی چي هغه وروسته د ځان لپاره د"أخوان د مشر" د اصطلاح پر ځای د"عام مرشد" لقب غوره کړ، چي د هيلو او اميدونو په لومړي تاريخي مضمون کي دده د قلم نه وتلی وو.

په ۱۹۲۷م کي حسن البنأ د دارالعلوم نه د فراغت اسناد تر لاسه کړه، دا هغه لومړنی ټولګۍ وه چي د دغه پوهنتون نه فارغ شوې ده، د پوهنتون نه د وتلو سره سم ئې د اسماعيليې[1] په ابتدائي دولتي مکتب کي د استاد په صفت کار پيل کړ، د دسمبر پر ۱۹ په ۱۹۲۷م کي دی اسماعيليې ته روان شو، دا وخت دده عمر يوازي ۲۱يوويشت کاله وو، په اسماعيليې کي د قيام په وخت کي دده په زړه کي د برطانوي فوځي او اقتصادي استعمار په هکله ژوره دښمني راپيدا شوه، د سويز کانال برطانوي کمپونه او استعماري شرکتونه ددغه ژوري کرکي مظاهر ول، بل لور ته دی دې خبري هم ډير ځوراوه چي د ښار مسلمانان په فروعي مسائلو او ديني اختلافاتو او د ډله ييزو تعصبونو پر بناء په وړوکو وړوکو ټولګيو وېشل شوي وو، ددې حالاتو نه د متأثر کېدلو وروسته د مساجدو د حاضرينو پر ځای هوټلونو(رېستورانتونو) ته د تلونکو راتلونکو کسانو په لور متوجه شو، ددې غرض لپاره ئې درې ستر هوټلونه غوره کړل، چي په زرګونو خلکو هلته رفت و آمد درلود، په هوټلونو کي ئې د هفته وارو تقاريرو پروګرامونه ترتيب کړل، او په ډيره پابندي سره ئې عملي کول، د ډير غور و فکر کولو وروسته به ئې داسي موضوعات غوره کول چي ډير په فصاحت سره به وربانديډي غږېدلای شو، په دې ټولو موضوعاتو کي د اختلافي مسائلو په اړه کوم تعارض نه وو، خو د بيانونو سره به ئې د آراوو په اختلاف او د علماوو او اسلافو د ژوند مثالونه هم وړاندي کول، دغو مواعظو د اورېدونکو په زړونو ډير تأثير وکړ، دوی په مدار مدار د فکر او احساس په کولو مجبورېدل، په کراره کراره ئې د الهي احکامو او خپلي ديني ذمه داری چي کوم د امت په غاړه دي ځان ته د معلومولو، زده کولو او تحقيق کولو هڅي پيل کړې، اوس نو په غوره ډول سره په دوی کي غوښتنه او طلب پيدا شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ذي القعده ۱۳۴۷ه کي چي د مارچ ۱۹۲۸م سره مطابق وه حسن البنأ په خپل کور کي د محترم حافظ عبدالمجید، احمد الحصري، فواد ابراهیم، عبدالرحمن حسب الله، اسماعیل عز او ذکي مغربي سره ملاقات وکړ، دغه شپږ تنه غیرتي مسلمانان چی په عملي جذباتو سرشار ول او د اسلام د سربلندی لپاره د کوم عملي پروګرام غوښتونکي ول، د همدې هدف لپاره ئې حسن البنأ د پوښتنو محور وګرځاوه، د اصلاحي کار لپاره ئې په ګډه منظم پلان جوړ کړ او قیادت ئې دده پر ذمه ور وسپاره، حسن البنأ په پوره اخلاص سره دغه ذمه داري قبوله کړه، د دوی په منځ کي عهد و بیعت وشو، چي د اسلام او مسلمانانو لپاره به بې ساري هڅي کوو، پوښتنه راپورته شوه چي موږ ځانونه په کوم نوم ونوموو؟ د انجمن، کلب، سلسلې، اتحادیې او یا په بل نوم تر څو قانوني حیثیت غوره کړو، د حسن البنأ مرحوم ځواب دا وو چي: نه هغه او نه دغه!! په نومونو او مظاهرو باندي موږ نباید متمرکز و اوسو، د هر څه نه مخکي باید د دې اجتماع بنیاد پر یو مخصوص فکر او عملي بڼه کي پر معنوي حقایقو ولاړ وي، موږ د اسلام په خدمت کي د یو بل وړونه یو، نو موږ اخوان المسلمون یو او همدا راته کافي ده.

په دې توګه چي ناڅاپه ئې کوم فکر په ذهن کي تولید شو همدغه ئې مستقل نوم وګرځېدو، د دغو شپږو افرادو نه د اخوان المسلمین لومړنی تشکیل وشو، چي د یو مخصوص طرزِ فکر او ژوند طریقه او د اخوان د نوم حامل وو.

په همدې توګه د اخوان المسلمین د تحریک تخم د دغو شپږو مسلمانانو په نفسونو کي ولوېد، چي دوی د یقین او باور بنیاد ورباندي کېښوده، او د الله ج سره ئې دا عهد وکړ چي د هغه لپاره به خپل ژوند نذرانه کوي، د دوی د اخلاص او ثابت عهد همدا ثمرات ول چي د دعوت او د هغه د مؤسسینو د بریا او قبولیت په صورت کي را څرګند شو، د الله ج قول دی چي:

وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا. سورة الفتح: (۱۰)

ژباړه: او څوك چي پر هغي ژمني باندي ودریږي چي هغه له الله سره کړېده، الله به ډېر ژر هغه ته لوی ثواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن البنأ مرحوم په خپل دعوت کي د کوم اعلان او پروپاګند پرته همداسي خاموش مصروف پاتي شو، پدې ډول سره ده په خلکو کي د دعوت لوړ اعتماد تر لاسه کړ، دده د ژورر اخلاص او د تحريک او اهدافو دقيق فهمه دعوت په ډير سرعت سره په خپرېدو شو، په ډلو ډلو خلک پکي شاملېدل، برياوو ئې لا نورو کوښښونو ته هڅول، او د ياد تحريک سره ژوره وابستګي او ګرمجوشي د کاري دائرې د لا پراخولو او مکمل ژوند د هغه لپاره د وقف کولو ته چمتو کاوه، لکه څرنګه چي دوی کوم کلي او بانده، تحصيل او ښار، کښت و مزرعه پرې نښودل، هر ځای ته ولاړل، هلته ئې قيام و دعوت وکړ، د سيمه ييزو خلکو سره ئې د هغوی په مساجدو او کورونو کي وکتل، هر ځای به مسجد د دوی مرکزي قيام ګاه وو، ځکه مسجد يوازينی داسي ځای وو چي هلته چا پر لمونځ کوونکي يا مدرس او واعظ باندي اعتراض نشو کولای.

د دوی دغه سفرونه به د اونيو او کلنيو رخصتيو په دوران کي ترسره کېدل، يعني د اونۍ په رخصتيو کي به نږدې ښارونو ته تلل او په نورو رخصتيو کي لري پرتو سيمو ته، پدې ټوله موده کي ده خپله وظيفه چي په ابتدائي دولتي مکتب کي "استادي" وه په پوره اطمينان او پابندي سره سرته رسوله، کله ئې هم د ناروغی او عذر بهانه نه کوله، په بې تکلفي، تواضع او پوره انکساري سره خپل تدريسي پابندي دی د حاسدينو او کينه کښو کسانو له شره وژغوری، د دوی هدف به ددې پرته بل څه نه وو چي د دوی د آواز تر څنګ نبايد د بل چا بږغ پورته شي، دوی تل خلکو ته طمع ورکوي.

د حسن البنأ دعوت ته لبيک ويوونکي په پيل کي زياتره د مزدوري طبقې خلک ول، په دغو حلقاتو کي د دعوت د بريا راز همدا په ملت کي د دوی نفوذ او ساده طبيعت وو، ځکه ده به هري ډلي ته د هغو په مناسبو اسلوبو باندي خطاب کاوه، د ډيرو زياتو سفرونو او ملاقاتونو، د مختلفو حلقاتو سره د ده د تعلق په سبب خلک د ده سره تر ډيره حده عادي شوي او د ده د مزاج سره آشنا شوي ول، دا غالباً يو عام اصل وو چي ده د ځان لپاره غوره کړی وو، ده به خپلو داعي ملګرو ته ويل: "د چاودليو لاسونو ملګري ډير زيات پيدا کړئ". يعني خواري کښه خلک، چي د خپلو لاسونه په واسطه ګټه کوي، د دعوت کار د هر کسب لپاره د داسي خواري کښو محتاج وي، دغه د مضبوطو مړوندونو خاوندان هغه خلک دي چي د سختيو په وخت کي ډيره مرسته ورځني ترلاسه کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن البنأ مرحوم په دې ډول سره خپل دعوت تر نږدې او لرو پرتو سيمو پوري تر کومه ځايه چي دی رسېدلای شو ورساوه، دوه کلونه وروسته د دوی د سفرونو په نتيجه کي ابوصوير، پورټ سعيد او د الملاح په ښارونو کي د اخوان شعبې جوړي شوې، په دريم کال په سويز کي يوه بله شعبه پرانيستل شوه او په څلورم کال تقريباً لس شعبې شولې، او په اسماعيليه کي هم د انجونو اسلامي تربيتي مرکز پرانيستل شو، تر څو د اخوات المسلمات[1] تشکيل وشي.

د دعوت د تأسيس پنځه کلونه وروسته په ١٩٣٣ کي د حسن البنأ تبادله قاهرې ته وشوه، د دې تبادلې سره دعوت يوې نوي مرحلې ته داخل شو، خو د مخکي په څير په پوره خاموشي او گمنامي سره په مساجدو کي د قيام و تقاريرو او مؤيدينو د حصول او د شعبو پر تأسيس په پوره احتياط سره کار کېدی، په قاهره کي د قيام نه يو کال وروسته په ١٩٣۴م کي حسن البنأ په خپله يوه مقاله کي يادونه وکړه چي د اخوان تحريک د مصر تر پنځوسو نه هم په زياتو ښارونو کي خپور شوی دی، او په هر ښار کي ئې گټي رسوونکي شعبې اوګټوري اداري تأسيس کړي دي، اخوان په اسماعيليه کي د خپل مسجد او تعليم و تربيې د ځای بنياد کېښوده، د هلکانو د تعليم لپاره ئې "مدرسة الحراء" جوړه کړه او د انجونو د تعليم لپاره ئې"مدرسة امهات المؤمنين" او په دې ډول سره ئې د سراخيت په ښار کي يو مسجد او روزنتون جوړ کړ.

يو د هلکانو مکتب او يوه صنعت گاه چي په هغه کي هغه ځوانان چي تعليم ئې بشپړ کړی نه وي، هم خپل تعليم سرته ورسوي او د تعليم سره سره صنعتي زده کړي هم وکړي، او د بحيرة په ښارونو کي ئې هم داسي رفاهي کارونه وکړل او هلته ئې د دارالحفاظ مدرسې تر څنګ د غاليو د اوبدلو او جوړولو يو مرکز تأسيس کړ، په دُقيله او نزله کي ئې د حفظ القرآن يوه مدرسه پرانيستله، د دفو(د مصر يو ښار) نه نيولې تر اسکندريې پوري د اخوان د ټولو شعبو په اړه چي د هيواد په ګوټ ګوټ کي خپرې شوي وې همدا ويلی شو چي د پورته يادو شويو ښارونو په څېر حالات ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسن البنأ مرحوم به دا معمول وو چي سهار وختي به مرکز ته راغی، ځيني هدايتي تحريرونه به ئي ترشا پرېښودل، چي په هغو کي به د روزمره فوري کارونو په اړه هدايات ول، د هغه نه وروسته به مکتب ته تلی، که به د سفر کوم پروګرام وو بيا به د مکتب نه سيده د اډې(ستېشن) په لور تلی، او که به سفر نه وو بيا به سيده دفتر ته راغی او ملاقاتونه به ئې پيل کړل، هدايات به ئې جاري کول، کوم کار چي به پاتي وو هغه به ئې پوره کاوه، او بيا به د شپې له خوا دريم ځل دفتر ته راتلی، په دې وخت کي به ئې هيئتونو او وفدونو سره ملاقاتونه کول او يا به ئې وخت په کمېټيو او مجالسو کي تېرېده، دا ټول مصروفيتونه ئې د کلنيو رخصتيو په وخت کي اطرافو ته د دعوتي سفرونو نه نه مانع کيدل.

کومه سيمه چي به اخوان ضروري بلله، هلته به ئې د ريل ګاډي پر سټيشن د عام مرشد انتظار کاوه، مرشد به د دوی سره د ښار تر مرکزه او بيا د مختلفو سيمه ايزو خلکو د ملاقاتونو لپاره روان شو، د هغه وروسته به د ضرورت مطابق د ماښام ډوډی تيارېدله، هملته به حسن البنأ خلکو ته خطاب کاوه، د دوی کار همدلته پای ته نه رسېدی، چي د تقرير وروسته به کورونو ته ځي، نه!! بلکي په مجتمع او غونډه کي چي به ده کوم کس د خاصي توجه په حالت کي وليده هغه به ئې هم د ځان سره ملګری کاوه، د ده دا معمول وو چي د خطاب او دعوت نه تر فراغت وروسته به د هغو کسانو سره چي د مجلس شوقي ول، کښېناسته او جدي بحثونه به ئې کول، په دغو مباحثو کي د ځوانانو دبيدارئ په اړه او د مصر و اسلام او شرق د اميدونو په اړه اظهارات تبادله کېدل، د هيواد د جنوبي برخي سفر به ئې په شلو ورځو کي ختم کړ، په داسي حال کي چي ښار په ښار او کلي په کلي به ګرځېده، کله کله خو به داسي وشول چي سهار به په "بني سوَيف" کي او غرمه به په "منها" کي او ماښام به په "واسطي" کي او شپه به ئې په "فيوم" کي تيروله، په دې توګه به دده خوب له يو ساعت نه هم کم وو چي ځرنګه به ئې سر بالښت ته ورغی بيا به ويده وو، نورو ملګرو به ده ته نږدې بيا هم خپلو بحثونو ته دوام ورکاوه.

په دې وخت کي اخوان په سياست کي برخه واخيستله، مرشد په اسلامي راډيو او عامو اجتماعاتي او ټولنيزو ادارو کي ديني او اجتماعي تقارير پيل کړل، د پرلپسې تلونکو لومړيو وزيرانو په نومونو ئې خطونه ولېږل، د محمد محمود له عصره نيولې بيا د دوهمي نړيوالي جګړي تر پيلېدلو پوري دا سلسله جاري وه، د دغو خطونو مرکزي نقطه د اسلامي نظام پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیادونو داخلي اصلاحات ول، خو اخوان دوزیرانو توجه خپل لوري ته راجلب نکړای شوه، د هغوی په سیاسي کارکردګي دیني رنګ خپور وو نو ځکه هم دولتي مشرانو دوی ته پاملرنه ونکړه.

په ۱۳۵۵ه مطابق ۱۹۳۶م کي استاد حسن البنأ پخواني مصري شاه فاروق، پخواني لومړي وزیر مصطفی النحاس، د عربي سلطنتونو د مشرانو او مختلفو اسلامي هیوادونو د حاکمانو، د متعددو دیني او سیاسي مشرانو په نوم یو خط د(نحو النور) په نوم ولیږه، چي په دې خط کي د اسلام، د هغه د نظام، د هغه د قانون، د هغه د کلتور و تهذیب په لور دوی دعوت شوي ول، او د غربي ژوند د طریقو، د حیات د مظاهرو او ټولنیزو نظامونو د پرېښودلو غوښتنه تري شوې وه، او د دواړو د ژوندانه نظامونو د خصوصیاتو د په ګوته کولو وروسته دا واضحه کړل شوې وه، چي د طرقی په لور د ګامزن یو قوم چي عسکري، اقتصادي او معاشرتي ضرورتونه ئې بللای شو، اسلام د دغو ټولو چارو په اړه کامل ضمانت ورکوي، ضرورت د دې دی چي تاسي تر هر څه مخکي ددې ناروغي نړۍ د ساتلو په موخه د قرآني طب نه مأخوذ دارو واخلی او پرمختګ وکړئ، ده په دې رساله کي د ژوند په ټولو اړخونو کي د پرمختګ لپاره پر پنځوسو مادو مشتمله طرحه وړاندي کړه، په دې رساله کي چي تر ټولو مهمه غوښتنه وه هغه دا وه چي د ګوندونو د جوړولو بندیزونه دي لغوه شي، او د امت د سیاسي قوتونو نه دي د یو صف او ډلي په جوړولو کي کار واخیستل شي.

په ۱۹۳۸م کي دعوت خپل عناصر مکمل کړي ول، اوس هغه په یو بشپړ چارچوب او غالب کي د ملت مخي ته راغلی وو، استاد حسن البنأ د اخوان د تعارف او پیژندګلوي په موخه لیکي:"دا یو هر اړخیز تحریک دی، چي د اصلاح ټول اړخونه پکي شته، دا یو سلفي دعوت دی، ځکه د اخوان د دعوت له مخي باید الهی کتاب او سنت د عمل محور وګرځول شي، دا سُني مذهب دی، ځکه د اخوان هڅه ده چي په هر اړخ کي پر پاکو او مطهرو سنتونو عمل وشي، دا یو صوفیانه حقیقت دی، ځکه دوی دا فکر کوي چي د خیر و اصلاح بنیاد، د نفس پاکي، د زړه صفایي، للهی مینه او پر خیر مرسته ده، دا یو سیاسي ګوند دی ځکه اخوان د حکومت د خارجي او داخلي اصلاح او د باعزته او خود دارانه تربیتي ژوند داعي دی، دا یو ورزشي جماعت دی دا ځکه هغه د خپلو ورزشي ګروپونو په واسطه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسماني ورزش خاص خيال ساتي، او په هغه کي دا تحريک د کوم ورزشي کلب(سالون) نه کم ندی، دا يو علمي او ثقافتي انجمن دی، د اخوان روزنيز مکاتب په حقيقت کي د تعليم و تهذيب مدرسي او د عقل و روح روزنيز مراکز دي، دا يوه اقتصادي اداره ده، ځکه اسلام پر مالي معاملاتو خاصه توجه ساتي، اخوان د خپل اسلامي طرز د محدودو شرکتونو نه د قومي، اقتصادي حالت په لا مضبوط کولو کي ستر خدمات سرته رسولي دي، دا يو ټولنيز تحريک دی، ځکه اخوان د اسلامي ټولني امراضو ته خاصه توجه ورکوي، پر علاج ئې غور و فکر کوي، او د امت د ټولنيزو امراضو د پاکولو هڅي کوي.

د پنځم کانفرانس کتنه، پاڼه: ۱۶-۱۵-۱۴

د ۱۹۳۹م او ۱۹۴۰م په منځنی عرصه کي د سياسي هڅو په نتيجه کي اخوان يوې نوي مرحلې ته داخل شو، په عملي سرگرميو کي ئې نوې روح جاري شوه او کاري دائرې ئې لا وسعت او پراختيا ومونده، د اخوان هڅي اوس دوه برابره شوې، د دوی په تحريک کي د ازهر او قاهرې د پوهنتونونو د ځوانانو ډلي شاملي شولې، مختلف خواري کښه ځوانان، او د مزدوري اوکاري طبقي خلک هم په پوره شمېر سره د اخوان په تحريک کي شامل شول، د شرکتونو مزوران، تاجران، د صنعت و حرفت کاريګران، انجينران، ډاکټران، مُدرسين، وکيلان غرض دا چي اوس د ټولني د هر قشر او طبقي نماينده ګان په اخوان کي شامل شوي ول، د دوی اقتصادي سرگرمئ هم تُندي شوي وې، او په ورزشي او عسکري ميدانونو کي هم د دوی توجه زياته شوې وه، په ټول هيواد کي د دوی خپرې شوي ټولي شُعبې اوس په پوره توگه منظمي شوي وې، اخوان يو داسي طاقت کرځېدلی وو چي د هر اړخ نه بايد د لحاظ قابل وبلل شي، په دغي منځنی وقفه کي د مصر حکومت لاندي لومړي وزيرانو سمبال کړی وو، علی ماهر، حسن صبري، حسين سري، مصطفی النحاس، احمد ماهر، نقراشي، اسماعيل صدقي، نقراشي(يو ځل بيا)، د علی ماهر او حسن بصري د وزارتونو په موده کي دوی دواړو په خپلو خاصو رسائلو او تقاريرو کي برابر د نصيحت او مشورو کار تر سره کوی، لکه څرنګه چي د تيرو شويو وزارتونو سره د دوی سروکار وو، د علی ماهر وزارت د خپل واک په موده کي د دوی د دغه وړانديز مکمل تأييد وکړ چي د جګړي د اور نه ئې د مصر د لري ساتلو لپاره وړاندي کړی وو، په دې وخت کي دوی د ځان لپاره کومه غوښتنه نه وه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برطانوي سفارت خاني اوفوځي کماندر په فشار باندي د حسين بصري د وزارت په موده کي پر اخوان مصيبتونه پيل شول، بالاخره د دوی اوونيزي مجلې"تعارف" او "شجاع" او مياشتنی ګڼه "المنار" بندي شوې، د دوی د رسائلو، او کتابونو چاپول بند شول، چاپ خاني ئې وتړل شوې، حکومت نورو ورځپاڼو ته اخطار ورکړ چي په دې هکله به څه نه چاپوی، غونډي ئې منع شولې، پر دې ئې هم اکتفا ونکړه بلکي د تحريک مشران ئې لري لري ښارونو ته وليږل، استاد حسن البنأ ئې د قاهرې نه د "قنا" او د مرشد معاون ئې لري جنوبي ښار "دمياط" ته وليږه، خو وروسته بيا د پارلمان په ډير اصرار او ضد سره يو ځل بيا قاهرې ته راستانه کړل شوه، خو دا ځل تر دې هم سخت کار وشو، يو ځل بيا حسن البنأ او عمومي معاون(جنرل سيکرټري) ونيول شوه، اخوان د دوی په نيولو سخت خفه شو، دوی ته د دولت له لوري لويه ضربه ورکول شوې وه تر دې حده چي دوی له ژونده بېزاره شول، حکومت د دوی له ويري سمدستي دواړه مشران خوشي کړل.

په دې تاريک دور کي د مصري حکومتونو دا حالت وو چي د برطانوي استعمار په لاسونو کي د نانځکو په حيث لوبېدل، د دوی سره د قوم د عزت و آزادی هيڅ قدر نه وو، دا ځکه دوی په دې ډول سره کولای شول چي خپل انګريزي باداران خوشاله وساتي، دوی د هغوی د توجه د لا جلبولو په موخه حتی دېته هم تيار شول چي آزادي غوښتونکي تحريکونه وځپي، چي د دغو تحريکونو اساسي اهداف د دين او هيواد خدمت وو، مخلص کارکوونکي ئې له هيواده وشړي، اخبارونه او مجلې ئې د څه ويلو جرأت و نکړای شي، که څه هم د دغو ټولو ځورونو نتائج بالکل برعکس ثابت شول، يعني د خاموشه کېدلو او محوه کېدلو پر ځای د عوامو د توجه محور وګرځېدل، او د ايمان خاوندان د دې جماعت سره لا په سرعت کي يو ځای شول.

کله چي د نُحاس وزارت راغی، نو استاد حسن البنأ د اسماعيليې د حلقې نه په پارلمان کي د انتخابېدلو په موخه په انتخاباتو کي برخه واخيستله، اسماعيليه د اخوان زانګو وه، ددوی هدف دا وو چي د اخوان په نمايندګي باندي دوی بايد په پارلمان کی اثر انداز شي، او پارلمان کړي، خو نُحاس(لومړي وزير) ددوی نه هيله او غوښتنه وکړه چي دوی نبايد خپل نوماند وړاندي کړي، حسن البنأ مرحوم هم د مصلحت په خاطر دده دا غوښتنه ومنله، اوس نو نحاس ددوی په اړه مصالحانه رويه غوره کړه، د غونډو اجازه ئې ورکړه، چاپخاني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسنۍ ئې ورته پرانيستلې، خو دوهم ځل بيا برطانوي سفارتخانې پر مصري حکومت شديد فشار راوستی چي دا ځل نو اخوان د لا ډېرو مشکلاتو سره مخ شول، نحاس د دوی د مرکزي دفتر پرته نوري ټولي شعبې بندي کړې، په اجتماعاتو، مطبوعاتو، او نورو کارونو ئې يو ځل بيا پابندي ورته ولګوله، اخوان د حکومت دا جبر و ظلم په ډېر صبر و زغم سره برداشت کړ، چي په نتيجه کي ئې نحاس په خپلو سختيو کي کمي راوستله، د دواړو تر منځ دا صورتحال بدلېده را بدلېده، چي کله به حکومت آزادي ورکړه نو دوی به کارونه پيل کړل، او د پابندی په موده کي به ئې انتظار کاوه، خو تر څو چي دده وزارت وو دوی د خپل عادت له مخي د ژبي او تحريری نصيحتونو فرائض سرته رسول، د نحاس د وزارت وروسته د احمد ماهر وزارت راغی، ده بيا له شدته کار واخيستی، او د اخوان کومو کسانو چي په ۱۹۴۱م کي د خپل عمومي کانفرانس د غوښتنو مطابق د اسلامي طريقِ حيات د خدمت په موخه د پارلمان د انتخاباتو لپاره ودريدلي ول، نو دغه وزارت په خپلو هڅو سره دوی ناکام کړل.

اتفاقاً زه هم هغه وخت عمومي ژوند ته داخل شوی وم، چي ماته دا موقع رابرابره شوه چي د اسماعيليې انتخاباتي معرکه له نږدې وګورم، هلته استاد حسن البنأ ولاړ وو، زما په ياد دي چي د اسماعيليې خلکو د مصري انتخاباتو په تاريخ کي د لومړي ځل لپاره په خپلو شخصي مصارفو د تشهير(Publicity) په موخه ۶۰خيمې رانيولې چي د انتخاباتو تر آخره پوري د ښار په مختلفو سيمو کي لګيدلي وې، د ښار د هر وګړي پر ژبه دا خبري جاري وې چي استاد به ډېر ژر په ممتازه نتيجه سره بريالی کيږي، د عامو خلکو او محصلينو رغونه د استاد په حق کي ول، چي دوی د اسلامي بيداری رهنما او قائد باله خو مصري حکومت او برطانوي فوځي قيادت[1] دده د ناکامه کولو لپاره له هري ممکني وسيلې نه ګټه پورته کوله.

ددې هدف نه اولاً د مصري حکومت موخه د انګريزانو خوشاله کول وو، او دوهم د خپل حکومت د شريک ګوند يعني آزاد دستور ګوند نوماند بريالی کول.

..........................................................

[1] اسماعيليه د سويز کانال پر غاړه د اشغالګرو برطانوي فوځيانو ښېس(چاونی) وو، دوی د اسماعيليې پر سياست ډېر اثر انداز ول.(مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برطانوي مرکزي دفتر مزاحمت د انګريزي سفارتخاني د هداياتو پر بناء وو، دوی د اخوان پر سرګرميو نظر ساتلی وو، او خبر وو چي د اشغالګرو د مقاصدو د بريا لپاره دوی ستر خطر دي، نو ځکه هم انګريزي فوځي ګوندونو په ښکاره ډول سره د اخوان د مخالفينو لپاره کار کاوه، چي دوی به د رأيي ورکوونکي د رأيو تر مراکزو پوري رسول او په زرګونو مزدوران ئې د لرو پرتو سيمو نه د رأيو ورکولو لپاره راوستل، چي دغو کسانو به د دغو انتخاباتي حلقاتو سره هيڅ تړاو نه درلود، خو د فشار، ويري خپرولو، وعدو، اخطارونو او درغليو باوجود حسن البنأ پر خپل مخالف بريالی شو، مخالفينو په انتخاباتو کي د درغليو او معمولي فرق بهانه وکړه، چي هدف ئې يو ځل بيا انتخابات او د حسن البنأ راپرځول وو، په دې دوهم پړاو انتخاباتو کي د (سيناء) انګريزي فوځي والي(هَمر سلی پاشا) د حسن البنأ نماينده ګان د (عريش) او سيناء د انتخاباتي کمېټيو نه وشړل، نتيجه دا شوه چي په ځينو کمېټيو کي د مخالف نوماند د رأيو شمېر د دواړو نوماندانو د مجموعي شميرې نه هم څو برابره زيات شو، په دې ډول سره استاد حسن البنأ او نورو ټولو اخواني نوماندانو په دې دوهم پړاو کي ماتي وخوړه، اخوان دا ټولي هڅي د دې لپاره کړي وې چي پارلمان ته ننوځي، او د حکومت له لاري د ټولني د اصلاح لپاره مؤثر کار وکړای شي.

بيا چي کله احمد ماهر د جرمني او ايټاليا په خلاف د جګړي اعلان وکړ نو اخوان مخالفت ورسره وکړ، او د خپلو تحاريرو په واسطه ئې دی د دې کار نه منع کاوه، په دغه وخت کي د عيسوی په نوم يوه شخص په همدې سبب ماهر ووژی، اوس نو د نقراشي حکومت راغی، ده د خپل حکومت پيل د اخواني مشر او د هغه د معاون په نيولو وکړ، پر دوی ئې د دغه قتل تهمت پوري کړ، چي دوی په پورته ياد شوي قتل کي شريک دي، د دې نيونو اصل دليل غالباً دا وو چي عيسوي پوليسو ته اعتراف کړی وو چي هغه د جګړي د اعلان په اړه د مشرانو رأيه غواړي، او د مشرانو په نوملړ کي ئې د حسن البنأ نوم هم ياد کړی وو، خو د تحقيقاتو وروسته حسن البنأ پوليسو خوشي کړ، د بندي خانې نه د راوتلو سره سم "مرشد" د احمد ماهر د مرګ د تعزيت په موخه د "نقراشي" سره وليدل، او د ده نه ئې غوښتنه وکړه چي دوی ته د کار آزادي ورکړي، خو نقراشي د ده خبرو ته پاملرنه ونکړه، بلکي د دوی پر کارونو، جلسانو او پر نظربند ساتلو ئې لا سختي وکړه، کله کله به ئې د ډير فشار له امله د وړوکو جلساتو د جوړولو اجازه ورکوله، خو ژر به ئې بيا شديد سياست پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۴۵م کي چي کله جګړه ختمه شوه، اوس نو د دې تحريک د سختيو وخت پيل شو، دا ځکه دوی د ملي تحريک قيادت کړی وو او د هيواد د کاملو حقوقو د حاصلولو په موخه ئي وطني شعور پيدا کړی وو، انګريزانو د جګړي په وخت کي وعده کړې وه چي د جګړي تر ختمېدلو وروسته چي کله د سولي اعلان وشي، مصريانو ته به د دوی حقوق ورکړل شي، په ۸دسمبر۱۹۴۵م کي د اخوان د عمومي شوری غونډه وشوه، چي د جماعت په بنيادي نظام کې ئې ځيني تغييرات راوستل، چي د دې کار سره د تحريک د لا وسيعو او پراخو مقاصدو او وسائلو وضاحت وشو، دوی مختلف شرکتونه پرانيستل، چي د هغو نه ئې ډېری مالي ګټي تر لاسه کړلي، او په خواري کښو طبقاتو کي ئې لا نوم لوړ شو.

يوه ورځپاڼه ئې هم تأسيس کړه چي لومړی ګڼه ئې په ۵ مئی ۱۹۴۶م(۳ جمادي الثاني ۱۳۶۵ه) کي چاپ او توزيع شوه، پدې ډول سره د دوی آواز په مصر او نورو عربي هيوادونو کي په عام ډول سره واورېدل شو، فوځي تربيتي ډلګۍ ئې تشکيل کړې، او د فوځي روزني لپاره ئې مخصوص تمريناتي کمپونه تأسيس کړل، په مصر او نورو عربي هيوادونو کي ئې پاشل شوی قوم سره منظم کړ، د غړو او اعضاوو پر ذمه ئې مختلف کارونه ووېشل، د "شعبې" د امير په واسطه ئې د "عام" مرشد سره د بيعت په تازه کولو سره خپلي وعدې لا پخې کړلي، په اسلامي اصولو ئې برابر قسم وکړ چي په هر ښه او بد حالت کي به د مرشد اطاعت کوي، د شعبې "اعلی ناظم" عام مرشد ته پوره ډاډ او اطمينان ورکړ، او د ژوند تر آخري سلګۍ پوري ئې د "عام مرشد" منصب ورته غوره کړ، يعني نه هغه پرېښودلای شي او نه ئې هم د "تأسيسي کميټې" د فيصلې پرته جلا کولای شي.

يوازي په مصر کي د دغه غړو تعداد پنځه لکه ته ورسېده، د منسوبو غړو، همدردانو او رضاکارانو تعداد له دې نه څو چنده زيات وو، يوازي په مصر کي د دوی د شعبو شمېر تر دوه زره زيات وو، او په سوډان کي پنځوس شعبې، هغه ښاخونه جلا ول چي په نورو عربي او اسلامي هيوادونو کي موجود ول، په دې توګه هغه مؤيدين هم جلا ول چي په ټولو اسلامي هيوادونو اروپا او امريکا کي خپاره شوي ول، د تحريک دا د حيرته ډک خپرېدل، مقبوليت او دقيق عصري تنظيمات هغه څه ول چي چي د دوهمي نړيوالي جګړي وروسته د راتلونکو مصري حکومتونو له لوري د هغه سره د مقابلې او پر هغه د سخت دريځي کولو اسباب شول، استاد البنأ د دوهم ځل لپاره د نقراشي(لومړي وزير) سره ملاقات وکړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نه ئې هیله وکړه چي د قومي حقوقو د حصول او نیل دریِ(مصر او سوډان) د آزادی او اتحاد لپاره مؤثر اقدامات وکړي، کنه بیا دي ملت ته دا هدف وروسپاري او خپله دي د دې هدف لپاره د ملت په مخکي روان شي، نقراشي برطانوي حکومت ته یو یادداشت ولېږه چي تحریري ځواب ئې ورته راولیږل شو، د اخوان المسلمین دغه کاغذي لوبه خوښه نشوه، دوی د محصلینو په ملاتړ یوه لویه مظاهره وکړه چي په هغه کي د "عباسي پُل" په حادثه کي د پولیسو او مظاهره کوونکو ترمنځ جګړه رامنځ ته شوه، بیا وزارت مستعفی شو، د سولي د اعلان وروسته د اخوان ټوله هڅه دا وه چي څرنګه د ملت شعور لا بیدار کړي، نو ځکه دوی عمومي جلسات، تقریرونه، کتابچې، د کلي او ښارونو سفرونه او نور ټول ممکن وسائل په کار واچول، او د حکومت د مخالفي ډلي(اپوزیسیون) حیثیت ئې خپل کړ، دوی اصلاً د برطانوي استعمار او اشغال په خلاف د طاقت د استعمالولو داعیان ول، دا وخت د دوی ټولي هڅي او کوښښونه پر همدغه اړخ منحصر ول، او دا هم یوازي د دې هدف لپاره چي هیواد په بشپړه توګه آزادي تر لاسه کړي، بیا د اسماعیل صدقي حکومت راغی، د دوی مظاهرات لا زیات شول، استاد حسن البنأ ټول سیاسي تحریکونه او ګوندونه د قومي کونسل د تشکیل لپاره وهڅول، تر څو ټول قومي قوتونه یو ځای کړل شي، او ملت په یو متحد صف کي سره راغونډ کړای شي، سیاسي ګوندونو د ده پر غږ لبیک ونه وایه، اوس نو ده همدا غوره وبلله چي د برطانیې سره د خبرو او مذاکراتو دغه بې نتیجې سلسله ودرول شي، او د علانیه جهاد نه کار واخیستل شي، د اخوان سیاسي سرګرمي پر همدې طرز جاري وساتل شوه، پر حکومت ئې شدیدي نیوکي وکړې، د دوی له لوري پر حکومت دا اتهام ولګېده چي حکومت د هیواد د مسلمو حقوقو نه د سترګو په پټولو سره د انګریزانو سره د مصالحې او معاملې لار نیولې ده، داسي شرکتونه جوړوي چي په اصل کي د اغیارو دي خو ظاهراً مصري مُهر ورباندي لګول شوی وي، د خواري کښو او بې کسبه خلکو د مسائلو نه عاجز دي، د مذاکراتو او خبرو په ختمولو او د جهاد په اعلانولو کي متردّد او متزلزل دی، د دوی د اخبارونو نیوکي پر مذاکراتو، پر صدقي حکومت او انګریزانو باندي ډیري تُندي شوې، اسماعیل صدقي پر دوی برید پیل کړ، ډیری اخوانیان ئې ونیول، د دوی اخبار ئې وتړل، د جماعت د عام مرشد معاون ئې ونیوی، اخوانیانو هم د دغو بریدونو دوه په دوه ځواب ورکړ، د قاهرې او اسکندریې په ښارونو کي بمونه وچاودېدل، حکومت ته

...........................................................

[1] د نیل رود د قاهرې په منځ کي بهیږي، چي پر دې لوی رود ستر ستر پُلان د یو اړخ نه بل اړخ ته د اوښتلو په موخه اینښودل شوي دي، چي د هغو نه د یوه پُل نوم"کوبري عباس" دی.(مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهانه په لاس ورغله، په همدې تور ئې د دوی کورونه محاصره کړل، يعني په محکمو او وزارتونو کي چي څومره ښه ښه ايمانداره اخواني ذمه دار کارکوونکي موجود ول، د هيواد لرو پرتو سيمو ته واستول شول[1].

په همدې دوران کي صدقي استعفا ورکړه، او په ۱۰ دسمبر۱۹۴۶م کي د نقراشي حکومت جوړ شو، په همهغه ورځ شهيد حسن البنأ مرحوم يو مضمون نشر کړ چي په ياد مضمون کي د حکومت نه غوښتنه شوې وه چي لار لنډه کړي، د قوم آرمانونه مراعات کړي او د مذاکراتو لړی ودروي د جهاد لار غوره کړي، د دې وروسته ئې مسلسل په اخبارونو کي مضامين خپرول، د مضامينو عام موضوعات به ئې دا ول چي حکومت هڅه کوي چي اخوان استحصال کړي، د اخوان مکاتب تړي، د دوی پر کړنلاره انتقاد لري، چي د نقراشي او اخوان تر منځ د جګړې بنيادي نقطه همدا وه، د فلسطين مسئلې دا اختلاف لا اوج ته ورسوی چون اخوان په ياد مشکل کي د فلسطينيانو تر څنګ برخه اخيستې وه، يو طرف ته د دوی طاقت څرګند شو او بل لور ته د دوی اثر او نفوذ او په مصري او عربي هيوادونو کي د دوی د عزت او قدرداني سبب شو، د فلسطين په جګړه کي اخوان د عرب ليګ په لارښوونه برخه واخېستله، دې عسکري اشتراک دوی ته د جګړه ييزو مشقونو او تمريناتو فرصت په لاس ورکړ، او ورسره د هغه نه د دوی د عسکري استعداد او وسعت پته ولګېده، د نقراشي حکومت د دوی له دې قدرت نه په ويره کي شو، ده په هيواد کي دننه د ئې ځينو پيښو شويو حوادثو نه ګټه پورته کړه او دا تور ئې پر اخوان پوري کړ چي اخوان په يادو حوادثو کي شريک وو، او غواړي يو انقلاب را اوچت کړي، او په دې بهانه ئې په ۸ دسمبر ۱۹۴۸م کي يو فوځي امر صادر کړ، چي د هغه به مخي ئې د اخوان تنظيم او د هغه ټول ښاخونه چي هر ځای ول غير قانوني اعلان کړل، د هغوی د عملي سرګرميو ټول مراکز ئې وتړل، او د تحريک ټول کاغذان، عهد نامې، رسالې، مطبوعات، پيسې، املاک خلاصه پر هر څه ئې قبضه ولګوله، د دې امر وروسته ئې نور فوځي احکامات هم صادر کړل چي له مخي ئې د هغوی د تجارتي شرکتونو حسابونه منجمد او کنګل کړل، د تحريک ټوله سرمايه ئې په لاس کي واخيستله، چي نور به دا هر څه د "عامه أمورو وزير" د خپلو

............................................................

[1] اخوان المسلمين - عظيم ترين اسلامي تحريک پاڼه: ۳۳۰ ډاکټر اسحاق موسی حسيني، د کتاب اصلي ښه په انګريزي ژبه ده او عربي ته هم ژباړل شوی دی.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسنادو مطابق په عامه کارونو کې مصرفوي، حسن البنأ وغوښتل چي دوی ته یوه موقع ورکول شي تر څو دوی د حالاتو د څه نا څه برابرولو هڅه وکړي، خو د نقراشي او د هغه د حکومت له لوري هیڅ توجه ورته ونشوه، تر داسي حده چي د نقراشي قتل د دغو هڅو دروازه د تل لپاره وتړله، چي په ۲۸ دسمبر۱۹۴۸م کي ترسره شو، د ده د قتل اتهام پر اخوان ولګېدی، په دې توګه د دوی او حکومت تر منځ کشمکش لا زیات شو.

حسن البنأ د دغو ټولو مصائبو او ابتلاوو په اړه وړاندوینه کړې وه، ده به کله کله داسي بیانوله لکه دا هر څه چي د ده په مخکي ترسره کیږي، ورسره ئې د دې وضاحت هم کوی چي د دعوت او اصلاح د علمبردارانو لپاره دا یو حتمي او ضروري پړاو دی، دوی مخکي هم ورباندي تېر شوي دي او تل به ورباندي تیریږي، په دې هکله به ده د مجاهدینو او انبیاوو علیهم السلام قصې بیانولې او پر دې خبره ئې څه داسي یقین وو چي ګواکي دا د ده محکمه عقیده وه چي ده په خپله یوه رساله کي د اخوان لپاره ثبت کړي وه، دی فرمايي:"زه غواړم تاسي ته ووایم چي ستاسی دعوت تر اوسه لا هم ډیر خلک نه پیژني، په کومه ورځ چي ئې وپېژني او د هغه د اغراضو او مقاصدو نه خبر شي، تاسي به د دوی له لوري د سخت عداوت او خصومت سره مخامخ شئ، تاسي ته به ډیر مشکلات او کړاوونه په مخه درشي، دا به نو همهغه وخت وي چي تاسي د اهلِ دعوت پر لار روان شئ، تر اوسه خو لا تاسي مشهور شوي نه یاست، فقط د دعوت لپاره لار او میدان هواروئ، او هغه چي د کومو هڅو، کوښښونو او قربانیو غوښتونکي دي د هغه تیاري کوئ، د اسلام د حقیقت نه د قوم بې خبرتیا به ستاسي لپاره د لاري خنډ شي، ډیری دولتي او درباري علماء به ستاسي پر اسلامي فهم باندي د تعجب اظهار کوي، د دین د دعوت په لار کي به هغه خلک ستاسي پر طریقهٔ کار باندي د عُتاب(پښېماني) نظرونه خښ کړي، زُعماء، قائدین او د جاه و جلال خاوندان به ستاسي سره کینه کوي، ټول دولتونه به په یو قِسم ستاسي مخالفت کوي، او هر حکومت به ستاسي د فعالیتونو درول او بندول غواړي، دوی به ستاسي په لارو کي ازغي کري، بهرني غله(انګریزان) به په هره طریقه ستاسي مقابله کوي، ستاسي د دعوت د مشال د خاموشه کولو هڅي به کوي، او د دې هدف لپاره به هغه کمزوري حکومتونه، او پست اخلاقو مشرانو نه مرسته وغواړي، هغه لاسونه به ستاسي د ګرېوانونو په لور وغزوي چي د دوی په لور د فقر او ستاسي په لور د جور و ظلم لپاره پورته کیږي، دوی ټول به په ګډه ستاسي د دعوت په خلاف د شکوکو او شبهاتو فضاء جوړوي، تهمتونه به لګوي، هڅه به کوي چي هر عیب او خرابي تاسي ته منسوب کړي، خپل د قوت او بالادستي او د حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفوذ په ذريعه به ستاسي دعوت د خلکو په وړاندي په ډېر بد صورت کي وړاندي کوي، دا به همهغه عصر وي چي تاسي به د امتحان او آزمائش پړاو ته ننوځئ، ستاسي نيوني او بندي کول به پيل شي، بندي کيږئ به، تبادله کيږئ به، په لرو پرتو سيمو کي به غورځول کيږئ، ستاسي وسائل، ثروت او راحت به درنه واخيستل شي، ستاسي کورونه به پلټل کيږي، ممکن د دغو ابتلاوو او زحمتونو موده اوږده شي."

أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوَا أَن يَقُولُوَا ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ

ژباړه: ايا خلکو دا ګڼلي ده چي يوازي به په همدومره ويلو پريښودل شي چي: "موږ ايمان راوړ." - او هغوی به ونه ازمويل شي؟ (سُوَرَةُ العَنکبوت : 2)

خو الله ج د دغو ټولو وروسته وعده کړې ده چي هغه به د مجاهدينو مرسته کوي، او د خير خوښوونکي کار ترسره کوونکو ته به اجر ورکوي."

داسي ښکاري چي پر حسن البنأ دا يو الهام وو، او د غيب په سترګو ئې دا هر څه ليدل، دا ځکه د تحريک د غير قانوني کېدلو وروسته هغه هر څه پېښ شول چي د دوهمي نړيوالي جګړي څو کلونه وړاندي ده په خطاب کي اخوان ته د دغي رسالې په ذريعه اورولي وو.

دغه حقايق حسن البنأ مرحوم د ابتلاوو او اذيتونو نه مخکي يادول، تر څو اخوان د هغو د زغملو او برداشت لپاره چمتو و اوسي، او ناځاپه د دغو ويروونکو حقايقو او ستونزو نه وارخطا نشي، چا چي د هسپانيوي(احتسابي محکمو) ياد په ذهن کي تازه کړ. د حسن البنأ ټولي وړاندويني حتی هغه څه چي ده خپله د دين داري طبقې د درباري علماوو په اړه کړې وې صحيح ثابتي شوې، واقعاتو څرګنده کړه چي د دغي طبقې د علماوو نه ځينو ئې په رضا کارانه طريقه باندي تقارير نشر کړل، او د حکومت د اخوان وژني د پاليسی نه ئې پوره حمايت وکړ، دوی پدې اړه قرآني آيتونه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا أَوْ يُصَلَّبُوٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ (سُوْرَةُ المَائدة : 33)

ژباړه: کوم خلك چي له الله او د هغه له پېغمبر سره جنګيږي او په ځمکه کښي د دې لپاره منډې ترړې کوي چي فساد را ولاړ کړي، نو د هغو سزا دا ده چي ووژل شي، يا په دار وځړول شي، يا ئې لاسونه او پښې ردو بدلې غوڅې کړای شي، يا له وطنه وشړل شي.

د طُور په محبس کي او نورو ټولو زندانو کي پر ديوالونو د هغوی د منتظمينو له لوري ياد مبارک آيت د کاغذ پر مخي ليکل شوی او ځوړند شوی وو تر څو اخوانيان ئې ولولي، اوس نو ددې عمل نه هر کس اندازه لګولی شي چي اخوان چي شعار ئې( اَللّٰهُ غَايَتُنَاَ وِالرَّسُوْلُ زَعِيْمُنَا ) "الله جل جلاله زموږ مقصد او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم مو قائد دی" حکومتونو به څرنګه داسي خلکو ته د دې آيت په واسطه اخطار ورکولای، دا واضحه شوه چي حکومت غوښتل د دغو تهمتونو په پوري کولو سره اخوان د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله عليه و سلم دښمنان وښيي، تر څو دوی په نفساني کشمکش کي راګير کړي.

د ابراهيم عبدالهادي په وزارت کي هر څه وشول چي د نقراشي وروسته د اقتدار پر کرسی کښېنستی وو، د دې کس هڅه دا وه چي د خپل پخواني هم منصب(يعني د نقراشي) د قتل انتقام د مکمل تحريک او غړو نه ئې په شخصي بڼه واخلي، د دې ظالمانه اهدافو د ترسره کولو په موخه ده پر اخوان دا ښکرور درواغ وتړل چي ګواکي دوی د پاچا(پخواني پاچا) سره مخالف دي او د هغه په ضد د کودتا او انقلاب پلان او اراده لري، د ياد حکومت په وخت کي چي تر ټولو زياته کومه زړه بوږوونکې پېښه رامنځ ته شوه هغه د حسن البنأ قتلول وو، د قتل نه مخکي هغي تولي سلاوي چي د اخوان سره وې او قانوني مجوزات(لائسنسونه) ئې درلودل د هغوی نه واخيستل شوې، حسن البنأ ئې د خارجي سفرونو نه منع کړی وو، د حکومت د اجازې پرته ئې داخلي سفرونه هم نشو کولای، کوم وخت چي ئې د سفر اراده وکړه او حکومت ته ئې احوال ولېږه چي دی د "بَنها" سيمي ته د يوه ملګري کلي ته د سفر اراده لري نو هغه قاصد د دولت له لوري ونيول شو، دا واقعه د ده تر ترور څو ورځي مخکي پېښه شوې وه، د ترور ټول تفصيل به لاندي درته ذکر کړو چي د يوې ورځپاني نه مأخوذ شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمیعة الشبان المسلمین(ینګ مِن مُسلم ایسوسي ایشن) د کارکوونکي حلقې یو تن غړي(ناغي) د ځوانانو د شعبې مشر(محمد لیثي) ته وویل چي ولاړ شه او استاد حسن البنأ ته دا پیغام ورسوه چي د ۱۲ فروري۱۹۴۹م د سه شنبې په ماښام زما سره همدلته د جمعیت په دفتر کي وګوري، تر څو ده ته د جماعة الاخوان المسلمین د حل غوښتونکو مسائلو په باب د ځینو مهمو او خوشاله کوونکو احکاماتو اطلاع ورکړم، چي د دې لپاره "ناغي" ته دده د ګران لومړي وزیر"ابراهیم عبدالهادي" له لوري دا ذمه داري ورسپارل شوې وه، بالاخره د ورځي پر دوو بجو محمد لیثي د حسن البنأ مرحوم کورته ورغی او د ناغي د ځرګندونو نه ئې خبر کړ، استاد حسن البنأ محمد لیثي ته وویل:"د دې خلکو نیتونه ښه نه ښکاري، او نه هم دوی کوم تفاهم ته چمتو دي، زه اوس خبر شوم چي دوی هغه بوډا سړی نیولی دی چي د هغه په لاس ما حکومت ته دا اطلاع ورکړې وه چي د یوې یا دوو ورځو لپاره د هغه کورته د سفر لپاره ځم، خو په هر صورت زه د استاد ناغي لیدو ته ورځم."

پر ټاکل شوي وخت حسن البنأ د ده سره ملاقات ته ورغی، ملاقات بې نتیجې پای ته ورسېدی، ځکه د دولت غوښتنه دا وه چي اخوان دي ټولي سلاوي او راډیو ټرانسمیټر(استېشن) دوی ته وروسپاري، اوه بجي او پنځه ځلوېښت ۰۷ : ۴۵ دقیقي وې چي استاد البنأ له مجلسه راولاړ شو او ټیکسي ئې راوغوښتله، د ده سره د ده زوم وکیل عبدالکریم منصور هم موجود وو، لیثي دوی تر ټیکسي پوري را ورسول، د ګوند یو کارکوونکی راغی او لیثي ته ئې وویل:"د ټلیفون پر کرښه یو څوک انتظار درته کوي". ده حسن البنأ او د هغه زوم په موټر کي سپاره کړل او د ټلیفون په لور لا رسیدلی وو چي د ډزو ږغ ئې واورېده، ټلیفون ئې همداسي پرېښودی او د دباندي په لور ئې منډه کړه ترڅو وګوري چي څه پېښه ده!! ګوري چي د ګوند د اپارتمان لاندي یو جګ خو ډنګر شخص په جلباب(تر ځنګونو پوري اوږد قمیص چي د مصر ملي جامه ده. مترجم) کي ځان پیچلی او سپینه ټوپۍ ئې پرسر ده او په لاس کي ئې توفتنګچه ده، د ده په لیدو سره لیثي د "وئې نیسئ ... وئې نیسئ ..." چیغې پورته کړې، ځوان پر ده هم ډز وکړ خو خطا شو، بیا ئې پر ځړک باندي په لیثي پسې دوې نوري ډزي وکړې، خو د ده مرمۍ خلاصي شوې او د مخامخ درې ګزي په لور ئې منډه کړه، هلته یو بل کس ورسره یو ځای شو او دواړه په یو شخصي موټر کي سپاره شول او د شارع الملکه(Queen Road) په خوا روان شول، په دې وخت کي استاد البنأ د ټکسي نه راکښته شو او د ګوند د دفتر په لور ور وختی او پر ژبه ئې د "مړ ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ ... مړ ئې کړ ..." الفاظ ول. محمد ليثي هم دفتر ته راستون شو، ګوري چي ټليفون لا هم ندی قطع شوی، د هغه سره تر خبرو کولو وروسته پوه شو چي دا کپتان(Captain) محمد جزار د استخباراتوC.I.D افسر وو، چي لا هم ځواب ته منتظر وو، محمد ليثي د ټليفون پر کرښه په لوړ ږغ ورته وويل: "په استاد البنأ زما د دفتر مخي ته ډزي وشوې". جزار وپوښتل: "مړ شو او که لا ژوندی دی."

پدې وخت کي استاد البنأ نږدې شفاخانې(دارالاسعاف) ته ورغی، محمد ليثي هم شفاخانې ته ورپسې ورغي، دلته نو ده استاد د کلمې د لوستلو(شهادت) په حالت کي وليده، استاد ته ئې نږدې يو غنم رنګه ځوان وليده چي جلباب(اوږد قميص) پر تن او ترکي ټوپۍ ئې پر سر وه او په کوم موټر کي چي هغه مجرم تښتېدلی وو هغه ته نږدې ولاړ وو، ده د موټر د پلېټ شمېره ياد داشت کړې وه چي(۹۹۷۹) وه، د ترافيکو په رياست کي تر تحقيقاتو وروسته جوته شوه چي ياد موټر د ډګرمن(Lieutenant colonel) محمود عبدالمجيد وو، چي اوس د استخباراتي پوليسو مشر وو، کپتان جزار د پيسو، شرابو، ښځو او بالاخره د اخطار په ذريعه هڅول شوی وو چي د موټر شمېره بدله کړي، لکه څرنګه چي ده يوې ورځپاڼي ته وويل:"پوه شئ!! د حسن البنأ قاتل آزاد دی، او همداسي به پاتي شي، کوم کس چي د هغه په لار کي راځي وژل کيږي به، يا به تاوان ور رسيږي، په تا پسې تلونکي ستا بچي دي چي يتيم کول ئې پر تا حرام دي.(اهرام ورځپاڼه مؤرخه: ۱۹۴۸/۱۱/۸م)

په دې ډول ټول قاتلين آزاد وګرځېدل، تر داسي بريده چي په ۲۳جولای۱۹۵۲م کي فوځي کودتا وشوه، اوس نو دوی ټول ونيول شول، په دوی(قاتلينو) کي ډګرمن محمود عبدالمجيد، ډګرمن احمد کامل، ډګروال(Colonel) حسين کامل، عسکر(Private) عبده ارمانيوس، د پاچا خاص خادم محمد حسن، کپتان محمد جزار، عسکر محمد محفوظ(په کوم موټر کي چي قاتلان تښتېدلي ول د هغه موټر موټروان)، احمد حسين جاد، محمد سعيد، مصطفی محمد ابوالليل غريب او ليس نائک حسين محمد بن رضوان وو.

تر شهادت مخکي استاد حسن البنأ د داخله چارو وزير د معاون عبدالرحمن عمار د يو ياد داشت(چي په دغه يادداشت کي د اخوان د غير قانوني کولو غوښتنه شوې وه) په ځواب کي د اخوان د غير قانوني اعلانولو اسباب په ګوته کړي ول، دا د استاد حسن البنأ آخرنی ليکنه وه چي په هغه کي ئې په لاندي ليکو کي د هغه اسباب مختصراً داسی ليکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د اخوان دښمنۍ تر ټولو ستر سبب بهرنۍ فشار دی، د داخله چارو د وزير معاون ما(عام مرشد) ته خپله پردې خبري اقرار کړی وو، چي د برطانيې، امريکا او فرانسې له لوري د ۶دسمبر۱۹۴۸م د اجتماع وروسته يو يادداشت نقراشي پاشا(لومړي وزير) ته وړاندي شو چي په هغه کي ئې د ده نه فوراً د اخوان د فعاليت د بندلو غوښتنه کړې وه، د استعماري دولتونو له لوري داسي غوښتني يو طبعي امر وو، چي د "وادي نيل" عربي هيوادونو او اسلامي هيوادونو په ارتباط د خپلو اغراضو او مطامعو په لار کي اخوان د لاري خنډ بولي، دا کومه لومړی غوښتنه نه وه بلکي د دې غوښتني حيثيت د يوې دولتي غوښتني په څېر وو، چي د هر برطانوي سفير له خوا ئې هر وخت د خپلو نمائنده دولتونو نه کوي، او کوم حکومت چي دوی ته عملي ځواب حتی په سخت ترينو وختونو کي هم نه وو ورکړی، برطانوي سفارتخانې د نحاس پاشا نه چي په ۱۹۴۲م کي کله جگړه پيل شوې وه او جرمنيان د مصر دروازو ته رارسېدلي ول، غوښتنه کړې وه چي اخوان بايد غير قانوني او ممنوع الفعاليت اعلان شي، خو ده دې غوښتنو ته لبيک نه وو ويلی البته دومره ئې وکړه چي د يو معلوم وخت لپاره ئې د اخوان منځني ښاخونه بند کړل، خو مرکز خپل فعاليت همهغسي جاري ساته.

نقراشي پاشا هم داسي کولای شول چي د اشغالگرانو داسي غوښتنو ته منفي ځواب ووايي، او په مقابل کي ئې د اخوان سره کومه گټوره معاهده وکړي چي د دواړو جهتونو لپاره د اطمينان وړ وي، اخوان د "مرشد" د حجاز له سفره تر راستنېدلو وروسته مذاکراتو ته چمتو وو، خو نقراشي ته دا توفيق ورپه برخه نشو، او پورته جارحانه او ظالمانه گام ئې اوچت کړ چي د دې نه جوته شوه چي مصر تر اوسه لا هم د خپلو هيوادوالو پر ځای د پرديو اهداف تأمينوي، او پر دې ځمکه تر اوسه لا هم د اغيارو نفوذ او اقتدار دوام لري."

د دې وروسته مرشد د حالاتو او اسبابو تفصيل په دې ډول سره بيانوي: "دا هر څه د بين المللي يهودي تحريک، نړيوال کمونيزم، ديکتاتوري نظامونو او د الحاد و بې دينی د علمبردارانو کار دی، چي دوی اخوانيان او د هغوی اسلامپال تحريک د خپلو ناپاکو اغراضو په لار کي ستر خنډ گوري."

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ حسن البنأ د یوه خبریال د پوښتني په ځواب کي چي د اخوان د غیر قانوني اعلانولو اسباب څه دي؟ فرمایلي وو: دا هم ویل کیږي چي د سیاسي ګوندونو د ترټلو عوامل هم د دې اسباب دي، چي د پارلمان د انتخاب د غوراوي په سبب ښکاره کېدله، ځکه دا مشهوره خبره وه چي "سعدي ګوند" په پارلمان کي اکثریت غواړي تر څو په راتلونکي کي د دوی حکومت جوړ شي او دا هم مشهوره خبره وه چی اخوان یو ملي طاقت ګرځېدلی چي د یاد صورتحال سره به په مېړانه مقابله کوي، او په نورو اثراتو به ملت متأثر نکړي، نو ځکه د ګوندي سیاسي پېش بندی غوښتنه ده چي د دغسي اقدام په پایله کي دوی بدنام کړي، او د دوی حیثیت او مقام سپک وښیي، او دا هم ضروري وه چي نور مؤثرین هم په دې صورتحال سره اثر انداز شي او د انتخاباتو تاریخ یعني اکتوبر۱۹۴۹م نه مخکي دغه سازش او لوبه ولوبول شي."

وخت دغه خیال او فکر پوره پوره تأیید کړ لکه څرنګه چي په ۲۴ فروري ۱۹۴۹م کي د "مرشد" د شهادت نه څو ورځي وروسته دوی د "رهوډس" پر تړون باندي د امضاء کولو اعلان وکړ، او د فلسطین نه ئې مصري فوځونه بیرته راوغوښتل.

د عبدالهادي وزارت تقریباً تر اوو۷ میاشتو پوري پاتي شو، په دغه وخت کي پر اخوان مظالم خپل آخري حد ته رسېدلي ول، تر داسي حده چي ځینو مبصرینو به دا ګمان کاوه چي بیا به د اخوان نوم هم پاتي نشي، خو حقیقت دا دی دغو امتحانونو او سترو ستونزو د دوی لپاره د اُور کار وکړ، دې اور دوی ښه پاخه کړل، کمزوري خلک او هغه کسان چي نباید حساب ورباندي شوی وای د ګوند نه ووتل، او ډېر زیات شمېر د هغو چي دغو مشکلاتو غښتلي کړي ول او عقېدې ئې لا مضبوطي شوي وې پر دعوت همداسي ثابت پاتي شول، ویل کیږي چي اخوان په دغه منځنی موده کي په پټه نوی"مرشد" انتخاب کړ، او دوی به په مخفي توګه کار کاوه.

په ۲۵جولای۱۹۴۹م کي د ابراهیم عبدالهادي وزارت مستعفی شو، او د حسین سري ائیتلافي(مشترک) وزارت قائم شو، چي د هغه وروسته د ده وزارت د غیر جانبدار وزارت شکل غوره کړ، او د ده تر نګرانی او نظارت لاندي انتخابات وشول چي د وفد ګوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library

أخوان د تائید په سبب په ښکاره بریا ترلاسه کړه، او په جنوري۱۹۵۰م کي نحاس د وزارت په کرسۍ کښېنستی، او د اخوان له سر نه په مدار مدار د ظلم و ستم سلسله په ختمېدو شوه، د دوی قلمونه یو ځل بیا په حرکت راغلل، د دوی اخبار و رسائل له پیل نه متحرک شول، دوی جناب حسن الهظیبي صاحب خپل عام مرشد انتخاب او غوره کړ، چي د ستري محکمې (Supreme court) پخوانی متقاعد قاضي وو.

په دسمبر۱۹۵۱م کي حکومت د دوی املاک واپس ورکړل چي په هغو کي د دوی د دارالاشاعت"مرکز"، چاپ ماشینونه او وړوکي فروعي مراکز شامل ول، دا ټول د ستري محکمې د فیصلې پر اساس ومنل شوه چي دا فیصله نو د اخوان په حق کي یوه تاریخي او ابدي فیصله وه، د همدې فیصلې له مخي دا اعتراف هم وشو چي د اخوان د ناجائز او غیر قانوني کولو فیصله له پیله هم غلطه وه، ډېر ژر اخوان خپل پخوانی وقار اعاده کړ، دوی د یو داسي قوت په صفت باندي خپلي هڅي د واقعاتو په نړۍ کي وړاندي کړې چي لایق ئې ول تر څو په بشپړ ډول سره اهمیت ورکول شي، او ورسره د نږدېکت او تقرب هڅه وشي، په اکتوبر۱۹۵۱م کي د مصر و برطانیې تر مابین قضیې نازک صورتحال غوره کړی وو، نو د اخوان رضا کارو ځوانانو د آزادی په جګړه کي د پام وړ برخه اخیستې وه، تر داسي حده چي وفدي حکومت تر خپل شکست او ماتي یوه ورځ مخکي پردې بناء د دوی سره خبری کړي وې چي د ټولو رضا کارانو مکمله نګراني،روزنه او څارنه به د دوی په لاس ورکول کیږي چي وروسته اخبارو هم دا خبر انعکاس کړ.

د احمد نجیب هلالي په وزارت کي أخوان خپل ځان ډېر محتاط وساته، بالخصوص په داخلي سیاست کي، دوی دا اعلان هم وکړ چي په انتخاباتو کي به شرکت نه کوي، دا خبره د پام وړ ده چي تر هلالي مخکي د علي ماهر پاشا د قلیل المُدت او یوځل بیا د هلالي د وزارتونو په موده کي دوی دواړو د أخوان سره پر نوې پالیسۍ عمل درآمد پیل کړ، علي ماهر خو د أخوان د مرشد(مشر) سره حتی مشوره هم وکړه او د نورو سیاسي مشرانو تر څنګ ئې د ده سره هم ملاقات وکړ، او دوهم وزیر یعني هلالي به تل د أخوان سره مشوره کوله چي دا د أخوان پر سیاسي قوت دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې وروسته پر ملي مصالحو د پخواني شاه فاروق د سیاسي لوبي او مطلق العنانی په پایله کي په ډېر تلوار سره دوه ورځني وزارتونه جوړ شول، چي وروسته د حسین سَري وزارت راغی او بیا د هلالي دوهم وزارت، چي د قیام په دوهمه ورځ ئې سمدستي د محمد نجیب تر قیادت لاندي انقلاب رامنځ ته شو، او د فوځ په غوښتنه باندي علي ماهر ته د وزارت وړاندیز وشو، بیا پاچا مجبور کړل شو تر څو د حکومت د واک د ګدئ نه د خپل بچي لپاره لاس په سر شي، او هیواد پرېږدي، د ۲۶/جولای/۱۹۵۲م په مبارکه ورځ دا انقلاب ترسره شو، د أخوان مرکز او ټولو زعماوو او مشرانو ئې د دې مبارک اقدام پوره پوره حمایت او ملاتړ وکړ، په ځینو خبرپاڼو کي دا هم نشر شوه چي علی ماهر د أخوان عام مرشد ته په وزارت کي د اشتراک دعوت او بلنه ورکړې ده، چي مرشد د فوځي انقلابي ګروپ حمایت او تائید وکړ او د پرمختګ او بریا د دعاء وروسته ئې په وزا ت کي د ونډې اخیستلو په هکله معذرت وغوښتی، پر دې موقع شیخ حسن الباقوري د أخوان د جماعة نه استعفی ته اړ شو، ځکه ده د أخوان د عام مرشد د دغه عذرخواهي نه په بې خبری کي په وزارت کي شامل شوی وو، په دغه نوي عصر کي د أخوان اثر او وقار لا زیات شو، ځکه د شاه فاروق په عهد کي دوی تر هرچا زیات د عامي مُلکي ګډوډی او أبتری په خلاف په بغاوت کي ونډه اخیستې وه، او د هغه په عصر کي دوی د ټولو وزارتونو له لوري د ستم او ځپلو نښه ګرځېدلي وو.

د أخوان د شعبو تعداد اوس ۱۵۰۰ ته رسېدلی دی، او د دغه تحریر د لیکلو په وخت کي عام مرشد د مصر ګوټ ګوټ ته په تاریخي سفر وتلی دی، اخبارات دا خبرونه خپروي چي کومي منطقې ته چي هم مرشد ورځي هلته نوي شعبې جوړېږي، یوازي د قاهرې په ښار کي (۷۰)اویا شعبې شته دي، او د کارکوونکو تحریري شمېر ئې لس لکه دی(یادونه: دا د ۱۹۵۳م تحریر دی. ژباړن). که څه هم د أخوان صحیح او حقیقي شمېر معلومول ګران دي، ځکه د دوی د سرشمېرني دفتر اوس لږ موده مخکي خپل کار پیل کړی دی، او دوهم دلیل ئې دا هم کېدای شي چي ډېری اخوانیان خپل پر مخصوصي او یا مخفي طریقه باندي کار کولو ته ترجیح ورکوي، دوی نه د خپل عملي کار اظهار کوي او نه هم د تحریک د مخصوصو اطوارو سره مُقیّد(وابسته/تړلي) دي، دا هر څه یو خواته خو د أخوان په نهضت کي ارزښت د"کیفیت" وي نه د "کمیت"، داسي پېښېږي چي د دوی یو غړی په کومه محکمه، شرکت او یا فابریکې کي کار کوي خو خپل پر دعوت باندي په پوره یقین او د فهم په پخېدلو سره ټولنه په خپلو سپېڅلو اخلاقو او اعمالو سره متأثره کوي، چي په داسي حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ټول خلک او یا اکثریت ئې د ده سره همغږي کیږي، په دغسي کارونو کي ځیني خلک ډیر زیات مهارت لري، څکه د سیاسي ګوندونو سره ارتباط او تعلق د تیرو حکومتونو سره د اختلافاتو په سبب دغو خلکو ته د اطمینان ورکولو تجربه ورپه برخه شوې ده، د دې تر څنګ د دوی سره د افرادو د روزني او تعلیم و تربیت دومره زیات اهتمام او پابندي وي چي تاسي به یو کاریګر او یا مزدور شخص د جمعې د خطبې او دیني درس ورکولو په حالت کي داسي وګورئ چي ګمان به وکړئ چي کوم بهترین عالم او یا ممتاز خطیب د تدریس او تقریر په حالت کي دی، په دې محکم عزم او پوره اعتماد او د دې روح په نازېدلو سره دوی د مصري ټولني په ټولو حلقاتو کي خپاره شوې دي.

په ۴ذیقعده۱۳۷۱ش(۲۶/جولای/۱۹۵۲م) کي د أخوان د مجلس عامله غونډه تشکیل شوه چي په هغه کي د هیواد د صورتحال او وضعیت په اړه د یوې بیانیې په نشرولو او د هیواد د بنیادي اصلاحاتو لپاره د تجاویزو د وړاندي کولو په موخه یو سند لاسلیک شو، د هغه وروسته په ۱۲ ذیقعده۱۳۷۱ش (۱/اګست/۱۹۵۲م) کي د اخوان د "تأسیسي مجلس" غونډه راوبلل شوه، چي دې غونډي د "عامله مجلس" لپاره پورته یاد شوی وړاندیز تصویب کړ، لکه څرنګه چي اخوان په یوه بیانیه کی نشر کړه چي په هغه کي ئې د مکمل ملکي پاکي، اخلاقي، تربیتي، قانوني، ټولنیز، اقتصادي اصلاحاتو وسائل او د قومي روزني او تقویت او د پولیسو د اصلاح په طریقو باندي په وضاحت سره د بیانولو په ترڅ کي بنیادي نقاط وړاندي کړل.

د هغه وروسته د انجمنونو او ګوندونو د تنظیم قانون صادر شو، او د اهرام ورځپاڼي په ۳/اکتوبر/۱۹۵۲م ګڼه کي یادونه شوې چي د اخوان د "تأسیسي مجلس" په غونډه کي چي د ۱۲اکتوبر په ماښام وشوه، د پورته یاد شوي قانون په رڼا کي د خپل نهضت پر نظام بیا کتنه وکړه او ځیني اصلاحات ئې تصویب کړل، چي د هغو اصلاحاتو له جملې نه یو دادی چي د "عام مرشد" کاري موده به د ابدي خدمت پر ځای درې کلنه کیږي، او د "تأسیسي مجلس" د غړو شمېر به ۱۵۰ یوسل او پنځوس وي، خو یو ځل بیا د غور و فکر وروسته دوی دا فیصله وکړه چي د یو نړیوال اسلامي جماعت په حیث باندي دوی ته دا مناسبه نده چي خپل ځان د مصر د ګوندونو تر قانون پوري محدود وساتي، او د یوې بلي اجتماع په دوران کي ئې دا پریکړه وکړه چي په اوسني وخت کي دوی د حکومت حصول خپل په وسائلو کي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېرې، نو پر دې اساس دوی د یو عظیم ګوند په حیثیت په انتخاباتو کې برخه نه اخلي، خو د هیواد په لاربښوونه او سیاسي او وطني معاملاتو کې د تنقید او رأیی ورکولو حق د ځان سره خوندي ساتي. په ۱۷/نومبر۱۹۵۲م کې دوی خپله دوهمه اعلان نامه"بیانیه" حکومت ته وړاندي کړه او په دې توګه دوی د سیاسي ګوندونو د نوي قانوني دائرې نه په امان کې شول.

۳/دسمبر/۱۹۵۳م کې اخوان په خپل مرکز کې د سیرت النبي صلی الله علیه و سلم تر عنوان لاندې یوه غونډه راوبلله، په دې غونډه کې د حکومت ولسمشر جنرال محمد نجیب او (کرنل/Colonel) ډګروال جمال عبدالناصر شرکت وکړ، "عام مرشد" وینا وکړه، د هغه وروسته جنرال محمد نجیب یوه مختصره وینا وکړه چې په دې وینا کې ئې أخوان ته مبارکي وویله، د دوی د معنوي ځواک او جهاد تعریف ئې وکړ او د دوی د لومړي عام مرشد مرحوم حسن البناء رحمه الله روح ته ئې فاتحه ولوستله.

د ۱۲/فروري/۱۹۵۳م کې چې کله د حسن البنأ مرحوم د شهادت څلورمه کلیزه وه، نو ولسمشر جنرال محمد نجیب او د ده سره د کابینې ټول وزیران او انقلابي افسران د زیارت او تعزیت لپاره راغلل، جنرال محمد نجیب یوه تاریخي وینا وکړه چې د راډیو سټېشن له څپو نشر وه، نجیب په دې وینا کې وویل چې:"حسن البنأ مرحوم په هغو کسانو کې شېرل کیږي چې یاد به ئې کله هم نه زړیږي، او د هغه مقام و مرتبه به تل ستایل کیږي، ځکه مرحوم خپل ژوند د خپل ځان لپاره ونکړ، بلکي د قوم و ملت لپاره ئې ژوند وکړ او ده د خپلي ذاتي ګټي لپاره هیڅ ونکړل بلکي عامه فلاح ئې موخه او هدف وو."

د موصوف پر وینا باندي عبدالرحمن البنأ د شهید حسن البنأ مرحوم ورور د کورنی له خوا او عبدالحکیم عابدین[1] د ګوند د ویاند په صفت د أخوان د تحریک له لوري ځوابي وینا وکړه.

.............................................................

[1] د موصوف مرحوم سره زما لیدنه په مصر کې په ۱۹۵۴م او بیا په دمشق کې په ۱۹۵۶م کې وشوه.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې راتګ او ملاقات ډېر ښه اثر د أخوانيانو پر زړونو پاتي شو، د جنرال نجيب او د ده د حکومت له لوري د عظيم شهيد په ملي مجاهد سره اعتراف کول يو مبارک ګام وو، د دغی ورځي په ماښام د ملي راډيو سټېشن د څپو له لارې دغه تقرير يو ځل بيا نشر شو، او په دغه شپه يوازي د قرآن مجيد تلاوت، خبرونه او پر امام شهيد ويناوي او تقارير د راډيو پروګرام وو، يعني غزلي او سرودونه نشر نشول.

په دې توګه حکومت په دولتي طرز سره د دې عظيم شخصيت کليزه باندي د دومره قدر و منزلت اعتراف وکړ چي د قبر په خوا چي څلور کلونه مخکي دی يوازي تللی وو او په جنازه کي ئې د ده والد او بچي او د عسکرو د يوې وړوکي ټولګۍ پرته(چي خلک ئې په جنازه کي د شرکت کولو نه منع کول) نور څوک نه وو،... نن د دې شهيد شخصيت پر قبر باندي خپله حکومت د خپل مشر او وزيرانو سره يو ځای حاضر شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

**د اخوان فلسفه: د دين او سياست اهداف، اسلام د يو ټولنيز نظام په حيث**

## د اخوان فلسفه او اهداف

د اخوان المسلمين فکر خالص اسلامي فکر دی، او په هيڅ حالت کي د اسلاميت له دائرې نه ندی وتلی، د دوی فلسفه هم اسلامي ده چي د اسلامي روح نه اخيستل شوې ده، د فلسفې نه دلته زما مقصد هغه فکر و عقيده ده چي په انساني نفس کي په پوره ډول سره وځليږي، ژوند ئې په رنګ واوړي، او د فکر پر همدې کرښه روان شي، هغه بېزنطيني فلسفه نه چي د بحث و جدال کار کولای شي، د حقيقت او واقعاتو په نړۍ کي د هغه تطبيق کول محال وي، چي پر دې بناء زه د اخوان فلسفه په دريو بنيادي ډولونو ويشم:

١ روحاني فلسفه

٢ اقتصادي فلسفه

٣ اجتماعي فلسفه

لاندي به دا درې واړه فيصلې په تفصيل سره درته وړاندي شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱ روحاني فلسفه

د أخوان د دعوت د بنياد ډبره او لومړنی اساس رُوحاني اړخ دی، بلکي د يوه الأخ المسلم(أخواني) د تکوين و تربيت لپاره اولاً د دوی ټوله توجه او اهتمام پر همدې اړخ وي، د دوی په مقرره فرائضو کي دي چي(په هر حالت کي پر الله تعالی جل جلاله نظر وساتي او په هر عمل کي خاص د هغه د رضا او خوښۍ غوښتونکي وي، آخرت په ياد وساتي او د هغه لپاره تياری وکړي، او د حِسّی او معنوي طهارت پابندي وکړي[1]).

اخوان المسلمين د خپل د تر ټولو نه د وړوکي تنظيمي ډلګۍ نوم"أُسرة" ايښی وو، چي په عربي کي ئې ژباړه"کورنۍ" ده، په هغه کي ئې ستر معنويت مخي ته ايښی وو، چي ګواکي اخوانيان په خپل منځ کي د ويني د رشتې کورني غړي دي، ما په شخصي ډول سره د هغه تجربه په مصر کي کړې ده.(ژباړن)

د کورنيو بلکي د امت په جوړښت او روزنه کي هم دوی پر دغه روحاني اړخ ډير فشار اچوي، د دوی عقيده ده چي د امتونو جوړښت، د قومونو تربيت او د ملي هيلو او ارمانونو تکميل، دا هر څه د امت نه زبردست قلبي قوت غواړي چي د همدې لاري ممکن دی.

د دې سره سره دوی د مادي قوتونو نه هم منکر ندي، د قومونو په تعمير و ترقی کي دوی د هغه په اهميت باندي اعتراف کوي، د ډيرو خلکو دا ګمان دی چي شرق يوازي د مال و دولت او جنګي آلاتو، او مادّي قوتونو محتاج دی، د هغه وروسته کولای شي ترقي او پرمختګ وکړي، او د نورو غالبو نړيوالو قومونو په مقابل کي ودرېدای شي، چا چي د دوی ټول حقوق سلب کړي او تباه کړيدي، دا بالکل صحيح او ضروري ده خو ډير زيات ضرورت د فاضلو اخلاقو، پاک نفس، د خپل مسلمو حقوقو په اړه علم او پر هغوی يقين،

..............................................................

[1]"دکورنيو نظام" او "رسالة هدايات" د حسن البنأ مرحوم نه: پانه:۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکم عزم، د حق په لار کي قرباني او پر خپل عهد و پيمان باندي د وفاء اوصاف دي، دا هغه روحاني قوتونه دي چي مادي قوتونو ته غذا ورکوي، پر روحاني اړخ د دوی دومره توجه ده چي د ماديت د سيلاب مخه نيول دوی خپل هدف او فريضه بولي، هغه سيلاب چي خلک ئې د مادّې عبادت کوونکي ګرځولي دي، دوی دا هير کړيدي چي دا د دوی کار وو چي د ځانونو او د ټولني د فلاح او ګټي لپاره ماده مُسخّره او د ځان غلامه کړي، نه دا چي دوی ئې غلامان شي، پاتي شو زموږ فهم نو هغه اجمالاً دادی چي: "موږ به د دې مادي سيلاب چي د مادي تمدن، لذائذو او شهوتونو د تهذيب نه راخړوبه شوی دی مقابله کوو، دا همهغه سېلاب دی چي اسلامي قومونه ئې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د قيادت او د قرآن د هدايت نه ډير لري بَهولي او غورځولي دي."

د أخوان "روحاني فلسفه" په اساسي ډول سره پر څو مقاصدو مشتمله ده، چي موږ ئې مختصراً پر دريو عنوانونو وېشلای شو:

الف: للهيت او جامعيت

ب: ټولنيز روحانيت

ج: ايجابي عقليت

**الف: للّهيت او جامعيت:**

لکه څرنګه چي موږ په پيل کي وويل، د اخوان ددعوت فلسفه خالص اسلامي ده، او د اسلام بلکي د ټولو آسماني مذاهبو اولين رُکن الهي ذات او پر ټولو غيبي امورو ايمان، د جزا او سزا پر عقېدې يقين، او د انساني نفس تزکيه او طهارت دی، نو ځکه هم دا کومه نوې خبره نده چي أخوان دي دغو ارکانو ته معتقد وي، او دې نتيجې ته ورسيږي چي د اصلاح د اصولو دارومدار پر روحانيت باندي شي تر څو په مړو شويو زړونو کي د ژوند نوې روح پوه کړي، انساني شعور او ادراک او د هغه په مټو د مَلاَءِالاَعلَی په لوړو لوړو فضاوو کي پرواز وکړای شي، او بندګان د خپل واحد آقا او صمد الله تبارک و تعالی سره قربت حاصل کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد البنأ رحمه الله "د کورنیو نظام" تر عنوان لاندي یوه مخصوصه رساله نشر کړه، دا نظام د اخوان د روحاني تربیت عملي ډګر دی، په دې رساله کي استاد شهید د اخوان خاص جماعت ته خطاب وکړ چي نوم ئې "الأخوان المجاهدین" ایښی وو، د أخواني شعار او نعرې"اللهُ غَایَتُنَا، والرَّسُولُ زَعِیمُنَا، وَالقُرآنُ دَستُورُنَا، وَ الجِهَادُ فِی سَبِیلِ الله اسمَی امَانِیُّنَا"(الله مو مقصود دی، رسول صلی الله علیه وسلم مو قائد دی، او جهاد فی سبیل الله زموږ تر ټولو ستر ارمان) وضاحت ئې وکړ او ورسره ئې د بیعت نقاط چي لس ول هم واضح کړل.

(د دین فهم)، اخلاص، عمل، جهاد، قرباني، اطاعت، استقلال، بې غرضي، أخوت، اعتماد او بیا د دغو لسو ارکانو د تفصیل په بیانولو سره ئې یوازي د دین د فهم تشریح او تفسیر په شلو اسلامي اصولو کي وړاندي کړ، چي په هغو کي تر ټولو مهم اصل دادی چي اسلام د هغو جامعو معنی وو سره سره ورزده کول ضروري دی چي وضاحت به ئې وروسته وشي، او دوهم اصل دادی چي اسلام عقل پراخوي او آزادوي ئې او په کائناتو کي ئې غور و فکر کولو ته اړ باسي، د علم او علماوو مراتب لوړ وي، د هر شي صالح او مفید عنصر مني، هره ښه خبره "ګواکي" د مسلمان ورک شوی مال دی، چیري چي ئې هم ومومي دی ئې حقدار او وارث دی.

د اخلاص په تفسیر کي ئې وویل چي یو مسلمان باید د خپل قوم، علم، جهاد غرض د هر شي په اړه د الله جل جلاله د رضا غوښتونکی وي او د بلي کومي دنیاوي ګټي، شان، جاه و جلال یا لقب، ترقی او تنزل باندي د ده نظر نه وي، په دې توګه به هغه د فکر و عقیدې یو سرتیری وي، نه د غرض و منفعت متمنی او غوښتونکی.

د عمل په وضاحت کي ئې وویل چي هغه د علم و اخلاص ثمر دی، د یو ریښتني اخواني نه چي د عمل کوم مراتب مطلوب دي د هغه تشریح ئې وکړه چي هغه ۷ اووه دي.

د للهیت لاندي موږ د هغوی نه یوازي درې مراتب وړاندي کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ذاتي اصلاح، یعني باید هغه قوي البدن، د پاخه سیرت خاوند، روښن خیاله، د رزق پر ګټلو قادر، د عبادت پابند، په خپلو کارونو کې منظم او د نورو لپاره ګټه رسوونکی وي.

۲ د مسلماني کورنۍ جوړښت، چي داسي به وي چي د هغه د کورنۍ غړي، د کورني ژوند په ټولو مظاهرو کي د اسلام د آدابو پابند او د اسلامي فکر او طریقو خیال به ساتي او قدر به ئې کوي.

۳ د ټولني هدایت او رهنمایي، او په ټولنه کي د خیر دعوت خپور کړي، د رذائلو او منکراتو ریښې وباسي، د فضائلو همت افزائي وکړي، د ښو اعمالو په اړه حکم وکړي او په نیکو کارونو کي سبقت او ورسره عامه رأیه د اسلامي فکر په حق کي هموار ه کړي.

د جهاد تشریح ئې داسي وکړه چي تر قیامته پوري پاتي کېدونکې فریضه ده، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک قول دی:

.مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَ لَمْ يَنَوِ الْغَزْوَ مَاتَ مَيْتَةً جَاهِلِيَّة

مفهوم: د کوم شخص چی مرګ راغی او ده جهاد ونکړ او نه ئې هم کله د جهاد نیت کړی .وو هغه په غیر اسلامي مرګ مړ شوی

د هر کلمه ویوونکي مقصود دی، د هغه لومړۍ درجه د باطل نه د زړه له تله کرکه او نفرت دی او تر ټولو آخري درجه ئې د الله جل جلاله په لار کي جګړه، او د دغو دوو مراتبو په منځ کي د ژبي و قلم، او لاس جهاد وي، او د ظالم حاکم په مخکي د حق د کلمې اظهار او اعلان.

د قربانۍ په تشریح کولو سره ئې وفرمایل چي هغه د حکم تعمیل او د هغه فوري نفاذ دی، که تنګي وي او که راحت، سخت حالت وي او که آرامه فضاء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبات او استقلال دادی چي اخوانیان برابر د خپل مقصد لپاره کار او هڅي وکړي که څومره وخت هم تیر شي، او څومره میاشتي او کلونه تیر شي، تر داسي حده چي واصل بالحق شي، او په دوو کي یو سعادت ورپه برخه شي، یعني یا د بریا او یا د شهادت سعادت.

د بې غرضی هدف دا دی چي اخوانیان د خپل فکر و عقیدې پابند پاتي شي، د هغه پرته چي کوم اغراض و اشخاص دي په هغوی پوري مربوط نشي، دا ځکه د اخوان فکر و عقیده او فلسفه په دغو ټولو کی لوړه او هر اړخیره ده.

د اخوت تشریح داده چي عقیده چي یوه مُحکمه او ګران بیه تعلق او رابطه ده، د همدې سره د زړونو او نفسونو ربط و تعلق هم دی، اخوت د ایمان علامت دی، او تفرق د کفر علامت، لومړنی قوت د اتحاد قوت دی، او دمیني او محبت پرته اتحاد ناممکن دی، او د محبت ادنی درجه داده چي د نورو له طرفه زړه صاف وي، او د اعلی درجې ایثار و قرباني وي.

اعتماد د اطمینان دوهم نوم دی، د یو سرتیري د خپل قائد د اهلیت او خلوص په هکله چي د هغه نه محبت، اعتراف، احترام او اطاعت پیدا کیږي، د اخوان په دعوت کي د اخوان د قائد د دعوت سره هغه تعلق دی چي د پلار د خپل اولاد سره وي، استاد د خپلي علمي حلقې سره، د طریقت د شیخ د خپل روحاني تربیت سره، او د یوه مشر د عام سیاست سره، زموږ دعوت د دغو ټولو حقایقو جامع دی، او د دعوتونو د بریا دارومدار پر مشر او قائد اعتماد وي.

ددې علاوه د للهیت تر عنوان لاندي پر ټولو اخوانیانو دوی د څلوېښتو خبرو پابندي لازمي کړېده، چي د ځینو یادونه ضروري بولو:

لمونځ دي په پوره خشوع و خضوع او پابندي سره په خپلو وختونو کي اداء کړل شي، د مسجد د جماعت پابندي دي وکړل شي، د روژې پوره او صحیح روژې دي ونیسي، که قدرت ولري حج دي وکړي، د توبې او استغفار تجدید به کوي، د خپل نفس د ټیټولو تمرین دي د وِردونو په ذریعه وکړي، د مجبوری پرته دي دا اوراد نه پریږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان د نوي ادارتي تقسيم وروسته په مرکز کي د "کورنيو"(أُسُر) يوه جلا شعبه(سېکشن) جوړه شوه، دې شعبې خپله لومړنۍ نظام نامه صادره کړې ده چې تر چاپ لاندي ده، د دې رسالې په مقدمه کي ويل شوي دي چي د کورنيو دغه نظام "اخوان عاملين"(د اخوان کارکوونکي) د پخواني نظام بديل دی، يعني د اخوان کار کوونکي چي موږ ئې مخته يادونه کړې ده، همهغه وروسته په "قسم الأسر" د کورنيو شعبې سره ونومول شوه، او بالکل په پيل کي د هغي شعبې نوم"نظام الکتائب" (د ډلو نظام) وو.

د "جامعيت" د لفظ نه زموږ مراد د اسلام صحيح او جامع فهم دی، لکه څرنګه چي هغه پر رسول صلی الله عليه وسلم نازل شو او کوم چي استاد البنأ "زموږ اسلام" تر عنوان لاندي داسي وړاندي کړيدی، "زموږ د دعوت جامع تعريف اسلاميت کېدای شي، او د دې لفظ د دې محدودي ژباړي نه پرته کوم چي په عام ډول سره خلک ورباندي پوهيږي، يوه بله ژوره ژباړه هم لري، زموږ عقيده ده چي اسلام يوه هراړخيزه ژباړه هم لري، چي د ژوند پر ټولو معاملاتو حاوي ده، او د ژوند په هره مسئله کي هغه خپل سفارشات وړاندي کوي، او يو دقيق او محکم قانون وضع کوي، او د هر واقعي مشکل علاج او په اصلاحي نظام کي هغه تش لاسي نده."

په يوه بله رساله کي داسي وايي:"زموږ عقيده ده چي اسلامي احکام او تعليمات خلکو ته د هغوی د ټولو دنياوي او اُخروي امورو رهنمايي او لارښوونه کوي، او کوم خلک چي دا ګمان کوي چي دا تعليمات يوازي په عبادتي او روحاني اړخونو پوري متعلق دي، هغوی کاملاً غلط دي، اسلام عقيده او عبادت هم دی او وطنيت او قوميت هم، مذهب و حکومت هم دی او روحانيت او عمل هم، قرآن هم دی او توره هم، قرآن حکيم پر دغو ټولو شاهد دی، او دغه ټول د اسلام جواهر بولي او په دغو ټولو امورو کي د اتفاق دعوت ورکوي، د همدې په لور دا آيت اشاره کوي:

وَابْتَغِ فِيمَآ ءَاتَٰكَ اللَّهُ الدَّارَ الْءَاخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَاۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَۖ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: کومه شتمني چې الله تا ته درکړېده، په هغې سره د اخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه. احسان وکړه لکه څنګه چې الله ستا سره احسان کړیدی. (سُوۡرَةُ القَصَص : 77)

په دې کې هیڅ شک نشته چې د اخوان دغه فهم د اسلامي عقلیت په میدان کې د وقت یو ډېر زیات ترقي خوښوونکی اقدام وو، چې د همدې په سبب اسلام یو ځل بیا په خپل اصلي شکل او اولین رنګ کې راڅرګند شو، دا د اسلامي فهم یوه مُهمه مرحله هم وه چې په نتیجه کې ئې انسانان وپوهول شول چې اسلام په مغربي معنی کې هیڅ مذهب ندی، داسې چې د ژوند سره هیڅ اړیکه نلري، خو په خپل پوره تطبیق او پلي کولو او ریښتنو اصولو کې هغه دین هم دی او دنیا هم او یو داسې جامع ټولنیز نظام دی چې د انسانانو د ژوند ټول معاملات منظم کوي او ښکلي کوي ئې.

**ب: ټولنیز روحانیت**

"جامعیت" د کوم په لور چې مخکې اشاره شوې ده، د اخوان د سیرت تشکیل داسې کړی دی چې هغه عزلت خوښوونکی روحانیت نه مني، چې د ډېرو متشددو صوفیانو مسلک او دعوت دی، او کوم چې د اسلامي تصوف په نسبت عیسایي رهبانیت ته نږدې دی، نو اخوان روحاني او للهي خلک دي، چې په خپلو شخصي ژوندونو او عبادتي اړخونو کې دوی د اهل تصوف پر مسلک عمل کوي، او دوی اجتماعي هم دي داسې چې هم ډوډی خوري او هم ئې ګټي او هم په بازارونو کې ګرځي، د مختلفو ټولنو سره لیده کاته کوي او خپل دعوت خپروي او خپل فکر عاموي، او په هر حالت کې ځانونه مجاهد بولي، دوی په روحاني میدانِ عمل کې د خپل نفس سره مجاهده کوي، او هغه د مادیت د خپاره شویو آلائشونو نه پاکوي، او د خپلو ټولنیزو فعالیتونو په ذریعه د ټولنې د اصلاح هڅې کوي، کوم چې د ټولنې په امراضو اخته شوي دي، او اخلاقي مریضې ئې ټوټه ټوټه کوي، د دې هدف لپاره دوی د هڅو او قربانیو مثالونه وړاندې کړیدي، او ددغو نفعت پرستیو د څپو باوجود هم کوم چې د غرب فلسفې په مشرق کې جاري او خپاره کړیدي، نو ځکه هم د یو اخواني د سیرت په تشکیل کې قرباني د بنیاد حکم لري، استاد حسن البنأ رحمه الله په یوه رساله کې فرمایي: "د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه دعوت لپاره هغه څوک مناسب دي چي د هر اړخ نه د هغه په لور مائل وي او هغه د دې لپاره خپل مال و ځان، وقت و صحت د هر يوه چي ضرورت وي د لګولو لپاره تيار واوسي."

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوٰنُكُمْ وَأَزْوٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوٰلٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا حَتّٰى يَأْتِىَ اللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ

ژباړه: [اې پيغمبره (ص)!] ووايه: «که ستاسي پلرونه، ستاسي زامن، ستاسي ورونه، ستاسي ميرمني، ستاسي خپل خپلوان، ستاسي هغه مالونه چي ګټلي مو دي، ستاسي هغه تجارت چي د هغه په ورانېدو اندېښمن کېږئ او ستاسي د خوښي کورونه؛ تاسي ته له الله او د هغه له پيغمبر او د هغه په لار کښي له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پوري چي الله خپله فېصله ستاسي مخي ته راولي. او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.» (سُوْرَةُ التَّوبَة : 24)

اخوان پدې پوهيږي چي د تصوف علوم د تربيتي او حياتي امورو دوهم نوم دی، او هغه د اسلام جوهر او اصل هم دی خو د دوی رأيه ده چي د ټولني پرمختګ(بهبود) په دې کي دی چي داسی ډله کوم چي قوي روحاني زده کړه ئې کړې وي، د باندي راووځي او په ټولنه کي خپاره شي تر څو دوی عملي نمونې وګرځي، چي خلک د دوی اقتداء وکړای شي، هغوی پر حسنه اخلاقو او کريمانه فضائلو روان ژوندي تصويرونه وي چي پر ټولني خپل ښه اثر واچوي، دا ځکه خلکو ته د اطمينان ورکولو لپاره د عملي نمونې نه غوره بل شی نشته، د اخوان لوی ارمان پاتي شوی چي سلاسل تصوف د خپلو مبالغو او زيادتيو نه پاک او د "جامعه ازهر" او اسلامي ګوندونو سره مرسته وکړي، "که الله تبارک و تعالی وغوښتل او د "ازهر" علمي قوت د تصوف روحاني طاقت او اسلامي ګوندونه په عملي ځواک سره يوځای شي، نو دا به يو داسي امت وی چی هيڅ مثل به ئې نه موندل کيږي، چي پر نورو اثر انداز وي خو خپله متأثر نه وي، رهنمايي او لارښوونه وکړي خو د بل مطيع او فرمان بردار نه وي او دغي ګمراه ټولني ته سېده لار ور وښئي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنې د اصلاح لپاره په پوره ته يادو شويو طريقو باندې د دغو دريو اړخونو همدا خپل منځی تعاون دی چې د اوسنۍ زمانې په اصطلاح کې د ټولنې د تنظيمولو د علم(Community Orgnanization) په نوم سره يادوي. زما سره د دې خبرې د توجېه کولو لپاره کوم ثبوت نشته چې حسن البنأ مرحوم دې دغه علم او يا د دغه علم په اړه څه لوستي وي، که څه هم ظاهراً دا ښکاري چې د ده معلومات ډير پراخ ول، د يوه مصنف د ده په اړه يوه وينا شته چې:"کوم لوري ته چې هم ته ګورې که هغه د اقتصاد و سياست او قانون ډګر وي او که د صحافت، طباعت او اشاعت نړۍ، هغه به د هر مضمون نه تاته باخبر او آګاه په نظر درشي."

هغه به د علم النفس او عمرانياتو ټول نوي نظريات په ډيره تيزي سره اخذ کول، ګټه به ئې ترې پورته کوله، او د هغه د تطبيق کولو هڅه به ئې کوله.

د ټولنيز او معاشرتي روحانيت نه په بحث کولو سره به زموږ لپاره دا غوره او ګټوره خبره وي چې موږ په دې اړه د حسن البنأ رأيه وړاندې کړو، چې ده په هغه کې د انساني عقل د ترقی مدارج په دريو مراحلو ويشلي دي:

۱ ساده لوحي او خرافات پرستي، د هر نامعلوم غيب او د خپل وس نه وتلي د لريو طاقتونو په مخ کې سر ټيټول، چنانچه په دې مرحله کې انسان هر شی د يو غائب و بعيد طاقت په لور منسوبوي، او هر شی هغوی ته د طاقتونو په واسطه ورښيي، د خپل ذات لپاره نه کوم فکر ضروري بولي او نه هم کوم کوم عمل، په نورو الفاظو کې دغه ته"غيبي عقليت" ويل کېدای شي.

۲ دوهمه مرحله هغه ده چې دی د جمود پرستۍ ښکار شي، د ياد شوي ناڅرګند غيب نه بې اعتنايي، او د نه محسوسېدونکو طاقتونو او د دوی په اړه د اوامرو خلاف ورزي او سرکشي کوي، هڅه کوي چې د کايناتو فقط ظاهري تعبير و تفسير وکړي، چې د انسان د اوږدو تجاربو او مسلسلو کوښښونو او فکر د قوانينو مترادف وي، چې دا نو په "علمي عقليت" سره نومول شوی دی، مادّي انسان په دې مرحله کې د الوهيت او په هغه پورې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مربوطو متعلقاتو، نبوت او د هغه د عواقبو او نتائجو، آخرت، حساب و کتاب او نورو نه ئې بالکل انکار کړی دی.

۳ د اسلامي عقليت يا د ايمان بالغيب سره سره د عقل نه د انتفاع، موږ عملاً په يوه نه بلکي په دوه وو نړيو کي ژوند کوو او بالفعل موږ د کائناتو د زياترو مظاهرو د تفسير نه عاجز يو، نو ځکه هم د خلکو لپاره ضروري ده چي دوی پر خدای، رسالت، روح او آخرت باندي ايمان وساتي، او د تعليم و تعلم، اختراع او ايجاد په ميدان کي خپل عقليت ته آزادي ورکړي، تر څو دوی دغه ګونګۍ او کنه ماده تسخير کړای شي او د کائناتو د ثمراتو او برکاتو نه مستفيد شي.

دا تقسيم تر ډيره حده د عمرانياتو د زبردست عالَم آوګست کومت (August Comte) د وېش مطابق دی چي په هغه کي ئې انساني افزائش او نشوونمو په دريو مراحلو وېشلي دي:

(۱) ديني مرحله: (Theological Stage) په دې مرحله کي هر شی د خدای په لور منسوبوي.

(۲) طبيعي مرحله: (Physical Stage) په دې مرحله کي انسان د هر شي ساينسي تحليل او څېړنه کوي، مثلاً د باران حقيقت داسي څرګندوي چي د سمندرونو اوبه چي د نَم شکل اختياروي، همهغه اوبه دي.

(۳) عقلي يا سائينسي مرحله: (Positive Stage) په دې مرحله کي انسان د هر شي خالص علمي(ساينسي) تحقيق کوي، مثلاً د باران له پيلېدلو نه مخکي هم نن په امريکا کي دا معلومولی شي چي څو انچه باران به اوري، دا ځکه د دوی سره ډير زيات دغسي آلات موجود دي.

دا ډيره حيرانونکي خبره ده چي پر خالص عمراني مسئله باندي د استاد حسن البنأ علمي نظر د عمرانياتو تر موجد هم ډير ژور وو، هغه داسي چي استاد حسن البنأ طبيعي او ساينسي دواړه مراحل يوې مرحلې ته ورشامل کړل، چي هغه دوی د عقلي او علمي مرحلې په نوم سره يادوي، دا طبعي خبره ده چي د کايناتو د مظاهرو د تحقيق او تحليل لپاره انسان ته د طبيعي علوو(ساينسي) او د کايناتو علم ضروري وي، شيخ حسن البنأ چي د آوګست

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومت په تقسیم کي کوم څه اضافه کړي دي هغه اصلاً د "اسلامي عقلیت" مرحله ده، چي د غیبي او علمي عقلونو جامع ده، چي په پوره قوت سره ئې داخبره وړاندي کړېده چي انسان د دغه مادّي عالَم نه ماوراء د خپل روح سره په روحاني عالَم کي هم اوسېدلای شي او د خپل عقل سره په مادّي عالَم کي هم ژوند کولای شي.

د انساني ټولني د فلاح لپاره د مادې او روح اتحاد همهغه اساس دی چي اخوان پر هغه د خپل ټولنیز روحانیت بنیاد ایښی دی، او کوم چي دوی ئې په خپلو زړونو او اعصابو کي په خپرېدلو غواړي، نو ځکه هم د دوی سره په دې خبره کي لږ اختلاف هم نشته چي یو کس پر یو وخت د شپې عابد او بل ځای بیا د میدان او ډګر فارِس(زمری) پاتي شي.

**ج: ایجابي عقلیت:**

ددې نه مراد هغه تخلیقي عقلیت دی چي د تعمېر و اصلاح همت لري، او د تخریب او تباه کولو نه منکر وي، چي په معمولي شیانو کي نه راګیر کیږي او په لوړو کارونو کي خپله توجه مصرفوي، د دین د اساس، د مقاصدو د تبلیغ او تکمیل سره سروکار لري، او په فروعي اختلافاتو کي وخت نه ضایع کوي، لکه څرنګه چي د "توسل او وسیلې" په مسئله کي د امت مخي ته راغلې ده، ایجابي عقلیت د اخوان څرګند صفت دی، دا ځکه د دوی دعوت عمومي دی، دوی د کومي خاصي ډلي سره اړیکه نلري، او نه هم د کومي داسي رأيي په لور مائلیږي چي په خلکو کي په یوه مخصوص شکل کي مشهوره او معروفه شوې وي، او کوم خاص شرائط او لوزم ئې وي، د دوی اصل نظر د دین په لور دی او دوی غواړي چي د خلکو د فکر او نظر یو مشترک رُخ وي، تر څو کار ډېر ګټور او نتائج ئې ډېر قوي او امید افزاء وي.

همدا دلیل دی چي د غلطو افواهاتو برعکس اخوان ډېر زیات روادار او د پراخ زړه خاوند دی، د پراخ او وسیع لرلید او فکري آزادی په وجه دوی په خپل عقلي توازن کي ډېر ممتاز دي، د دین په فروعي مسائلو کي اختلافات تسلیموي او دا لازمي هم بولي، "د دین د فروعاتو په هکله زموږ دا خیال دی چي دا یو ضروري امر دی، او د متعددو اسبابو پر بناء په هیڅ ډول سره دا ممکن نده چي موږ په دغو فروعي اختلافاتو، آراوو او مذاهبو کي متفق

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، یوه خبره خو داده چي د مسائلو نه استنباط، د دلائلو ادراک، معنی او د حقایقو په موندلو او د یو بل تر منځ د ربط په معلومولو کي انساني عقلونه د یو بل نه جدا او مختلف دي، دوهمه خبره د علم د وسعت او کوتاهی او د ماحول او دلائلو د قدرونو اختلاف دی، د همدغو ډول ډول اسبابو پر اساس موږ پوهېږو چي د دین په یوه فروعي مسئله کي د ټولو اتفاق یو ناممکن العمل خواهش دی، بلکي د دین د مزاج په خلاف دی، دا ځکه الله تعالی جل جلاله خو غواړي چي دا دین قائم و دائم پاتي شي، او د زماني او حالاتو تر څنګ، څنګ روان اوسي، نو ځکه هم لږ څه لچک(ښویېدل) ضروري امر دی.[1]

ددې ایجابي عقلیت تر ټولو لوړ او روښانه مظهر د اخوان المسلمین دعوت دی، ځکه دوی په فروعي مسائلو کي د کښېوتلو او د وخت د ضایع کولو پر ځای د اصلي دین دعوت کړی او د هغو منکراتو د استیصال په لور ئې توجه کړې ده چي د هر مسلمان په نظر د اسلام او د هغه د حقیقي روح سره بالکل متضاد دي، اخوان پوهیږي چي د اسلام د جسم لپاره تر ټولو خطرناک شی اوس "ټولنیزه ګمراهي" ده، کاش چي د ټولو حقپالو داعیانو دعوت اوس په دې حساس وخت کي پر همدې اړخ متمرکز واوسي چي د دین د اساس لپاره سخت خطرناک دي، او موږ ټول نفرت ورځني کوو او د هغه پر ختمولو متفق یو".[2]

هغوی پر دغه اړخ مختصراً خپله رأیه وړاندي کوي، په دې اړه د مسلمان امت اختلاف جائز بولي او د یوې رأیي او مسلک لپاره هم تعصب نه خوښوي، تر حق پوري ورسېدل غواړي، او د خلکو د را دعوتولو لپاره د نرمۍ او محبت د انتهایي نازکو وسائلو نه ګټه اوچتوي.

همدا دلیل دی چي د أخوان المسلمین په اساسي قانون کي د دې خبري صراحت او وضاحت شوی دی چي اخوان یو هر اړخیز اسلامي ګوند دی چي کار او وظیفه ئې د دغو اهدافو

..................................................

[1] "دَعوَتُنَا" همهغه پورته ذکر شوې حواله

[2] زموږ دعوت د حسن البنأ... پانه: ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکمیلول او لاسته راوړل دي، د کوم لپاره چې اسلام نړۍ ته راالېږل شوی دی، په همدغو اهدافو پوري مربوط او د روحاني اړخ سره نښتي د کوم څه یادونه چې موږ کوو په لاندي ډول دي:

- د قرآن کریم د دعوت صافه صافه تشریح، چې هغه بالکل واضحه، هر اړخیزه او په حقیقي تناظر کي وړاندي کړېده، چې د عصر د روح او زمانې د اسلوبو سره پوره پوره مطابقت ولري، او پر اسلامي دعوت چې کوم اتهامات او شبهات دي هغه ټول له جرړو نه وباسي.

- زړونه او نفسونه پر دغو قرآني اصولو باندي جمع کول، د زړونو دغه کیفیات تازه کول او مختلفي اسلامي فرقې د یو بل سره نږدې کول.

**۲ اقتصادي فلسفه:**

د أخوان اقتصادي فلسفه هغه مادّي فلسفه نده چي شراب و خنزیر د ګټي په پار او یا د منفعت ذریعه بولی، او یوازي د دوی لپاره یو معاشي ضرورت پوره کوي، اسلامي اقتصادي فلسفه د اسلام د مزاج نه مأخوذ شوې او هغه په هیڅ حالت کي هم له خپلو حدودو نه پښې دباندي نشي ویستلای، نو ځکه هم د دوی په وړاندي شراب و خنزیر کوم د ګټي وړ او یا د اقتصادي منفعت ذریعه نده، ځکه په اسلامي ټولنه کي چي د کوم شي د اقامت لپاره دوی هڅي کوي هغه له پیله هم دا ضرورتونه، حقیقي ضرورتونه نه بولي چي د کوم شي د پوره کولو لپاره دوی پر دغو شیانو تکیه وکړي، بل لور ته اسلامي شریعت چي د خپل مشرانو طبقې او ټولو افرادو لپاره ئې د ټولنیز تکفل او حاجت روایي لازمي بللې ده، په خپل قانون جوړوني کي د کوم "مجرم اقتصادي سیاست" تابع ندی چي د "پیداوار پلانونو" ته مالي مرسته ورکړي او "یوازي اقتصادي پلانونه(Consumptive Plans) "پر اوږه واخلي. لکه څرنګه چي ټولنیز کفالت چي د اقتصادي علماوو په نزد یو "اتفاقي سکیم(پلان)" دی چي د چندان پاملرني وړ ندی، هغه په اسلام کي یعني پر کوم چي اخوان د خپل ژوند د فلسفي عمارت ودرولی دی یوه فریضه ده، چي اداء کول ئې پر حکومت فرض دي، تاسي پوهېږئ چي نړیوال قوانین پر جګړه اییزو بندیانو باندي مصارف، د دوی د خوراک و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځښناک، اغوستلو او د دوی ساتنه او کفالت پر حکومت واجب بولي، هیڅ حکومت داسي نشي کولای چي د بندیانو له لوري بې پرواه شي، هغوی وږي او لوڅ او په عذاب کي گرفتار پریږدي، او په دلیل کي دا عذر وړاندي کړي چي پر دوی مصرف"انفاقي سکیم" دی. چي د پردیو او بندیانو سره دا معامله ده نو بیا د کمزور هیوادوالو سره چي د افلاس او ناروغیو په پنجو کي راگیر وي، په لومړی درجه کي د حکومت د ساتني او مرستي مستحقین بلل کیږي، په نړیوالو قوانینو باندي په عمل کولو سره د دښمنانو همدرد او دردمند اوسېدلو نه ډیره ضروري داده چي دوی د ټولنیز عدل(Social Justice) تر عنوان لاندي د خپلو هیوادوالو لاس نیوونکي او همدرد و اوسي، پر دې بناء موږ ویلای شو چي د اخوان اقتصادي فلسفه د داسي طرز ده چي هغه نن سبا د ټولنیزو معاشیاتو یا اقتصادSocial (Ecconomy) په نوم سره یادولای شو، د اقتصادي مسائلو د تنظیم و ترقی لپاره د دوی لاندنۍ غوښتني دي:

**۱ د کرنسۍ آزادي:**

اخوان د دې سخت مخالف پاتي شوی چي د برطانوي خزانې پر بلونو د سرو زرو د محفوظي ذخیرې پر ځای د برطانیې پر اسعارو د دولتي مالیاتو د توازن (Balance of payment) بنیاد کېښودل شي، دوی پردې هم ډیر شدید تعارض او نیوکه وکړه چي د نېشنل بانک[1]، مالیې وزارت د جون/۱۹۱۶م د یوې داسي فیصلې پر اساس باندي چي پر هغه د هیچا امضاء هم نه وه، او ناجائزه گټه ئې تري پورته کوله، څومره بانک نوټونه چي ئې خوښه وه، چاپولای شول، دوی مسلسل د آزادۍ ضرورت بیانوي، تر داسي حده چي د "استرلیني دائرې (Sterling Area)" نه مصر آزادي واخیستله، د دې وروسته دوی پر دې فشار وارد کړ چي د سرو زرو محفوظه ذخیره(Gold Reserve) دي مضبوطه کړای شي، او "نېشنل بانک" دي په "ملي بانک" سره واړول شي، د انگرېزانو نه دي د پخوانیو پورونو د آداء کولو غوښتنه وشي، حکومت د دوی د مطالباتو او په مسلسل اصرار سره د دې وروسته پر ډیرو مسائلو باندي توجه وکړه او پدې اړه ئې عملي گامونه اوچت کړل.

.................................................................

[1]د مصر تر ټولو ستر ملي بانک چي د اغیارو په لاسونو کي دی او د حکومت لا هم باور ورباندي شته.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ د شرکتونو ملي کول(NATIONALIZATION):

دا تل د أخوان غوښتنه وه چي ټول مصري شرکتونه دي مصري(ملي) کړل شي، او تر کومه ځایه چي ممکن وي د بهرنۍ سرمايې پر ځای دي د هیواد سرمايې ته ځای ورکړل شي، د ژوند عام ضرورتونه چي د ملت لپاره تر ټولو مهم شی دي، د بهرنیانو د لاسونو نه آزاد کړای شي، لکه د برېښنا شرکت، د اوبو د ماشینی سامانونو او پُرزو شرکت، په داخل او خارج کي د مواصلاتو شرکتونه، اخوان د دې هم مخالفت کاوه او غوښتل ئې چي نور دې سلسلې ته تغيير ورکړي چي د معدني ذخائرو نه لاسته راوړنه تر داسي اندازې چي د مالکي او سوداګري سازی صنعتونه او فابريکې او د هغو نه ګټه اوچتول دي د بهرنیو شرکتونو په لاس کي وي او عام هیوادوال او غريب مزدوران دي تل د افلاس او محرومۍ پرته بل څه نه ترلاسه کوي.

### ۳ صنعت ته افزائش ورکول(INDUSTRIALIZATION):

د اخوان دا عقيده ده چي "صنعتکاري" د اسلام لومړنۍ غوښتنه او تقاضا وه، د اسلام د نبي صلی الله علیه وسلم مبارک قول دی:"الله تعالی جل جلاله د کاسب مسلمان سره مينه کوي". او د داؤد او سليمان علیهم السلام صنعت و ترقي او امتیازات ئې ډير ستايلي دي، او د ترقۍ او صنعت و حرفت هغه رموز او نقاط ئې بيان کړيدي چي د هغو نه عام انسان عاجز دی، هغه امت چي په خپل کتاب(قرآن) کي د داوود علیه السلام توصيف:

وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ. أَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَقَدِّرْ فِى السَّرْدِ ۖ

ژباړه: او موږ اوسپنه د هغه لپاره پسته کړه؛ له دې لاربښووني سره چي زغري جوړي کړه او د هغو کړۍ په سمه اندازه (ور کړه). (سُوۡرَةُ سَبَإ : ۱۱/۱۰)

په دغو الفاظو سره تلاوتوي او بل ځای:

وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنْ بَأْسِكُمْ ۖ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او موږ هغه ته ستاسي د ګټي لپاره د زغري جوړولو صنعت ورښودلی ؤ، تر څو چي تاسي يو د بل د ګوزار څخه وژغوري. (سُوۡرَةُ الأنبیَاء : 80)

دا نو بيا کومه الميه ده چي د دوی سره دي د اسلحې جوړوني فابريکه هم نه وي موجوده؛

وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ . يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرًاۚ

ژباړه: موږ د هغه لپاره د ويلي شويو ميسو چينه و بهوله. او داسي پيريان مو د هغه تابع وګرځول چي د خپل پروردګار په حکم سره يې د هغه په مخ کي کار کاوه. له هغو څخه چي څا زموږ له حکم څخه سرغړونه وکړل، په هغه باندي به موږ (په اخيرت کي) د لمبه شوي اور خوند وڅکو. د هغه (سليمان ع) لپاره هر هغه څه هغوی جوړول چي هغه غوښتل: دنګي ودانۍ، تصويرونه، د لويو لويو تالاوونو غوندي لګنونه او له خپله ځايه نه خوځېدونکي درانده ديګونه. اې د داود کورنۍ! د شکر په کړنلاره عمل وکړئ. (سُوۡرَةُ سَبَإٍ ۱۲/۱۳:)

او د دوی سره کومه کارخانه(Foundry) نه وي، او نه د معدني اوزارو او آلاتو کومه بشپړه فابريکه ورسره وي، او په داسي حال کي چي دا آيت هم تلاوتوي:

وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٌ شَدِيدٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ

ژباړه: او اوسپنه مو راکوزه کړه چي په هغې کښي ډېر زور دی او د خلکو لپاره ګټي دي. (سُوۡرَةُ الحَديد : 25)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا د خپل دغه معدني ثروت نه بې پرواهي وکړي، چي ډېر په اعلی طرز باندي او په دومره مقدار سره وي چي د معدنیاتو د ماهرینو د اندازې مطابق د دوه سوه کلونو لپاره کافي دي.

## ۴ د ذاتي مِلکیت(سرمایې) نظام او مصر:

ډېر خلک به ئې په لوستلو حیران شي چي اخوان تر ټولو مخکي د مِلکیت د حد بندی لپاره غږ اوچت کړ چي د دغو بې مثله غوره پروګرامونو(سکیمونو) نه یو وو چي اوسنی عصر هغه بشپړ کړیدي[1]، خو چي کله دوی پوه شي چي مرحوم حسن البنأ د "أخوان المسلمین" د ورځپاڼي په پاڼو باندي تر انقلاب څو کلونه مخکي د دې غوښتنه کړې وه، نو د دوی تعجب و حیرت به کم شي، مرحوم لیکلي وو: "اسلام او د هغه د معاشیاتو د بنیادي مبادی وو غوښتنه ده چي موږ د مصر پر مِلکیاتي نظام له سره غور و فکر وکړو، چي ډېر ستر جایدادونه دي، هغه "محدود" کړو، او د هغوی مالکانو ته داسي معاوضه او بدل ورکړو چي د دوی او د ټولني، دواړو لپاره ګټه ور وي، موږ باید د وړوکو مِلکیتونو حوصله افزایي وکړو تر څو تش لاسي غریبان دا ګمان وکړي چي په دې هیواد کي داسي خلک هم شته چي د دوی په اړه فکر کوي او د دوی له درد نه ځان خبروي، د حکومت ټول املاک دي سمدستي پر دغو غرباوو وویشل شي تر څو یو څه توازن مراعات شي او پرمختګ وکړای شو.

## ۵ د محصولاتو تنظیم(TAXATION):

زموږ "د اقتصادي قانون جوړوني" لپاره اسلام دا ضروري بولي چي عوامي محصولات(Public Taxes) تنظیم کړای شي او په هغه کي تر ټولو لومړی ټیکس زکات دی، چي په نړۍ کي هیڅ کوم قانون داسي ندی کوم چي د اسلام په څېر یوازي پر "ګټي" نه بلکي پر "اصلي سرمایه" ئې محصول لګولی وي، چي په دې کي ډېر زیات مصلحتونه

..............................................................

[1] د دې نه د مصر انقلابي عصر یعني د جمال عبدالناصر زمانه مراد ده، چي ناصر د اخوان دغه منصوبې د ځان کارنامې وبللې.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته دي، يو دا چي د ذخيره کولو مخنيوی کيږي او په تجريو کي پيسې د گرځېدلو راگرځېدلو او خوندي کولو نه ژغورل کيږي، ځکه د اقتصاد منشأ او مقصد دادی چي پيسې په بازار کي په گردش وي، او په دې توگه هغه ټول کسان تري مستفيد شي چي تر کومو کسانو پوري دا پيسه ځان ورسوي، نو ځکه هم د "سونې او زرو" پر نظام باندي د "اصل" حسب نه بلکي د "گټي" پر حسب باندي محصول لگول ضروري او مهم دی. چي د دې نه غريب خلک په طبعي ډول سره معاف پاتي کيږي، او بيا د هري ممکني لاري نه "د اقتصاد د معيار" د اوچتولو لپاره مصرف کيږي، د حضرت عمر رضی الله عنه په زړه پوري طرزِعمل وو چي هغه به پر انگورو دروند محصول وضع کوی ځکه انگور د اميرانو مېوه ده، او پر خُرما به ئې ډير معمولي محصول اېښوده، ځکه خرما د غرباوو خوراک وو.

**۶ د سود مخالفت:**

د اسلامي روح زموږ نه دا غوښتنه ده چي موږ په لومړي فرصت کي د سود خاتمه وکړو، هغه حرام وگرځوو، او پر دې بنياد هر ډول خريد و فروش غلط و بولو، تر اوسني عصر نه مخکي چي کوم مُصلحين تېر شوي دي هغوی به د دې موضوع نه ځان خوندي ساتی، تر څو دوی ته دا ونه ويل شي چي"دغه شی ناممکن دی، او پر سود د ټولي نړۍ د تجارت مکمل دارومدار دی" خو اوس دا دليل له اهميته غورځېدلی دی، ځکه اوس ئې هيڅ قيمت نشته، روسيې په خپل هيواد کي سود غير قانوني کړ، او هلته سود د بدترين جرم په صفت پېژندل کيږي.

**۷ د کورنيو صنعتونو همت افزائي:**

دا هم ضروري ده چي د کورني او لاسي صنعتونو همت افرايي وکړل شي، د همدې لاري د کمزورو کورنيو مرسته ممکن ده، او د صنعتي ژوند په لور گام پورته کېدای شي، دا بې کاره لاسونه چي په ابتداء کي کوم کارونه کولای شي هغه د معمولي شيانو د جوړولو او اوبدلو او وړوکو سامانو په ذريعه صابون سازي، عطر جوړول، مربّه جات او نور داسي په لسگونو کارونه دي چي په هغه کي مېرمني، جينکۍ او هلکان خپل وخت په مثبته توگه تېرولای شي، دا صنعتونه به دوی ته ډير گټه رسوونکي ثابت شي او د افلاس و تنگدستی نه به دوی ته نجات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ د عیاشیو د سامانونو کمي او پر ژوندانه ضرورتونو اکتفاء کول:

په دې اړه باید سرمایه دار خلک د غرباوو لپاره نمونه جوړ شي، د ساز و رنګ بې ځایه او د عیاشیو محفلونه باید ودرول شي، عیاشي خوښونه او تباه کوونکي فضول خرچیاني ناجائز او ممنوع اعلان شي، دا هغه شیان دي چي پر هغو عمل کول اسلام واجب بولي او د حال و مستقبل غیر معمولي حالاتو تقاضا او غوښتنه همدا ده.

په دې توګه دا طریقه د نوي عصر د ساده او محتاط سیاست سره هم مطابقت لري، د اخوان المسلمین اساسي قانون په دې اړه وضاحت کړیدی چي د دوی په اهدافو کي دا خبره هم شته چي"ملي ثروت باید ډیر کړل شي، ساتنه ئې باید وشي، او د پردیو له تسلطه آزاد کړل شي، او د ژوند د معیار د لوړولو لپاره باید هڅه وکول شي."

دلته دا خبره د یادوني وړ ده چي دا ټول آراء او وړاندویني دي چي د اسلامي حکومتونو په وخت کي په انحطاط کي پرېوتي پاتي شوي او په اسلامي فکر کي د دوی نقش څرګند نشو، تر داسي بریده چي اخوان هغه یو ځل بیا را ژوندی کړ.

## ۹ اخوان او د ډیري آبادی مشکل:

استاد حسن البنأ مرحوم دغه مسئلې ته په خپلو تحریرونو کي کوم ځای ندی ورکړی، که څه هم د اخوان تل دا فکر پاتي شوی چي مصر ته د ضرورت مطابق د پیداوار او تولیداتو کومه ستونزه نده پیدا شوې، بلکي شکایت ئې دادی چي د دولت وېش او تقسیم برابر ندی او د معدني ثروت او زرعي ځمکو د رقبې د توسیع او پراخولو په اړه د غفلت نه کار اخیستل کیږي، مختصراً دا چي دوی د آبادئ د ډیرېدو د حل په اړه د ایجابي وسائلو اختیارول ضروري بلل، دا د دوی د اساسي قانون د هغې مادې نه واضح کیږي چي موږ پورته ذکر کړیدي، او هغه عملي تجاویز هم د دې ثبوت دي چي پورته ئې یادونه وشوه.

خو د دې مسئلې د حل لپاره د سلبي وسائلو اختیارول مثلاً ودونه نه کول، یا د ودونو سِن لا زیات کړل شي، او یا کورنئ د"ضبطِ ولادت"" په ذریعه د کمولو هڅه وکړل شي، نو دغو ټولو ته اخوان په ښه سترګه نه ګوري، حسن البنأ مرحوم د خاندان او د واده په اړه د تقریرونو یوه سلسله پیل کړې وه، چي په هغو کي به ده ویل چي اسلام څرنګه انسان دې ته چمتو کوي او په هغو اخواني خلکو به ده د ناراضګئ اظهار کاوه چي د هغوی مالي ذرائع او حالات د واده اجازه ورکوي خو بیا هم دوی واده نکوي، د ده دغه سیاست د اسلامي روح

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره عیناً مطابقت لري، چې اسلام د واده په ذریعه د اخلاقو د ساتنې د وسیلې په اختیارولو باندې ډېره توجه ورکوي، د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک قول دی:

اَلْزِوَاجُ نِصفُ الدِّیْن / ژباړه: واده نیم دین دی.

ددې سره سره اسلام د نسل اضافه خوښوي او د مختلفو ذرائعو نه د هغه لپاره هڅې کوي، په حدیث کې شته "واده وکړئ، نسل وچلوئ، شمېر مو زیات کړئ تر څو د قیامت په ورځ پر نورو امتونو ستاسې د ډېر شمېر په سبب فخر وکړم."

د ولادت ضبط ته که څه هم اخوان د واقعي او معقول ضرورت پر اساس بالکل حرام نه وايي، خو د دوی یو مصنّف بل مصنف ته چې هغه د افلاس او لوږې د مشکل لپاره د ضبطِ ولادت د حل وړاندیز کړی وو، په ځواب کې ئې "د ولادت ضبط نه بلکې د نسل اضافه" تر عنوان لاندې لیکلي وو چې:

"حقیقت دادی چې په مصر کې د افلاس اصل دلیل د دولت غلط تقسیم او وېش دی، د پیداوار د کمبود نه، او بیا کوم پیدا وار چې موږ په راتلونکې کې د کوششونو پر اساس ترلاسه کولای شو هغه د دې نه په څو چنده زیات دی کوم چې فعلاً ئې موږ ترلاسه کوو، که چیرې زموږ د کار لاسونه د خپل ځان لپاره د کار میدان پیدا کړي، او ملي سرمایه پر بې کاره ناستو خلکو نه بلکې پر کارکوونکو تقسیم کړل شي نو په مصر کې به یو مفلس او محروم هم ونه موندل شي، مصر د نه سوه۹۰۰ لکو انسانانو لپاره کافي دی، او دلته به یو کس ته هم د شکایت موقع په لاس ورنشي، په دې شرط چې حکومت په صحراء کې د زراعت او د کانونو د کیندلو پر ذریعه کار پیل کړي، او د خپل پراخو سمندرونو نه د خپل بین المللي جغرافیایي محلِ وقوع او دنیل د سیند نه بشپړه ګټه اوچته کړي چې هر کال د برکتونو یوه خزانه له ځان سره راوړي."

دا همهغه رأیه ده چې څو کربښې مخکې موږ د أخوان په وړاندیزونو او تجاویزو کې د هغې یادونه وکړه، او د دوی د دې خیال تائید ئې کړی دی چې د آبادی د کثرت مسئله دې په "ایجابي ذرائعو" سره حل و فصل کړای شي چې د دې مسئلې د حل لپاره همدا کافي دي چې د هغه وروسته د سلبي وسائلو د اختیارولو ضرورت نه پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ عمراني فلسفه

که چیري د اخوان د دعوت د پیل خښته"روحاني اړخ" وي لکه څرنګه چي موږ په مخکنیو پاڼو کي وضاحت وکړ او "اقتصادي اړخ" د هغه یوه محکمه ستن، چي د هر دعوت او ژوندانه فلسفي لپاره ضروري دي، نو د ژوند سیمه اییز اړخ او د هغه اصلاح و ترقي د اخواني دعوت هدف او مقصد دی، د دوی دعوتي تحریک یو ټولنیز اصلاحي دعوت هم دی چي د مکملي ټولني اصلاح غواړي، افراد، خاندان، قومونه او حکومتونه ټول په هغه کي شامل دي، دوی غواړي چی د ټولو مرسته وکړي او د ژوند په هر اړخ کي د دوی لپاره د اسلام د نقطه نظر سره مطابق یو بشپړ مصلح نظام وړاندي کړي چي د اخوان په نظر کي د افرادو او جماعتونو ، قومونو او دولتونو خلاصه د ټولو مشکلاتو یوازینی حل ده، نو ځکه هم موږ ویلای شو چي د دوی عمراني فلسفه یو انساني اصلاحي پروګرام دی، تاسي په نورو الفاظو کي هغه داسي هم ویلای شئ چي هغه "اسلامی عمراني فلسفه" ده چي د دوی د دغي عقیدې بالکل مطابق ده چي اسلام یوازي د "عباداتو مجموعه" مذهب ندی بلکي یو بشپړ ټولنیز نظام دی.

خو د وضاحت لپاره ئي د اسلامیت د لفظ تکرارول کافي ندي، نو ځکه هم زه مناسب بولم چي د اخوان عمراني فلسفه د دوی د عقیدې په دائره کي دننه په دریو ټکو ووېشم، او تفصیل ئې وړاندي کړم:

الف: د اسلامي ټولني تعمیر

ب: اسلامي وطنیت

ج: نړیوال انسانیت

### الف: د اسلامي ټولني تعمیر

د اخوان عقیده ده چي اسلامي ټولنه همهغه رهبري ټولنه ده چي د هغې د تأسیس لپاره دوی هڅي کوي، او د امن و اطمینان تړی انسانیت ئې غوښتونکی او سترګي په لار دی، دوی د اسلامي ټولني د تعمیر لپاره د قرآن کریم نه اخیستل شوي اصلاحي اصول او قواعد په ګوته کړي چي په لاندي توګه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د ټولو انسانانو تر منځ دي د ورورۍ او اخوت اعلان وکړل شي.

۲- د نارینه او ښځینه دواړو لپاره دي د ترقۍ لاري چاري پرانیستل شي، او په عامه انساني حقوقو کي دي د دوی خپل منځي مساوات او کفالت اعلان کړل شي.

۳- د هر فرد لپاره دي د ژوند د مِلکیت، عمل، صحت، آزادۍ او د تعلیم حقوق ومنل شي، د امن تضمین دې وشي، او د درآمد پر لارو چارو دې غور و فکر وکړل شي.

۴- د انسان د دواړو بنیادي او عزیزي غوښتنو یعني"د خپل ځان د تحفظ غریزي" او "د خپل مال د تحفظ غریزي" باید ساتنه وشي، په نورو ټکو باید د دوی د خېټي او جنسي خواهشاتو د جائزي لاري د تکمیل مواقع ورته برابر کړل شي.

۵- د اصلي او بنیادي جرائمو په مخنیوي کي له شدت نه کار واخیستل شي.

۶- د اُمت د اتحاد هڅه دي وکړای شي، او د افتراق او جهت بندی ټول مظاهر دي ختم کړل شي.

۷- د اسلام دغه حقیقي نظام چي د صداقت کوم دعوت راوړی دی، نو ټول امت ئې د هغه لپاره په هڅو کولو لازم و ملزوم ګرځولی دی.

۸- حکومت د دې اسلامي ژوند د فلسفي نماینده او محافظ وي، په خپل مخصوصي اسلامي دائره کي به د دې مقاصدو د تکمیل او ټول انسان دي د هغه د دعوت و تبلیغ ذمه په غاړه واخلي.

د دې نظام لپاره هغه ځیني عملي شعارونه هم مقرروي، چي د هغو شعائرو تکرار یوازي په ژبه کول کافي ندي بلکي پر هغه عمل کول هم لازم دي، تر څو خلک د دې نظام په قالب کي ونیول شي، د هغه د روح نه سرشار شي، دا شعائر په لاندي ډول دي:

- کسب و عمل او د فقر نه اجتناب و پرهېز.
- هڅه او جهاد، د مجاهدینو تیارول، د هغوی وروسته د هغوی د اولادونو، اهل و عیال حفاظت او مرسته.
- امر بالمعروف او خلک د خیرخواهي په لور رابلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نهی عنِ المنکر، او د رذائلو او بدکاریو د مقاماتو او مرتکبینو سره مقاطعه.
- هر مسلمان نارینه او ښځینه باید د خپل استعداد مطابق د ژوند په مختلفو فنونو کي علم او پوهه ترلاسه کړي.
- صافي معاملې، داسي چي هر فرد د ښو اخلاقو یوه څرګنده نمونه وي.
- د جسماني صحت او عام انساني حواسو ساتنه او حفاظت.
- د حاکم و محکوم تر منځ رعیت پروري او د اطاعت شعاری په ذریعه سره "مشترک تجاوب(Collective Reciprocity) د دې قرآني عمراني نظام پر اساساتو باندي اخوان یوه مثالي ټولنه(Ideal Islamic Society) جوړول غواړي، چي پر دغو اصولو ژور ایمان او باور ولري او د هغه په پوره ډول سره ئې په نافذولو مستعد وي، د دغه تعمیري هدف د تکمیل لپاره د نورو قومونو د علم و تمدن مفید وسائل ترلاسه کول اخوان ناجائز بولي، خو د دې شرط سره چي دا د دوی پر اسلامي قومیت او پر هغه د فخر و اعتماد په حق کي مضر او تاواني نه وي، په دې سلسله کي دوی د پخواني اسلامي قومونو مثالونه وړاندي کوي، چي هغوی د نورو غیر مسلمانانو قومونو سره روابط وساتل، د هغوی د تمدن ډیر شیان ئې اختیار کړل خو د خپل ایماني قوت او نظام د پختګی په وجه بیا هم پر هغو ټولو غالب پاتي شول، پایله ئې دا شوه چي یا خو دوی هغه غیراسلامي تهذیبونه پوره پوره عربي کړل، او یا ئې څه نا څه خپل په رنګ واړول، او په دې توګه ئې هغوی د خپلي ژبي او مذهب تابع کړل، د دغه تهذیبونو د غوره شیانو په اخذ کولو سره د دوی لپاره کوم مانع نه وو خو په دې ډول سره چي د دوی پر مخصوص عمراني او سیاسي رنګ باندي دغه شیان اثر انداز نشي.

پاتي شوه د اسلامي ټولني د تعمیر لپاره د اخوان طریقه کار، نو موږ هغه طریقه په څلورو مراحلو ویشو:

(۱)مسلمان فرد (۲)مسلمانه کورنۍ (۳)مسلمان قوم (۴)مسلمان حکومت

۱ **مسلمان فرد**: د اخوان خیال دادی چي د کوم روحاني بیدارئ چي دوی داعیان دي هغه تر هغه پوري ممکن نده تر څو د ټولني افراد، کورنۍ او په جماعتونو او ګوندونو کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې عامي بيدارۍ څپې راپورته نشي، دوی هوډ کړی چي فردي روزنه به پداسي انداز سره ترسره کوي چي هغه د اسلام د منشأ مطابق يو مثالي انسان جوړ کړای شي، اسلام د فرد نه غوښتنه کوي چي هغه دي پاک وجدان ولري، چي د ياد وجدان نه د ډاډ احساس وکړای شي او د داسي ادراک صلاحيت ولري چي د ښو او بدو سالم تفکيک وکړای شي، د داسي محکمي او مضبوطي ارادې خاوند وي چي کله هم پسته او تيټه نشي، او داسي صحت مند بدن ولري چي انساني فرائض په احسنه طريقه سرته ورسولای شي، د صالحو عزائمو د تکميل او بشپړېدو يوه صالحه ذريعه وګرځي، د هغه لپاره دوی پر هر اخواني دا لازمي کړې ده چي هغه به د الله جل جلاله د احکاماتو مطابق په پوره پابندي سره عبادت ترسره کوي چي له دې لاري نه به د ياد شخص د وجدان عروج او ترقي ممکنه وي، تر کومه ځايه چي ممکن وي د علم د حصول په اړه هڅاند واوسي، تر څو د ده په ادراک کي وسعت پيدا شي، په خوراک، اغوستلو او خوب کولو کي د اسلامي نظام د آدابو پيروي وکړي، تر څو د ده بدن د ناروغيو د هلاکت ورکوونکو څپو نه په امن کي پاتي شي، دوی د دې وضاحت هم کړی دی چي دغه اصول د نارينه وو لپاره هم دي او د ښځينه وو لپاره هم.

۲ **مسلمانه کورنۍ**: د فرد د اصلاح اثر پر کورنۍ هم لوېږي، دا ځکه کورنۍ د افرادو مجموعه ده، کله چي نارينه او مېرمني اصلاح شي چي دا نو د کورنۍ اصل دی، نو بيا په ډېره آساني سره د اسلام د اصولو مطابق يو نمونه ايېز کور جوړېدای شي، اسلام د کورنۍ د اصلاح ډېر په زړه پوري اصول وړاندي کړيدي، اسلام وايي چي زوجين دي د يو بل په انتخاب کي د غوره اصولو نه کار واخلي، او د خپل منځي ارتباط او اړيکي بهترين وسائل ئې په ګوته کړيدي، واجبات او حقوق ئې متعين کړيدي، او پر دواړو اړخونو(زوجينو) ئې د واده د ثمراتو يعني اولادونو ساتنه او سرپرستي په احسنه طريقه فرض ګرځولې ده، تر هغه وخت پوري چي ماشومان ئې د نشوونمو د مراحلو نه د ځوانۍ حالت ته نه وي رسېدلي، په ازدواجي ژوند کي چي کوم مشکلات رامنځ ته کيږي د هغوی بهترين حل ئې وړاندی کړيدی، او خپلو تولو نظرياتو کي ئې داسي اعتدال ساتلی دی چي هيڅ افراط و تفريط پکي نشته.

۳ **مسلمان ملت**: کله چي کورنۍ منظمه شوه نو ګواکي ملت اصلاح شو، دا ځکه قوم بيا د همدغو کورنيو مجموعه ده، اسلام د يو پرسکون ژوند اصول په ډېر وضاحت سره وړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړيدي، هغه د امت د افرادو تر منځ د اخوت د تعلق نشاندهي کړې ده، او هغه ئې د ایمان مترادف بللي دي، د دغه تعلق معیار ته ئې د محبت، بلکي د ایثار عظمت ئې ورپه برخه کړیدی، او د دغو تعلقاتو شلوونکي یا د دغو قربانیو کمزوره کوونکي ټول اسباب ئې ختم کړيدي، د حقوقو او واجباتو او تعلقاتو حدود ئې څرګند کړيدي، او د خلکو خپل منځي تعلقات ئې ډیر په تفصیل و تشریح سره بیان کړيدي، د نیکۍ د فضیلت نه علاوه ئې هیڅ ته هم پر بل څه فضیلت ندی ورکړی.

**۴ اسلامي حکومت**: د اخوان آخري هدف چي پر هغه ئې ټولي هڅي متمرکزي دي هغه د اسلامي حکومت قیام دی، چي د اسلام حکومتي نظام په پوره توګه نافذ کړای شي، د مسلمانانو متفرق طبقات پر یو واحد محور راجمع کړای شي، د هغوی بایللی عظمت اعاده کړای شي، د دوی نه غصب کړل شوي ځمکي، په زور باندي تري اخیستل شوي حقوق او هیوادونه دوی ته ورواپس کړای شي، او بیا د جهاد او دعوت الی الله بیرغ رامخته او اوچت کړای شي تر څو نړۍ د اسلام د تعلیماتو نه مستفیض شي.

**په اسلامي ټولنه کي د اقلیتونو او بهرنیانو احکام:**

اخوان دا ګمان کوي چي د اسلامي نظام د نفاذ او د غیر اسلامي اقلیتونو په بقاء کي کوم وړوکی تعارض هم نشته، دغه هر څه د دوی لومړی عام مرشد(حسن البنأ) پدې ټکو بیانوي:"خلک ګمان کوي چي اسلام د ژوند د نظام په ډول په جوړوېدلو سره او د هغه اقامت په اسلامي امت کي د غیر مسلمانو اقلیتونو د وجود او د امتونو د خپل منځي اتحاد په تاوان او ضرر دی، چي د اوسني عصر یو مستحکمه ستن ده، خو حقیقت بالکل د دې برعکس دی، د اسلامي اساسي قانون او مقدس لارښود(قرآن حکیم) د اقلیتونو د حفاظت او حقوقو یو ډیر واضح او په زړه پوري قانون راوړي چي هیڅ شک و شبهه پکي نشته."

لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: الله تاسي له دې خبري څخه نه منع کوي چي له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چي د دين په باب يې ستاسي سره جنګ ندی کړی او تاسي يې له خپلو کورونو څخه نه ياست ايستلي. الله عدل کوونکي خوښوي. (سُوۡرَةُ المُمتَحنَة : 8)

لکه څرنګه چي دا صريح نص او حکم يوازي د اقليتونو پر ساتنه او حفاظت دلالت نه کوي بلکي د دوی سره د غوره سلوک او معاملې تعليم هم ورکوي."

د دوی د موجوده مرشد(يعنی حسن الهظيبي مرحوم رحمه الله) الفاظ دي چي:"اسلام چي د معاملاتو کوم احکام وړاندي کړيدي، چي په نني اصطلاح کي "د شخصي احوالو قوانين" Personal Statute په نوم يادېږي، پر نصراني يا نورو غير مسلمانو قومونو د دې اطلاق نه کيږي بلکي پر دوی د دوی د مذاهبو د احکاماتو مطابق اطلاق کيږي، نو ځکه هم موږ ته حکم شويدی چي دوی د دوی پر دين پرېږدو، نو تر کومه چي دوی د خپل کتاب نه فيصلې کول غواړي، موږ د دوی سره څه سروکار نلرو، خو کله چي بيا دوی زموږ خواته راشي بيا به موږ د الهي قانون مطابق د دوی فيصلې ورکوو، تر کومه ځايه چي د معاملاتو تعلق دی لکه د"بيع" "رهن" "کرايه" نو په دغو مسائلو کي د عيسايانو په کتابونو کي کوم احکامات نشته، نو چي کوم اکثريت په دې اړه د دوی لپاره څه شی مناسب بولي د هغه پابندي پر دوی واجب ده، پر مسلمانو له دې امله چي د دوی دين دی او پر نصرانيانو له دي جهته چي دا يو قانون دی، دا هم بايد واضح کړل شي چي په اسلامي شريعت کي معاملات، د انصاف او لوړوالي د کمال پر درجه دي، نصرانيان نه بايد د هغه نه شکايت وکړي چي اسلام ولي "سود" حرام کوي، ځکه سود د دوی په شريعت کي هم حرام دی، او تر ديارلس سوه کلونو پوري دوی پر دغه حکم باقي پاتي شول، تر داسي حده چي په دې اړه اسلامي قوانين د دوی لپاره د قومي قوانينو په حيثيت باندي راغلل.

**ب: اسلامي وطنيت:**

دا تعبير به شايد غوږونو ته څه عجيب ښکاره شي، خو د اخوان په نزد د وطنيت صحيح تعبير همدا دی چي هغوی خپل اعمال، مقاصد او معتقدات په اسلام پوري مربوط وساتي، او وطنيت د دوی په نظر کي د دين يو جزء دی، د رسول الله صلی الله عليه وسلم قول مبارک دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"وطنیت د ایمان جزء دی". اخوان د وطن لپاره د هڅو کولو په وخت کي دا عقیده لري چي دا هڅي او کوششونه د عبادت یو ډول دی، چي د هغه په ذریعه سره د خدای رضا حاصلوي، په تېرو پاڼو کي لکه څرنګه چی موږ ویلي دي چي دوی د دین په اړه پوره فهم لري، او په ژوند پوري ئې مربوط بولي، د وطنیت په اړه د دوی فکري طرز د دې مطابق دی.

خو د دې سره دوی بیا هم د وطن پرستانو نه په یو بل اهم اصل کي باکل مختلف دي، او شاید دا همهغه اصول دي چي پر هغه د دوی د وطنیت داورمدار دی، هغه اصول دادي چي د وطنیت حدود د دوی په نزذ عقیده ده، جغرافیایي یا د هیواد حدود نه بلکي هره هغه علاقه او سیمه چي هلته کوم د "لا اله الا الله محمد الرسول الله" ویونکی موجود وي هغه اسلامي وطن دی، چي د دوی حقوق دي، او د هغه لحاظ او د هغه سره محبت ضروري دی، چي په اړه ئې اخلاص او د هغه د فلاح او جوړولو هوډ او د هغه لپاره هڅي واجب دي.

"پر دغو جغرافیایی حدودو باندي په وېشل شویو هیوادونو کي چي څومره مسلمانان دي هغوی زموږ وړونه او عزیزان دي، موږ د دوی په اړه فکر کوو، د دوی په احساساتو کي شریک یو، خو د وطن پرستانواو نېشنلستانو(Nationalists) دا مسلک ندی، دوی یوازي د یوې ټوټې څمکي سره تعلق ساتي، د کومي سیمي چي دوی هستوګن دي."

په هر صورت مناسبه ښکاري چي د وطنیت په اړه د مختلفو آراوو او د نظرونو د زاویو په مقابل کي د اخوان چي کومه رأیه ده هغه به دلته درته وړاندي شي.

**۱ مِلّیت:**

اخوان مصري ملّیت تائیدوي، او هغه خپل د اصولو مطابق بولي، دا څکه مصر د دوی لومړی او خاص وطن دی، "موږ پر دې فخر کوو چي موږ د دې وطن مخلصین یو، د هغه لپاره کار او د هغه سره بې ساري مینه کوو، او د هغه د پرمختګ لپاره هڅي کوو، تر ژونده به مو همدا شعار وي، موږ پوهېږو چی مطلوبي ترقی د څنځیر همدا لومړی کړی ده، زموږ دا هیواد "د ستر عربي هیواد" یو جزء دی، موږ چي کله هم د مصر لپاره کومي هڅي کوو نو ګواکي شرقي عربي ملیت او اسلام لپاره زموږ دا هڅي ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اخوان نسلي مليت نه مني، هغه مليت چي غربيانو غوښتل په عربو کي ئې عام کړي، چي د هغه په وسېله د دوی د وحدت مزي او ريښې پرې کړي، او د دوی خپل منځي روابط کمزوره کړي، نو ځکه هم اخوان المسلمين د قوميت او مليت د دې تعبير او د دې په شان نورو تعبيرونو د منلو لپاره کله هم چمتو ندی، او د دوی سره د فرعونيت، عربيت، فنيقيت[1]، شاميت[2]، په نوم څه نشته، او نه هم دوی د دغو نومونو او القابو سره څه سرو کار لري، د کوم په وجه چي خلک يو پر بل ختې شيندي، بلکي د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر دې مبارک ارشاد د دوی ايمان و عمل دی چي:"الله تعالی جل جلاله د جاهليت تکبر او د پلرونو پرستش له تاسي نه ووېست، ټول انسانان د آدم عليه السلام اولاد دي، او د آدم تخليق له خاوري شوی، د تقوی پرته کوم عرب په غير عرب د نسل پر بناء هيڅ فضيلت نلري."

## ۲ عرب ليګ:

اخوان د عرب ليګ هرکلی کوي، دا ځکه هغوی د پاشل شويو عربو قومونو لپاره چي ډيری ئې مسلمانان دي، د اتحاد او اجتماع د يوې ريښې حيثيت لري، او د دوی ګمان دی چي د دوی د يو ستر اميد يعني(اسلامي ټولني) د وجود په لار کي(Arab leage) لومړنی ګام دی، دوی دا عقيده لري چي"کله چي عرب مغلوب شول، نو پر اسلام به هم د مغلوب ګمان وکړو."

"د عربو قومونو د اتحاد او يو ځای کېدلو او ترقی پرته د اسلام ترقي ممکن نده، د عربي وطن د يوه بالښت په اندازه ځمکه هم موږ خاص خپل وطن او خپله ځمکه بولو، دغه جغرافيايي حدود او سياسي تقسيمونه زموږ د زړونو نه د اسلامي عربي وحدت نقش نشي پاکولای، د دوی دا هم عقيده ده چي همدا ژبه او اسلام د عربي قوميت اساسات دي، د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم مبارک قول دی چي:"ای خلکو! پالونکی يو دی، او پلار(آدم) يو دی، دين يو دی، او عربيت ستاسي د پلار او مور څخه ندی بلکي يوازي ژبه ده". نو څوک چي عربی وايي هغه عرب دی، همدا دليل دی چي د عربي قوميت لپاره خپلي هڅي اسلامي هڅي بولي، او هغه د ټولي نړۍ لپاره د خير کار بولي.

..................................................................

[1] د مسيح د عهد نه مخکي د لبناني قوم په لور نسبت دی.

[2] يعني تر اسلام مخکي شامي قوميت(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳ شرقي بلاک:

اخوان د شرق او شرقي قومونو لپاره ډېر ګرم احساسات لري، دا ځکه دوی هم مسلمانان دي او هم شرقيان، دوی غواړي چي د شرق قومونه پر خپل مشرقيت افتخار وکړي، لکه څرنګه چي غرب په غربيت افتخار کوي، نو ځکه هم دوی د استعمار په خلاف د شرقي دولتونو په هڅو کي په مادي او معنوي لحاظ يعني هر ډول مرسته کوي، د دوی اخبارونو تل په هندوستان او اندونيزيا کي د برطانيې د استعمار په خلاف حملې کولې، دوی د "پاکستان غوښتنه" کاملاً تائيد کړه تر داسي وخته چي پاکستان ظهور وکړ، مادي مرستي ئې يوازي د ډاکټرانو د هيئتونو تر رالېږلو پوري وکړای شولې، يا د درملونو(دارو او دواوو) په صورت کي لکه څرنګه چي ئې د سوريې او اندونيزيا سره وکړل، په دې ډول سره دوی د هغو شرقي محصلينو سره هم مالي مرستي وکړې د کومو سرپرستانو چي د ديکتاتوري دولتونو د قانون پر اساس خپلو بچو ته پيسې نه شوې لېږلای، دغو محصلينو د دوی د احسان غوره بدله په دې توګه ورکړه چي خپلو هيوادونو ته د ستنېدلو وروسته ئې د اخوان او د هغوی د دعوت بلکې د ټول مصر او مصريانو بهترينه ترجماني ئې وکړه، خو شرقي بلاک او د هغه پر اصولونو باندي د دوی عقيده يو وقتي شی ده، چي د غرب د خپل غربيت د اعزاز او افتخار کولو په مقابله کي را څرګنده شوې، په دې اړه د دوی وينا ده چي:"زموږ د تحريک په دعوت کي د شرقيت يوه درجه ده، که څه هم فعلاً د دې سلسلې د مشترکو جذباتو پر اساس يو ايمرجنسي صورتحال دی، چي دا حالت غرب زېږولی، د هغوی پر خپل کلتور فخر، د خپل تهذيب په توصيف کي مبالغه، د هغو قومونو په مقابل کي چي دوی د "شرقي قومونو" نوم ورکوي، دوی نړۍ په دوو بلاکونو غرب و شرق تقسيموي، او د دې وېش اعلان، حتی چي د دوی د يو شاعر دا يو مشهور شعر دی چي:" شرق شرق دی، او غرب غرب[1]، دا دواړه به کله هم سره يو ځای نشي، همدا شيان د دې سبب شول چي شرقي قومونو د دوی په مقابل کي جلا صف بندي پيل کړه، کله چي غرب د انصاف لار ونيسي او د ظلم او حق تلفی طريقه پرېږدي، دغه هنګامي عصبيت به له منځه ولاړ شي، او يوه نوې نظريه به د هغې ځای ونيسي، يعني د پرمختګ اوترقۍ په کارونو کي د مختلفو قومونو د خپلمنځي مرستي نظريه.

دا خو د غرب په مقابل کي د شرق او اهلِ شرق په تعصب پوري مربوط خبره ده، خو تر کومه ځايه چي د اسلامي سلطنتونو او د هغوی د اتحاد ارتباط دی، اخوان د هغه پوره ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او دا عقیده ساتي چي د شرقي او غربي دواړو بلاکونو تر منځ د توازن ساتلو لپاره اسلامي بلاک یو ډیر په زړه پوري قوت دی.

## (ج) عالمګیر(نړیوال) انسانیت:

په تېرو کرښو کي د غربي فکري انداز په ځواب کي د شرقي تعصب د ظهور په اړه د اخوان دا قول چي دا یوه وقتي جذبه ده چي د دې جذبې د اسبابو د ختمېدلو سره جوخت به یاده جذبه هم له منځه ولاړه شي، او نړیوال بین المللي تعاون به ئې ځای ونیسي، د دې خبري قوي دلیل دی چي د اخوان د فکر اړخ د نړیوال انسانیت په لور دی، یوازي پر دې موقع نه بلکي د هغوی په تحریر و تقریر کي زیاتره د دې نړیوالي انساني نظریې یادونه شوې ده، "عالمیت یا انسانیت زموږ هدف او نصب العین دی، او د دې سلسلې د اصلاح آخري کړۍ یعني د راتلونکي نړۍ ړُخ به په همدې لور وي، اسلام په دې اړه د نړۍ لپاره یوه سېده لار انتخاب کړې ده، لکه څرنګه چي ئې تر هر څه مخکي په عقیده کي وحدانیت اېښی دی، د هغه وروسته ئې په ټولو اعمالو او نظام کي هم د وحدت شکل اېښی دی، د ټولو انسانانو پالونکی یو دی، د دین منبع یوه ده، ټول انبیاء کرام د تعظیم لایق او مقدس دي، ټول آسماني کتابونه د الله له لوري دي، او د دوی ټولو دعوت یو دی:

۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِۦٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ ۖ أَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا۟ فِيهِ ۚ

ژباړه: هغه ستاسي لپاره د دین همغه کړنلاره ټاکلې ده چي د هغې حُکم یې نوح (ع) ته کړی و؛ او چي اوس [اې محمده (ص)] تا ته مو د وحيي په وسیله درلېږلی دی، او د هغه حُکم مو ابراهیم (ع)، موسی (ع) او عیسی (ع) ته کړی دی، په دې سپارښت سره چي دغه دین برقرار کړئ او په ده کي تیت پرک کېږئ مه. (سُوۡرَةُ الشّورىٰ : 13)

..............................................................

¹د مشهور انګرېز شاعر او ادیب کپلنګ(Kipling) وینا ده. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی عقیده ده چي د اسلامي اصلاح اصول او قواعد درې دي:

(۱) **للهيت**: چي د هغه نه په مړو زړونو کي ژوند پیدا شي، په انساني شعور کي ملکوتي عظمت پیدا شي، او د الله تبارک و تعالی سره د خلکو ژوندی تعلق قائم شي.

(۲) **انسانيت**: چي انسان د دغه پستې ځمکي نه اوچت کړای شوی، د دې د منلو وروسته چي الله جل جلاله دی په خپله پیدا کړیدی، په خپل کامل قدرت سره ئې هغه ته انساني شکل و صورت ورکړی دی، په هغه کي ئې خپله روح اچولې ده، او ملائکي ئې د هغه په وړاندي په سجده کولو امر کړیدي.

(۳) **عالمګیریت**(نړیوالیزم): چي ټول انسانان د حق و صداقت په میدان کي د یو بل وړونه او مرستندویان وګرځوي.

"د دغو دریو حقایقو په دائره کي په اوسېدلو سره د آدم بچی په دنیا کي د الله جل جلاله خلیفه او د هغه د مخلوق په نګراني کولو سره ژوند تېرولای شي، الله تعالی جل جلاله د دوی لپاره د ځمکي او آسمان ټول شیان مسخر کړیدي، دغه هر اړخیز حقایق پر ځینو حقوقو او واجباتو، تنظیماتو او تشکیلاتو مشتمل دي، کوم چي موږ په خدای پالو نفسونو او مذبذبو او حیرانو زړونو کي د ځای پر ځای کولو هڅي کوو، او په ګډوډ شوي ماحول او ټولنه کي د دغو حقایقو لپاره لار پاکوو، همدا اسلام دی او همدا هغه تحریکي دعوت دی چي پر کوم اخوان المسلمین ایمان لري."

**دین او سیاست:**

په غربي قومونو کي د دین د لفظ یو خاص مفهوم دی، چي د دې پرته بل څه ندی چي هغه یوه داسي عقیده ده د الله جل جلاله سره د بنده ذاتي تعلق او ارتباط استواروي، د دې نه علاوه ئې یو بل مفهوم دا هم دی چي عیسائیت د رومي(Romi) شهنشاهیت تر سایې لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرورش موندلی دی چي د هغه سره داسي مشهور قوانين ول چي تر نن پوري معاصر اروپايي قوانين د هغوی مأخذ دي، نو ځکه هم عيسايي ټولنه نه هغه وخت عيسائيت ته دومره محتاجه وه او نه هم عيسائيت پردې قادر وو چي د پخواني رومي سلطنت او ګډوډې رومي ټولني لپاره د قوانينو په وضع کولو سره نظام او حدود قائم کړي، چي د هغو په لارښوونه کی حکومت او ټولنه خپل د ژوند لار په هغه کچه عياره کړي، کوم چي دوی د روحاني اصلاح او وجداني طهارت ضرورتمند ول.

پر دې اساس عيسائيت د روح او وجدان پر طهارت ډيره توجه کوله، چي نتيجه دا شوه چي د انساني ټولني او د هغه د ژوند د واقعاتو سره ئې کوم خاص تعلق او ارتباط برقرار ونشو ساتلای، د عيسائيت د نشوونمو دا لومړنی تاريخي اړخ وو، او دوهم اړخ ئې دا دی چي دوی ته د عيسايي مذهب د احکامو نفاذ ناممکن وبرېښيده، دوی ته دا تقريباً ناممکنه وه چي د يوناني عهد د خالص ماده پرستی نه د عيسائيت عهد و خالص روحانيت ته يو په يوه منتقل شي، په دې توګه په خپل واقعاتي ژوند کي هم د نصرانيت پر سختو نظرياتو باندي د دوی عمل کول خورا مشکل وو، چي نصرانيت به لارښوونه کوله چي: "که څوک تاسي پر راسته مخ په څپېړه ووهي، نو يو ځل بيا څپړه ورته ونيسئ" او چي "څوک ستاسي سره د جګړي په دوران کي قميص درنه وباسي نو هغه ته خپل څادر هم ورپرېږدئ" دوی دا احساس کړه چي دين د ژوند لپاره مناسب ندی، نو ځکه هم دوی وويل: دين د الله جل جلاله او بنده تر مابين د تعلق نوم دی، نو څه مشکل نشته چي دوی د کليسا په سايه کي واوسي، په مقدس هېکل کي د هغه په هواوو باندي خپل ځان مُعطر کړي او د هغه وروسته په ټولنه کي د خپل "وحشي" رواياتو مطابق ژوند وکړي، او د وحشت او ظلم په وخت توره د دوی لپاره فيصله کوونکې وسيله وي، کله چي دوی باتهذيبه شول، بيا عام ټولنيز قانون د دوی حاکمانه طاقت وو، پاتي شو دين، نو هغه د روحاني، زړه او ضمير په تنهايي کي پاتي وو، يا په مقدس هېکل کي وو، يا د اعتراف پر څوکی[1]، او په دې ډول سره د غرب په ژوند کي دين او دنيا د يو بل نه بيګانه شول.

..........................................................

[1] د کاتوليک عيسايي فرقې يوه خاصه اصطلاح ده ، يعني د پادري په مخ کي تر پردې او يا جالۍ چي په کليسا کي جوړه ده آ خواته په کښېنستلو سره خلک د خپلو ګناهونو اعتراف کوي، او خپل ګناهونه د پاپ په واسطه بخښي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي استعمار چي کله پر شرق او اهلِ شرق باندي حمله وکړه او خپلي منګولي ئې ورباندي ټينګي کړې نو د خپل ځان سره ئې خپل افکار و نظريات، خپله خالصه ايډيالوژي او د خپل د ژوند نظام ئې هم د ځان سره راوړی، او د پروپاګندونو د منظمو ذرائعو د رسوخ و نفوذ په مختلفو لارو(Means of Communications) باندي ئې د هغه د خپرولو هڅي پيل کړې، چي په دې توګه دوی بيمار ذهنونه د خپل ځان په لور مائل کړل، د خواهشاتو لرليد ته ئې تغيير ورکړ، او د خپل سياسي او اقتصادي او کلتوري مصالحو مطابق ئې هغه وچلاوه، د يوې زمانې د تېريدلو وروسته په شرق کي يو نوی نسل را پيدا شو، چي پر دغو نظريانو ئې پوره ايمان درلوده او د هغه د تطبيق کولو هڅي ئې کولې، خو که چيري څوک په دغه باب د دوی مخالفت وکړي يا د دوی د مطمئن کولو هڅه وکړي نو دوی د دغو نظرياتو په حمايت او مدافعت کي مخ ته وي.

اوس موږ د خپلي اصلي موضوع يعني د اسلام نه په بحث کولو سره د دې د ليدلو هڅه کوو چي د سياست سره ئې څه اړيکه شته؟ او د اسلام د ځينو احکامو او قوانينو نه بحث کوو تر څو دا واضحه شي چي د خلکو ژوند، د هغوی ټولنه، د ژوند عام مسائل چي بالخصوص په سياسي مسائلو پوري متعلق دي.

د اسلام په کتاب او ابدي لاربنود(قانون) کي راغلي دي چي:

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ

ژباړه: او [اې پيغمبره (ص)] د هغه وخت يادونه وکړه چي کله ستا رب پرښتو ته ويلي وه: "زه په ځمکه کښي د يو خليفه پيدا کوونکی يم. (سُوْرَةُ البَقَرَة : 30٩)

الله تعالى جل جلاله د آدم عليه السلام او د هغه اولاد يعني ټول انسانان پر ځمکه خپل ځای ناستي و ټاکل، مطلب دا چي هغوی ئې پر ځمکه آباد کړل، پر کايناتو ئې هغوی ته د تسلط حقوق ورکړ، تر څو د خپل رب د اوامرو او نواهيو په حدودو کي په اوسېدو سره د دنيا د نعمتونو نه ګټه اوچته کړي، "په نړۍ کي د انسان خلافت" په دوه ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"عمومي خلافت" او "خصوصي خلافت"

**عمومي خلافت:** ټولو انسانانو ته د ځمکي د آبادولو او پر هغه د قابض پاتي کېدلو له اعتباره حاصل دی:

هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا

ژباړه: هماغه ذات دی چي تاسي يې له ځمکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي مېشته کړي ياست. (سُوۡرَةُ هُود : 61)

دا جانشيني د آدم عليه السلام لپاره وه، او د ده وروسته د ده د ټول اهل لپاره چي دوی ټول د هغې(ځمکي) د آبادولو وارثين دي.

**خصوصي خلافت:** خلافت د حکومت نوم دی، چي پر دوه ډوله دی، د"حکومتونو خلافت" او د "افرادو خلافت". د حکومت خلافت د خپلو کوچنيو اقسامو له مخي يو انعام دی، چي الله جل جلاله ته څوک محبوب وي وربانديي نازوي ئي؛

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ.

ژباړه: او موږ دا اراده درلودله چي پر هغو خلکو چي په ځمکه کښي ذليل ګرځول شوي ول مهرباني وکړو، رهبران ئې وګرځوو او هماغوې وارثان وګرځوو. (سُوۡرَةُ القَصَص : 5)

يو بل مبارک آيت دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ.

ژباړه: او کله چي هغوی صبر وکړ او زموږ په ایتونو باندي یې باور وکړ، نو په هغو کښي مو داسي لاربنودونکي پېداکړل، چي زموږ په امر یې لار ښوونه کوله. (سُوْرَةُ السَّجدَة : 24)

لوستونکي ئې ګوري چي موږ دلته کوم آیتونه وړاندي کړل، د هغوی نه په ډېر صراحت سره دا نه لازمیږي چي د قرآن مطابق حکومت کول واجب دي، نو موږ د دوی مخي ته داسي آیتونه هم وړاندي کولای شو چي د هغه نه دا خبره ثابتیږي چي د الهی کتاب مطابق حکومت جوړول پر موږ بالکل فرض دي، چي په هیڅ صورت هغه صرفِ نظر نشو ګرځولای، او نه هم زموږ لپاره دا مناسب دي چي د هغه د عدمِ نفاذ لپاره د حالاتو او بې وسیٰ عذر وړاندي کړو، ځکه دغه حالات خپله زموږ زیږنده دي، او اصلاح کول او د اصلاح کولو ممکني هڅي ئې راباندي واجب دي، دا قرآني آیتونه په لاندي ډول دي چي هر سړی په ډېره آساني سره د هغوی مفهوم درک کولای شي:

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ.

ژباړه: او [اې محمده (ص)!] موږ تا ته دا کتاب درلیږلی چي په حقه راغلی دی؛ او له کتاب څخه چي څه دده په وړاندي موجود دي د هغو رښتیني کوونکی او د هغو ساتونکی او محافظ دی. نو له دې کبله ته د خدای له نازل کړي قانون سره سمي د خلکو چاري فیصله کړه. او کوم حق چي تا ته راغلی دی، له هغه څخه په مخ اړولو سره د هغو د غوښتنو پیروي مه کوه.

وَأَنِ ٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ.أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: نو [اې محمده (ص)!] ته د الله له نازل کړي قانون سره سمه ددې خلکو د چارو فېصله وکړه، او د هغو د خواهشاتو پیروي مه کوه. پام کوه چي دا خلك تا په فتنه کښي وانه چوي، یوه ذره قدري دي هم له هغه هدایت څخه وا نه ړوي چي خدای تا ته درلېږلی دی. نو که دوی مخ ورڅخه واړوي، نو وپوهېږه چي الله د دوی د ځینو ګناهونو په مجازات کښي، په غم کښي د دوی د اخته کولو اراده کړېده. او دا حقیقت دی چي له دې خلکو څخه زیاتره فاسقان دي. (که دوی د خدای له قانون څخه مخ اړوي) نو ایا بیا د جاهلیت فېصله غواړي؟ په داسي حال کښي کوم خلك چي پر الله باور لري، د هغو په نزد له الله څخه بل غوره فېصله کوونکی هیڅ نشته.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ

ژباړه: کوم خلك چي د الله له نازل کړي قانون سره سمي فېصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ

ژباړه: او کوم خلك چي د الله د نازل کړي قانون سره سمه فېصله ونه کړي، هماغوی ظالمان دي.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ

ژباړه: او کوم خلك چي د الله له نازل کړي قانون سره سمه فېصله ونه کړي، هماغوی فاسقان دي.

دغه صاف او واضح آیتونه دي چي د الهی کتاب مطابق د سلطنت کولو د فرضیت د ناقابلِ انکار دلائلو حیثیت لري، هغه شخص ددې په خلاف د څه ویلو جسارت کولی شي چي کفر، ظلم، فسق، د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت او د هغه د دین سره ئې لاتعلقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ملا تړلې وي، د داسي کس په اړه يوازي دومره ويلای شو چي هغه د هدايت او توفيق نه محروم دی.

په دغو څو کربښو کي مو پر ياده موضوع باندې ځکه رڼا واچوله چي حکومت او سياست د دين د وجايبو نه دي، اوس د دې پاک دين د اوامرو او نواهيو نه بحث کوو، تر څو موږ وګورو چي د انسانانو د ژوند سره څومره تعلق لري، او آيا رښتيا هم دين يوازي د الله جل جلاله او بنده تر مابين د خپلمنځي تعلق او ارتباط نوم دی؟ د دين واضح نصوص دغه دوهم خيال(دين د الله جل جلاله او بنده تر منځ د ارتباط شخصي معامله ده چي دا د اوسنيو سيکولرانو عقيده ده. ژباړن/ شاهين ) نفي کوي، ځکه د اسلام د اکثرو احکاماتو تنفيذ د افرادو د دائره عمل نه وتلی دی، يوازي حکومتونه هغه نافذولی شي، دا خبره د دې حقيقت د ثبوت لپاره کافي ده چي حکومت د اسلام فطرت او د هغه طبعي غوښتنه ده، او اسلام په يو وخت کي هم دين دی هم سلطنت، اسلام ډېرو کړنو ته د جرائمو په سترګه ګوري او د هغوی ارتکاب ناقابل سزا فعل، د دغو جرائمو لپاره ئې حدود او سزاوي ټاکلي دي، د همدې جرائمو له جملې نه يو عمداً قتل(Permediated Killing) دی، چي سزا ئې قصاص ده:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَى

ژباړه: اې مؤمنانو! ستاسي لپاره د قتل په دعواوو کښي د قصاص حکم ليکل شوي دی. (سُوۡرَةُ البَقَرَة : ۱۷۸)

غلا ده چي سزا ئې د لاس پرې کول(کاټول) دي:

وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا.

ژباړه: او غل، که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرېکړئ، (سُوۡرَةُ المَائدة : ۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتهام(تُهمت/تور لګول) دي چي سزا ئې په درو وهل دي:

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةً

ژباړه: او څوک چي په پاك لمنو ښځو باندي تور ولګوي، بيا څلور شاهدان تېر نه کړي، هغوی اتيا دُرې ووهئ. (سُوۡرَةُ النُّور : ۴)

په دې کي د کوم اختلاف ګنجائش نشته چي دغه ټول افعال ناجائز دي، او انسان د جرمونو په سترګه ورته ګوري، خو بيا سزا ورته ټاکل دا ټول په سلطنت او حکومت پوري مربوط اوامر دي، که اسلام د مذهب او حکومت مجموعه نه وای نو کله به ئې هم دا انداز نه غوره کولای.

همدا دليل دی چي حسن البنأ رحمه الله د اسلامي انجمنونو او نهضتونو د قوانينو د دې مادې سره سخت مخالف پاتي شو چي د اساسي قانون د پيل ماده به ئې هم وه يعني:"دا ګوند/انجمن به د سياسي مسائلو سره تعلق نه ساتي" او ده به ويل چي:"اسلام عقيده هم ده، عبادت هم، وطن هم دی، قوميت هم، سياست هم دی، قوت هم، ثقافت هم دی، قانون هم، د اسلام د حکم مطابق د مسلمان نه غوښتنه ده چي هغه د خپل قوم مسائلو ته جدي پاملرنه او توجه وکړي، څوک چي د مسلمانانو د مسائلو فکر نه کوي هغه د دوی څخه ندي، او زه په صراحت سره دا وايم چي کامل مسلمان به همهغه وي چي يو باخبر سياست پوه(سياسي) وي او د اسلامي امت پر مسائلو ژور نظر ولري، د دې لپاره فکر مند يم بلکي دردمند ئې يم، پر هر اسلامي ګوند باندي واجب ده چي د هغه د پروګرامونو سرفهرست موضوع بايد د اسلامي امت پر سياسي مسائلو توجه وي، د دې پرته په بل صورت کي به دا ګوند خپله د اسلام پوهني محتاج وي[1]."

..................................................

[1]"زموږ دعوت په نوي پړاو کی" د حسن البنأ مرحوم نه؛ ص: ۱۳... دا همهغه فکر دی چي د اوسني عصر ستر مفکر مولانا سيد ابوالحسن علی ندوي رحمه الله د تصانيفو او اعمالو نه واضح شوي او د مولانا مودودي مرحوم د فکر و دعوت امتيازات پاتي شوي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر یو وخت د اسلام د دین او سیاست اوسېدلو په اړه واضح او څرګند نص دا دی چې د مشرانو د انتخاب او عامو منصبونو په ډکولو کې د هغه طریقه ډېره حقیقت خوښوونکې ده، یعني د هغه په نزد د انتخاب او غوراوي اساس یوازې پر قابلیت او د ذمه دارۍ پر احساس او د منصب د غوښتنو د سرته رسولو په صلاحیت کې دی، او د دې علاوه به کوم شي ته اهمیت نه ورکوي، په دې اړه چې اسلام کوم احکامات وړاندې کړي دي هغه په هیڅه توګه له دې کم ندي کوم ته چې یو دنیاوي نظام د دنیا او د هغه د معاملاتو لپاره وړاندې کولای شي.

لکه څرنګه چې په اسلام کې د هر منصب لپاره همهغه کس غوره کېدای شي چې ډېر موزون(غوره) کس وي، یو ډېر امانت دار او بل ډېر طاقتور او زړه ور شخص که څه هم په هغه کې کومه وړوکې خرابي هم وي خو پر کمزور او بې همته سړي دي ترجیح ورکول شي، که څه کمزور شخص زیات امانت دار وي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه ئې وپوښتل: که په یوه جګړه کې دوه مشران وي، یو طاقت ور خو بدکردار، او بل نیک خو کمزور، د چا په مشرۍ کې باید جګړه وشي؟ ده وفرمایل: د بدکردار طاقتور قوت د مسلمانانو لپاره ګټور دی، او د هغه بدکرداري د هغه د خپل ځان لپاره تاواني، او د نیک او کمزور سړي نیکي د ځان لپاره ده، او د ده کمزوري مسلمانانو ته تاواني ده، نو ځکه هم باید د بدکردار سپه سالار تر قیادت لاندې جګړه ترسره شي، د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک قول دی: "الله تعالی جل جلاله د فاجر کس په ذریعه د دې دین مرسته کوي."

همدا دلیل وو چې د کوم وخت نه چې حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه اسلام راوړی وو حضور صلی الله علیه وسلم به هغه ته د جګړې پر وخت د سپه سالارۍ منصب ورکاوه، که څه هم کله کله به ئې داسې خبرې وکړې چې حضور صلی الله علیه وسلم به نه خوښولې، حتی یو ځل حضور صلی الله علیه وسلم لاسونه د آسمان په لور اوچت کړل او د عاء ئې وکړه چې "یا الله! خالد چې څه وکړل زه د هغه نه بریء الذمه یم". واقعه داسې وه چې یو ځل حضور صلی الله علیه وسلم حضرت خالد رضی الله عنه د جزیمه د قبیلې په لور ولېږه، حضرت خالد رضی الله عنه د قبیلې خلک ووژل، د هغوی د مالونو په اړه چې په هیڅه طریقه جائز نه ول ځیني صحابه رضی الله عنهم چې د ده سره ول، د ده پر دې کار باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناخوښی اظهار او انتقاد وکړ، تر داسي حده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلکو ته د هغوی دیت ورکړ، او د هغوی مالونه ئي واپس ورکړل، خو د دې باوجود به رسول الله صلی الله علیه وسلم د جګړو د قیادت لپاره خالد رضی الله عنه ته ترجیح ورکوله، ځکه په دې معامله کي هغه تر نورو ډیر اهل وو او څه چي ده وکړل هغه ئې په هر صورت د یو تأویل پر اساس وکړل.

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه په ریښتین ولی او امانت داری کي تر هغه غوره وو، خو د هغه باوجود نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

یَا اَبَاذَرْ اِنِّیْ اَرَاکَ ضَعِیْفاً وَّ اِنِّیْ اُحِبُّ لِنَفْسِیْ لاَ تَأْمُرَنَّ عَلَی رأثَیْنِ وَ لاَ تَوَلِّیْنَ مَالَ الیَتِیْمِ. (رواه مسلم)

ای ابوذره! زه تا کمزور وینم او ستا لپاره هغه څه غوره کوم چي د ځان لپاره ئې غوره کوم، ته به پر دوو کسانو هم امیر نکړل شې او نه به هم د کوم یتیم د مال سرپرست.

حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ابوذر رضی الله عنه د امارت او منصب نه ځکه منع کړ چي د ده له نظره هغه کمزوری وو، که څه هم روایت دی چي: "د ځمکي پورته او د آسمان نه کښته تر ابوذر رضی الله عنه ډیر رښتیا ویونکی بل څوک نشته[1]."

شاید اوس به دوی مطمئن شي؛ د چا تنګ نظری او د اسلام په اړه د دوی محدود فهم چي دوی ته دا ګمان ورپه برخه کړیدی چي د حکومت، وزارت او پر عامو منصبونو باندي د اسلام د حکومت په سایه کي د نرمو قره قولو خاوندانو، د لانبي لانبي تسبیح ویونکو او د درندو بګړیو خاوندانو او د سترو سترو ږیرو وال قبضه لګولی شي، اوس مناسب ده چي په دې موجوده عصر کي د سلطنت د تشکیل پر عواملو هم ژور بحث وکړو، چي اسلام تر کومه ځایه او تر کومي درجې پوري د دغه ارکانو حامل دی.

یو سیاسي یونټ یا حکومت(State) پر څو عواملو جوړیږي:

(۱) عامه اراده(General Will)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) قانون: چي رياست منظم کړي او په ځينو اصطلاحي تعريفونو کي قانون(Constitution)

(۳) نافذ قوت يا په ځينو اصطلاحاتو کي حکومتي واک(Governmental Authority)

(۴) د رائج نظام سره وفاداري(Lovalty)

اوس موږ څلور واړو عواملو ته د اسلام په رڼا کي په تفصيل سره ګورو:

**(۱) عامه اراده:**

اسلام پر دغه اړخ خاصه توجه ساتي، هغه داسي ټول ذرائع د يو بل سره نښلوي چي د هغوی په ذريعه امت د اجتماعي ارادې او په يوې رأيي سره خپل ټول اوامر سرته ورسوي، دغه اړخ د مختلفو لارو نه په ټولو معاملاتو کي د امت د وحدت هڅه کړېده، استاد حسن البنأ رحمه الله فرمايي: "تر کومه ځايه چي د امت د وحدت تعلق دی، حنيف اسلام ئې فرض او د اسلامي ټولني يو بنيادي جُزء ګرځوي، چي په هغه کي په هيڅ صورت تساهل او سُستي نه زغمي، هغه اتحاد د ايمان لپاره لازم بولي."

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ

ژباړه: مؤمنان خو يو د بل سره ورونه وي. (سُوۡرَةُ الحُجرَات : ۱۰)

په دې توګه اختلاف و افتراق ته د کفر د متراف او هم مفهومه په سترګه ګوري:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ

ژباړه: اې مؤمنانو! که تاسي ددې اهل کتابو د يوې ډلي خبره ومنئ، نو دوی به تاسي له ايمان څخه بيرته د کفر لوري ته واړوي. (سُوۡرَةُ آل عِمرَان : ۱۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني ستاسي د وحدت وروسته په تاسي کي افتراق پيدا کوي، د رسول الله صلی الله عيله وسلم قول دی:

لاَ تَرْجِعُوْا مِنْ بَعْدِىْ كُفَارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ وُجُوْهَ بَعْضَ.

زما نه وروسته تاسي بيا مه کافران کيږئ، چي د يو بل سره لاس و ګرېوان شئ.

په دې توګه حضور صلی الله عليه وسلم د اختلاف و افتراق تعبير د کفر په لفظ سره کړيدی، او تاسي ګورئ چي اسلام د داسي ټولو اختلافاتو د دروازو د تړلو هڅه کړېده چي د اجتماعي ارادې په وجود کي خنډ جوړ کړي، او دا ډول ټول اختلافات ئې معصيت او د دين نه د وتلو يوه لار او طريقه بللې ده، د دې پرته د نړی د خرابولو يو ستر سبب او علت هم دادی.

مصري حکومت ته د دې آخری انقلابي تحريک نه مخکي کله هم د ترقی او کمال د دې اساسي شرط يعني اجتماعي ارادې نه د ګټي پورته کولو فرصت په لاس نه وو ورغلی، او دا هرڅه د داسي ګوندونو په واسطه وشول چي خپل ځانونو ته ئې د سياسي ګوندونو نومونه ورکول چي د هغوی ټولو فکر دا وو چي د حق و باطل، په هره طريقه چي ممکن وي د خپل ځان(ګوند د ګټي) لپاره عامه رأيه او لاره هواره کړي، د وطن مفاد او ګټه د دوهم پړاو خبره ده، او شايد همدا دليل وو چي تر هر څه مخکي اخوان د دغسي ګوندونو د لغوه کولو غوښتنه وکړه، استاد حسن البنأ په خپل کتاب"زموږ مشکلات د اسلام په رڼا کي" کي ليکي: "موږ نه پوهيږو دغه ګوندونه چي ځانونو ته د سياسي ګوندونو نوم ورکوي، پر دغه ساده زړي، مجاهد، صابر او شريف ملت د څه شي تحميلول غواړي؟ معامله ډيره مهمه ده، ډيرو مصلحينو دا هڅه وکړه چي په دغو نازکو حالاتو کي چي هيواد مو اوس ورنه تيريږي، د يو وقتي اتحاد په پيدا کولو بريالی شي، خو دوی مأيوس و ناکام پاتي شول، او اوس معامله په داسي ډول(نيمه حل) نشي زغملای، د نن نه وروسته د دې پرته بله چاره نشته چي دغه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوندونه دي منحل کړل شي، او د امت ټول قوتونه دي په يو داسي تنظيم کي ضم کړای شي چي د دوی د بشپړي آزادئ لپاره هڅي وکړي".

**(۲) اساسي قانون/دستور:**

دستور د هغو قوانينو مأخذ وي چي يو رياست ضرورت ورته لري، اسلام په خپل قانوني مأخذ کي ډير ممتاز دی، هغه په خپل مجموعي حيثيت کي د ژوند لپاره د هر ډول ضروري قوانينو يوه کامل ترينه منبع ده، د اسلامي قانون جوړوني مأخذونه څلور دي:

(۱) کتاب (۲) سنت (۳) اجماع (۴) قياس

(۱) **کتاب:** يعني قرآن حکيم خپل د ټولو اوامرو او نواهيو سره که ئې هدف په واضح او څرګند اسلوب باندي ښيي، او که اشارتاً، که په دليل سره او که په اقتضاء سره.

(۲) **سنت:** هر هغه حديث چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ثابت دی، چي کوم مبهم حکم واضح کوي، يا د کومي مجملي مسئلې تفصيل بيان کړي يا د هغه د تفصيلاتو رهنمايي وکړي چي په هغه اړه قرآن سکوت غوره کړی، د دې شرط سره چي دغه احاديث د قرآن د روح سره متفق وي او د پوخ او بصېرت ښنونکي عقل لپاره د منلو وړ وي، تر څو داسي موضوع او غلط احاديث سره بېل شي.

(۳) **اجماع:** دا د اهل حل و عقد او د معتمد عليه مسلمانو او مجتهدينو د اکثريت د دنيا يا د دين په کومه معامله کي د رأيي د اتفاق نوم دی، چي د هغه وروسته هغه رأيه د شرعي قانون حيثيت غوره کوي، د دې اطاعت او پر هغه باندي عمل شرعاً فرض ګرځي.

(۴) **قياس:** د کومي جُزئي مسئلې پر اصل باندي د اېښودلو نوم دی، او د دې نه په هغو مسائلو کي کار اخيستل کيږي چي د هغوی په اړه کوم نص(قطعي حکم) وارد شوی نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو پر داسي موقع باندي ضروري ده چي انسان د کتاب و سنت په لاربښوونه کي خپل عقل په کار واچوي، او کوم کسان چي هم رامخ ته کيږي، هغه د قانون جوړونه د مقصد او اوامرو او نواهيو د علت په رڼا کي قياس کړي[1]: ([1]"دا دی اسلام" (عربی) د عبدالقادر عمادي نه ص۹۹).

نو ځکه هم اسلام له دې اړخه په خپل دستور او قانوني مصادرو کي د چا محتاج ندی، پر دغه قانون باندي په اوسنی زمانه کي په مثالي ډول سره يو حکومت تشکيلېدای شي.

**(۳) نافذ قوت يا حکومت:**

دې لوري ته هم اسلام ډېره پاملرنه کړې ده، او دا ئې د دين د مُهم ترينو واجباتو نه گرځولی دی، امام ابن تيميه رحمه الله فرمايي:"په دې پوهيدل ضروري دي چي حکومت د دين د مُهم ترينو واجباتو نه دی، بلکي دين د دې پرته قائمېدلای نشي، ځکه د انسانانو مفاد او گټه په همدې صورت کي ممکن ده، ځکه دوی بايد د حاجت او ضرورت پر اساس سره يو ځای وي او پر داسي مجموعي او ټولني باندي بايد د دوی کوم مشر وي، حتی چي د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی:"درې کسان که په سفر روان شي، نو په خپلو کي دي يو امير(مشر) وگرځوي، نو حضور صلی الله عليه وسلم چي په يو وړوکي هنگامي سفري اجتماع کي هم د امير مقرر کول ضروري بللي دي، چي هدف ئې د اجتماع په ټولو صورتونو کي دې لوري ته راگرځول دي، او ځکه هم(حکومت) ضروري دی چي، الله جل جلاله امر بالمعروف او نهی عن المنکر واجب گرځولی دی، او دا قوت د اقتدار پرته په بشپړه توگه ناممکن دی، ځيني نور احکام چي الله جل جلاله واجب کړيدي مثلاً جهاد، عدل، د حج اداء کول[1]، د جمعي او اخترونو لمونځ، د مظلوم مرسته، د حدودو اقامت، دا ټول هم د بشپړ طاقت او هم د منظم سلطنت پرته نشي پوره کېدلای، د دې لپاره روايت شوي چي:

............................................................

[1]لکه څرنگه چي د لمونځ لپاره د اقامت لفظ استعماليږي، او د هغه لپاره امام ضروري وي همدا صورت د حج دی، د داسي فريضې اداء کول د مسلمانانو د امير يا د هغه د نائب په نگراني کي بشپړېدای شي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَلسُّلْطَانُ ظِلُّ اللهَ فِی الاَرضِ     ژباړه: سلطان پر ځمکه د الله جل جلاله سایه ده.

او ویل کیږي چي د ظالم امام(حاکم) تر تسلط لاندي اوسېدل تر هغه یوې شپې غوره دي چي په هغه کي د مسلمانانو کوم حاکم نه وي.

زه غواړم پر دې موقع دا وضاحت وکړم چی د "سلطان ظل الله فی الارض" مطلب دا ندی چي اسلام د ملوکو او سلاطینو لپاره دغه مطلق فراست او سیادت تسلیموي، چي په منځني عصرونو کي ئې د "حق الهی" په نوم سره یاداوه، بلکي د دې برعکس اسلام د "جمهور سلطاني" نظریه لري، د سلطان د ظل الله فی الارض مطلب د دې پرته بل څه نده چي ځمکه او آسمانونه، دین او ژوند، او په حکومت او عقیده کي خپلمنځي ربط و تعلق پیدا کړل شي، په ټولو اعمالو کي اخلاص یو قسم عبادت وشمېرل شي، چي د یادو ټولو کړنو په سر کي به حکومت وي، او د دې اخلاص فی العمل په ذریعه د خدای جل جلاله تقرب حاصل کړای شي، په اسلام کي حکومت یا خلافت د بیعت نوم دی، حاکم د الله جل جلاله او رعیت په مخکي مسئول دی، هغه د دوی کار کوونکی او خادم دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی:

کُلُّکُمْ رَاعٍ وَّ کُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهِ.

مفهوم: په تاسي کي هر یو راعي دی او د خپل رعیت په اړه مسئول دی.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه چی کله د خلافت دروند بار پر اوږو واخلي نو وفرمایي: "اې خلکو! ما به د خپل اهل و عیال لپاره کار کاوه، او د هغوی لپاره به مي روزي پیدا کوله، اوس زما کار(یعني خلافت) ستاسي لپاره دی، تاسي زما لپاره د خپل بیت المال نه څه مقرر کړئ."

ده د دغي طریقې په تعبیر سره د عمراني تړون(Social Contract) بهترینه تشریح او توضیح وکړه، نو د بیعت حقیقت، د امت او حاکم تر منځ د عام مفاد پر حمایت و حفاظت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو خپل منځي ترون نه پرته بل څه ندي، که حاکم د حُسنِ عمل ثبوت ورکړ نو هغه د اجر و ثواب مستحق دی، کنه نو بیا د سزا و عتاب مستحق.

د حکومت او حکومتي چارواکو په اړه د اسلام صحیح ځای هم دادی، پاتي شوه دا خبره چي حکومت په څه ډول او کومه طریقه وچلیږي نو په دې اړه هم اسلام خپل مستقل اصول لري، چي موږ به ئې وروسته وړاندي کړو، خو وروسته، کله چي د "اسلام او حکومتي نظام" پر موضوع بحث کوو.

**(۴) د رائج نظام سره وفاداري:**

دا د ریاست د ارکانو نه یو مهم رکن دی، چي د هغه نه اسلام غافل ندی پاتي شوی، هغه چي په څه ډول سره پر حکامو عدل و انصاف فرض کړیدی په همهغه ډول ئې پر محکومو کسانو د هغوی اطاعت هم فرض ګرځولی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِى ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چي ستاسي څخه د امر خاوندان وي، (سُوۡرَةُ النِّسَاء : 59)

په دې آیت کي د الله جل حلاله، رسول الله صلی الله علیه وسلم ، او حاکمانو اطاعت پر یو ځای د راغونډولو حقیقت دادی چي د اطاعت نوعیت او حدود بیان کړل شي، ځکه د حاکمانو اطاعت د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د اطاعت نه مأخوذ شوی، ځکه په اسلام کي د حاکم اطاعت د هغه پر شخصي حیثیت نه بلکي یوازي پر دې بناء دی چي هغه د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم شریعت نافذوي، د دې شریعت د نفاذ لپاره ده ته د اطاعت حق ورپه برخه شوی، که دی د هغه نه منحرف شي نو اطاعت ئې پر خلکو فرض نه پاتي کیږي، بیا د ده د احکامو نافذول ضروري نه وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول دی چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ.

ژباړه: د خالق د معصیت کوونکو پر هیڅ مخلوق اطاعت فرض ندی.

د دې مطلب دا ندی چي هر څوک چي غواړي د حاکم په تصرفاتو کي تشکیک پیدا کړي او د نظام خلاف ورزي وکړي، بلکي مطلب دا دی چي ټول خلک د دین د مقاصدو او "حکومت د مقاصدو" یا په نورو ټکو د اسلام د مقاصدو محافضین وي او همدا هغه ټولنیزه بیداري ده چي نن سبا "ملي شعور" او یا په "سیاسي پختګی" باندي تعبیریږي، نو ځکه هم د برحال حکومت اطاعت پر هر مسلمان د دین د حکم پر اساس واجب دی، نبوي حدیث دی:

اسمَعُوا وَ اطِیعُوا وَ لَو اَمَرَ عَلَیْکُمْ عَبْد حَبَشیٌ

حکم ئې ومنئ او اطاعت ئې وکړئ که څه هم کوم حبشي غلام پر تاسي امیر وګرځول شي.

خو کوم شی چي موږ په ډیر تأکید سره غواړو درته بیان کړو، هغه دا دی چي په اسلام کي حاکم ته د تقدس او کوم خدایي صفت ورپه برخه شوی ندی، نو د کومو حاکمانو نه چي په اسلامي احکامو کي کومه اشتباه شوې وي د دوی په رعیت کي داسي خلک موندل شوي دي چي د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوم او خدمتِ اسلام پر جذبه ثابت ولاړ دي، او هغوی د حاکمانو پر غلطیو باندي هغوی راټینګ کړیدي، هغوی ئې د حکومت د واک نه لري کړیدي او د دوی پر ځای ئې نور دیندار خلک حاکمان کښېنولي دي، چي د دوی د رأیي مطابق ډیر حق پرست ول، په اسلام کي هر فرد دیني فرد دی، دین په کومي خاصي ډلي پوري مربوط ندی، دا اصل د حاکمانو په تنفیذ کي ډیر کومکي او معاون ثابت شوي دي.

پر دې اساس په اسلامي حکومت کي د برحاله حکومت سره وفاداري پر کوم ظاهري شکل باندي موقوف شوې نده، بلکي په دین او دیني جذبې او وجدان پوري مربوط ده، حتی که

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله حاکم هم د دې نظام خلاف ورزي وکړي يا داسي څه وغواړي نو هغه د يوې دقيقې لپاره هم پر خپل منصب باقي نشي پاتي کېدلای، خو کله چي د نظام سره د ده وفاداري، پر هغه پختګی او د هغه د ترقی لپاره په هڅو باندي ثابته شي بيا نو د ده اطاعت فرض دی، بيا نو که چيري هغه کوم حبشي غلام هم وي اطاعت به ئې کيږي، د دې پړاو وروسته د برحال او قائم نظام سره د وفادارۍ کومه درجه باقي نه پاتي کيږي، او شايد تر اوسه کوم داسي رياست نه وي پاتي شوی چي په هغه کي دي د هغه د نظام سره د وفادارۍ او د هغه احترام په دې درجه کي وي کوم چي په اسلامي رياست کي اېښودل شوی دی، يا کوم چي خلفای راشدينو او د هغوی د حقيقي پيروانو په زمانه کي ترسره شوی دی.

د دې بيان وروسته څرګنده شوه چي د يو سياسي يونټ يا رياست(State) د تشکيل عوامل چي د سياسي علومو ماهرينو بيان کړيدي، هغه په اسلام کي يوازي دا نه چي پوره پوره موندل کيږي، بلکي هغه ټول د اسلام د شرائطو نه دي او اسلامي جماعت د خپلو مفاداتو او ګټو لپاره هغه ټول واجب ګڼي.

شايد اوس به دا خبره صافه شوې وي چي په اسلام کي دين او سياست کوم تعارض او اختلاف نه سره لري، او هغه خلک چي د کوم دليل پرته يوازي د غرب په ړانده تقليد کي يا د غير اسلامي افکارو پر نفاذ فشار اچوي داسي کوم بهتان پيدا کوي چي هغه خپل پر ځای قطعاً غلط وي.

"حکومت او د هغه ټول ضوابط و قوانين د اسلامي شريعت مطابق کېدل داسي مسئله ده چي په هيڅه توګه د عقيدې نه نشي جلا کېدای، هغه د عقيدې يو جزء دی چي د هغه پرته عقيده نشي تکميل کېدلای، د عقيدې وجود هم د حکومت پر وجود منحصر دی:

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ

ژباړه: کوم خلك چي د الله له نازل کړي قانون سره سمي فيصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي. (سُوۡرَةُ المَائدة : ۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کوم سلطنت چي د الهی وحي مطابق حکومت نکوي، هغوی د دې آیت مطابق چي د کوم تأویل ګنجائش هم پکي نشته، مطلق کافران دي، او د مجبوری په حالت کي د مسلمان لپاره دا جائز ده چي هغه د کافر حکومت اطاعت وکړي یعني په هغه صورت کي چي دی د دغه حکومت د بدلولو نه عاجز وي، د دې نه دا خبره جوته شوه چي د مسلمان فرد د اسلامي حکومت د جوړولو عزم، د همدې اسلامي عقیدې د تکمیل اراده وي، د خالصي عقیدې پرته هغه بل څه ندی، په دې باب کي اسلامي عقیده د عیسایي یا هندو عقیدې نه په اساسي ډول سره مختلفه ده[1].

ما غوښتل چي د دې موضوع عنوان د "دین او سیاست" پر ځای "اسلام او سیاست" کړم، ځکه د دین د لفظ چي ما مخکي هم یادونه کړېده، په اذهانو کي ئې یو خاص مفهوم قایم شوی چي هغه یوازي د بنده او الله عزوجل تر منځ د تعلق نوم دی، خو په اسلام کي داسي نده، عبادتي اړخ د اسلام یو مختصر باب دی، نو ځکه هم د أخوان المسلمین دا مضبوطه عقیده ده چي اسلام یوازي یو مذهب ندی، بلکي د ژوند یو بشپړ نظام دی، چي د روحانیت سره سره د سیاست، عمرانیاتو او اقتصادیاتو په ټولو مسائلو او معاملاتو کي شامل دی.

اوس پاتي شوه دا چي په څه ډول او څرنګه دا دین حکومت وکړي، او څرنګه د شریعت د سلطنت او د هغوی تنظیمي امور کنټرول کړي، نو دا به موږ ته د راتلونکي عنوان "اسلام د یو ټولنیز نظام په حیث" بیان کړو.

**اسلام د یو ټولنیز نظام په حیث:**

په دې کي کوم شک نشته، او هر مُنصِف انسان به زموږ مؤید وي چي ټول آسماني ادیان د خپل ذاتي حیثیت له امله د انساني تهذیب او انساني معیار د اوچتولو انتهایی ترقي خوښونکي اقدامات ول، خو خلک د یهودیت د ماده پرستی(چي د روحانیت بقاء ورسره مشکل ده) او د عیسائیت د رهبانیت(چي د ټولني وجود برقرار نشي ورسره پاتېدلای) تر منځ په کشمکش کي راګیر دي، تر داسي حده چي د اسلام په راتګ سره په دواړو جهتونو او دواړو عقیدو کي هم آهنګي او اتحاد پیدا کړل شو، او د دوی دواړو د مجموعي نه ئې د دنیا او آخرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلاح. مادي او روح د ژوند یو کامل ترین نظام وړاندي کړ، په دې اړه نباید کوم تعجب وکړل شي دا ځکه اسلام د ټولو آسماني مذاهبو تتمه او پر انسانیت د الهي انعام تکمیل دی.

ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ۚ

ژباړه: نن ما ستاسي دین، ستاسي لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسي پوره کړ. او ستاسي لپاره مي اسلام ستاسي د دین په توګه منظور کړ. (سُوۡرَةُ المَائدة : ٣)

دا همهغه امتیاز وو چي د هغه له امله اسلام د آخرت او روحانیت د هدایت د څراغ سره سره د انسانانو د مادي او ارضي حیات، ژوندانه قانون(دستورِ حیات) هم راولیږل شو. هغه د دوی د ژوند کومه مسئله او کوم اړخ داسي پرېنښودل چي په اړه ئې کوم قانون او نظام وړاندي کړی نه وي.

په پیل کي مسلمانانو دغه حقیقت درک کړی وو، نو د دې په تردد کي اسلام د یو مذهبي عقیدې باوجود د ژوند دستور او قانون هم وو، بیا چي څرنګه دوی د نبوي عهد نه لري کیدل په همهغه اندازه ئې د دین قدر او د هغه په ارتباط ګرم جوشي هم سړه شوه، د نبوت او راشیدینو خلفاوو عهد د اسلامي نظام د عملي تطبیق زمانه وه، د هغه وروسته کرار کرار پر مسلمانو حاکمانو خواهشات او ذاتي اغراض مسلط شول، دوهم لور ته په محکومینو کي غفلت عام شو، او بیا خلکو یو دم ولیدل چي د دوی د حاکمانو همدا خواهشات هم د نافذ شریعت او د هغوی د حاکمانو همدا رغبات هم واجبِ اطاعت قانون دی، پر همدې غلط صورتحال باندي څومره نسلونه وروزل شول، حتی چي مسلمانان یو داسي حالت ته ورسیدل، چي د اسلام سره ئې تر ډیره لري پوري هیڅ اړیکي پاتي نشوې، او د اسلامي نظام د سقوط سره اسلامي سلطنتونه هم یو په بل پسي ونړېدل، د اسلام پخواني دښمنان یو ځل بیا راڅرګند شول، او دوی د اسلام او اسلامي سلطنتونو د محوه کولو دا غوره موقع ولیدله، نو ځکه هم تاتاریانو(منګولیان) پر عباسي خلافت او صلیبیانو پر عثماني خلافت پرلپسي حملې وکړلې، اسلامي سلطنت ټوټه ټوټه شو، او د عظیمو او سترو فتوحاتو علمبردار سلطنت د کوچنیو او سترو سلطنتونو د حملاتو او فوځونو د لښکر کشیو په ښښه شو، هر چا چي غوښتل پر دوی به ئې لاس اوچت کړ، تر داسي اندازې چي د اروپا د ترقۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دور راغی، مشينونو، بهپ او برق غرب ته يو نوی مادّي قوت ورکړ او اوس ئې نو د نوي علمي او عملي وسائلو په مرسته په شرق منظمه حمله پيل کړه او بالاخره پر شرق باندي مسلط شول.

غربي استعمار ته چي د صليبي جګړو پر وخت کومي تجربې ورپه برخه شوي وې د هغه وروسته د دوی پوره باور وو چي پر شرق به په بشپړه توګه د قبضې او استعمار لپاره يوازي فوځي ځواک کافي نه وي، نو ځکه ئې هم د نورو وسائلو نه هم ګټه اوچته کړه، چي د فهرست په سر کي ئې کلتوري او په خاصه توګه تعليمي وسائل ول، داسي ښکاري چي دا ډير يو منظم پلان وو او ټول غرب ورباندي متفق وو، تر داسي حده چي نيپولين هم غافل نشو تري پاته، پر مصر د حملې په وخت ده د فوځي پلان سره سره تعليمي پلان هم د ځان سره راووړ، په دې ډول سره انګريزانو په مصر کي (ډنلوپ) تعليمي مشاور وټاکه، چا چي په "تعليم و تعلم" کي پر کوم پلان عمل وکړ، د هغوی د بدو آثارو نه تر ننه پوري موږ متأثر يو، دغو وسائلو د خلکو پر عقل و فکر ډير ژور اثر واچوی حتی چي په شرق کي د مسلمانانو يو داسي نسل چمتو کړل شو چي د غربي تهذيب و کلتور نه ډير په شدت سره متأثر شوی او د اسلام نه زښته زيات لري شوی وو.

لکه ځرنګه چي موږ مخکي هم وويل، د دغو خلکو له نظره دين يوازي د خدای او بنده تر مابين د شخصي تعلق او ارتباط نوم دی، د خلکو ژوند او د ټولنی سره د هغه هيڅ تعلق نشته او نه هم د ژوند ټولنيز نظام کېدای شي، جمهوريت، نازيت، کمونيزم او فاشزم د نظامونو نه کوم يو حاکم کېدای شي، ځکه هغه په عملي بڼه کي په مختلفو رياستونو کي قايم دی، او دا سلطنتونه د کلونو او پېړيو نه پر دغو نظامونو چليږي.

خو دا يو تاريخي حقيقت دی چي اسلام د يو ټولنيز نظام په حيث باندي څو سوه کلونه مسلسل د شرق و غرب پر مختلفو هيوادونو قايم وو، هغه يو بشپړ ټولنيز نظام دی، يوازي د طاعت او عبادت دين ندی، هغه انساني فطرت ځان ته مخاطبوي، او د انسان روحاني قوتونه بيداروي، د راسخو عقائدو، شريفو اخلاقو، لوړو افکارو او ګټورو اعمالو جذبه پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، د فردي قوتونو، د کورنۍ د ژوند، د امت د طبقاتو او د سلطنت د فرائضو په تنظيمولو، د عامه انساني اړيکو او د وروروئ محرکاتو ته نشوونمو ورکوي.

**د ټولنيز نظام مزاج:**

د ټولنيزو نظامونو عام او مقرره اصول دا دي چي داسي نظامونه بايد پر لاندي دريو ارکانو وويشل شي تر څو هغه د دې مستحق شي چي يو بشپړ ټولنيز نظام وبلل شی.

(۱) په ټولو حالاتو کي د انسانانو خپلمنځي تعلقات تنظيموي.

(۲) د حاکمينو او محکومينو علاقي تنظيموي.

(۳) د رياست يا ټولني د نورو رياستونو يا بهرنيو ټولنو سره ارتباطات تنظيموي.

اوس به موږ په پوره تفصيل سره د دغو ارکانو نه هر يو رکن بيان کړو تر څو په اسلام کي د دوی مقام ومونداۍ شو.

**(۱) د انسانانو د خپلمنځي تعلقاتو تنظيمول:**

اسلام د خلکو د آزادۍ او د هغوی د حقوقو ضمانت ورکړی دی، او د هغوی خپل منځي تعلقات ئې تر يو پراخ عنوان لاندي منظم کړيدي، چي په اسلامي فقه کي د "باب المعاملات" په نوم سره يادول کيږي، په دې ډول سره هغه د مسلمانانو او غير مسلمانانو خپل منځي تعلقات استوار کړيدي، د مخالفينو لپاره ئې سزاوي ټاکلي دي، او د عامه مفاداتو او ګټو د ساتلو هڅه ئې کړېده، او د اهل وطن تر مابين ئې د"خپل منځي ټولنيز کفالت" ضرورت اعلان کړيدی، لاندي به دا ټول په تفصيل سره درته وړاندي شي، اولاً د عامي آزادی ضمانت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ شخصي آزادي:** اسلامي شريعت د بني نوع انسان د شخصي آزادی ضمانت ورکړيدی، او چي په دې اړه ئې د ځومره توسيع او پراخی نه کار اخيستی دی د هغه په اړه نوي قانون جوړوونکي تصور هم نشي کولای، حضرت عمر رضی الله عنه خپل يو "والي" ته ليکلي وو:"تا د کوم وخت نه د خلکو غلامی ته جواز ورکړيدی، پداسي حال کي چي د دوی مېندو دوی آزاد زېږولي دي."

**۲ د فکر آزادي:** د الله جل حلاله حکم دی:

قُلْ سِيرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُواْ كَيْفَ بَدَأَ ٱلْخَلْقَ ۚ

ژباړه: دوی ته ووايه: "په ځمکه کښي وګرځئ او وګورئ چي الله د هستوني پيل په څه ډول کړيدی، (سُوۡرَةُ العَنکبوت : ۲۰)

د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم د دې مبارک ارشاد:(د الله جل جلاله په ذات کي غور مه کوئ چي غلط به شئ، د الله په مخلوق کي غور و فکر وکړئ.) نه پرته بل هيڅ شی د دغي مُطلقي آزادی حد بندي نشي کولای، د حضور اقدس صلی الله عليه وسلم د فرمان منشأ د الحاد نه خوندي کول او په امان کي ساتل دي.

**۳ د تقرير آزادي:** اوسنئ د بيان د آزادی قوانين، د تقرير آزادي، د تحرير آزادي او تنفيذ آزادی په نومونو چي د کومو تعبير کوي دا ټول د هغو مجموعه ده، الله تعالی جل جلاله موږ ته حکم راکړی دی چي د حق اظهار وکړئ، په مباحثو او مجالسو کي نرمي او دلائل مراعات کړئ، او په ښپېړ موعظت حسنه سره د خپلو عقائدو په لور دعوت ورکړئ، د ظلم په مخکي سر مه ټيټوئ، پر بدو معاملاتو او د حق پر پټوونکو باندي غَلي مه پاتي کيږئ، او په دغو ټولو حالاتو کي مه د دروغو نه ګټه اخلئ او مه هم د بهتان تراشی نه او مه هم د خدای جل جلاله د نافرمانی مرتکب کيږئ، حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه چي د خلافت د واک په وخت کومه لومړنی خطبه ولوسته په هغه کي ئې وفرمايل: "تر کوم وخت پوري چي زه د الله اطاعت کوم تاسي زما اطاعت کوئ". او دوهم خليفه حضرت عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاروق په خطبه کي وفرمايل: "په تاسي کي چي څوک هم په ما کي کج روي(دلاري او مسير بدلون) ووينې د هغه د اصلاح کولو هڅه دي وکړي"، په حاضرينو کي يو ناست کس وويل:"په الله قسم! که مو په تا کي د خپل تګلاري نه انحراف او يا بدلون وليدی نو د توري په څوکه به ئې سيده کړو". فاروق اعظم پر دې ځواب د الله شکر اداء کړ چي هغه په اسلامي امت کي داسي خلک پيدا کړيدي چي دده کجروي د توري په زور سيده کولای شي، همده يو ځل په تقرير کولو سره خلک وهڅول چي د مهر په مقدار کي کمي وکړي چي په دې حال کي د مسجد د يو کونج نه يوې بوډۍ وويل:"ای عمره! دا صحيح نده، الله موږ ته ډيره طلاء راکوي او ته يوازي يو څو اشرفی راکول غواړې". حضرت عمر رضی الله عنه نه د دې ښځي پر داسي تونده لهجه په غصه شو او نه هم ورباندي خفه، بلکي وئې فرمايل:"مېرمن پر حق ده او د عمر نه غلطي وشوه". د ده په اړه يوه بله واقعه هم ده چي يو ځل په مدينه طيبه کي روان وو، يوې بوډۍ ښځي راوګرځوی، او څه هدايات ئې ورکړل، چي څه ئې په ګمان کي صحيح وو ده ته ئې وويل او د رعيت سره ئې د ښه سلوک سپارښتنه ورته وکړه، د دې ټولو خبرو د اورېدلو په وخت نه عمر رضی الله عنه خفه شو او نه هم د هغې په انتقاد ناراحت شو.

**۴ د عمل آزادي:** او په دې کي هغه ټول اوامر په ډير وسعت سره شامل دي کوم چي د انسانانو په وضع شويو قوانينو کي دي يعني:

**الف: د اجتماع آزادي:** نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خلکو د اجازې پرته د هغوی د مجالسو د خبرو د اورېدلو نه منع کړېده، او په همدې ډول سره د دوو خلکو تر منځ د هغوی د اجازې پرته د ناستي نه هم رامنع کړي.

**ب: د مکان آزادي:** په اسلام کي په خاصه توګه سره د هغه ساتنه شوې ده.

د الله قول دی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدْخُلُواْ بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: اې مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پوري مه ننوځئ چي اجازه تر لاسه نه کړئ(سُوْرَةُ النُّور : ٢٧)

وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرْجِعُواْ فَٱرْجِعُواْۖ

ژباړه: او كه تاسي ته وويل شي چي بېرته وګرځئ، نو بېرته لاړ شئ. (سُوْرَةُ النُّور : ٢٨)

رسول الله صلی الله علیه وسلم د کړکیانو نه همسایه ګانو ته د کتلو نه منع کړېده؛ فرمايي:

مَنْ نَظَرَ اِلَى كُوَّةِ جَارِهِ فَاِنَّمَا يَنْظُرُ فِى النَّارِ

مفهوم: څوک چي د خپل همسایه تر کلکین(کړکۍ) ورګوري هغه جهنم ته ګوري.

مَنْ تَتَبَّعْ عَوْرَاتِ النَّاسِ تَتَّبِعُ اللهُ عَوْرَتِهِ فَفَضَحَهُ فِىْ عُقْرِ دَارِه.

مفهوم: چا چي د خلکو پټ اسرار څرګند کړه، الله عزوجل د ده اسرار لوڅوي، او بیا هغه عیني په خپل کور کي رسوا کوي.

**ج: د جامو آزادي:** د جامو لپاره اسلام انتهايي حدود ټاکلي دي، تر څو د فتني اندېښنه پاتي نشي، نارینه د ستر غلیظه د حفاظت په کولو سره چي هر څه غواړي اغوستی ئې شي، اسلام د نارینه لپاره په جامو کي عیش پسندي، لکه د ورېښمو اغوستل، د طلاء ګوتمۍ په ګوته کول نه خوښوي، د میرمنو لپاره دا دواړه ناجائز ندي، هغه هم د دې شرط سره چي په هر صورت کي به ئې جامې ستر پوټوونکي وي، شفافي او نازکي نه وي، او نه به هم د بدن ساخت ښکاره کوي، او د هغه وروسته چي هر څه اغوندي باک نشته، که جامې دومره نرۍ وي چي بدن تري ښکاري یا تنګي وي چي د ښځي د بدن اعضاء پکي ښکاري نو هغه د ستر پټوونکي نه بلل کیږي، او حرام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: د سفر آزادي: هجرت و سیاحت د دواړو خبرو اسلام حکم کوي:

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ

ژباړه: هغه ذات چي ستاسي لپاره یې ځمکه پسته هواره او تابع کړېده، د هغې پر سینه باندي ګرځئ او د خدای روزي خورئ،(سُوۡرَةُ المُلك : ۱۵)

قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ

دوی ته ووایه: "په ځمکه کښي وګرځئ (سُوۡرَةُ العَنکبوت : ۲۰)

قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ

ژباړه: هغوی ځواب ورکړ چي: موږ په ځمکه کښي کمزوري او مجبور وو. پرښتو وویل: ایا د خدای ځمکه پراخه نه وه چي تاسي په هغې کښي هجرت کړی وای؟ (سُوۡرَةُ النِّسَاء : ۹۷)

ه: دعقیدې آزادي: اسلام موږ ته حکم کړیدی چي د نورو مذاهبو خلک د هغوی پر خپل حالت پرېږدو، او د "جزیې" په بدل کي د هغوی د ساتني ضمانت ورکړو چي خپل عبادات او مذهبي شعائر په آزادی سره برحال وساتي، دا ممکن ده چي د دوی ځای هغو محصولاتو ته ورکول شي کوم چي د نورو مذاهبو خلک ئې د اهلِ وطن د حکومت خزانې ته اداء کوي، اسلام تر دې ځایه حکم کړیدی چي په ټولنیزو اقتصادي معاملاتو کي د دوی آزادي ومنو، او پر هغوی د همدوی "تعزیرات" نافذ کړو، چي په حقوق العباد پوري مربوط دي، او کوم حقوق چي په الله پوري مربوط دي د هغو فیصلې  د الله په واک کي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ

ژباړه: او له اهل کتابو سره بحث مه کوئ، خو په غوره ډول(سُوۡرَةُ العَنکبوت : ۴۶)

وَإِنَّآ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ

ژباړه: اوس هرو مرو زموږ او ستاسي څخه يو لوری پر سمه لاره دی؛ يا په ښکاره ګمراهۍ کښي لوېدلی دی ". (سُوۡرَةُ سَبَإ : ۲۴)

بلکي تر داسي حده ئې د عقيدې د آزادۍ احترام ساتلی دی چي مسلمانانو ته ئې حکم کړيدی چي د اور لمانځونکو(آتش پرستانو) سره دي د اهلِ کتاب په څېر معامله وشي، په يوه حديث کي حضرت علي رضی الله عنه د رسول الله نه روايت کوي چي حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

سُنُّوْا بِهِمْ سُنَّةً اَهْلِ الْکِتَابِ

مفهوم: د دوی سره د اهل کتاب په څير عمل وکړئ.

**دوهم: د معاملاتو خپلمنځی تنظيم:**

يعني هغه احکام چي د خلکو خپل منځي تعلقات تنظيموي او د هغوی په مابين کي روابط قائموي چي بنياد ئې پر عدل و انصاف، محبت او مرستي، عامه ګټي، د ظلم و زيادتی او شر څخه پر اجتناب و پرهيز باندی دي د هغه دوه قِسمه دي:

**الف/ مالي معاملات:** يعني خريد و فروش، کرايه داري، اوسېدل، شراکت او نور...

په دغو ټولو اوامرو کي د شريعت قوانين د اوسني عصر د نويو قوانينو مقابله کوي، پرته لدې چي الله جل جلاله حرام کړيدي هغه خو به تر قيامته پوري حرام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب/ شخصي معاملات**: یعني د واده، طلاق، عدّت، میراث او نور...

هغه اسلام په دې ډول منظم کړيدي چي ډیر نوي او صنعي قوانین(Positive Laws) د هغه معیار ته نشي ورسیدلای.

## په اسلامي ټولنه کي د غیر مسلمانانو حیثیت(پوزیشن):

د الله جل جلاله مبارک قول دی:

وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ

او له اهل کتابو سره بحث مه کوئ، خو په غوره ډول پرته له ظالمانو څخه يې، (سُوَرَةُ العَنکبوت : ۴۶)

نو د اسلام کتاب(قرآن) او د هغوی ابدي قانون د مباحثو د طریقو وضاحت کړی دی، او په پوره تأکید سره ئې فرمایلي دي چي هغه دي په"احسنه او بهترینه" طریقه باندي ترسره شي، دا خبره باید په پام کی ونیول شي چي په مناظره کي حالت داسي وي چي د کلام او لهجې تندي او ګرمي خپل اوج ته ورسیږي، اسلام د دې خبري په اړه دومره وضاحت کړیدی چي مسلمانانو ته ئې د نهي په صیغه سره امر کړیدی او بیا ئې د استثناء لفظ ذکر کړیدی، چي د هغوی نه هدف د حکم تأکید دی، دا هغه اصول دي چي اسلام د مسلمانانو او غیر مسلمانانو تر منځ د تفاهم طریقې ورباندي تنظیم کړي او متعین کړیدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لکه څرنګه چي موږ په پيل کي وويل، د اسلام په "شخصي حقوقو" پوري د مربوطو قوانينو اطلاق نه پر عيسايانو کيږي او نه پر نورو نامسلمانانو، بلکي پر دوی به د دوی د مذاهبو له مخي اطلاق کيږي، موږ ته امر شويدی چي دوی د دوی پر دين پريږدو، او تر کوم وخت پوري چې دوی د خپل کتاب(مذهبي قانون) مطابق پر فيصلو متفق دي موږ د دوی سره څه کار نلرو، خو چي کله دوی خپله پدې هکله زموږ خوا ته راځي بيا به نو موږ د قرآن کريم مطابق د دوی فيصلې کوو.

په مالي معاملاتو يعني کرايه داري ، اوسېدا، او نورو کي چي ترکومه حده ئې ارتباط دی، د عيسايانو سره د هغوی په اړه صريح احکام نشته نو چي د اکثريت د ګټو لاندي کوم څه مناسب وي پر دوی ئې هم پابندي واجبيږي، مسلمان به هغه د دين په حيثيت سره غوره کوي او عيسايان به ئې د قانون په حيثيت باندي، او شايد د مسلمانانو لپاره همدا غوره ده چي دوی دي هغه د دين په حيثيت باندي انتخاب کړي، ځکه دا نظريه دوی(مسلمانان) د هغه د نفاذ په ارتباط د لغزش نه ساتي، او د الله عزوجل نظر به پر ده نګران وي نه حاکم چي هر وخت د حاکم نه تېښته او فرار ممکن وي.

او دا هم ده چي په اسلامي شريعت کي د معاملاتو معيار ډير اوچت وي، هغه پر بشپړ عدل ولاړ وي، عيسايان دا حق نه لري چي دوی په دې هکله شکايت وکړي چي اسلام ولي سود حرام کړيدی؟ سود خو د دوی په مذهب کي هم حرام دی، عيسايانو تر ديارلس سوه کلونو پوري دا حکم عملي کاوه، تر داسي وخته چي اسلامي قوانين پر دوی باندي د ملي قوانينو په صفت واجب العمل شول.

د دې نه علاوه د فقهاوو له لوري اهلِ کتاب ته د "ذمي" او يا "اهلِ کتاب" په نومونو سره نسبت کول د دوی لپاره د بشپړ ضمانت اعلان دی، د دې لفظ نه د مردانګۍ جوهر راپاڅول مُراد دي، چي د هغه وروسته يو مسلمان د دوی د حفاظت او حمايت پر ځای د دوی سره د بد عهدی او دوکې تصور هم نشي کولای، دا ځکه د اسلام په عام قانون کي دا تر ټولو ستر جرم دی، بلکي د دې برعکس يوازي دا احساس چي دی "اهلِ ذمه" دی مسلمانان په پوره شدت سره د هغوی پر حفاظت کولو باندي مجبور کوي، تر داسي حده چي د ادنی ظلم و

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیادتی احساس هم ورته ونشي او پدې توګه دي خپل منځي اعتماد ته لاره هواره کړل شي، اړیکي اصلاح کړل شي او ټول د امن و محبت تر سایې لاندي ژوند وکړي.

**دریم: تعزیرات**

د خلکو د ژوند، آبرو او مال د ساتني لپاره اسلام سزاوي او تعزیرات ټاکلي دي، چي هدف ئې د جرمونو د ارتکاب نه د خلکو راګرځول دي، لکه د قتل، غلا، لوټ، بغاوت، زنا او تهمت سزاوي یا په نورو الفاظو قصاص او حدود.

صحیح خبره خو داده چي د اسلام نظام پر تعزیراتو قائم ندی، بلکي حقیقتاً د باطن پر پاکوالي، د زړه پر طهارت، د ټولني پر اصلاح او د جرائمو د منع کولو پر هڅو ولاړ دی، د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:"ما کومه داسي نیکي نده پرې ایښې چي تاسي ته مي د هغه په اړه حکم نه وي درکړی او نه مي هم داسي بدي پرې ایښې چي تاسي مي ورځیني منع کړي نه یاست."

اسلام چي کوم دیني تربیت واجب کړیدی هغه د دې خبري ظامن دی چي څوک ئې پر اصولو تربیه شي هغه به خیر خوښوونکی وي، د خلکو سره د مرستي د هغوی سره د میني او نیکی غوښتونکی به وي، دا تربیه او روزنه په ده کي د تعاون او مرستي روح پوه کوي، او د ګناه په لور د میلان نه ئې راګرځوي، مسلمان چي څومره هم په خپلي عقیدې کي پوخ وي د نورو خلکو سره هغومره کم تعصب کوي، د دوی د عقائدو، ځان و مال او آبرو خیال ساتي، د تعزیراتو او سزاوو ضرورت بالکل په پای کي احساس کیږي، تعزیرات د هغو مخصوصو خلکو لپاره وضع شوي چي په موعظت حسنه سره د جرائمو د ارتکاب نه نه پر شا کیږي.

په دغو سزاوو کي چي تر ټولو ستر کوم اعتراض دی هغه د غله د لاس پر کاټولو دی، او د واده شوي زاني پر سنګسار(رجم)دی، اسلام د دې وضاحت کړیدی چي لاس هغه وخت قطع کېدای شي چي هغه د تعلیم، مکان، جامو، د علاج بشپړ مصارف او د پور د اداء کولو پیسي یعني خلاصه خپل ټول بنیادي حقوق ئې ترلاسه کړي وي، ځکه په اسلام کي د شپږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو د لاسونو د کاتېدلو نه پرته د نورو ثبوت نشته، سزا داسي ویره اچوونکې ده چي په وجود کي ئې ظلم او زیاتي ممکن نده، تر کومه بریده چي د سزا تعلق دی دا خبره زموږ لپاره کافي ده چي یوه واقعه هم داسي نده چي د پوره شاهدانو یعني څلورو کسانو د شاهدۍ پر اساس دي لګول شوي وي[1]، چي د هغه لپاره ضروري ده چي دوی دي خپل په سترګو د دغه عمل د ارتکاب په وخت لیدلي وي.

دا تعزیرات حتماً ویره اچوونکي دي، خو یوازي په دې غرض باندي چي خلکو ته د جرم د غیر معمولي بللو احساس ورکول شي، او په دې اړه ډېر منصفانه هم دی چي هغه یوه بشپړه اسلامي ټولنه کي نافذېدلای شي، چي په هغه کي سالمه روزنه، مادي او معنوي او د ټولنیز امن استقرار برابر شي.

د دغو څو حدودو(سزاوو) علاوه چي په قرآن سره ثابتي دي او احادیثو ئې وضاحت کړیدی، په اسلام کي د سزا یو ستر باب د "تعزیراتو" په نوم موجود دی، چي په هغه کي فقهاوو ډېر تحقیقات کړیدي، دا تحقیقات په دومره مناسب ډول سره شوي دي چي د غربي قانون کوم زده کوونکی په حیرت کي اچوي چي مسلمان څرنګه بیا هم د داسي قانون نه بې خبره دی او استفاده نه تري کوي.

**څلورم: عامو مصالحو ته پاملرنه او د هغوی ساتنه**

١:قومي مصالح ٢: ټولنیز مصالح ٣: اقتصادي مصالح

..................................................

[1]مُدعا دا ده چي داسي سزاوي د مجرمینو په خپل جرم د اعتراف وروسته ورکول شوي دي، نه د بهرنی شاهدی پر اساس.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) قومي مصالح پر دريو اقسامو وېشلی شو:

**(الف) پر قوميت باندي د افتخار و اعتزاز جذبه:**

د ترقۍ په لور روان قومونه د دې ضرورت احساسوي چي د يو لائق او معزز قوم په صفت باندي خپل په قوميت فخر وکړي، هغه قوم چي ځلاند تاريخ او امتيازات ولري، او له امله ئې د نويو نسلونو په زړونو او ماغزو کي دا تصور نقش شي او بيا د ئې پر عزت و عظمت او حفاظت و ساتنه باندي خپل ځانونه هم قربان کړای شي، لکه څرنګه چي په اسلام کی موږ ته دغه ستر او څرګند حقائق په نظر راځي چي په بل کوم نظام کي کله هم نه موندل کيږي، کوم امت چي پدې پوهيږي چي د هغه د عزت او عظمت تقدس الله تعالی جل جلاله په خپل ازلي علم سره فرمايي او په خپل ابدي کتاب قرآن کي ئې ساتلی دی:

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

ژباړه: اوس په نړۍ کښي هغه غوره ډله تاسي ياست چي د انسانانو د لارښودني او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شوېده، (سُوۡرَةُ آل عِمرَان : ۱۱۰)

وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ

ژباړه: پداسي حال کي چي عزت خو د الله، د هغه د پيغمبر او مؤمنانو لپاره دی، (سُوۡرَةُ المنَافِقون : ۸)

داسي امت پر خپل رباني عزت ټوله نړۍ قربانولای شي خو دا هم بايد واضح کړل شي چي په اسلام کي د نسلي قوميت په مثل څه نشته، او نه هم پر درواغجن فخر د هغه اساس او بنياد ولاړ دی، چي ددې په اړه ډير دولتونه دا افتخار بولي چي دوی تر ټولو غوره دي، بلکي اسلام يو مثالي قوميت دی چي دنيا ته د خير دعوت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِۗ

ژباړه: تاسي د نېکۍ امر کوئ او له بديو منع؛ او پر الله ايمان لرئ. [سُوۡرَةُ آل عِمرَان : ١١٠)

**(ب) د فوځي قوت اهتمام:**

اسلام د دې اړخ نه هم غافل ندی پاتي شوی، بلکي د حکومتي نظام د ساتني په موخه ئې هغه د فريضې په توګه ياد کړيدی، او په هغه او په لمونځ او په روژه کي کوم فرق نشته، په نړۍ کي هيڅ نظام هم داسي نشته چي پر عسکري او فوځي اړخ دې دومره ټينګار کړی وي، لکه څرنګه چي اسلام کړی دی:

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍۢ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ

ژباړه: او تاسي تر خپلي وسي وسي ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. تر څو چي په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، (سُوۡرَةُ الأنفَال : ٦٠)

نبوي حديث دی:

عَلِّمُوْا أَوْلَادُكُمْ اَلسِبَاحَةِ وَالرَّمَايَةِ وَاْمُرُوْهُمْ ثِبُوْ عَلَی الْخَيْلِ وَثِبًا.(الحديث)

مفهوم: خپلو اولادونو ته لامبو او غشي ويشتل ورزده کړئ، او هغوی ته په مهارت سره په آسونو باندي په ورټوپ وهلو سره د کښېنستلو حکم وکړئ.

دقرآن کريم آيتونو د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم په غزواتو او د ده وروسته د خلفای راشدينو په فتوحاتو کي داسي جنګي طريقې پيدا کيږي چي د نويو نظامي سستمونو مترادف دي، او نن چي د کوم شي زده کړه په فوځي اکېډميو او پوهنتونونو کي ورکوي، دلته د هغه د تشريح موقع نده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اسلام چي د قوت ئې هومره اهميت په ګوته کړيدی خو په هر صورت امن ته ترجيح ورکوي، لکه څرنګه چي د قوت د آيتونو سمدستي وروسته الله جل جلاله فرمايي:

'وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَٱجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِۚ

ژباړه: او [اې پيغمبره (ص)!] که دښمن د روغي جوړي خوا ته ميلان ولري، نو ته هم د هغې لپاره تيار اوسه او پر الله توکُل وکړه. (سُوۡرَةُ الأنفَال : ۶۱)

تعليم، صحت عامه(Public Health)، د کردار او اخلاقو جوړښت، جهالت، ناروغي او د رذائلو استيصال، اسلام د دغو ټولو مسائلو نه بحث کړيدی او په هغه پوري مربوط د ټولو مشکلاتو حل ئې وړاندي کړی دی.

**(الف) اسلام او علم:**

اسلام علم د خپلو فرائضو نه يوه فريضه بولي، د قرآن حميد چي کوم لومړنی آيت نازل شويدی هغه د علم په اړه دی:

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ؛ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ؛ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ؛ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ؛ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ

ژباړه: [اې پيغمبره (ص)!] ولوله، د خپل رب په نوم چي هغه (ټول مخلوقات) پيدا کړي؛ د کلکي شويويني له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ؛ ولوله، او ستا رب ډېر مهربان دی؛ چي هغه د قلم په مرسته (انسان ته) علم وښودی؛ انسان ته يې هغه علم ورکړ، چي هغه پرې نه پوهېدی. (سُوۡرَةُ العَلَق: ۵/۱)

رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدر په جګړي کي د فتحي وروسته د دښمنانو د بنديانو فديه دا کېښوده چي په هغوی کي دي هر يو ۱۰- =لسو مسلمانو ماشومانو ته ليک لوست ور زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، ددې طريقې نه ئې هدف وو چي د امت نه جهالت ختم کړي، الله جل جلاله عالم او جاهل ندي سره برابر کړي:

هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ.

ژباړه: "ايا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي يو شانته کېدای شي؟" - نصيحت خو د پوهي خاوندان مني.(سُوۡرَةُ الزُّمَر : ٩)

د دين او دنيا په علم کي فرق ندی شوی، بلکي د دواړو په اړه ئې حکم ورکړيدی، او د کايناتو ټول علوم ئې په يوه آيت کي جمع کړيدې او د دې ترغيب ئې ورکړی دی، او دا ئې د ويري لار او د معرفت الهی لار بللې ده:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً

ژباړه: ايا ته نه وينې چي الله له اسمانه اوبه اوروي (سُوۡرَةُ فَاطِر : ٢٧)

په دې حصه کي ئې د آسماني علم او د آسمان و ځمکي د خپل منځي ربط په اړه اشاره کړېده؛ ورپسې فرمايي:

فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ

ژباړه: او بيا د هغو په وسيله موږ راز راز مېوې راباسو چي مختلف رنګونه يې وي. (سُوۡرَةُ فَاطِر : ٢٧)

د آيت په دې حصه کي د نباتاتو د علم، د هغه د عجائباتو او د هغوی د ترکيب او امتزاج په لور اشاره کوي؛ او فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ

ژباړه: په غرونو کښې هم سپيني، سرې او تکي توري ليکي (لاري) موندل کيږي چي بېلابېل رنګونه يې وي؟ (سُوۡرَةُ فَاطِر : ٢٧)

په دې حصه کي د "طبقات الارض د علم" او د ځمکي د تغييراتو او انقلابونو په لور اشاره شوېده:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ

ژباړه: او په همدې ډول د انسانانو، ځناورو او څارويو رنګونه هم مختلف دي. حقيقت دا دی (سُوۡرَةُ فَاطِر : ٢٨)

د آيت په دې حصه کي د حيواناتو د علم په اړه اشاره شوې ده، چي په هغه کي ئې ټول اقسام، يعني انسان، د ځمکي حشرات او هر څه شامل دي، بيا اشاره فرمايي:

إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ

ژباړه: چي د الله د بندګانو څخه يوازي عالمان د هغه څخه وېريږي. (سُوۡرَةُ فَاطِر : ٢٨)

دا آيت پر دې خبره دلالت کوي چي الله جل جلاله خلکو ته د کايناتو د مطالعې حکم کوي، او ورته هڅوي ئې او څوک چي د دې کائيناتو د رموزو او دقائقو نه باخبر دي هغوی د معرفت او خشيت خاوندان بولي، د دې نه به تاسي ته پته ولګيږي چي اسلام څومره د جهل دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ب) اسلام او عام صحت:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک هڅولي دي چي د خپل جسماني قوت په لور پاملرنه وکړي، چي د هغه نه وروسته دوی د روحاني قوت په اړه فکر کولای شي، نبوي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِیُّ خَیْرٌ مِّنَ الْمُؤْمِنُ الضَّعِیْفِ

مفهوم: قوي مسلمان تر کمزوره مسلمان غوره دی.

بل ځای فرمایي:

اِنَّ لَبَدَنِکَ عَلَیْکَ حَقًّا

مفهوم: ستاسي د بدن پر تاسي حق شته.

سرورِ کائینات صلی الله علیه وسلم خپل امت لره د صحت په اړه ډیر قواعد بیان کړیدي، او په خاص ډول سره د ځان ساتني د صحت په اړه چي د طبي علم لومړنی ضروري جزء دی.

د حضور صلی الله علیه وسلم دا قول دی چي: "موږ داسي خلک یو چي د لوږي په حالت کي خوراک کوو، او چي کله خوراک کوو نو ډیر ځانونه نه مړوو". او یا د اوبو څیښلو په هکله د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم احتیاط همداسي دی، حدیث کي راځي:

کَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ یَسْتَعْذِبُ الْمَاءَ.

مفهوم: رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوږې اوبه راغوښتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ولاړو اوبو کي د بولو کولو او یا ګندګي اچولو نه حضور صلی الله علیه وسلم منع کړېده، په کوم ښار کي چي به وباء خپره شوې وه د هغه ځای پر اوسېدونکو به ئې د قرنطینه[1] امر (نه به خپله د هغه ځای نه چیري ځي او نه به بل څوک ورته راځي) کاوه.

د ساري ناروغۍ او ناروغانو نه د حضور اکرم صلی الله علی وسلم تنبیه او د لري کېدلو حکم، د مختلفو جسماني ورزشونو په لور د ده توجه، لکه د غشو ویشتل، لامبو وهل، آس چلول، منډه وهل، او د هغوی په لور د امت هڅول، تر داسي حده چي په حدیث مبارک کي راځي:

مَنْ عَلِمَ الرَمْیَ ثُمَّ نَسِیَهُ فَلَیْسَ مِنّیْ

مفهوم: چا چي ویشتل(غشي ویشتل) زده کړه او بیا ئې هېر کړه هغه زما نه ندی.

حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د الهي قربت د حصول په نیت د رهبانیت، قطع علائق، جسماني تعذیب او د هغه د بې ساري کمولو نه منع کړې ده، په دغو ټولو اوامرو کي د اعتدال په لور د امت لارښوونه کول، دا ټول پر دې شاهدي وایي چي اسلام د خپل ملت عام صحت ته ډېره توجه او پاملرنه کوي، په ډېر شدت سره د صحت ساتني پر اصولو د عمل توصیه کوي او د دې سلسلې ټولو ګټورو شیانو ته ښه راغلاست وایي، دا هغه طریقه ده چي اسلام پدې طریقه سره د ناروغیو سره مقابله کړېده.

............................................................

[1]کوم کس، ښار یا کېنتی چي به د وباء ښکار شوه، هغه به تر کومي ټاکلي مودې پوري د خلکو د تلو راتلو نه منع کېدل، دغه علاج به ئې قرنطینه بلی.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ج) اسلام او اخلاق:**

اسلام د اخلاقو په لور ډېره زیاته پاملرنه کړېده، د نفس اصلاح او پاکیزګي د خیر و فلاح اساس بولي، د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی:

قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا

ژباړه: په رښتیا سره بری هغه چا تر لاسه کړ چي نفس یې پاک کړ. (سُوۡرَةُ الشّمس : ۹)

د امتونو انقلابي حالت ئې د هغوی د اخلاقو په بدلون او د نفس په اصلاح پوري مربوط بللی دی:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْ

ژباړه: حقیقت دا دی چي الله د هیڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو پوري چي هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي. (سُوۡرَةُ الرّعد : ۱۱)

پر ترون باندي د وفا کولو ټینګار کوي:

مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُواْ تَبْدِيلًا؛ لِّيَجْزِىَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ

ژباړه: له مؤمنانو څخه ځیني داسي شخصیتونه شته چي له الله سره یې کړې ژمنه رښتیا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوك د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی پخپله کړنلاره کښي هیڅ تبدیلي را نه وستله. (دا هر څه ددې لپاره وشول) تر څو چي الله صادقانو ته د هغو د صداقت مکافات ورکړي. (سُوۡرَةُ الأحزَاب : ۲۴/۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې توګه د اتفاق، صبر، قرباني، برداشت او هڅو لارښوونه کوي:

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ؛ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ.

ژباړه: ځکه چې داسي به هيڅکله نه وي چې هغوی د الله په کار کښي د لوږي، تندي او بدني تکليف څه کړاو وګالي او د حق د منکرانو چې کومه لاره بده ايسي هغوی پرې کوم ګام واخلي، او له کوم دښمن څخه (چي له حق سره يې دښمني وي) څه غچ واخلي او د هغه په بدل کښي هغو ته يو نېک عمل ونه ليکل شي. دا باوري ده چې د الله په وړاندي د نېکانو د خدمت حق نه ضايع کيږي. په همدې ډول دا به هم هيڅکله نه وي چې (د خدای په لار کښي) هغوی څه لږ ډېر لګښت کوي او (د جهاد په منډو ترړو کښي) کوم ناو (دره) ووهي او په حق کښي يې هغه ونه ليکل شي، تر څو چې الله د هغوی ددې غوره کړنچارې مکافات هغو ته ورکړي. (سُوْرَةُ التّوبَة :۱۲۰/۱۲۱)

د اسلام په شان د ضمير د بيدارولو والا د شعور د ژوندي کولو والا او پر انسان خپله د خپل ځان پيره درولو والا(چي تر ټولو غوره پيره ده) بل کوم محرک نشته.

او دا هغه طريقه ده چي په هغه سره اسلام د رذالت سره مقابله کړې ده.

**(س) "خپلمنځی ټولنيز کفالت" او د افلاس استيصال:**

اسلام په پيل کی د افلاس سره نظرياتي مقابله کړېده، چي هغه ئې د کفر مترادف بللی دی، او رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه نه پناه غوښتې ده، په حديث کي شته:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبَکَ مِنَ الْکُفْرِ وَ الْفَقْرِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفهوم: ای الله! د کفر او فقر نه ستا پناه غواړم.

خالص او پاک مال ئې خوښ کړيدی:

نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُل الصَّالِحِ

مفهوم: د نيک کس لپاره پاک مال ښومره ښه دی.

د زهد مرکز ئې زړه بللی دی، نه د دنيا مال، په خلکو کي تر ټولو ستر زاهد هغه دی چي د خپل ذاتي اختيار او امکان نه زيات پر الله جل جلاله باور وکړي، اسلام د افلاس سره په ايجابي طرز باندي مقابله کړېده، ځکه چي د عمل او کسب امر کوي:

فَٱمْشُواْ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزْقِهِۦ

ژباړه: د هغې پر سينه باندي ګرځئ او د خدای روزي خورئ، (سُوْرَةُ المُلك : ١٥)

کسب ئې د تقرب الهي ذريعه بللی دی، هغه ئې د مغفرت او محبت ذريعه بللی، د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم قول مبارک دی:

اِنَّ اللہَ يُحِبُّ الْمُؤْمِنُ الْمُحْتَرِفِ

مفهوم: الله تعالی جل جلاله کاسب مسلمان خوښوي.

د محتاج د زړه نه ئې د ذلت د احساس د لري کولو هڅه کړېده، او هغه ئې پوه کړيدی چي افلاس د دې نوم ندی چي د چا سره د دنيا د زيب و زينت سامان او تسکين او راحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي شیان نه وي بلکي افلاس هغه دی چي د انسان زړه مفلس او فقیر وي او په اخلاقو کي محتاج وي.

د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک قول دی:

لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرْضِ لَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ

مفهوم: غنا د سامان د کثرت نوم ندی بلکي غنا د زړه د بې احتیاجۍ نوم دی.

د "خپلمنځي ټولنیز کفالت" چي تر کومه ځایه تړاو دی اسلام دغه اصول په خپل ټولو اشکالو او صورتونو کي منلی دی، لکه څرنګه چي ئې د یو فرد او د هغه د خاندان افرادو کي د خپل منځي کفالت طرز اینښی دی.

وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ

ژباړه: له مور او پلار سره ښه چار چلند وکړئ. (سُوۡرَةُ بنیَ اسرآئيل/الإسرَاء : ۲۳)

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا ۖ

ژباړه: مونږ انسان ته، د خپل مور او پلار سره په غوره سلوك کولو هدایت کړیدی. (سُوۡرَةُ الأحقاف : ۱۵)

وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ

ژباړه: د ویني خپلوان (د میراث د وړلو د نظره) یو د بل زیات حقدار دي. (سُوۡرَةُ الأنفَال : ۷۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنیو په منځ کي د دې خپل منځي کفالت اهمیت دادی چي هغه په دې کي توازن ساتي، او دا ښکاره خبره ده چي همدا کورنۍ نظام د یوې ټولني د بنیاد لومړنۍ خښته ده.

د فرد او نهضت او د نهضت او فرد تر منځ ئې هم همدا اصول برقرار ساتلي دي، د دوی نه پر هر فرد څه نا څه فرائض ایښودل کیږي، او د هغه څه نا څه حقوق مقرر کوي، هر کس لومړی په دې مکلف دی چي خپل ذاتي عمل تر ښه هم په غوره انداز کي سرته ورسوي، ځکه د دغه ذاتي عمل ثمر د نهضت مِلکیت دی، که څه هم په پای کي هغه ور ورسیږي.

نبوي صلی الله علیه وسلم حدیث دی:

اِنَّ اللهَ یُحِبُّ اِذَا عَمِلَ اَحَدُکُمْ عَمَلاً اَنْ یُتْقِنَهُ

مفهوم:بې شکه الله تعالی جل جلاله خوښوي چي په تاسي کي چي کوم شخص کله کوم کار کوي نو په احسنه طریقه دې وکړي.

هر کس په دې هم مکلف دی چي هغه دي د نهضت د مفاد او ګټو داسي ساتنه وکړي لکه څرنګه چي ئې دی محافظ او ساتونکی وي، او وربانديی متعین دی، په حدیث کي راځي:

أَنْتَ عَلَیٰ ثَغْرَةٍ مِنْ ثَغَرِ الإِسْلاَمِ فَلاَ یُؤْتَیْنَ مِنْ قَبْلِکَ

مفهوم: ته د اسلام د سرحدونو نه پر یو سرحد ئې ، نو ستا له لوري نباید حمله وشي.

هیڅ فرد د عامه مصالحو د ساتني او پاسداری نه برئ الذمه(معاف) ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

مفهوم: ستاسي نه هر يو راعي دی او د خپل رعيت په هکله مسئول.

په ټولو افرادو د نهضت د ګټو لپاره خپل منځی تعاون واجب دی، د نيکی او ښه والي د حدودو د ساتلو د شرط سره سره په قرآن کي راځي:

وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِۚ

ژباړه: کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ. (سُوۡرَةُ المَائدة : ٢)

امت د کمزورو د حفاظت او د هغوی د ګټو د رعايت او ضمانت مسئول وي، نو ځکه هم ورباندي واجب ده چي د ضرورت پر وخت د هغوی د ساتني او حفاظت لپاره حتی د جګړي نه هم دريغ ونکړي.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ

اخر څه دليل دی، چي تاسي د الله په لاره کښي د هغو بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چي کمزوري کړای شوي، (سُوۡرَةُ النِّسَاء : ٧٥)

دا هم ورباندي واجب ده چي د دوی تر بلوغ پوري به د دوی د اموالو ساتنه کوي.

وَٱبْتَلُواْ ٱلْيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْۖ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او یتیمان تر ازمویني لاندي ونیسئ، تر دې پوري چي هغوی د نکاح کولو وړ عمر ته ورسیږي، بیا که تاسي په هغو کښي اهلیت ولید، نو د هغو شتمنۍ ورته وسپارئ. داسي هیڅکله مه کوئ چي د انصاف له حد څخه تېرى وکړئ او له دې وېري څخه د هغو شتمني په بېړه بېړه وخورئ چي که هغوى لوى شي خپل حقوق به درڅخه وغواړي. (سُوۡرَةُ النِّسَاء : ۶)

امت د دې ذمه دار هم دى چي د خپلو فقراوو او محتاجو کسانو لپاره د خپل استطاعت مطابق خوراک پیدا کړي، د هغوی لپاره به زکات راغونډوي او د دوی په فلاحي چارو کي به ئې مصرفوي، که دا کفایت ونکړي نو بیا به پر سرمایه دارو خلکو د همدوی لپاره څه نا څه زیات محصول ږدي، او په دې اړه کوم قید و شرط وربانديي نشته د دې پرته چي هغه به د کفالت لایق وي.

دغه ستر او حنیف دین(اسلام) خیر و سلوک یوازي تر تشویق او ترغیب پوري محدود ندی بلکي په دې هکله ئې د پوره تعاون ضمانت کړیدی، هغه پر هر صاحبِ مقدرت مسلمان باندي دا فرض کړیدي تر څو د فقراوو او اهلِ ضرورتو خلکو سره د هغوی د حیات د بار په سپکولو کي د خپل قدرت مطابق برخه واخلي.

وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقٌّ مَّعۡلُومٌ؛ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ.

ژباړه: د هغو په مالونو کښي یو ټاکلی حق دی؛ د سوال کوونکي (فقرانو) او محروم (هغه فقرانو چي سوال نه کوي) لپاره. (سُوۡرَةُ المعَارج : ۲۵/۲۶)

د اغنیاوو نه ئې د زکات په ټولولو کي کوم رعایت ندی روا کړی، د اصلي سرمایې دوه نیم فیصده اداء کول فرض ده، چي هر کال به ئې د مسلمانانو بیت المال تري وصولوي، یوازي ئې د سرو او سپینو زرو پر زکوة بسنه(اکتفاء) نده کړې، بلکي اوښان، پسونه، وزې، د تجارت سامان، میوه او غله جات ئې هم پکي شامل کړیدي، د زکات یو بل ډول هم شته، یعني صدقه فطر چي تر روژو وروسته فرض کیږي، د صدقاتو د وېش په اړه اسلام د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتهايي عدل و انصاف لار غوره کړې ده، په قرآن کي د تقسيم د هغو اړخونو په اړه هم اشاره شوې ده:

إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ

ژباړه: دا صدقې خو په اصل کښې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي، او د هغو خلکو لپاره دي چي د صدقو د چارو مامورين وي، او د هغو لپاره چي زړونه يې په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د غاړو د ازادولو او د پوروړو د مرستي لپاره د خدای په لار کښې او په مسافر پالنه کښې د استعمالولو لپاره دي. (سُوۡرَةُ التّوبَة : ۶۰)

لکه څرنګه چي زکات په يو مقدار کي په لاندې طبقاتو باندې ويشل کيدای شي:

- اَلْمَسَاكِيْنَ: چي کوم مال او دنيا نلري.
- اَلْفُقَرَآءَ: چي د ضرورت مطابق مال و جائيداد نلري.
- اَلْعَامِلِيْنَ عَلَيْهَا: هغه خلک چي د زکات د راغونډولو او تقسيمولو پر کار مأمور شوي دي.
- اَلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ: هغه خلک چي د اسلام اظهارول ئې غوښتل خو ويريدل چي ددوی کورنۍ به ئې د مال او ميراث نه محروم کړي.
- اَلرِّقَابِ: کوم مسلمان غلامان چي د کفارو په قبضه کي وي د هغوی د آزاديدلو لپاره.
- اَلْغَارِمِيْنَ: قرضداران، دومره دي ورکول شي چي قرضونه ئې رفع شي.
- فِيْ سَبِيْلِ اللهِ: د هغو مجاهدينو مصارف چي د کفارو سره په ډګر کي وي.
- اِبْنِ السَّبِيْلِ: هغه مسافر چي د سفر مصرف ورسره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه اسلام د امت د ټولو ټولنیزو مصالحو ضمانت ورکوي او د هغوی ساتنه کوي، او خپل منځي کفالت، مرستي، محبت، فرد او د هغه ذات، د ټولني د افرادو تر منځ پر اعتماد باندي اسلامي ټولنه جوړوي.

### ۳- اقتصادي مصالح

اسلام د امت د اقتصادي مصالحو ساتنه کوي، او د اقتصادي اصلاح قواعد او ضوابط ټاکي، چي ځیني ئې په لاندي ډول دي.

(۱) پر هر قادر شخص باندي کار کول او روزي لاسته راوړل فرض دي، اسلام د کسب و عمل ترغیب ورکوي او په هر قادر فرد ئې فرضوي، د کار کوونکو او کاسبو خلکو تعریف کوي او فقر کول او بل چاته لاس غزول حرام بولي، وايي تر ټولو ستر عبادت کار کول دي، دا د انبیاوو علیهم السلام سنت دی، بې کاران غندي، او وايي دوی پر ټولنه بار دي، که څه هم د دوی د بې کاری سبب هر څه وي، که څه ئې هم د فراغت نه هدف د عبادت لپاره وزګارتیا وي، اسلام دا ډول بې کاري نه خوښوي، پر الله جل جلاله توکل دا دی چي انسان اسباب اختیار کړي، او پر نتائجو ئې هم نظر وساتي، چي پر دغو دواړو اړخونو ئې د یوه په اړه هم بې اعتنایي وکړي هغه متوکل ندی، کوم رزق چي د الله جل جلاله له خوا مقرر شوی دی هغه د سالمو هڅو سره تړلی دی.

وَقُلِ ٱعْمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۖ

[او اې پیغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: «تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پیغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چي ستاسي کړه وړه اوس څه دي. (سُوۡرَةُ التّوبَة : ۱۰۵)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَا اكُلَ اَحَدُكُمْ طَعَامًا قَطّ خَيْرًا مِنْ اَنْ يَّأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ

مفهوم: په تاسي کي کله هم چا تر هغه چا چي د خپلو لاسونو(د لاس ګټلي) خوري غوره څه ندي خوړلي.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمايي:

لَا يَقْعُدُ اَحَدُكُمْ عَنْ طَلَبُ الرِّزْقِ وَ لَا قَدْ عَلِمَ اَنَّ السَّمَآءَ لَا تُمْطِرُ ذّهَباً وَّ لَا فِضَّةً

مفهوم: په تاسي کي دي څوک د رزق غوښتنه نه پرېږدي، او نه دي هم لاس پر لاس کښيني، حال دا چي ورته معلومه ده چي له آسمان نه نه طلاء رالويږي او نه سپين زر.

(۲) د طبعي ثروت د مراکزو لټه کول او په کايناتو کي چي کوم قوتونه دي د هغوی نه استفاده کول، په دې کايناتو کي چي د ثروت څومره منابع او د دولت څومره مصادر هم دي د هغوی په لور اسلام د خپلو پيروانو پاملرنه او توجه ور اړوي، د هغوی په لور د توجه رغبت پکي پيدا کوي، او د هغوی نه ګټه اوچتول واجب بولي، اسلام وايي چي په دې عجيبو کايناتو کي چي هر څه شته هغه ټول د انسانانو لپاره مسخّر دي، تر څو ګټه تري پورته کړای شي.

أَلَمْ تَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ

ژباړه: ايا تاسي نه وينئ چي الله د اسمانونو او ځمکي ټول شيان ستاسي لپاره مسخر کړي دي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه يې پر تاسي تمام کړي دي؟ (سُوْرَةُ لقمَان : ۲۰)

(۳) د ناپاکو ذرائعو نه د کسب حرمت: د ګټي ناپاکي داده چي هغه د کوم "کار" پرته تر لاسه شي، لکه سود، خُمار، لاټرئ او نور... يا د کوم مسلّم حق پرته ترلاسه شوی وي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شراب، خنزیر، منشیات او نور، د ګټې دغي ټولي لاري چاري اسلام نه مني بلکي ناجائز ئې بولي.

(۴) د مختلفو طبقاتو تر منځ دي مادّي فرق راټيټ کړای شي، چي د هغه سره به د عرش نشين امارت او خاک نشين غربت تر منځ فاصله له منځه ولاړه شي، په دې لړ کي اسلام پر مالدارو خلکو د تجربو ډکول او ناجائز او د عيش و عشرت مظاهر منع اعلانوي، د فقراوو د ژوندانه چارو د ښه کولو وړاندوينه کوي، د حکومت او سرمايه دارانو په مال کي د هغوی حق مقررول او د هغه لپاره يوه عملي طريقه ښيي، د مصارفو په خير کي د مصرفولو لپاره لارښوونه کوي، او د بخل، رياء، احسان ښوونه او د تکليف رسول غندي، د خپلمنځي مرستي، حسنه قرض، او غوره سلوک اصول ټاکي.

وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ

ژباړه: کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ. (سُوۡرَةُ المَائدة : ۲)

د دې ټولو ملي، ټولنيزو، اقتصادي، مصالحو د ساتني په موخه شريعت د اهل حل و عقد کسانو ته د قانون جوړوني حق ورکړی دی، که څه هم دا حق مشروط دی، يعني چي دوی کوم قواعد او قوانين جوړ کړي، هغه به د شرعي قطعي احکامو، د هغه د قانوني روح او د هغه د بنيادي اصولو مطابق وي، او دا حق اسلام په دوه ډوله منحصر کړيدی:

## (الف) تنفيذي قوانين(Executive Legislation):

ددې هدف د اسلامي نصوصو د نفاذ ضمانت دی، دا ډول قوانين به د هغو احکامو او ضوابطو مشابه غوره کيږي چي نن سبا ئې وزيران صادروي، او د هر وزير يوه اختياري دائره وي چي په هغه کي دننه کولای شي داسي احکام صادر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (ب) انتظامي قوانين(Administrative Legislation):

ددې هدف د عام شريعت د اصولو پر اساس د نهضت تنظيمول، ساتنه او د هغه د ضروررياتو پوره کول دي، داسي دستوري قوانين په همدغه امورو کي وضع کيدای شي چي په اړه ئې شريعت خاموش پاتي شوی وي، او د هغوی په اړه مخصوص نص موجود نه وي، د دې دول قوانينو لپاره دا شرط دی چي هغه به په هر صورت سره د شريعت او د شريعت د دستوري(قانوني) روح مطابق وي.

ډير داسي ټولنيز او اقتصادي قوانين دي چي اسلامي شريعت ديارلس سوه کاله مخکي وړاندی کړيدي او اوسني غربي قوانينو هغوی تر همدې شلمي پيړی مخکي نه پېژندل.

### (۱) د شرابو حُرمت او د طلاق جواز:

دا داسي قوانين دي چي د نني عصر حکومتونو د دې پيړی نه مخکي ونه موندل، بيا په هغوی کي ځيني داسي قوانين دي چي شراب ئې مطلق حرام کړل او ځينو په جُزوي طرز باندي(يعني په خاصو صورتونو کي)، ځيني د هر قيد و شرط پرته طلاق جائز بولي او ځيني بيا د شرائطو او قيوداتو سره.

### (۲) خپل منځي مرستي او مشترک التزام:

اسلامي شريعت تر ټولو مخکي هغه شريعت دی چي د "خپل منځي تعاون" نظريه ئې وړاندي کړه:

وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰۖ

ژباړه: کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ. (سُوۡرَةُ المَائدة : ۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په همدې توګه ئې د مشترکي ذمه دارى(Mutual Obligation) نظريه هم وړاندي کړه:

وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ؛ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ.

ژباړه: د هغو په مالونو کښي يو ټاکلى حق دى؛ د سوال کوونکي (فقرانو) او محروم (هغه فقرانو چي سوال نه کوي) لپاره. (سُوۡرَةُ المعَارج : ۲۶/۲۵)

دا دواړي داسي نظريې دي چي غير اسلامي نړۍ تر دې مخکي نه وو موندلي، او اوس دوى په ځينو مقرره حدودو کي د هغه تطبيق کوي.

**(۳) ذخيره کول، رشوت، او د واسطې نه ناجائزه ګټه اوچتول حرام دي:**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک قول دى:

لَا يَحْتَكَرُ اِلَّا خَاطِئٌ

مفهوم: همهغه کس د احتکار جرأت کوي چي پر غلطه لار وي.

وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ

ژباړه: او تاسي مه په خپلو منځو کښي يو د بل مال په ناروا توګه خورئ او مه هغه مال حاکمانو ته په دې غرض وړاندي کوئ چي تاسي ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د يو څه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي، په داسي حال کي چي تاسي پوهيږي. (سُوۡرَةُ البَقَرَة : ۱۸۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه ضوابط او قوانين دي چي د ډيرو وختونو نه د انسان په لاسونو جوړ کړل شوي قوانين تري بېخبره ول، او اوس بالاخره تر هغوی پوري ور ورسېدل.

**۲- د حاکمانو او محکومينو د خپل منځي تعلقاتو تنظيمول:**

اسلام د حاکم او محکوم تعلق په دې ډول سره منظم کړيدي چي تر ننه پوري هم په نويو ټولنو کي په هيڅ کوم تنظيم کي نه موندل کيږي، په هغه کي مثالي طرزِ حکومت شورائي(جمهوري) دی، د حاکم لپاره د اقتدار کرسۍ ته د ورسېدلو يوازي يوه لار ده چي هغه هم د محکومينو خواهش او د هغوی انتخاب دی.

وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ

ژباړه: خپلي چاري پخپل منځي مشورې سره سرته رسوي. (سُوۡرَةُ الشّورىٰ : ۳۸)

وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ

ژباړه: او د دين په چارو کښي هغو ته هم په مشوره کي برخه ورکړه، (سُوۡرَةُ آل عِمرَان : ۱۵۹)

شريعت چي د شورى کومه خاصه طريقه نده مقرره کړې هغه لدې امله چي دا ئې د ژوندانه چارو د ضرورتونو مطابق پرې ايښې ده، خو اساسي اصول او بنيادي طريقه ئې ورته ټاکلې ده، يعني خلک به د حيات په تنظيم او د حکومت په تشکيل کي د يو بل سره شريک وي.

پر دې اساس موږ ويلای شو چي اسلامي نظام د اوسني پارلماني نظام تر حکومت ډېر نږدې دی، او د اسلامي لارښوونو مطابق د ستر حاکم انتخابول، د ولسمشر غوره کول د جمهوري نظام سره په يو ځای کي مختلف دي هغه داچي په اسلام کي تر هغه چي کله حاکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله د یو داسي کار مرتکب نشي چي دی باید د خپلي عهدې نه معزول کړل شي کولای شي د ژوند تر پایه خپل پر منصب باقي پاتي شي، د دې طریقې نه په اسلامي حکومت کي یو لور ته د جمهوري نظام امتیازي اصل، یعني د عوامو د انتخاب کولو په طریقه باندي د حاکم غوره کول موجود دي او بل خوا د پاچاهی د نظام امتیازي اصل یعني ثبات او استقرار، د حاکم د تجرباتو نه لکه څرنګه چي حق دی استفاده(چي ده ته د حکومت کولو په وخت کي ورحاصل شوی دی) هم موندل کیږي، او ورسره دا نظام د یادو دواړو نظامونو د عیوبو نه هم پاک دی، اسلامي نظام د دغو نظامونو سره په ځینو اساسي شیانو کي مختلف دی.

**(۱) د حاکم ذمه داري:** په اسلام کي حاکم د خپلو ټولو اعمالو په هکله ځواب ورکوونکی دی، دی په خپلو سیاسي، تعزیري او قانوني تصرفاتو کي یو ډول محاسبه کیږي، دا یو داسي امتیاز دی چي اوسني اکثر نظامونه تري محروم دي، ځکه د زیاترو نظامونو قانون دا دی چي د حاکم نه(که پاچا وي او که ولسمشر) د هغه د افعالو په اړه سیاسي یا تعزیري پوښتنه نه کیږي، بلکي وزراء به د ده د اعمالو ذمه داري په غاړه اخلی، لکه څرنګه چي په مصري اساسي قانون کي په ۶۲ماده کي وو،(چي په ۲۳ جولای ۱۹۵۲م په فوځي کودتا کي رد شوه) چي د پاچا احکام که تحریري وي او که تقریري د وزارت ذمه داري ئې په هکله نه ختمیږي.

یعني پر پاچا د خپلو تصرفاتو کومه ذمه داري نشته بلکي وزارت ئې ځواب ورکوونکی دی، د دې ډول غلطو او فاسدو قوانینو لاندي پر هیواد او هیوادوالو چي د دواړو لوریو نه کوم مظالم وشول ټولو ولیدل، یو خوا پاچا دی چي د خپلو افعالو ځواب ورکوونکی ندی، بل خوا وزراء دي چي د پاچا د تقریري او تحریري اوامرو په هکله په خپل منځ کي اختلاف کوي، او پړه ئې یو پر بل وراچوي، تر څو د خپل ذمه داری نه خلاص شي، ځکه دا وخت چي کوم استبداد خپور شوی وو پر اساس ئې هیچا هم د پاچا د اوامرو په نتیجه کي پر غلطو نتائجو د لاسته راوړنو باندي نیوکه نشوه کولای.

**(۲) بشپړ مساوات او برابري:** حاکم و محکوم په هر ډول او ټولو حقوقو کي برابر دي، د عوامو هر فرد ته دا حق ورپه برخه دی چي هغه دي په هره محکمه کي چي وغواړي د حاکم په خلاف عریضه وکړي، او د خپل حق غوښتونکی وي، ځکه د عدل و انصاف په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفاذ کي اسلام د وړوکي او لوی تر منځ کوم فرق نه پیژني، د هغه په نزد ټول د ږمونځي د غابښونو په څیر برابر دي.

اسلام د مساواتو پر دې اصولو د خپلو پیروانو نه په ډیره سختي سره د پابندي غوښتنه کوي، حتی دا هم جائز نه بولي چي د محاکمې په وخت کي دي د دواړو لوریو د منځ نه د یوه سړي سره امتیازي سلوک وشي، لکه څرنګه چي روایت دی چي حضرت علی رضی الله عنه پر دې خبره خفه شو چي قاضي ده ته د ده په کنیت(په عربي تهذیب کي کنیت یعني"ابوالحسن" ابوبکر او داسي نورو خطاب کول چي د تعظیم علامت دی) خطاب وکړ، او د ده دښمن ئې یوازي د هغه په نوم وروبلی او ویې ویل:(ای فلانکیه! ولاړ شه او ای ابوالحسن "علی"! ولاړ شئ) چی کله قاضي ته دا وهم پیدا شو چي ګواکي حضرت علی رضی الله عنه ځکه خفه شو چي ولي ئې دی د د ده د دښمن سره برابر یو ځای درولی دی، چي یو یهودي دی نو د هغه د ناراضګی دلیل ئې وپوښته، ده ورته وفرمایل:"ځکه تا زموږ دواړو سره یو ډول معامله ونکړه، دی دي یوازي په خپل نوم او زه دي په خپل کنیت سره راوبللم"، د غور و فکر خبره ده چي حضرت علی رضی الله عنه دا نکړه خوښه چي د ده سره دي د دې ډول ادنی رعایت او ځانګړي ادب نه کار واخیستل شي، تر څو داسی نه وي چي د خلکو په اذهانو کي د کامل مساوات په معیار کي کوم شک او شبهه پیدا شي.

### (۳) بشپړ انصاف:

د اسلام به نظر کي انصاف د هغه معتدل او بې ساري انصاف نوم دی چي د هر ډول محبت او عداوت یا مال و جاه و شخصیت نه متأثر نه وي، په قرآن حکیم کي چي د عدل په اړه کوم آیتونه دي، هغه ډیر قطعي، قوي او په فیصله کوونکي اسلوب کي دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ

ژباړه: اې مؤمنانو! د عدالت علمبرداران او د خدای لپاره شاهدان اوسئ، که څه هم چي ستاسي د عدالت کولو او شاهدئ زیان په خپله تاسي یا ستاسي مور او پلار یا ستاسي خپلو خپلوانو ته راجع کیږي هم.(سُوَرَةُ النِّسَاء : ۱۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ

ژباړه: د کومي ډلي دښمني دي تاسي دومره را و نه پاروي چي له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ،(سُوۡرَةُ المَائدة : ٨)

په اسلام کي د عدليي دا وظيفه ده چي بې پري انصاف او عدل قائم کړي، يوازي پر بياناتو او دلائلو اعتماد وکړي، د مدعيانو د شخصيتونو سره بالکل تعلق ونه ساتي، که حاکم وي او که محکوم، پدې اړه هم موږ د حضرت علي رضی الله عنه مثال وړاندي کوو، د ده د اميرالمؤمنين کېدلو نه وروسته واقعه ده چي ده خپله يوه ورکه شوې زِرّه د يوه عيسايي سره وليدله، هغه ئې د ځان سره د قاضي(شريح) پر لور راوستی او وئې فرمايل:"دا زما زِره ده چي نه مي خرڅه کړېده او نه مي هم دې شخص ته "هبه" کړې ده" قاضي عيسايي ته وويل:"ته څه وايې؟" هغه وويل:"زره زما ده، او ګمان کوم اميرالمؤمنين زياتي کړېده" اوس نو قاضي حضرت علی رضی الله عنه ته په توجه سره وويل:"ای اميرالمؤمنينه! ستاسي سره څه ثبوت شته؟" حضرت علی رضی الله عنه وخندل او وئې فرمايل:"قاضي خو ښه وايي، البته زما سره څه شاهد او ثبوت نشته" نو قاضي د نصراني په حق کي فيصله ورکړه، چي په اورېدلو سره ئې نصراني څو ګامه ولاړی خو بيرته راوګرځېدی او وئې ويل:"فيصله چي څرنګه وه اوس خو وشوه، شاهدی ورکوم چي دا د انبياوو عليهم السلام د فيصلو په څېر وه، د مسلمانانو يو امير(ستر حاکم) ما خپل قاضي ته بيايي او قاضي ئې په خلاف فيصله کوي، زه شاهدي ورکوم چي د الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، (يعني اسلام راوړم)، دا زره د اميرالمؤمنين ده، کله چي دی د صُفين نه راتلی نو زه د لښکر په شا پسې راروان وم، تر داسي حده چي کله دی د خپل خاکي اوښ نه لري شو، نو ما غلا کړه" حضرت علی رضی الله عنه وفرمايل:"لکه څرنګه چي تا اوس اسلام راوړی نو دا زره ستا شوه."

### (۴) د شريعت د حدودو پابندي:

په څه ډول سره چي اسلام پر حکامو د عدل او محکومينو اطاعت فرض ګرځولی دی، همهغسي ئې لومړئ وعده د هر راز قيد و شرط پرته د "مطلق انصاف"کړې ده، او دوهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره یعني اطاعت ئې د شریعت د حدودو سره مشروط کړیدی، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی:

لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِی مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ

مفهوم: د هیڅ مخلوق اطاعت په داسي کار کي واجب ندی چي په هغه کي د خالق معصیت وي.

له دې نه جوته شوه چي پر رعیت د حاکم فرمانبرداري تر هغه وخت پوري واجب ده چي تر کله هغه شریعت قائموي او د دې قانون پر نفاذ باندي پابند اوسي، کله چي دی له دې نه انحراف وکړي نو د ده اطاعت ختمیږي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

اِسْمَعُوْا وَ اَطِیْعُوْا وَ اِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَیْکُمْ عَبْدُ حَبّشِیٌّ کَانَ رَاسُهُ زَبِیْبَةً مَا اَقَامَ فِیْکُمْ کِتَابَ اللهِ تَعَالَی

مفهوم: که پر تاسي حبشي غلام هم حاکم کړل شي نو کله چي هغه د خدای د کتاب مطابق حکومت کوي د هغه فرمانبرداري وکړئ.

نو ځکه هم حضور صلی الله علیه وسلم په ډیر وضاحت سره د حاکم اطاعت د شریعت په پابندي سره مشروط کړیدی.

**(۵) د اُمت وحدت:**

مسلمان امت یو امت دی، ځکه اخوت د ایمان په اصولو کي یو اصل دی، چي د هغه پرته نشي بشپړیدلای، او د ده اسکلیت مکمل شکل نشي موندلای، او دا د رأیي د آزادی او د وړوکو او لویانو تر منځ د خیر خواهی او تابعداری پرته ممکن ندی، همدې ته د اسلام په مخصوصه اصطلاح کي د"نصیحت" او "امربالمعروف او نهی عن المنکر" د الفاظو سره تشبیه ورکول شوې ده، حدیث مبارک دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَلدِّيْنُ النَّصَيْحَة، قاَلُوْا لِمَنْ ياَ رَسُوْلِ اللهِ؟ قَالَ لِلهِ وَ لِرَسُوْلِهِ وَ لِكِتَابِهِ وَ لِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَ عَامَّتِهِمْ.

مفهوم: دين د خير خواهی نوم دی، صحابه وو وفرمايل يا رسول الله صلی الله عليه وسلم د چا خير خواهي؟ حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل:"د الله جل جلاله، د هغه د رسول ، د هغه د کتاب، د مسلمانو حاکمانو او مسلمانو عوامو[1]...

بل ځای حضور اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

اِذَا رَأَيْتَ اُمَّتِیْ تَهَاب اَنْ تَقُوْلَ لِلظَّالِمِ فَقَدْ تَوَدَّعُ مِنْهَا الْخَيْرِ

مفهوم: چي کله تاسي وګورئ چي زما امت ظالم ته په ظالم ويلو ويرېږي نو د دوی نه اصلاح او خير رخصت شوی دی.

د ژوند چي کوم اساسي اوامر دي په هغوی کي د امت د اختلاف تصور هم نشي کېدلای، ځکه د ټولنيز ژوند چي څومره اوامر دي هغوی ټول د يو نظام ماتحت دي، او د ټولو خلکو په وړاندي منل شويدي، نو ځکه هم د اختلاف ګنجائش نشي پاتي کيدلای.

فروعي اختلاف خو نه تاواني دی او نه هم د کيني او عداوت باعث، او نه هم دلته ګوندي سياست(Party Politics) دي چي پر سياست ئې حکومت چلېږي، او په کوم لور ئې مخ واوړي بلکي د سياست اساس ئې د فکر وتحقيق او خپل منځي مشوره او خيرخواهي ده.

..............................................................

[1] د علماوو د تشريح مطابق د الله جل جلاله خيرخواهي، د هغه د توحيد اقرار و اطاعت دی، د رسول خيرخواهي د هغه د رسالت اقرار او اطاعت دی، د قرآن خيرخواهي، د هغه د تلاوت احترام او د احکامو پابندي ده، همداسي د حاکمانو خيرخواهي د هغوی د مشروط اطاعت او خير خواهي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت په اسلامی نظام کي د حاکم و محکوم تر منځ خپلمنځي لومړی تعلق او آخر محبت او اخوت او فرض شناسي او اعتماد باندي قائم دی، نو ځکه هم په اسلام کي حاکم ته د راعي(ساتونکي/محافظ او نگهبان) په نوم ویل شویدي، د حاکم په نوم نه، بلکي د راعي په نوم کي د همدردی، پاملرني، شفقت او ساتني ژباړي مخفي دي، او پر همدې دلیل باندي رسول الله صلی الله علیه وسم وفرمایل":

كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

مفهوم: ستاسي نه هر یو راعي دی او د خپل رعیت په هکله مسئول.

**۳- د یو حکومت د نورو حکومتونو سره د تعلقاتو او روابطو تنظیمول:**

د اسلام په راتګ سره مسلمان امت ته په نړۍ کي د استادی مرتبه... چي موږ د آقائیت او سالاری مرتبه نه ورته وایو... ورپه برخه شوې ده، له همدې امله په اسلامي حکومتونو کي کوم حکومت ته دا اجازه نشته چي د چا تابع دي پاتي شي، د چا غلام دي وي، او یا دي د کوم اشغالګر په مخ کي سر ټیټ کړي، یا د کوم ظالم و بد کار غاصب په مخکي غاړه کږه کړي، د یو حکومت او بل حکومت(State) تر منځ تعلق نن سبا دې ته وایي چي د بین المللي قوانینو او معاهداتو او میثاقونو مطابق وي، پر دغو قوانینو او معاهدو باندي د ټولو مشترکو سلطنتونو لاسلیک وي، او دا سلطنتونه د دغو معاهدو د شرائطو پابندي خپل پر ځان لازم بولي، اسلام د خپل بین المللي بلکي بین الانساني قانون اصل د "عهد ساتني" اصول جوړ کړیدي.

وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا

ژباړه: د ژمني پابند اوسئ، دا یقیني ده چي د ژمني په اړه به تاسي وپوښتل شئ. (سُوْرَةُ بنىَ اسرآئیل/الإسرَاء : ۳۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی جل حلاله چي څومره د وفاء، عهد او پر هغه د پابندو خلکو عظمت بيان کړيدی، په همهغه اندازه ئې د عهد ماتوونکي خلک حقير او ذليل بللي دي، حتی چي هغوی ئې له انساني دائرې نه ويستلي او د حيواناتو په زُمره کي ئې شامل کړيدي.

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ؛ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِى كُلِّ مَرَّةٍۢ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ

ژباړه: په يقيني توګه د الله په وړاندي، پر ځمکه په خوځيدونکي مخلوق کښي، تر ټولو بدتر هغه خلك دي، چي د حق له منلو څخه منکر شوي دي؛ بيا په هيڅ ډول د هغه منلو ته حاضر نه دي. (په تېره بيا) له دوی څخه هغه خلك چي تا ژمنه (وعده) ورسره وکړه، بيا هغوی په هر وخت کښي هغه ماتوي او يو بڅری له خدايه نه وېرېږي. (سُوۡرَةُ الأنفَال : ۵۶/۵۵)

حتی چي د مسلمانانو نه د خپل داسي دښمن په خلاف مرسته وغواړي چي له مخکي نه ئې تړون ورسره کړی وي، نو دوی نبايد عهد و تړون مات کړي.

وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌ ۗ

ژباړه: هو که هغوی د دين په باب ستاسي څخه مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته کول پر تاسي فرض دي؛ خو د يو داسي قوم پر خلاف نه چي له هغه سره ستاسي تړون وي. (سُوۡرَةُ الأنفَال : ۷۲)

دا د عهد و فاء هغه قُلّه(د ستر غره آخري څوکه) ده چي الفاظ تر هغه ځايه له پروازه عاجز دي.

دا يوازي د نظرياتي لوړ پرواز يا آئيډيل خبره خبره نده، بلکي د مسلمانانو په ژوند کي د هغه څومره مثالونه دي، مشهور صحابي حذيفه بن اليمان رضی الله عنه فرمايي:"زه د بدر په جګړه کي يوازي له دې امله شريک نشوم چي زه او ابو الخسيل يو ځای ووتلو، کفارو(قريشو) موږ ونيولو، او وئې ويل: تاسي د محمد صلی الله عليه وسلم خواته ځئ؟،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ وویل: نه! موږ د هغه خواته نه ځو، بلکي موږ خو همداسي مدینې ته روان یو، پر دې باندي دوی زموږ نه د خدای په نوم قسم او وعده وکړه چي موږ به مدینې ته ځو، خو د رسول صلی الله علیه وسلم تر څنګ به د دوی په خلاف جګړه نه کوو، نو موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لور راغلو او ټوله قصه مو ورته وکړه، حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل تاسي په جګړه کي شرکت مه کوئ، موږ به عهد پوره کوو او د الله جل جلاله نه به د دوی په خلاف نصرت غواړو."

په خپل دغي ستري نظریې کي د شرف و تکریم او اخلاقو سره اسلام یو ګام نور هم پر مخ ځي، او په دې حالت کي هم د عهد ماتولو اجازه نه ورکوي، حال دا چي د نورو نه د دې ویره وي، د دې لپاره اړینه ده چي لومړی د دښمن اعلان وکړل شي، د جګړي صراحت او وضاحت وکړل شي، او د خپل دښمن عهد، د اعلان سره د هغه پر مخ ورویشتل شي، یعني یو دم عهد مات نکړل شی چي هغه د تړون سره په دوکه کي مترادف شمېرل کیږي.

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَٱنۢبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْخَآئِنِينَ

ژباړه: او که د کوم قوم له خیانت څخه ستا وېره وي، نو د هغه تړون په ښکاره ډول د هغه په وړاندي وغورځوه. دا یقیني ده چي الله خائنان نه خوښوي. (سُوۡرَةُ الأنفَال : ٥٨)

د دې نه علاوه اسلام حکم کوي چي ټول اسلامي سلطنتونه دي د اسلامي بیرغ لاندي راغونډ کړل شي، که هغه د بین المللي سیاست میدان وي او که عسکري او یا اتحادي میدان وي، د دوی دغه اتحاد باید په پیل کي پر دې بنیاد وي چي دوی به د خپل ځان په هکله د بشپړي آزادئ او خود مختارئ غوښتونکي وي، او چي څوک هم د دوی پر دغي خود مختارئ برید وکړي د هغوی په خلاف به جګړه کوي، او دوهم دا چي دوی به پر دې ځمکه د هر ډول ظلم او زیادتي او د استعمار متضاد او مخالف وي، دا همغږي او اجتماع کولای شي خپل ځان د نوي بیرغ تر سایې لاندي پر مخ یوسي چي د یوې نوي انساني ژوندانه فلسفې نماینده وي او د هغه په ذریعه دوی د ورک شوي او ځورول شوي انسانیت لارښوونه وکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ لیدلي دي چي اسلام د افرادو، حکامو او محکومینو او سلطنتونو تر منځ خپل منځي تعلقات پر هغه جدید ترین طرز باندي استواروي چي اوسني نوي ټولنيز نظامونه به ئې هم غوښتونکي او مدعيان شي، او نه یوازي دومره کوي بلکي په یو داسي شکل کي دا تعلقات قائموي چي تر هغه ځایه دغه نظامونه رسیدګي هم نلري.

غالباً دا وضاحت به د اذهانو د پاکولاي لپاره کفایت وکړي چي اسلام د یو داسي مذهب سره سره چي د خالق او بنده تر منځ تعلق استواروي، د ژوندانه چارو د نظام کېدلو تر کوم ځایه صلاحیت لري، دا هغه انداز دی چي اخوان المسلمین ئې په ذریعه سره په اسلام پوه شوی، په دې هکله دوی مطمئن او پر هغه بشپړ ایمان لري او خلک د هغه په لور را دعوتوي.

ددې فصل بهترینه تتمه به شاید دا وي چي موږ د بین المللي تقابلي قانوني کانفرانس چي په پاریس کي منعقد شو رأیه دلته رانقل کړو، د دې کانفرانس شرقي شعبې په خپل آخري ناسته ۷جولای۱۹۵۱م کي دغه تاریخي اجتماعي وړاندیز تصویب کړ.

د کانفرانس ګډونوالو چا چي "د اسلامي قانون هفتې" په دوران کي تر بحث لاندي مشکلانو باندي د ډیري پاملرني اظهار وکړ، په دې اړه چي کوم بحثونه وشول د هغه نه د اسلامي اصولي قوانینو د قیمت ډیر ښه وضاحت وشو، او دا هم روښانه شوه چي د عظیم ترین قانوني نظام په دائره کي د مذاهب و مدارسو د فکر تعدد، د قانوني نظریاتو زیاتوالی او پر بې مثاله دقیقي څېړني باندي دلالت کوي، دا ټول اوامر داسي دي چي دغه قانون ته د موجوده ژوند د ټولو تقاضاوو د پوره کولو صلاحیت ورکوي، د کانفران ګډون وال د دې خبري غوښتنه کوي چي دا هفته هر کال پر اسلامي شریعت باندي د بحث و مباحثې خپل دغه پروګرام جاري وساتي او د "قانون د هفتې" د دفتر وظیفه ده چي هغه د دغو ټولو موضوعاتو یو فهرست جاري کړي چي په دې هفته کي بحث ورباندي وشو، تر څو د تیري هفتې دا موضوع یو ځل بیا د بحث محور وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دی هغه اسلامي قانون او د موجوده ژوند د تقاضاوو د پوره کولو د هغه صلاحيت، د کوم چي په بين المللي کانفرانسونو کي لا معترف او مشهور دی، او د مسلمانانو اکثريت لا هم ورځني بې خبره او يا منکر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اخوان المسلمين ادارتي تنظيم

د اخوان المسلمين د تنظيم ادارتي چاټ(خاکه) چې مخکې وړاندې شوې ده په هغه کې موږ ګورو چې د هغه پیل او ابتداء اللجنة التاسیسیة(اساسي کمیټې) نه کیږي، دا کمېټه د اخوان لومړنی اختیاري طاقت دی، د دې حیثیت داسې دی لکه په نورو ګوندونو او تنظیمونو کې چې د جنرل کونسل وي، د اخوان د اصلي جنرل کونسل اجتماع آسانه نده، ځکه چې د غړو تعداد او شمېر ئې په لکونو دی، نو ځکه هم بنیادي کمیټه د هغه ځای ناستې ټاکل شوې ده، د نهضت سره دومره مادي وسائل هم نشته چې ټول أخوان سره راجمع شي، دغه بنیادي کمېټه د أخوان المسلمين د مرکزي مجلس شوری ده، او د "مکتب ارشاد"(هائي کمانډ یا تنفیذي مجلس) لپاره د کونسل حیثیت لري، د دې کمیټې تشکیل د هغو اخوانیانو نه شوی دی چې په تحریک او دعوت کې د سبقت امتیاز لري، چې کار ئې د دعوتي امورو عامه نګراني، د مکتب ارشاد(تنفیذي مجلس) د ارکانو انتخاب او حساب کتنه او د محاسبې لپاره د(Auditor) پلټونکي انتخابول دي.

د بنیادي کمیټې غونډه هر کال د هجري میاشتې مطابق په محرم الحرام کې ترسره کیږي، چې په هغه کې د راروان کال لپاره د دعوت د سرګرمیو په اړه د مکتب ارشاد یا تنفیذي مجلس پر راپور بحث کیږي، که د انتخاب موده پوره شوې وه نو نوي غړي غوره کیږي او د پلټونکي پر راپور او حسابونو د تېر کال په پرتله بحث ورباندې کیږي، د راروان کال پر بودیجه بحث او نوی پلټونکی غوره کیږي، خو هغه وخت چې د ده د کار موده په ختمېدو وي،(د پلټونکي لپاره دا شرط دی چې هغه به د أخوان غړی وي او په تنفیذي مجلس کې به نه وي غوره شوی) د دې اوامرو نه علاوه او نور کوم مسائل چې دي یا وړاندیزونه او داسې نور... وړاندې کیږي، او پر هغو غور و بحث کول هم د دې کمیټې وظیفه ده، د تنفیذي مجلس د مشر(عام مرشد) یا ۲۰ شلو غړو په غوښتنه د ضرورت په وخت کې د هغه عاجله غونډه دائریږي، عام مرشد به د دې ناستې مشرتوب کوي، که چیري هغه حاضر نشو یا غونډه په همدې ارتباط د کومې معاملې پوري راغوښتل شوې وه یا ده خپله د دې مجلس مشرتوب نه کولو، بیا به ئې مرستیال د غونډې مشرتوب کوي، خو که چیري هغه هم شرکت ونکړ او یا ئې عذر وړاندې کړ نو بیا به د غړو نه یو د پوخ عمر شخص چې تر نورو مشر وي دا وظیفه سر ته رسوي، او که د غړو اکثریت(یعني که له نیم تعداد نه یو فرد هم اضافه وي) حاضر شي نو دا اجلاس صحیح دی، پرته د هغو صورتونو نه چې په هغه کې د غړو د کوم مقرر تعداد موجودیت شرط وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي کميټه دا حق لري چي هغه په خپله هره اجتماع کي چي خوښه ئې وي او هر څوک چي ئې خوښ وي د أخوان کوم غړي ته د اساسي کميټې د غړيتوب حق ورکړي، پدې شرط چي په ياد کس کي به لاندي مواصفات موجود وي:

الف: مستقل غړی به وي.
ب: عمر به ئې تر ۲۵ کلونو کم نه وي.
ج: په تحريک کي به ئې لږ تر لږه پنځه کلونه تېر کړي وي.
د: په ده کي هغه اخلاقي، علمي، تهذيبي او علمي مواصفات موندل کيږي چي پر بنياد ئې بايد دی د غړيتوب حقدار شي.

تنفيذي مجلس(مکتب الارشاد العام) چي بنيادي کميټه ئې غوره کوي د ۱۲ دوولسو کسانو نه تشکيليږي، چي د نهضت د مشر نه پرته د اساسي کميټې د غړو نه غوره کيږي، او د هغه په غوره کولو کي دا امر وړاندي ايښودل کيږي چي ۹غړي به ئې د قاهرې نه وي او نور درې د نورو ولايتونو نه، کوم شخص چي د تنفيذي مجلس لپاره نوماند کيږي، په هغه کي بايد لانديني شرايط موجود وي:

الف: د اساسي کميټې غړی به وي او د غړيتوب به ئې درې کلونه پوره شوي وي.
ب: د اخلاقي، علمي، او عملي اعتبار له مخي به د غړيتوب اهل وي.
ج: عمر به ئې له ديرشو کلونو کم نه وي.


انتخاب د قرعه اندازی(پچي اچولو) په ذريعه ترسره کيږي، او د نتيجې د اعلان نه وروسته غړي قسم کوي چي هغه به د اخوان د اغراض و مقاصدو محافظ او ساتونکي وي، د هغه پر قيادت به اعتماد او باور کوي، د تنفيذي مجلس فيصلې به مني، که څه هم دده د رأيې مخالفي وي، او په دغو شيانو به دی بيعت کوي، وروسته به همدا بنيادي کميټه د قاهرې د ۹ نه وو تنفيذي مجلس د غړو د مشر مرستيال، عمومي سيکريټر او خزانچي غوره کوي، ددې مجلس د غړيتوب موده دوه کاله ده، ددې مودې په ختمېدلو سره نوی انتخاب ترسره کيږي، او يو غړی ددوهم ځل لپاره بيا غوره کېدلای شي، د ټاکلي مودې دپوره کېدو نه مخکي که د کوم غړي ځای خالي شي نو د هغه کس دوه ځای ناستي کيدای شي، چي د انتخابېدلو په وخت د بنيادي کميټې په غوره کيدلو کي دده وروسته ئې د رأيو شمېر تر نورو کانديدانو زياتي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم فصل (د نهضت ادارتي تنظيم او ماليات)


## اولاً ادارتي تنظيم

د اخوان المسلمين تنظيمي خاکه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اخوان المسلمین د ادارتي تنظیم خاکه



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان، د اخوان د عام مرشد، د تنفيذي مجلس مركزي دفتر، د اخوان ستر دفتر(عام مركز) دی، تر دې مركز لاندي حلقې دي چي په ټول هيواد كي ئې شمېر ۱۹دي، په هر ښار كي ئې يوه حلقه ده چي تفصيل ئې په لاندي ډول دی؛ قاهره، اسكندريه، سويز، قنال، شرقيه، غربيه، فواديه، منوفيه، بحيره، قليوبيه، جيزه، فيوم، بنی سويف، منشيه، اسيوط، سوهاج، قنا، اسوان، البحر الاحمر.

د دغو حلقاتو تابع"منطقې" وي، منطقه په هره حوضه يا تحصيل كي وي، د هغه كاري دائره تر حوضې يا تحصيل لويه او وړوكې هم كېدای شي، تر اوسه چي كوم مناطق دي شمېر ئې تر ۳۰۰ درې سوه پوري رسېدلی دی.

د مناطقو لاندي بيا"شُعبې" وي، شعبه په هر كلي او يا بانډه كي كېدای شي موجود وي، د موجوده شعبو تعداد ۱۵۰۰ پنځلس سوه دی، يوازي د قاهرې په ښار كي اوس د شعبو تعداد ۷۰ دی، حالانكه"مركز" د شعبې د خلاصولو اجازه په ډېر مشكل سره او د ډېرو مادّي او معنوي شرائطو سره وركوي، د هغه باوجود ئې دومره ستر شمېر دی.

د هري حلقې يوه انتظامي كميټه وي چي د حلقې پر مشر(او بالعموم هغه د شعبې ښكاره مشر وي، خو مركزي تنفيذي مجلس د هغه مجاز دی او هغه د دې منصب لپاره د كوم داسي كس انتخاب وكړي چي نه د شعبې مشر وي او نه هم د شعبې غړی)، د مشر معاون او سيكريټري او يو خزانچي باندي مشتمل وي، دا خلك په عامه توګه د حلقې په ځرګندو شعبو كي پر لوړو دندو او منصبونو مأمور وي، د دې انتظامي كميټی نور غړي لاندي افراد وي:

(۱) د حلقې په حدودو كي چي څومره منطقې دي د هغوی مشران.
(۲) د حلقې په حدودو كي اوسيدونكي د"بنيادي كميټی" غړي.
(۳) په حلقه كي د دعوتي سرګرمۍ مسئول افراد.
(۴) د تنفيذي مجلس ګشتي نماينده چي رأيه ئې د مشورې حيثيت لري، خو د رأيي حق ورسره نه وي.

د منطقې انتظامي تشكيل په لاندي ډول دی:

(۱) د منطقې د ځرګندي شعبې مشر.
(۲) د منطقې په احاطه كي چي څومره باقي شعبې دي د هغوی ټولو مشران.
(۳) د شعبو ګشتي او ګرځېدونكي نماينده ګان.
(۴) د مقامي مركز ګشتي نماينده.
(۵) په ځرګنده شعبه كي د دعوتي سرګرميو ذمه دار افراد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعبې انتظامي کمېټه پر پنځو اشخاصو مشتمله وي، چي په هغو کي يو ئې د اخوان د مرکز نه غوره کيږي او هغه د شعبې عمومي"مشر" وي، نور پاتي څلور ئې د شعبې کونسل انتخابوي، په دغو څلورو کي دوه د مشر معاونين، دريم ئې مرستيال او څلورم ئې خزانچي غوره کيږي، دا انتخاب پټ او مخفي وي، د شعبې د انتظاميه مجلس د غړي لپاره شرط دی چي عمر ئې لږ تر لږه ۲۱ يوويشت کاله وي، په شعبه کي ئې د غړيتوب لږ تر لږه يو کال پوره شوی وي، او په دې موده کي د هغه نه کومه داسي خبره وا نه ورېدل شي چي د غړيتوب د فرائضو منافي وي.

د شعبې د غړي لپاره لاندېني شرائط دي:

(الف) عمر به ئې له ۱۸ اتلسو کلونو نه کم نه وي.
(ب) خوش اخلاق او خوش مزاجه به وي، پر عمل او کرېکټر به ئې کومه خبره نه وي راغلې.
(ج) د اخوان په نظريه به پوهېدلی وي، او خپل فرائض به سرته رسوي.
(د) خپل پر ځان مياشتنی څه چنده اجباري کړي چي په پابندي سره ئې شعبې ته ورکړای شي.
(س) وعده وکړي چي د اخوان پر قانون به عمل کوي، او د هغه پر طريقې باندي به بيعت کوي.

شعبه د خپلي متعلقه منطقې او منطقه د خپل متعلقي حلقې، او حلقه د انتظامي مجلس تابع وي، پدې يونټونو کي د خپل منځي ربط و اتصال د پورته نه د کښته او د کښته نه د پورته پر لور په همدې ترتيب باندي وي.

د اخوان د ادارتي تنظيم د دې کتني وروسته موږ ګورو چي آيا هغه د هغو نويو بهترينو تنظيماتو همسر او برابر دي چي د "علم تنظيم Administration " پر اصولو قائم شوي دي، که څه هم ځيني خلک د اخوان نه خبر نه وي او د اخوان د ظاهري اړخ نه دا اندازه ولګوي چي هغه هم پر شخصي نظام Autocracy پر اصولو ولاړ دی، چي پر دغو اصولو نازيي ايزم او فاشيزم عمل کاوه، چي خلاصه ئې په دې جملې سره کولای شو"ته هغه څه وکړه چي زه ئې امر کوم، او زه هغه څه کوم چي ستاسي لپاره غوره وي"، You do what i tell, and i do what is good for you. يا دا چي د اخوان په منځ کي د رأيي د اظهار آزادي نشته، خصوصاً په تنظيمي امورو کي، خو دا اندازه صحت نلري، حقيقت ئې بالکل برعکس دی، اخوان په خپل تنظيمي او دعوتي امورو کي پر مشاورتي(شوری) باندي عامل او عمل کوونکی دی، لکه څرنګه چي بنيادي کمېټه د تنفيذي مجلس د نهضت مشر، د مشر مرستيال، جنرل سيکرټر او خزانچي غوره کوي، بالکل په همدې ډول سره لکه څرنګه چي حلقه، منطقه او شعبه خپله د خپل انتخابي کمېټې انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، "مرکز" د ځان سره د دغو تنظیماتو د مشرانو د انتخاب حق خوندي ساتلی دی، او هغه هم یو خو د وحدت د حکم(Unity of Comand) د برقرار ساتلو په موخه او دوهم د دې خیال نه چې د دغو یونټونو غړي کوم داسي کس غوره کړای شي چې مرکز ته نږدې وي، او د قیادت د منصب اهل وي، په داسي صورت کي هغه دغه انتخاب فوراً قبلوي او د هغه منظوري ورکوي.

د اخوان په نزد تنظیم تر ډیره حده د نوي ممتاز ترین ادارتي نظام مطابق دی چې هغه د "مشترکه ذمه داريShared Responsibility" په نوم یادول کیږي، او چې په سابقه دوه وو نظامونو(شخصي او جمهوري) د تجاربو نتیجه وي، د مشترکه ذمه داری د نظام بنیاد پر همدې نظریې قائم دی چې یوازي اکثریت هم نه بلکي د ټولو موافقت تر لاسه کړل شي، او که څه هم پدې سلسله کي د ټولو غړو په شخصي ډول سره په یو ځای کېدلو سره هغوی د اکثریت پر رأیه مطمئن کړل شي، تر څو د ټولو په اتفاق سره فیصله وشي او بیا ټول د هغه په نفاذ کي مرسته او تعاون وکولای شي، نو ځکه هم د اخوان زیاتره مهمي فیصلې په اجماع سره صادریږي، د دې طریقه کار نه غوښتنه او هدف دا دی چې د دوی وحدت همداسي وساتل شي، په صفونو کي ئې درز پیدا نشي، او په داخل کي ئې نور گروپونه جوړ نشي، یوازي په ځینو مخصوصو حالاتو کي استثنی شته چې هلته دا اجماع(د ټولو موافقت) ناممکن وي، فلهذا پر دغو موافقو باندي د غیر مشروط اکثریت پر رأیو باندي فیصلې صادریږي، یا لکه په ځینو بعضي ضروري او مهمو فیصلو کي مثلاً د عام مرشد"مشر" د تقرر یا برطرفۍ لپاره دا صراحت شوی دی چې هغه به د درې پر څلورمه برخي شوری د غړیو په موافقت سره صادریږي، او هغه هم د دې شرط مطابق چې مشروط اکثریت(تر نیمي اضافه) په صورت کي صادریږي، او د گوند د ۵/۴ غړو حاضري شرط نده بلکي یوازي دا شرط دی چې دومره شمېر ئې وي چې په قانوني بڼه کي اجتماع منعقده شي.

په دې توگه دا خبره هم د غور و فکر وړ ده چې په تنظیمي چارټ کي موږ د "فني مجالس " Staff Unit نده ښودلې چې په دفتري تنظیمي چارټ کي ویل شوي دي او دا ځکه چې دا عمله لکه څرنگه چې نور ستر دفتري تنظیمونو کي د هغه صراحت کیږي، مشاورتي او فني(For Advisory & Action) اهدافو لپاره دي، د هغه کار فکر کول او مشوره ورکول وي، او تنفیذي کمیټې یا(Line Units) با اختیاره او تنفیذي یونټونه دي (For Command & Action).

**ثانیاً _ مالیات:**

د اخوان په اساسي قانون کي د دې خبري صراحت او وضاحت شوی دی چې هر غړی به خپل پر ځان میاشتنی او یا کلنی یوه اندازه چنده ټاکي چې په بشپړه پابندي سره به ئې اداء کوي، او چنده د دې لپاره په دې خبره کي مانع نه وي چې هغه به د دعوت به اخراجاتو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطيه، يا وصيت يا وقف يا د دغو تپولو په ذريعه برخه واخلي، د دعوت صاحبِ نصاب غړو په زکاة کي هم حق وي، د دغو تپولو خدماتو نه د مجلس شعبه پر فيصلې باندي غير مستطيع خلک مستثنی بلل شوي دي، خو چي کوم څه وركولای شي بيا ئې بيرته غوښتنه په هيڅ حالت کي ممکن نده.

په همدې توګه په هري شعبې باندي دا هم فرض دي چي خپل ځان پوري متعلق د منطقه بالا ضروري مصارفو يو بل ته رسولو کي هم ونډه واخلي، او د هغه وروسته د حلقې د اخراجاتو لپاره پيسې پيدا کړي او پر هره حلقه ضروري دي چي هره مياشت مرکز ته د خپلو اخراجاتو په اندازه پيسې وړاندي کړي، انتظامي مجلس يا High Comand به دا فيصله کوي چي هره حلقه به مياشتني او په کومو تواريخو باندي پيسې اداء کوي.

د دې نه علاوه چي څومره اخواني فارمونه دي او په ګټه چليږي هغه به د خپلو کلنيو ګټو نه يوه حصه د مرکز لپاره ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم باب

# مصري ټولنه او د اخوان خدمات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم باب

## لومړی فصل

## ټولنیز خدمات

د اخوان المسلمین د ټولنیزو خدمتونو په یادولو سره ډیر خلک د تعجب اظهار کوي، د هغه یو دلیل خو دادی چي اخوان د دې ډول کارونو پروپاګندو ته ډیره پاملرنه نه کوي، او دوهم دا چي پخواني ټول حکومتونه د هغوی په بدنامولو کي مخته مخته روان ول او د دوی پر دې ډول ډول خدماتو به ئې پرده هواروله، خو حقیقت دا دی چي اخوان د پیل نه هم په ټولنیزو سرګرمیو کي ونډه اخیستله، موږ د دوی د تاریخ په بیانولو کي د دې په اړه یادونه کړېده، د دوی په اساسي قانون کي په صراحت سره ویل شوي دي چي د "ټولنیز انصاف " Social Justice بشپړ کول د هیواد د هر اوسېدونکي د ټولنیزو ضروریاتو ضمانت Social Security عوامي خدماتو کي شرکت، جهالت، ناروغي، افلاس او فحاشي و بد کرداري د پاکولو لپاره هڅي او د فلاح و ترقی په کارونو کي همت افزایي د دوی د اهدافو نه دي.

د همدې لپاره دوی د لومړی ورځي نه هم د کلیو او بانډو د اصلاح په لور توجه ورکړې ده، او د مصري اطرافو د اصلاح و ترقی لپاره ئې یو ګوند تأسیس کړ، څینو اخوانیانو په فرشوط(د یو کلي نوم دی) کي یو نمونه اي تعاوني مزرعه "Model Cooperative Farm" جوړه کړ، په یو بل کلي کي ئې د فقراوو او مساکینو د مړو لپاره څلور ستري هدیرې جوړي کړلې، د اخوان شعبو په هرو دریو مبارکو میاشتو کي فقراوو ته د خوراک په تیارولو د یو بل نه د بازي وړلو لپاره هڅي کولې، او په کلیو کي ئې د رڼا انتظام وکړ، د روژې په میاشت کي ئې د زکاة راویستلو پروګرام جوړ کړ، او د مخاصمینو تر منځ ئې پر سولې کولو توجه وکړه، یوې کمیټې د بیکاره ګرځېدونکو یتیمو او غریبو ماشومانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محتاجو کورنيو يو فهرست چمتو کړ تر څو ماشومان د دوی د استعداد و قوت مناسب په صنعتونو کي ولګوي او د بې آسرې معذورانو مرسته وکولای شي.

د دې غرض لپاره دوی د فلاحي انجمنونو نه متعلق د ۴۹نمبر قانون مجريه۱۹۴۵م د تصويب نه مخکي د همدې ټولنيزو خدماتو يو د فتر فعال کړی وو چي کار ئې د غريبو کورنيو نظارت او پر صحيح علمي بنيادونو باندي د هغوی ټولنيز خدمت کول وو، تر څو په دې توګه د هغوی لپاره د عام ژوند لار هواره کړل شي، او دوی د لوړي په لاسونو د تباهی يا مرګ ښکار نشي.

اخوان چي د مصري ټولني کوم ټولنيز خدمت کوي هغه بايد پر دريو بابونو تقسيم کړو:

(۱) فلاحي او ټولنيز خدمت(Welfare Work & Social Service)

(۲) بدني تربيت او څارندويي(Physical Training & Scouting)

(۳) وطني او ملي خدمت(Home Land & National Service)

**(۱) فلاحي او ټولنيز خدمت:**

د کومو فلاحي کارونو او ټولنيزو خدماتو په لور چي مو په پورته کرښو کي اشاره وکړه هغه په پيل کي د اخوان يو عام او څرګند صفت وو، خو چي کله په قاهره کي د هغوی مرکز قائم شو نو دوی د ټولنيز خدمت اوجديد ترينو نظامونو مطابق يو دفتر د همدغو خدماتو لپاره جوړ کړ، او وضاحت ئې وکړ چي دا دفتر به په څو ډوله خدمات وړاندي کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- وقتي او تسلي ورکوونکي خدمات:** لکه د ضرورت مندو اعانت، دا به په عام ډول سره حقيقي او معنوي وي، خو که چيري د ضرورت تقاضا وه نو مالي اعانت اومرسته به هم وشي، صدقه، د قربانۍ غوښه او پوستونه جمع کيږي او پر غرباوو به وېشل کيږي.

**۲- اطمينان ورکوونکي خدمات:** لکه څرنګه چي بې روزګاره خلکو ته روزګار ورکول، د هغوی لپاره ايمپلائمنټ ايکسچېنج، په نورو ادارو او صنعتي کارونو کي دوی ته وضيفې موندل، په ځينو حالاتو کي د فائدې پرته وړوکي سرمايې(Capitals) قرض ورکول، په همدې توګه د مريضانو مفت يا براى نام معاوضې باندي علاج.

**۳- حفاظتي خدمات:** لکه څرنګه چي په دغو کورنيو کي د حفظانِ صحت د اصولو مطابق چي د "ټولنيزو خدماتي دفترونو" تر نظارت لاندي دي، د محلي غرباوو ته په ارزان ترين قيمت باندي د غذا او خوراکي توکو موندل.

**۴- تعميري خدمات:** چي د هغوی په ذريعه به د ژوندانه عام معيار اوچت شي، د دې غرض لپاره د خواري کښو او وړوکو آزاد کسبو د يو انجمن بنياد ايښودل او تأسيس کول، چي په ذريعه ئې د هغوی خالي وقتونه منظم کړل شي، او کسب، د وطن خدمت، او د صحت مندی په ميدانونو کي د هغوی لاربنوونه وکولای شي.

د پورته ياد شوي دفتر په پاليسۍ کي دا وضاحت وي چي مادي خدمات يوازي د لاندي خلکو لپاره وي:

(۱) داسي شريفي کورنۍ چي د روزمره حوادثو ښکار شوي وي.

(۲) داسي کورنۍ چي د خپل يوازيني سرپرست او کفيل نه محرومي شوي وي او د هغوی لپاره د معاش د حصول او لاسته راوړلو کومه ذريعه نه وي.

(۳) داسي غريبي کورنۍ چي په غوره ژوند او اخلاقو کي مشهوري او معروفي وي، اخلاق ئې مشکوک نه وي او هغه د ټولنيزو خدمتونو د دفتر په مقاصدو کي هم مرسته وکړي يعني د هغوی پر هداياتو عمل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي کله د فلاحي او خيراتي ادارو او انجمنونو د تشکيل لپاره د ۱۹۴۵م قانون ۴۹ماده تصويب شوه نو دا دفتر د اخوان نه جلا شو او يوه عليحده اداره وګرځېده، او د دې لباره يو مخصوص دستور العمل او کاري لائحه تياره شوه، د دې ادارې نوم"د اخوان المسلمين د ټولنيزو خدماتو او پرمختګ اداره (Ikhwan Welfare & Social Service Board) کېښودل شوه.

د دغو پخوانيو کارونو علاوه چي کوم پخواني دفتري خدمات سرته رسول هغه طبي او ثقافتي خدمات هم ترسره کړل چي يادونه ئې موږ په نورو عنوانونو کي کوو.

دې ادارې د هغې د غير قانوني اعلانېدلو نه مخکي ډير عوامي خدمات سرته ورسول چي شمېرل ئې آسان ندي، د بندېدلو نه مخکي د "رفاهِ عام د امورو د وزارت" تر نګرانۍ او څار لاندي ئې د مصر په هيواد کي ۵۰۰ پنځه سوه ښاخونه درلودل، خو د ګوند يو ځل بيا آزادېدلو وروسته هغه د يو زبردست اسکيم په افتتاح کولو سره د خپل سرګرمی آغاز وکړ، چي تکميل ئې د قاهرې د محلة روضة د ښاخ په ذمه وو، دا اسکيم د يو ټولنيز ادارې (Social Foundation) د تعمير پلان وو، چي په هغه کي يو مسجد يوه ډسپنسري، يو کتابتون او يو لکچر هال وو، د اوقافو وزارت د همدې غرض لپاره ځمکه هم ورکړه، او انجينير سيد کريم د هغه د عمارت نقشه او نورو د جوړولو لپاره خپل رضا کارانه خدمات وړاندي کړل، اخوان فوراً هغه ځمکه پاکه کړه او څلورو اطرافو ته ئې د لرګيو چار ديواري ودرول، د بانسونو يو عارضي چت ئې ورباندي ولګاوه، برق ئې هم ورته راوسته تر څو چي د ضرورت مطابق چنده جمع نشي بايد همداسي د مسجد کار تري واخيستل شي، ځکه په دې محل کي مساجد ډير کم دي.

اخوان يوازي پر خپلو متعلقو مساجدو د نګرانی وظيفه سرته نه رسوي بلکي د نورو غير آبادو مساجدو د اصلاح او مرمت کار هم کوي، د کومو مساجدو چي څوک پوښتنه کوونکی نشته د هغوی نګراني او څار هم کوي، د هغوی لپاره د جمعې د خطيب او امام انتظام هم کوي، په قاهره و جيزه کي پر کومو مساجدو چي د اخوان داسي نګراني ده ما هغه شمېرلي چي په لاندي ډول دي[2].

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخواني مرکز تابع چې کومې مهمې شعبې دي هغه هم خپل متعلق د فرائضو سره سره په ټولنيزو خدماتو کې ونډه اخلي، چنانچه د "بزګرو او خواري کښو د شعبې" په دستور العمل کې د دې تصريح شوې ده چې د کارخانو د قوانينو د کار مطالعه، د هغوی تشريح او تنفيذ، خواري کښو ته د دوی حقوق ورښودل، د هغوی د حقوقو د حصول لپاره هڅې کول او د مزدورانو له خوا د جوړيو شويو کمپنيو او شرکتونو لارښوونه کول، هغه په اسلامي رنګ باندې رنګول، کاسب او خواري کښه خلک خپلو انجمنونو ته د شاملولو لپاره دعوتول، د بزګرانو او مزدورانو د انجمنونو د جوړولو غوښتنه کول، په اخواني مزدورانو کې د خپل منځي تعاون روح پوه کول، او په خپل منځي مرستندويه اسکيمونو کې د هغوی د ګروپ بندي کولو نه ګټه اوچتول د دې شعبې اغراض دي.

په پورته يادي شوي شعبې کې په دې سلسله کې ډير عملي ګامونه اوچت شوي دي، په مرکز کې يوه د "مزدورانو او خواري کښو تربيتي مدرسه" جوړه شوې ده، چې کار ئې مزدوران د هغوی د حقوقو نه خبرول دي، د "مزدورانو د قوانينو" توضيح او تفهيم، د دغو قوانينو نه د امکان تر حده د ګټې اوچتولو لپاره د هغوی مرسته کول، په همدې توګه د همدې فصل په دستور العمل کې ددې په اړه هم وضاحت شوی دی، چې د ټولنيزو مساواتو او د ټولنيزو خپل منځي کفالت هڅې، په ټولو کارخانو کې د ټولنيزو خدماتو د اصول ترويج، د بزګرانو مالي مشکلات او د هغه سره متعلق زرعي ملکيتونو د مشکلاتو حل، د سلطنت نه د داسې اقتصادي او ټولنيزو قوانينو د جوړولو غوښتنه چې د هغه نه د دوی د حقوقو ساتنه وشي، د مزدورانو نوي نوي پيدا شويو مشکلاتو د حل کوښښ کول تر څو د صنعتي او زرعي هرو دوو ډولونو د مزدورانو مفادت او ګټې خوندي شي، دا هم د دې شعبې اغراض او اهداف دي.

..................................................

[2] مصنف په پوره تفصيل سره د دغو مساجدو يوه نقشه وړاندې کړې وه، چې نقلول ئې موږ غير ضروري وبلل، په دې کې د مساجدو تعداد ۳۵ ښودل شوی وو چې په هغه کې د ۸ مساجدو مکمل مصارف د اخوان پر اوږه دي او په باقي مساجدو کې امام و خطيب يا خطيب يا يوازې د خطيب انتظام کوي، دوه مساجد د اخوان ملکيت دي، دا يوازې د قاهرې او جيزې د مساجدو يادونه ده، د مصر په نورو ښارونو کې چې د اخوان تر نګراني او ملکيت لاندې کوم مساجد دي هغه لدې نه عليحده او جلا دي. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د "خواري کښو او مزدورانو شعبه" خپله هم د مزدورانو ټولنيز خدمت کوي يعني د هغوی د مشکلاتو حل وړاندي کوي، د دې شعبې دفتر چي د اخوان په مرکز کي واقع دی، او پکي د مزدورانو لپاره د مسائلو په حلولو کي خصوصي مهارت لرونکي وکيلان موجود دي، چي ددوی سالمه رهبري کوي او دوی ته د دوی د ګټو لار ښيي، دا شعبه بې روزګاره او بې کاره خلکو ته د کار زمينه برابروي، د دوی لپاره د ايمپلايمنټ ايکسچينج او نورو تجارتي او صنعتي کمپنيو کي منډي وهي چي اخوان هلته ښه تعلقات لري.

په مرکز کي چي د "کاسبانو شعبه" ده هغه هم د خپلو سرګرميو علاوه ځيني ټولنيز خدمات سرته رسوي، د دوی په قانون کي ئې صراحت هم شوی دی چي د هغه په اغراضو او اهدافو کي د "مصر او نورو اسلامي هيوادونو د صنعت د خاوندانو تر منځ تعلقات استوارول" دي، د دې لپاره چي دوی کومه طريقه غوره کړې ده هغه دا ده چي "کاسب شخصيات، د انجمنونو، کلبونو او جماعتونو او سيمه ايزو او بين المللي علمي ادارو سره اړيکي ساتي او برابروي او د ضرورت او امکان مطابق سند يافته اخوانيان په دولتي يا غير دولتي خدماتو کي د ځای پر ځای کولو انتظام کوي.

دلته د ټولنيزو خدماتو د موضوع په مناسبت موږ د "کاسبو خلکو د شعبې" يوازي د دوو ښاخونو يادونه کوو:

**ا: د زراعت د ماهرينو شعبه:** د دې شعبې په اغراضو او اهدافو کي د زراعت اصلاحي طريقې وړاندي کول، زرعي صنعتي پلانونه ترتيبول، او تر کومه ځايه چي ممکن وي د محدودو شرکتونو يا Coopperative Socities کو آپريتيو سوسائټيز په ذريعه ورباندي عمل کول دي، ځيني اسکيمونه ئې په لاندي ډول دي:

**الف-** د شيدو نه تيارېدونکي شيان Dairy Product

**ب-** سبزيجات او ميوې په ډبو کي خوندي کول او د نباتاتو نه ترلاسه شوي دواوي، روغنيات او داسي نور...

**ج-** د زرعي پيداوار د معيار د اوچتولو لپاره او د پيداوار زياتولو په موخه په لاندينيو طريقو باندي استوار اسکيمونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- بزګرانو ته پر نويو طريقو د زراعت کولو ترغيب ورکول او هڅول.

۲- د اعلی درجې تخم کارول.

۳- د څارويو د نسل زياتولو ته پاملرنه او د هغوی نه د ممتازو نسلونو روزنه.

۴- د زرعي ماشيني آلاتو په مټ خپل منځي تعاون او مرسته او په وسيله ئي ګټه پورته کول، تر څو د څارويو شيدې، مستې... او د نسل افزائش ئې مخصوص پاتي شي.

۵- د بې آزاره حيواناتو په صحيح او علمي بنيادونو باندي پرورش او روزنه.

۶- د عسلو د مچيو او د ورېښمو د چينجيو ساتنه عامول.

۷- په مرستي سره د محصولاتو د بازار(نرخ) مقررول.

۸- په ګډه سره د کليوالو صنعتونو توسيع او پراخول.

**۲: د عمرانياتو د شعبې ماهرين:** تفصيل ئې په لاندي ډول دی:

۱- عمراني مسائلو ته زړه ښه کول او د عمرانياتو ماهرين

۲- د رفاهي بيمې محکمه(Social Security Department) د رفاهي بيمې د عمرانياتو ماهرين

۳- د کښت ګرو د عمرانياتو ماهرين

۴- د عمرانياتو شعبې"د ادبياتو پوهنځی" سند لرونکي او فارغ شوي محصلين

۵- د "تولنيزو خدماتو مکاتب" نه سند تر لاسه کړي، د دې شعبې اهداف و مقاصد په لاندي ډول دي:

۱- داسي علمي تحقيقات وړاندي کول چي د اسلامي اصولو په رڼا کي د "ټولنيز انصاف " Social Justice په قائمولو کي د حکومت رهبري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په عوامي خدماتو کي برخه اخيستل، د هغه لپاره علمي تحقيقات او فني راپورونه وړاندي کول چي په رڼا کي ئې د افلاس، جهالت، ناروغی او اخلاقي انحطاط د پاکولو لپاره د ټولنيزو ادارو تأسيس په عمل کي راوستل شي، د دې شعبې فريضه دا هم ده چي هغه د داسي ټولنيزو ادارو تر منځ د تعاون او مرستي ډګر برابر کړي.

۳- د اخوانيانو د ټولنيزو خدماتو لپاره اقدامات کول، او هغه په داسي توګه چي د ټولنيزو اسکيمونو په څېر د عامه(سوشل) بيمې، د صحت بيمې او حسنه قرض نظام عام کړل شي، په همدې توګه د افرادو پر مشکلاتو باندي غور و فکر کول او د هغوی د حلولو لپاره وسائل وړاندي کړای شي.

۴- عام ټولنيز او د فکر و عمل ميدانونه او د اخوان د راپورونو جمع کول، په داسي توګه د هغوی ترتيبول چي د هغوی تحقيقي مطالعه او تحليل وشي، او ګټور نتائج تري اخذ شي، او د دعوت په ميدان کي ګټه تري پورته کړای شي.

د دې شعبې "تنفيذي کميټئ" چي د پورته مقاصدو د تنفيذ فرائض سرته رسوي په لاندي ډول دي:

۱- د ټولنيزي سرشمېرني کمېټه

۲- د ټولنيزي منصوبه بندی کمېټه

۳- د ټولنيزو خدماتو تنظيمي کمېټه

۴- د ثبت او نشر و اشاعت کمېټه

**د محصلينو د شعبې:** کار دا دی چي څومره محصلين چي د اخوان د تحريک سره تړاو لري د هغوی د ضرورياتو تکميل او د هغوی تر منځ مدرسي مرستي تنظيم کړي، د ګرميو په رخصتيو کي د استفادې او افادې انتظام وکړي، محصلينو طالبعلمانو ته ووايي چي د مدرسې عملي سرګرميو نه کومي ګټي ترلاسه کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کورنیو شعبه:** دا شعبه په خپلې روحاني او تربيتي سرګرمۍ او کارکردګۍ نه علاوه په ټولنيزې کار ګزارۍ کې هم ونډه اخلي، لکه څرنګه چې د شعبې په دستور العمل کې دي چې د کورنيو د افرادو تر منځ د اخوت او ورورۍ روابط مضبوط کړای شي، د دې کاري دستور له مخې پر دوی واجب ده چې هره هفته د شعبې د دفتر علاوه پر يو ځای سره راغونډ شي، د جمعې د لمونځ لپاره په يو مسجد کې سره راجمع شي، د مياشتې يوه شپه د ښارندوی کېمپنګScout Camping پر طريقې باندې يو ځای تېره کړي، او د شپې ډوډۍ او سهار ناشته يو ځای وکړي، په دې دستور العمل کې افراد"کورنۍ" (أُسرة) د مشکلاتو د حلولو طريقه هم وړاندې شوې ده، چې ياد مشکلات به د افرادو د مشر(د کورنۍ نګران) په مخکې وړاندې کيږي، که چيرې هلته حل نشي بيا به د شعبې د مشر خواته ځي، که چيرې هغه هم نابرياليی شو نو بيا به د کمېټې عمومي مشر د هغه فيصله کوي او هغه به نو حتماً منل کيږي، د کورنيو نظام پر هر اخواني خپل منځې کورنۍ کفالت لازمي او اجباري کړيدی، او هغه ته دوی دومره عظمت ورکړی دی چې د اصل ايمان او حقيقي اخوت نوم ئې ورکړی دی.

اخوان د خپل نهضت په داخل کې "د خپل منځې ټولنيز کفالت" اسکيم ته عملي جامه وراغوستې ده، د منځنۍ قاهرې د"منطقې" لاندې د "محلة باب الشعرية د شعبې" د خپل منځې مرستې پر نظام باندې دا اسکيم چلولی دی، هر اخواني لس قرشه[1] پکې مياشتنۍ برخمن وي، بيا دا ټولې پيسې جمع کيږي او په تجارتي کارونو کې لګول کيږي، د دې تجارت ګټه د داسې اخوانيانو په مرستې کې مصرفيږي چې کاروبار ئې کله وي او کله نه يا ئې مالي حالت د مرستې متقاضې او غوښتونکی وي.

..............................................................

[1]قرش: مصري سکه ګواکې د يوې روپۍ برابر(اوس ۱۹۹۷م نه ۳۰دېرش کاله مخکې ئې ډېر قيمت درلود، خو اوس زموږ د روپيو په څېر بې قيمته دي) په يو مصري پاؤنډ(جبنيه) کې ۱۰۰ قرشه موجود وي. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي نړۍ تر منځ د روابطو شعبه: د اسلامي نړۍ سره د روابطو دا شعبه د هیواد نه بهر د خپلي عملي سرګرمی سره سره د ضرورت مندو بهرنیو محصلینو ټولنیز خدمت کوي، چي حالات ئې د مرستي متقاضي وي، د تحقیق وروسته هغوی ته میاشتنۍ امدادي وظیفه ورکوي، پدې توګه معمولي مالي خدمات په دغو هیوادونو کي مصري ټولني ته زبردست معنوي او مادي ګټه ور رسوي، د کومو هیوادونو نه چي دا محصلین راغلي وي چي کله خپلو هیوادونو ته ستانه شي نو دا فائده څرګندیږي، د یو ځل واقعه به ولیکم چي کله یو زبر ځواک هیواد په کونسلګرۍ کي د محصلینو د یو ګروپ هغه پیسې چي د کورنیو له لوري ورته رالیږل شوي وې وګرځولې، او د ورکولو لپاره ئې دا شرط ورته وړاندي کړ چي دا محصلین دي پردې وطني سیاسي جدوجهد باندي د نفرت اظهار وکړي چي د دوی سرپرستان او اقارب ئې کوي، محصلینو دا شرط ونه منی، او د روابطو د شعبې لمني ته ئې پناه یووړه، چي دې شعبې د دوی ستاینه وکړه او د دې صورتحال د لري کېدلو تر وخته ئې د دوی لپاره ضروري میاشتنی امداد وټاکی، چي له دې نه محصلین ډیر متأثر شول او خپل هیوادونو ته تر ستنېدلو وروسته ئې د دې احسان بدله په څو چنده زیاته بیه اداء کړه، د اخوان بلکي ټولي مصري ټولني لپاره دا کار د یو ستر پروپاګند سبب شو.

اخوان د فلسطیني مهاجرینو د مرستي لپاره د فلسطیني ریل په نوم یو زبردست پلان باندي عمل کول غوښتل، چي ددې لپاره پر دوی د چندو او مرستو باران پیل شو، او دوی عملاً د ریل ګاډی ډبې په کرایه ونیولې، خو د نقراشي[1] پاشا حکومت دغه سکیم متوقف کی، دده دا ګمان وو چي پدې کار سره به د اخوان لپاره ډیر پروپاګند کیږي، او بیا وروسته همدا پلان په ۱۹۵۲م کي د فوځي کودتا نه وروسته "د رحم ګاډی" په نوم باندي یو ځل بیا پیل شو.

نمونه ابیزه مرستندویه ټولنه(Model Cooperative Society) :

اخوان یوازي د خپلو خاصو مشکلاتو د علاج په موخه په یوه محدوده دائره کي پر جدوجهد او مرستي باندي اکتفاء ونکړه بلکي دوی دغه تعاون د خپل منځي مرستي د ژوند په پراخو دائرو کي د غوړولو هڅي وکړې، نو ځکه هم دوی د دې نقطهٔ نظر لاندي د کورنیو د تعمیر لپاره، د کورونو د پر شا کولو لپاره، یوه نمونه ابیزه مرستندویه ټولنه په پخواني مصر کي تأسیس کړه چي اوس ئې دفتر په شارع ۷۷ الملکه(قاهره) کي دی، او د یوې نمونې په څېر مرستندویه کالوني ئې جوړه کړه، چي د اوسېدونکو لپاره ئې شرط دا کېښود چي هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیک نومي او خوش اخلاق وي، د خپل منځي تعاون او عامو همدردانه اخلاقو درلودونکي به وي، تر څو یوه داسي پاکه او صافه ټولنه جوړه کړل شي چي ټول افراد ئې د یو بل خیر غوښتونکي او درد مند وي، د دې منصوبې اقتصادي امتیاز دادی چي د دې کورونو د جوړولو، ځمکي او د هغې خوا و شا د باغچې ټول مصارف به د یو زر ۱۰۰۰پاؤنډونو نه تجاوز نه کوي.

په دې توګه هغوی د دغو امتیازاتو نه برخمن کېدای شي چي د کو آپرېټیو ټولنو د قانون مطابق دوی ته ورپه برخه شوي، هر کور پر ۴۰۰میتره مربع ځمکي باندي جوړیږي، ۱۵۰میتره د کور لپاره او ۲۵۰میتره د باغچې لپاره، د بیي اداء کول به ئې په قسطونو ممکن وي، چي کوم مزدور، خواري کښه او د متوسطي درجې تاجر او نورو... غوندي د محدودي آمدنۍ درلودونکي و کولای شي د دې کور د بیي لومړنۍ قسط ۵/۱ حصه ئې د پېشګۍ په صورت کي اداء کړي، او کور به ورته ورکړل شي.

هغه نوري پیسې به د لسو کلونو په موده کي د قسطونو یه صورت کي اداء کوي، په کالونۍ کي چي کوم تجارتي، صنعتي او نور څومره اقتصادي شیانو ضرورت وي هغه ټول به د ټولني مِلکیت وي، چي ګټه به ئې ټوله د یادي ټولني غړو ته ورووېشل کیږي، په دې ډول سره به د خود غرضۍ فردي نظام پر ځای "د خپل منځي مرستي نظام" ځای ونیسي.

..................................................

[1]د مصر پخوانی صدراعظم چي د اخوان سخت مخالف پاتي شوی دی، په لومړي باب کي ئې یادونه وشوه. ژباړن

[2]هغه پخوانی ښار چي د عمروبن العاص آباد کړ، د ډیري مودې نه دا ښار په موجوده قاهره کي شمېرل کیږي. ژباړن

[3]د ۱۹۵۲م مصري انقلاب وروسته د دې نوم مشارع الجلاء دی. ژباړن

[4]مصري پاؤنډ ۱۹۵۲م کي انګریزي پاؤنډ سره نږدې مساوي او برابر وو، خو نن سبا ئې حیثیت ډیر کم دی. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې منصوبې يو امتياز به دا وي چې هغه به د کالونۍ په داخل کې د اوسېدونکو تر منځ د وروروليۍ او خپل منځي محبت پيدا کولو هڅه کوي، د دې غرض او هدف لپاره به هغه صالح او لايق عناصر انتخابوي، د هغه هدف دا هم دی چې يو مضبوط نوی نسل چمتو کړای شي، او د هغو لپاره د ماشومانو د تعليم و تربيت انتظام د ديانت دارو او فرض شناسو خلکو په لاسونو ورکول شي، ټولنه د دې هدف لپاره "مانټيسوري مکتب" او ابتدايي او ثانوي تعليم لپاره مکاتب جوړوي، دا منصوبه په کالونۍ کې د اوسېدونکو تر منځ د "ټولنيز خپل منځي کفالت" د طريقې د رائجولو هڅه کوي، او د ټولنيزې صحت مندي بيمې(Social Health Insurance) نظريه هم په دوی کې عاموي، د ورزشي لوبو يو انجمن(Sports Clubs Society) يوه ملي کتابخانه، يو مسجد او د هغه نه علاوه د يوې نوې ټولنې لپاره چې کوم ضروري د ژوند سامان کېدای شي هغه به پيدا کوي.

دا کالونۍ به د کورونو د مشکلاتو د حلولو يوه اهمه ذريعه وي، چې د منځني درآمد خاوندان د اخوان په نښه دي، او د مثالي ټولنې په عمارت کې يوه بهترينه خښته وي.

## ۲- جسماني تربيت او ځارندويه(Scout)

**(۱) جسماني تربيت:** بدني روزنه او تربيت د اخوان په وړاندې يوه لازمي او ضروري وظيفه ده، چې هره ورځ ئې تر سره کول ضروري دی، د دې نه ئې هدف د يوه داسې کامل مسلمان چمتو کول دي چې د جهاد د ذمه داريو او دعوت بوج وزغملای شي، او دا د همهغه شخص لپاره ممکن دي چې په هغه کې د دغو د زغملو جسماني قوت موجود وي، په دې اړه دوی لاندينی نبوي صلی الله عليه وسلم مبارک حديث مخې ته ږدي:

اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِیُّ خَيْرُ وَ اَحَبُّ اِلَی اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنُ الضَّعِيْفِ

مفهوم: طاقتور مسلمان تر کمزوري مسلمان غوره او الله جل جلاله ته ډېر محبوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جسماني تربیت د دې هدف د تکمیل په موخه دوی لاندینی طریقه غوره کوي:

۱- روزانه په کور اوشعبه کي کسرت او ورزش کول.

۲- سفر او Camping(تحقیقي سفر)، اکثراً د دغو سفرونو انتظام د شعبې له لوري وي چي زیاتره ئې د زړو او قدیمو آثارو په علاقو او خالي مقاماتو کي وي.

۳- ورزشي لوبي: د اخوان سره د لوبو ډیر زیات ټیمونه موجود دي مثلاً، د فټ بال، باسکټ بال، بېډمنټن، ټیبل ټینس، درانده ورزشونه یا جمناسټک(وزن پورته کول، بوکسنګ، کُشتي) سوېډش ورزشونه، د باسکلانو مسابقه، لامبو، رګبي(دا یوه پخوانی انګریزي لوبه ده چي د باسکټ بالBasket Ball سره مشابه ده، خو دومره فرق لري چي دا لوبه د فټ بال په ګراؤنډ کي لوبول کیږي، او ګېند ئې د هګۍ په څېر وي، په دې کي د توپ د یو بل نه اخیستل او ګول کول شامل دي).

د اخوان د غیر قانوني اعلانېدلو نه مخکي د دوی ستر ستر ورزشي سالونونهSports (Clubs ول، چي د مختلفو لوبو انتظام پکي وو، غړي ئې په ډیرو مقابلو کي شریک شوي ول، چي د مصر سپورټس فېډرېشن او په نېشنل کمېټې کي ئې ریکارډونه لا هم موجود دي، دا ټورنامنټونه د اسماعیلیه، طنطا، منصوره، پورټ سعید، پورټ سویز، راس غارب، منوف، بني سویف، منیا، دمنهور، حلوان، شبین الکوم په ښارونو کي ترسره کېدل.

د هیواد په مختلفو علاقو کي د اخوان د فټ بال ۹۹ټیمونه موجود ول، چي یوازي ۳۶ئي په قاهره کي ول، ۳۲ټیمونه د باسکټ بال، ۲۸ټیمونه د ټېبل ټېنس، ۱۹ټیمونه د وزن اوچتولو، ۱۶د سوک وهنيBoxing، د کُشتي، ۸د لامبو چي د آب بازی د ټیم کوچ(مربي) او لاربښوونکی ئې مشهور نړیوال آب باز محمد مصطفی لوري د "فلسطین چمپئن شپ" او "مډل ایسټ چمپېن شپ" کي بریالی شو.

د نهضت د غیر قانوني اعلانولو وروسته که څه هم د جسماني تربیت شعبه اوس په خپل ابتدایي دور کي ده خو د هغو ټولو لوبو ټیمونه ئې جوړ کړیدي او فعلاً په هر سیمه اییز مرکز کي حد اقل یو ټیم موجود وي، یعني د مختلفو لوبو ۱۹ټیمونه(دلته باید دا خبره په ذهن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي وساتو چي اخوان تر هغه وخته د لوبو ټيمونه جوړوي تر څو هغه د پيل د هڅو په ذريعه په احسنه طريقه سره اخوان ته دا واضحه نکړي چي د دغو ټيمونو د جوړولو اساسي هدف د جسم تربيت، اخلاقو اصلاح او خپل منځي تعاون تعليم ورکول دي، يوازي د لوبو ګټل او انعامات ترلاسه کول نه، ځکه دا اخوان د مزاج مطابق ندي).

**۴ -د ګرميو د موسم کمپ:**

د تېر کال(۱۹۵۲م) په ګرميو کي اخوان دوه ستر کمپونه جوړ کړل، يو په دخيله(د اسکندريې د سمندر په غاړه لري يوه سيمه او هواداره ځای. ژباړن) پر سيمي، په دې کي شل خيمې وې، هره خيمه ده پنځو کسانو لپاره يعني د سلو نفرو کمپ وو، دا کمپ تر دوو مياشتو پوري موجود وو، او هره هفته به په نوبت نوبت مختلف جماعتونه دلته راتلل، د دوو مياشتو په موده کي ۸۰۰کسانو شرکت پکي وکړ، او دوهم کمپ د دمياط په ښار کي د حمصه پر سيمه ولګول شو، پدې کمپ کي نږدې ۱۲دوولس خيمې وې، په هره خېمه کي ۵ پنځه کسان يعني پوره کمپ پر (۶۰)شپېتو کسانو مشتمل وو، تر يوې نيمي مياشتي پوري قائم وو، هره هفته به نوي خلک ورته راتلل، يعني د ټولو راتلونکو شمېره ۳۶۰کسانو ته ورسېده.

په دغو کمپونو کي اخوان د لامبو نه علاوه ځيني د نورو ورزشونو او سختي لوبي کولې، او د شپې لخوا به ئې هم پروګرامونه برابرول، چي په هغو کي به د اخوان ډرامې ننداري ته وړاندي کېدلې.

**(ب) ځارندويي(Scouting):**

د نظرياتي نقطهٔ نګاه هدف د اخلاقِ حسنه وو او ديني تربيت په ذريعه يو صالح فرد چمتو کول دي، په دې طريقې سره د ځوانانو د خوښو سترو اهدافو بشپړول او د هغوی روزنه يو ځای ممکن ده، ځوانان په دوه ډوله دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(الف)** هغه ځوانان چې ځارندويي ځکه خوښوي چې په هغه کې د مېړاني او شهامت د طاقت اظهار دی، نو ځکه هم دوی د ځارندويۍ په تنظيم کې د خپل همدې فطري خواهش د پوره کولو لپاره شرکت کوي دلته دوی د هغه د تعليم او روزنې او تمرين په شکل کې چمتو کيږي او د وطن د يو مفيد او خير اندېشه سپاهي په څېر را اوچتيږي.

**(ب)** هغه ځوان چې د تقوی، اخلاق حسنه وو او د فضائلو تربيت ترلاسه کوي خو نه ئې کوم جسماني تربيت وي او نه عامه مطالعه، پدې توګه هغه نه جماعتي ژوند تېرول غواړي او نه هم د انساني واجباتو د آدائيګۍ، د تعاون او اشتراک سليقه لري، داسي ځوان د ځارندويۍ په تنظيم کې د شاملېدلو وروسته د انساني وررولۍ يو داسي لايق غړی ګرځي چې خپل په ذات کې د خپل اوسېدونکي ټولني او بيا د عمودي ټولني يعني مملکت حقوق په احسنه طريقه سرته رسولای شي.

د استاد حسن البنأ مرحوم په دماغ کې دا تصور په ۱۹۳۸م کې راغی چې ځوانان يو ستر طاقت دي، ضرورت دی چې هغه د ټولني سره په يو ځای کېدلو سره او ديني ژوند او اله اپرستی د دنياوي ژوند سره سره يو ځای تېرولای شي، او د دې هدف د بشپړولو لپاره چې د کومو قدرونو ضرورت دی دوی ته حاضر دي، لکه مضبوط جسم او د ټولني د خدمت تمرين، عام ځارندويه تنظيم چون تر اوسه د دې حقيقت په لور پاملرنه نه وه کړې او نه ئې ځوانان په دې خوا رهبري کړي ول، ځکه نو شيخ حسن البنأ او د سکاوټ(ځارندوی) ايسوسي ايشن تر منځ يو پراخ خليج واقع وو، همدا دليل وو چې دوی د ځوانانو د تيارولو يو خاص نظام جوړ کړ، تر څو وروسته دوی د مصري"ځارندويه تنظيم" پابند او محتاج پاتي نشي، او په نړۍ کې چې د ځارندويۍ د تحريک کوم هدف او پيام دی؛ چې د ځوانانو ديني، قومي او ټولنيزه روزنه دي وشي، پر هغه به دتګ لار دوی ته آسانه شي، په ۱۹۳۸م کې دوی ددې عنوان لومړنی تنظيم جوړ کړ، او د هغه نوم ئې جماعة السفر کېښودی، او د اسماعيليه په ښار کې ئې هغه عملي کړ او د دې جماعة لائحهٔ عمل(کاري دستور) ئې چمتو کړ، هغه ئې منظم کړ، په خپله ئې د هغه د نګراني فرائض سرته ورسول، او په خپل زړه او نظر سره ئې د هغه په لور توجه وکړه، تر داسي حده چې دا نظريه برياليۍ شوه، او اوس نو قاهرې ته د خپلي تبادلي وروسته ئې همدا تګلاره هلته رائج کړه، او بيا ئې دريم جماعت د دقلهيې په ولايت کې او څلورم په شرقي ولايت کې قائم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۴۰م کي استاد حسن البنأ په سنجيدګي سره غور و فکر وکړ چي د سکاوټ ايسوسي اېشن په عمومي نظام کي باقاعده داخل شي تر څو د اخوان د جماعة او بالخصوص"جماعة السفر" د دغو آسانتياوو او امتيازاتو نه برخمن شي چي په دې ايسوسي اېشن کي د رجسترډ کېدلو وروسته ورپه برخه کېدل، او ددې نه علاوه د هغو اخواني ځوانانو نه ګټه پورته کړای شي چي په ايسوسي اېشن کي يا د هغه نه بهر د مخبربت په ميدان کي باقاعده خدمات ترسره کړي.

نو ځکه لومړنی ځارندويه ګروپ تأسيس کړل شو او ثبت هم شو، دا ګروپ محمد ابوالسعود او عبدالعزيز احمد تر صدارت لاندي وو، ۳۵افرادو ګډون پکي کړی وو، چي اکثريت ئې هغه وخت د اخوان د "تأسيسي مجلس" غړي ول، دې نظريې ډير رواج وموند، او د قاهرې په ټولنه کي ئې اثر ظاهر شو، د دې لومړنی کمپ د ۱۹۳۹م په پای کي په اسکندريه کي د "دخيلې" په سيمه کي جوړ شو، په همدې موده کي مېجر محمود لبيب د دې ګروپ سره متعارف شو، او د ده د اخوان ځوانان ډير خوښ شول، د ده ډير ارمان وو چي په مصر کي داسي ځوانان وای چي په ايمان و قوت دواړو باندي مسلح وي نو ځکه هم ده د اخواني ځوانانو په روزنه کي پوره پوره ونډه واخيستله.

د ۱۹۴۹م په پيل کي د اخوان په حلقه کي د ځارندويي د سيسټم لومړنی تشکيل وشو چي د هغه لپاره يو خاص منهج غوره شو، تر څو په ټول هيواد کي عام کړل شي، نو د هغه اهداف او مقاصد ئې لاندني وټاکل:

(۱) ځوانان د هيواد قوت وي او د هغوی هڅي پر يو واحد مرکز او محور راغونډول ضروري دي.

(۲) د قائدينو يو جماعت تيارول چي د دغو جماعتونو د روزني بار پر اوږه واخلي او د اخواني مخبريت د نظريې د اهدافو او مقاصدو تمرين دوی ته ورکول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) د اخوان په هره شعبه کي کم از کم د دريو کلونو لپاره د لسو داسي اخواني عملي غړو يو جماعت تشکيل کړل شي چي په روحاني او اخلاقي طرز کي ممتاز وي او اخواني فکر د دوی په رګ او وينه کي په ښه توګه سرايت کړی وي.

(۴) په هرو دوو مياشتو کي هر جماعت ته د پنځو نويو افرادو د شاملولو اجازه ورکول، په دې توګه د خپل منځي مرستي په ذريعه دوی اخواني اهداف او مقاصد په ښه طريقې سره درک کولای او منلای شي، او د خپلو مخکنيو(اسلافو) د اخلاقو نه متأثر کېدلای شي.

بيا همدا نظريه په لاندي ډول عملي کېدلای شي:

۱- اخواني څارندويي د (جواله) يو ستر امريت وګرځېدی چي پر ۷اوو افرادو مشتمل وو، عام مرشد(د اخوان عمومي مشر) د هغه مشر پروفيسر ډاکټر کمال الدين حسين، ډائريکټر جنرل مېجر محمود لبيب مرحوم، انسپکټر جنرل او حضرات محمود ابوالسعود، سعدالوليلي، عبدالغني عابدين، عبدالعزيز احمد غړي مقرر شول.

۲- د دغو څارندويه جماعتونو د نګراني لپاره د ۳۵افسرانو روزل او د دوی لپاره د تمريناتي مکتب افتتاح(د وړانديز مطابق د څارندويئ د ممتازو خلکو په لاسونو په دوو مياشتو کي د يادو ۳۵ نفرو روزنه بشپړ شوه).

۳- په پيل کي په قاهره کي د داسي څارندويي جماعتونو تشکيل وشو او دا روزل شوي افسران پر دوی څارونکي وګمارل شول.

۴- په قاهره کي د دې پلان د بريا وروسته په اسکندريه کي عمل ورباندي وشو، بيا د ټولو ولايتونو پر نماينده ګانو باندي مشتمل عمومي کمپ تأسيس شو تر څو هغوی د خپلو حلقاتو د روزني لپاره چمتو کړل شي.

۵- د ۱۹۵۱م په پيل کي د اخوان المسلمين د څارندويانو شمېر دوه زرو ۲۰۰۰ ته رسېدلی وو، بيا د دې نظريې اشاعت او خپرول ډېر شو، او د ځوانانو په ماغزو باندي خپرېده، ځکه په خپل ظاهري شکل کي هغه د دوی د خواهشاتو د بشپړولو يوه غوره ذريعه وه، دوی به پکي شاملېدل او په ډېره کمه موده کي به د اخوان نظربه د دوی زړونو ته ورننوتله، او د هغې د خپرولو په هڅو کي به ئې ونډه اخيستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۴۱م کي دغه ځوانان د عام خدمت په لور مائل شول، اوس نو دوی په خپلو تشکيلاتو لکه "د ټولنيزو خدماتو او پرمختګ شعبې" په دائره کي د عامو انسانانو په خدمت کي عملي ونډه واخيستله، د هر انسان مرسته کوي، هر ضرورت مند ته مرسته او تکيه ورکوي.

په ۱۹۴۲م کي د ځارندويانو شمېر(۱۵۰۰۰) پنځلس زرو ته ورسېدی، ځکه اوس دا طريقه کليو ته هم په رسېدو وه، په کليوالي ټولنه کي د دې ځارندويي تحريک ډېر اثر پرېوتی، هغه کليوال چي د لوڅو پښو په ګرځېدلو يه عادي شوي وو اوس د جورابو او بوټونو په اغوستلو عادت شوي وو، او هغه چي د کلي د طريقې مطابق به ئې پراخ او ډيله جامې اغوستلې اوس ئې په ځارندويي نظام کي چسپې جامې اغوستلې، همهغه چي مخکي به ټيټ روان وو اوس به په سيده ملا روان وو، او هم هغه کليوال چي مخکي به ئې غير جماعتي ژوند تيروی اوس جماعتي ژوند تېروي او د هغه پابند هم شول، اوس نو د دغو افرادو ټول عمر او هڅې يوازي تر همده پوري محدودي پاتي نشوې بلکي هغه د خپل دوهم هيوادوال، کليوال خدمت خپل فرض او وظيفه بولي، دا ټول خدمات د اخواني تنظيماتو په دائرې کي دننه ول.

په ۱۹۴۳م کي اخوان يو تنظيمي مهم پيل کړ، لکه څرنګه چي دوی د لومړي ځل لپاره په مصري ديني حلقه کي يوه ټولنيزه منصوبه وچلوله چي لاندي خدمات پکي شامل ول:

۱- د کليوالو او د هغوی د معززينو د يوې کميټې تشکيل، چي کار ئې د کليو د جګړو ختمول او د مخالفينوتر منځ خپل منځی سوله کول دي.

۲- په کلي کي چي کوم اخواني ځارندويان دي د هغوی په ذريعه د کليو او سړکونو صفايي کول.

۳- د کليو پر سړکونو د رڼا په موخه څراغونه لګول، ددې لپاره به د سيمه ايېزو خلکو نه پيسې را جمع کيږي او د کليو ځارندويه ځوانان به د هغوی د چلولو او د هغوی د ساتنې وظيفه ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په امکاني حدودو کي تر دوی پوري طبي خدمات ورسوي، لکه د کليو خلکو ته دا ور ښودل چي د علاج لپاره بهترين ځای شفاخانه وي، که څه هم هغه په هنګامي او فوري حالاتو کي د ځان سره دواوي او داسي نور لازم مواد وړدي.

۵- د کلي خلک عام ټولنيز ژوند ته رانږدې کول، د دې لپاره داسي غونډې کول چي په هغه کي د کليو ټول ځوانان برخه واخلي او په دې توګه خپل په منځ کي د تعارف عادي او معاشرتي ژوند تيروول زده کړي.

۶- جائز او پاکي لوبي او د "دلچسپيو" روح پکي پيدا کول، چي پر روزنيزو اصولو د نيکۍ په لور مائلوي، مېړانه پيدا کوي او د هيواد خدمت ته ئې هڅوي.

۷- په خپله وړوکې ټولنه کي يعني د کلي د ترقۍ په کارونو کي د کليوالو ځوانانو همت افزائي کول.

۸- په نږدې کليو کي د سفر دعوت ورکول، تر څو په دې توګه د هر تحصيل په ځوانانو کي عليحده عليحده خپل منځي تعارف او تعلقات پيدا شي، او په دوی کي دي ټولنيز اتحاد او هم آهنګي پيدا کړل شي.

په ۱۹۴۵م کي د ښارندويه ځوانانو شمېر(۴۵۰۰۰) زرو ته ورسېدی، ځکه ځوانانو ته اطمينان ورکول شوی وو چي دا به په دوی کي د قوت و طاقت د پيدا کولو يوه ذريعه وي چي هدف ئې پر چا د ظلم او زياتي کولو نه بلکي د وطن خدمت او د خپل ذات او شخصيت د فلاح او بريا لپاره د جسم او روح روزنه ده.

ځوانان چي په اخواني "ښارندويه تنظيم" کي پر شاملېدلو باندي کوم شي په شدت سره چمتو کړل هغه غربي استعمار او د هغه بدترين آثار ول، په داسي وخت کي چي کله په ځوانانو کي نزاکت پسندي او زنانه توب عام شوی وو دا يوازينۍ داسي تحريک وو چي د دوی په زړونو کي ئې د مېړاني او ننګ جواهر پيدا کولای شول، نو ځکه هم ځوانانو په خپل ځان کي دا اوصاف پيدا کول غوښتل، د اخوان دا سپاهيانه تحريک د دوی پناه ګاه وه او په دې ډول سره د دوی تعداد او شمېر ورځ په ورځ مخ په زياتېدو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کال چي کله په صعيد(د مصر لري پرته سيمه) کي د ملیریا وباء خپره شوه نو د اخواني اسکاؤټ(ځارندويه) تنظيم مشرتابه هلته د خلکو د مرستي په اړه فکر وکړ، ده د صعيد ټول اخواني ځارندويه ځوانان دې ته چمتو کړل چي د حفظان صحت د محکمې "هلالِ احمر" سور صليب د انجمنونو او نورو جماعتونو سره په بشپړه توګه مرسته وکړي دوی د ځارندويئ شعار چي خدمتِ خلق دی بهترين مثالونه وړاندي کړل.

په همدې زمانه کي چي کله صعيد د ملېريا په تباه کاريو کي راګېر وو، ناڅاپه د يو زبردست سېلاب ښکار شو، چي کلي او بانده ئې وېجاړ کړل، په دې وخت کي هم اخواني ځارندوی تنظيم په پلونو باندي پيره کوله او پوليس به ئې خبرول او د کليوالو او دولتي مأمورينو سره ئې په حفاظتي تدابيرو کي برخه اخيستله، دوی دوې مياشتي مسلسل د دغو سيلابونو مقابله وکړه، يوازي په صعيد کي نه بلکي د هيواد په ټوله شمالي برخه کي د راغليو سېلابونو نه د خلاصون بار پر اخوان وو.

په ۱۹۴۶م کي د هغو خدماتو اثرات پر خلکو واضح شول او هغوی اوس په ډيره تيزي سره په اخواني ځارندويه تنظيم کي شامليږي، او د ۱۹۴۶م په اواخرو کي يو دم د دوی شمېر ۶۰۰۰زرو ته ورسېدی.

په ۱۹۴۷م کي د هيواد په شمالي حصه کي کالرا(کولرا) خپره شوه، ملت د خدمت او مرستي په موخه خلک چمتو کړل، خو ډيره د افسوس خبره ده چي د حکومت نه ډېرو ذمه دارو خلکو د وباء او مرګ له ويري تېښته کوله، حالانکه په داسي وخت کي د اخواني ځارندوی امريت د دې وباء د کمولو په موخه ۷۰۰۰۰اويا زره ځارندويه ځوانان د حکومت تر امريت لاندي د کارکولو لپاره وړاندي کړل، پر دې موقع باندي ځارندويه ځوانانو او د صحت ذمه دارانو تر منځ مشورې لپاره يوه کميټه جوړه شوه، پدې کميټې کي د اخوان دوه نماينده ګان موجود ول، مېجر محمود لبيب مرحوم او عبدالغني عابدين، ځارندويه ځوانانو په ډېر همت سره کار وکړ، خصوصاً په کليو کي چيري چي دوی خلکو ته وښودل چي د "کالرا په مرض د اخته کسانو مسؤلين نه خبرول ډير خطرناک دي"، د خلکو او مريضانو په وخت ذمه دارو کسانو ته ورتلل، هغوی د مريضو خلکو نه خبرول او د احتياطي تدابيرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کول او پر هغوی د عمل کولو لپاره دا هڅې ډېري بریالی وې، او د وباء په کمولو کې ډېر مؤثر ثابت شول، پر دې موقع باندې د حکومت د ذمه دارانو د اعتراف اندازه له دې بیان نه کېدلای شي چې د اخوان د هڅو د تعریف کولو په لړ کې ډاکټر نجیب سکندر ورکړی وو.

اخواني څارندویي تنظیم چې د وباء په زمانه کې کوم خدمات سرته رسول هغه په لاندې ډول دي:

اولاً په کلیو کې:

(۱) د هیضې د حالاتو او حملاتو اطلاع ورکول.

(۲) د وباء ځپلو کلیو محاصره کول، او څوک داسې کلیو ته نه ور پرېښودل او نه راپرېښودل.

(۳) اعلانات یا د وزارتِ صحت د پروپاګند کولو والا وو په لاؤډ سپیکرونو او موټرونو په ذریعه په کلیو او کوڅو کې طبي هدایات ورکول.

ثانیاً په ښارونو کې:

(۱) په ناپاکو او چټلو محلونو کې صفایي کول، چې د محلې پر خلکو ئې زیات اثر وکړ، ځکه د څارندویه ځوانان چې اکثریت ئې تعلیم آفته دي په خپلو جاړو واهه.

(۲) د D.D.T په پمپونو د کورونو صفا کول، او خلک د هغوی د دواء د پاشلو د ګټو نه خبرول، چې خلک ترې مطمئن شي.

(۳) د ګندګیو، امبارو او غلیظو ځایونو اطلاع ښاروالی ته ورسول.

(۴) په مساجدو او څلور لارو باندې هدایات لګول او په دیوالونو د بېنرونو(Banners) لګول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) د ۱۹۴۷م کال د ختمېدلو په وخت د ځارندویه ځوانانو شمېر(۷۵۰۰۰) زرو ته ورسېدی، او بیا په آخر کي په ۱۹۴۸م کي د اخوان د غیر قانوني اعلانېدلو تر وخته همدا شمېر وو.

د ۲۶ جولای ۱۹۵۲م د فوځي انقلاب وروسته اخوان تر ټولو نه مخکي په مصري ځارندویي کي د اصلاح کولو ضرورت احساس کړ تر څو هغه پر دې سیده لار باندي ولاړ شي او ګټه پورته کړای شي چي پر هغه باندي اخواني ځارندویان عمل کوونکي ول.

دوی د حکومتي ذمه دارانو سره په یو ځای کېدلو باندي د دغو اوامرو د اصلاح په اړه د غور و خوض لپاره کوم چي د اخواني ځارندوی او مصري ځارندویانو د خپل منځي نزاع سبب وو، د یوې کمیټۍ د جوړولو وړاندیز وکړ، د اخوان نقطهٔ نظر دا وو چي دوی ځارندویه تحریک د تربیت، مېړاني او طاقت تحریک بولي نه د نزاکت خوښوني ، زنانه یي او د غربي فېشن ځای، حکومتي مسؤلینو د دوی دې اصلاحي دعوت ته لبیک وواېه. په ۱۰ اګست ۱۹۵۲م کي د لومړي ځل لپاره د دې کونسل غونډه وشوه، او د ځارندویه تنظیم یو ځل لومړنی عارضي کیمیټۍ جوړه شوه، چي په هغه کي د ځوانانو عناصرو غلبه وه، چي دوی د ځارندویۍ تحریک د هغه پر صحیح لار او لوري روان کړ، د جنرل کونسل یوه کاري کمیټۍ جوړه شوه چي په هغه کي صحیح او دیانت دار خلک شامل ول چي تر دوو کلونو پوري د دې ځارندویه تنظیم لپاره مرسته کړې وه، ډاکټر عباس عمار د "عامه رفاهي امورو د وزارت" د وزیر کېدلو وروسته نوي ځارندویه تنظیم ته ډېري مرستي ورکول شولې، ځکه موصوف هم د ځارندویه تنظیم د ځوانانو د تربیت یوه وسیله بلله، دا د حیرت ځای دی چي هغه وخت په ځارندویه تحریک کي مخکښ اخوان وو خو پدې حیثیت نه چي هغه اخواني وو بلکي له دې حیثیته چي هغوی د مطلوبه اصلاح پر اصولو یقین کاوه.

یوازي د دوو میاشتو په عرصه کي د قوم لپاره مخلصو او طاقتورو ځوانانو یو لوی تعداد تیار شو چي له دې شمېر نه د ځارندویه تنظیم تر اوسه پوري تاریخ خالي وو، د عیسایي او اسلامي فرقو او ډلو تر منځ د خپل منځي ربط و محبت فضاء قائمه شوه، مصري او غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصري ټول خلک د میني، د هیواد د خدمت او د هغه لپاره د هر ډول قرباني ورکولو ته چمتو او متحد شول.

بیا نو دوی د عوامي خدمت په میدان کي عملي ونډه واخیستله او ځرنګه چي د "امان هفتې" پلان تیار شو د هغه لاس او مټ وګرځېدل، چي ولسمشر او صدراعظم محمد نجیب او د هغه ملګرو اعتراف ورباندي وکړ، حتی چي موصوف ولسمشر او فوځي افسرانو دا محسوسه کړه چي ځارندویه تنظیم په حقیقت کي یو دفاعي تنظیم دی په دې ډول سره دوی د ټول هیواد خلک په دې تنظیم کي د شاملېدلو لپاره وهڅول او په هري مدرسې، هري کارخاني او هره مزرعه کي ئې د ځارندویۍ پر ضرورت فشار واچوی.

د ولسمشر محمد نجیب پر دغو اصولونو یقین او د هغو لپاره د ده جدوجهد او هڅي دومره ممتازي او ښائیستې وې چي ځارندویه ایسوسي ایشن په ۲۶ اپریل ۱۹۵۳م کي هغه ته تر ټولو ستر ځارندویه مډال ورکړ، په دې موده کي چي اخواني ځارندویانو کومي هڅي او خدمات سرته ورسول هغه د هر فرد په سترګو کي ځرګند ول.

اوس د اپریل په آخره ۱۹۵۳م کي د اخواني ځارندویانو شمېر ۷۰۰۰ اوه زره دی.

دغه اخواني ځارندوی ګروپ د ۲۶/جولای/۱۹۵۲م نه وروسته جوړ شوی دی، چي وروسته د اخوان ذمه دار خلک مطمئن شول چي اوس په مصر کي د ځارندویانو تنظیم واګي د دیانت دارو خلکو په لاسونو کي دي او دوی ئې پر صحیح لاري چلوي.

په مصر کي سکاوټ ایسوسي ایشن هم اوس د کلیو لپاره د ټولنیزو خدماتو پلانونه چمتو کوي، چي د دې په ذریعه به د صحیح ټولنیزو بنیادي اصولونو باندي تعمیرېږي او د دې کار ستر بوج به پر اخوان واچول شي ځکه هغه په کلیو کي خپاره شوي دي او د دوی لاس رسی هلته آسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- ملي او وطني خدمات:

**(۱) وطني خدمات:** د اخوان د نظريۀ حيات او مقاصدو په وړاندي کولو سره موږ دا ويلي دي چي د اخوان په نزد د وطنيت حد بندي د عقيدې له نګاه او لرليد نه کيږي نه د جغرافيايي حدودو له مخي، خو د حالاتو خرابي او په مصري ټولني کي د اوسېدلو په سبب د دوی ټولنه او اصلي وطن يعني مصر د دوی د زياتو توجهاتو مرکز وو، په پيل کي خو به دوی د حکومت وزراوو ته خطوط وليکل او د ټولني د معاشرتي او اقتصادي اصلاح غوښتنه به ئې تري کوله، خو چي کله دوی يو قوت او ملي آواز شو نو نه يوازې دا چي تحريري وسائل ئې کافي او بشپړ بلل، بلکي په سترو سترو جلسو او طاقتورو مظاهرو ئې لاس پوري کړ چي پر حکومت باندي نظر انداز کېدلای شول او د ذلت او غلامی د ترونونو په لار کي يو عوامي خنډ جوړېدلای شوای، لکه څرنګه چي د"صدقي او بيون تړون[1]" په سلسله رامنځ ته شو.

دا خبره په خاصه توګه د توجه وړ ده چي اخوان ملت ته صحيح وطنيت وروښود، او د بې ساري وطنيت اعلی مثالونه ئې وړاندي کړل، کنه تر اوسه به د خلکو د وطنيت په ارتباط يوازي د سياسي جهت بندی باندي متمرکز وای او چي هر کار د خپل ګوند د ګټو لپاره وای هغه به ئې وطنيت بللای، که به څه هم د هغو لپاره هرڅومره غلط وسائل پکار نه اچول کېدلای، او همدا دليل وو چي هر نوي راتلونکی نظام به د مخکني حکومت ټول کارونه غلط او نفي کول، که به څه هم هغه ټول د ملت په ګټه ول، هدف به ئې دا وو چي د پخواني وزارت پر اصلاحي او تعميري کارونو باندي پرده واچول شي تر څو ملت ئې نوم هم وانخلي، د هغو څو حکومتونو پرته چي آزاده پاليسي به ئې درلوده، او د ډيرو لږو وختونو لپاره قائم شول، په دوی کي خصوصاً د علي ماهر وزارت شامل وو، د فوځي کودتا نه مخکي چي کوم وزارتونه جوړ شول د هغوی ټولو همدا حالت وو.

........................................................

[1] د مصر د صدراعظم صدقي او د برطانيې د خارجه وزير بې ون غوښتل يو تړون لاسليک کړي، چي اخوان د دې تړون مانع شو، کنه تر ننه به د سويز نه انګرېزان نه وو وتلي. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حالاتو په دې شرمېدلي ړَو کي اخوان خپل مقام او پوزيشن ډېر مضبوط وساتئ او په هره سياسي مسئله کي ئې په پوره وضاحت او قوت سره خپله رأيه وړاندي کوله، د بې پري او اخلاص وطنيت مثالونه ئې قائمول، او يوازي د حق لپاره به ئې د حق تائيد کاوه، په دې اړه دوی د هيچا د دوستئ او دښمنئ نه متأثر نشول، چي د دې بهترين مثال د دوی د امن د مجلس"سيکورټي کونسل" په ملل متحد کي د نقراشي پاشا حمايت او تائيد کول دي، د دې باوجود چي امريکا ته تر سفر کولو مخکي نقراشي د اخوان ډېر سخت دښمن وو، تر داسي حده چي د ملت لويي برخي دا تصديق نشو کولای چي اخوان دي دومره لوړ شوی وي، ځکه تر اوسه دوی د داسي اخلاص مثالونه نه وو ليدلي، او بيا عام اخلاق د انتهايي انحطاط په حالت کي وو، ځينو خلکو د دغه تائيد د غير معمولي واقع کېدلو په سبب مخالفت وکړ چي د نورو ګوندونو دغه پرو پاګند ئې هم رښتيا وبلل چي د اخوان او سعديانو تر منځ اتحاد شوی دی خو څو ورځي وروسته دا حقيقت څرګند شو، چي کله نقراشي له امريکا نه راستون شو او د ده د وطن په حقوقو کي له سستئ او کوتاهئ نه کار واخيست نو اخوان دا هر څه ونه زغمل او د هغه او اخوان تر منځ داسي شديد مخالفت پيدا شو چی د مصر په معاصر تاريخ کي ئې مثال نشو موندلای چي د يو وزارت او ګوند او يا د يو ګوند دي د بل وزارت سره داسي مخالفت واقع شوی وي.

د مصر په ګوټ ګوټ کي خپرې شوي اخواني شعبې د وطنيت او جهاد مدرسې وې، چي د هيواد د اشغال شويو حقوقو د غوښتلو په وخت په پوره توګه مصروف په کار وې، د دې نه علاوه د مصر کوم ګوند داسي نه وو چي په هغه کي دي د اخوان د پښو په څېر محکم څه مقرر وي.

مختصراً موږ ويلای شو چي اخوان لاندني وطني خدمات سر ته رسولي دي:

۱- په ښارونو کي په عوامي حلقاتو او کليو کي ئې د اطرافو په حلقاتو کي سياسي جهالت له منځه يووړ.

۲- د ملت او عوامو د ټولنيز ژوند سره ربط پيدا کول او هغوی د وطن د خدمت سره عادي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په ځوانانو کي ئې د مردانګۍ او مېړاني روح پوه کړه، او په عوامو کي ئې د هیواد د خدمت روح را بیداره کړه، چي له ډېري مودې نه استعماري قوت یعني انګریزانو ځپلې وه او لا ئې هم د دغو جواهرو د ځپلو هڅي کولې.

۴- د تازه ترین سیاسي صورتحال او کشمکش نه خلک او په خاصه توګه ښاري او کلیوال اشخاص په صحیح توګه خبرول، خصوصاً چي کله کومه داسي مسئله وي چي په مخفي توګه ترسره کیږي، او په هغه کي د هیواد تاوان وي چي داسي به نو هره ورځ کېدل.

۵- د یو نوي نسل تربیت چي په هغه کي به د وطنیت او جهاد جذبات په بشپړه توګه ځای پر ځای شوي وي او هغه د هیواد د دفاع او د هغه د عزت لپاره خپل ځان و مال او د هر عزیز شي د قربانولو لپاره هر وخت چمتو وي لکه څرنګه چي د انقلاب نه مخکي د سویز کانال په مصر کي رامخ ته شوی وو[1].

غالباً هیڅوک هم د پورتنیو پنځو خدماتو نه د یوه نه هم انکار نشي کولای، ځکه اخوان چي د خلکو په ذهني تربیت کي کوم جدوجهد وکړ، موجوده سیاسي شعور د هغه په اړه شاهد دی، په همدې ډول د فاسدو حکومتونو(وزارتونو) په خلاف چي دوی کوم جدوجهد او کوششونه وکړل د هغوی نه هم څوک انکار نشي کولای چي د هغه له وجي ځیني وزارتونه لکه د صدقي وزارت چي د انګریزانو سره ئې دوستانه تړون غوښتی، نو د دولتي اعلامیو په ذریعه به ئې پر دوی داسي اتهامات واردول او دوی به ئې بدنامول چي نه کله چا اورېدلي ول او نه ئې لیدلي ول، د هغه وروسته چي د سعدیانو کوم وزارتونه راغلل د هغوی مخالفت او د دښمني ئې هم وکړه.

........................................................

[1]په ۱۹۵۲م کي وفدي حکومت چي کله په ۱۹۳۶م کي مصري او برطانوي تړون یو طرفه ختم کړ، په نتیجه کي ئې مصریانو او په سویز کانال کي موجود د انګریزي فوځونو تر منځ نښتي رامنځ ته شوې، نو په هغو کي اخوان مخکښ وو، د اخوان ډېر ستر ستر مبترز او قابل ځوانان په دغو نښتو کي شهیدان شول. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سویز کانال په سیمه کي د هیواد د دفاع په سلسله کي چي اخوان کومي هڅي وکړې د هغه په لور مو اشار کړېده، دلته همدومره کافي دي چي شهید شوي ډېری ځوانان اخوانیان ول، اضافه لا دا چي د نُحاس وزارت اعتراف هم پري کړیدی، چي دوی د اخوان سره خبري کول غوښتل تر څو د آزادی د تحریک سرپرستي د دوی په لاس ورکړي ځکه اخوان د هغه تر ټولو زیات اهل وو.

دا خبره هم په خاصه توګه د یادوني وړ ده چي د اخوان سیاسي رهبري پر علمي او تحقیقي اساساتو قائم وو، دا کوم سطحي او جذباتي تحریک نه وو، دوی پر ۱۲دوولسو افرادو مشتمله یوه سیاسي کمېټه جوړه کړې وه چي کار ئې پر عامو سیاسي حالاتو غور و فکر، د راتلونکو حالاتو مطالعه او اخوان د هغه نه خبرول وو، تر څو په اخوان کي دننه په مجموعي توګه سیاسي بصیرت پیدا شي او دا بصیرت لا ژور کړل شي.

## (ب) قومي خدمات:

د قومیت او ملیت نه دلته زموږ هدف هغه قومیت دی چي مثال ئې اخوان د فلسطین په جګړه کي وړاندي کړی وو، چي د هغه مثال په ټولو عربي سلطنتونو او عوامي حلقاتو کي نشو موندلای، دلته موږ دا ویل غواړو چي د فلسطین جګړه د کوم لپاره چي اخوان د پوره مستعدئ څرګندونه وکړه، د هغې په لور ئې دعوت وکړ، د هغې د منلو او په هغې کي د شرکت کولو لپاره ئې اذهان تیارول لکه څرنګه چي ځیني ډارن او مات شوي خلک وایي، د مصر لپاره د مادي یا معنوي تاوانونو سبب نه وو، بلکي هغه د خطر داسي زنګ وو چي مصري قوم ئې په هغه غار کي د ولېدلو نه وژغوری چي پر غاړه ئې پخوانی خود سره پاچا او د هغه همهغه مجرم حاشیه نشین ملګرو په واسطه رسېدلي وو، چي د هغوی مجرمانه ذهنیت تر داسي حده لوړ شوی وو چي هغوی د هیواد او هیوادوالو په روزي او مال باندي ډاکه اچوله او د هغه لوټل ئې کافي نه بلل بلکي د الله جل جلاله د بندګانو ځانونه او عزتونه هم د دوی د لوبو په نښه شول، دغو مجرمینو په دې جګړه کي(د فلسطین د جګړي پر وخت) خرابي اسلحې رانیولې تر څو دوی د معصومو او هیواد د مجاهدینو د شهداوو د لاښونو په لیدو سره شیطاني خنداوي وکړای شي، د فلسطین جګړه چي دعوت ئې اخوان ورکړ، او پر خپل قول و عمل ئې د پوره ګرمجوشۍ اظهار هم وکړ د مصر او مصري ټولني لپاره د څو حیثیتونو نه ډېر ګټور ثابت شو چي ځیني ئې په لاندي ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) دې جګړې د خلکو سترګې پرانيستلې، د يو داسې قوم په حيثيت چې د خپلې آزادۍ دفاع او د نورو سلطنتونو په وړاندې خپل عزت برقرار ساتل غواړي، زموږ جګړه ايېزي تيارۍ ډېرې ناقصې دي، او دا څرګندنه ده چې څوک خپل کمزوره اړخ درک کړي نو بيا د هغه د اصلاح هڅه هم کوي.

(۲) په مصري قوم کې ئې يوه نوې روح پوه کړه او د هغه بزدلانو خولې ئې وتړلې چې ويل به ئې مصري قوم يو سوله خوښوونکی ملت دی، دوی د جګړې او دفاع اهل ندي، بيا ئې په خلکو کې اعتماد پيدا کړ چې که ضروري سامان او تياري وي نو دوی په بشپړه توګه د جګړې صلاحيت لري، اخوان خپله د دې غوره مثال دی.

(۳) په ملت کې ئې د قربانۍ او مجاهدانه هڅو اميدونه را ژوندي کړل، کنه حالات داسې شوي ول چې د هر کس مخ ته يوازې د هغه خپل ذات وو، د ملت او قوم لپاره حتی وړوکې قربانۍ ته هم چمتو نه ول، اوس چې کله د اخوان د شجاعت او قربانيو مظاهر مخې ته راغلل نو د خود غرضو او منفعت خوښوونکو بنيادونه ولړزېدل.

(۴) د حقيقي مرض يعني د استعمار تر سايې لاندې اوسېدل، او د ټولو خرابيو د جرړو په لور ئې خلک متوجه کړل، دا خود سره او دوکه شوی پاچا(فاروق) وو چې پر تخت متمکن وو او همدی وو چې هيواد ئې د دغه ذلت او بې کسۍ حالت ته ورسولی وو چې اوس پکې راګېر وو، د فلسطين جګړه د دې نږدې(۱۹۵۲م) فوځې انقلاب يو مهم ترين سبب وو.

د اخوان مثالي وطنيت او قوميت چې د سترو سترو مهذبو ملتونو افراد نشو ور رسېدلای، شايد تر ټولو څرګند دليل ئې لاندې يوه واقعه وي:

عام مرشد حسن البنأ مرحوم رحمه الله به دحکومت د سختيو او نيولو او ځورولو په زمانه کې د هغو دوو مېرمنو قصه بار بار اوروله چې د يو ماشوم په اړه ئې خپله شخړه او دعوه د سليمان حکيم خواته راوړله، هرې يوې دا دعوه درلوده چې ماشوم د دې دی، سليمان حکيم حکم وکړ چې ماشوم په دوو برابرو ټوټو وويشې او هرې ميرمنې ته دې ئې يوه حصه ورکول شي، دروغجنه مور په دې تقسيم راضي شوه، او حقيقي مور دا تقسيم وغندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په هيڅ توګه داسي کار ته چمتو نشوه، بلکي خپله حصه ئې هم ور پرېښوده او دا ئې خوښه کړه چي په هر حالت کي باید ماشوم روغ پاتي شي.

د دې قصې د ویلو وروسته به ئې وفرمایل:"زموږ او د دې هیواد د حاکمانو معامله بالکل همداسي ده، د هیواد د خود مختارئ او آزادئ تر دوی ډېر غوښتونکي او قدرکوونکي یو، نو تاسي دا سخت مشکلات برداشت کړئ، د سعدي(د هغه وخت حاکم ګوند چي د اخوان سخت ترین دښمن ګوند وو. ژباړن) ګوند لپاره خپلي اوږې ټيټي کړئ، که هغوی تاسي قتل کړي، له هیواده مو وشړي خلاصه دا چي هر څه درسره وکړي، د وطن د راتلونکي او د هغه د وحدت همدا غوښتنه ده چي تاسي دا هر څه برداشت کړئ."

مرشد شهید رحمه الله ویرېده چي هسي نه د اخوان او دولت تر منځ کورنئ جګړه رامنځ ته نشي، چي په نتیجه کي به انګریزان د امن و امان د برقرارولو په پلمه او بهانه دې هیواد ته راشي، که اخوان دوی ته د اخوان د غیر قانوني اعلانولو پر حکم ردِ عمل ښودلی وای نو د دې کورنئ جګړي پوره احتمال موجود وو، ځکه هغه وخت په هیواد کي د اخواني"شعبو" شمېر دوه زره۲۰۰۰ وو چي یو سل او شل ۱۲۰ شعبې ئې یوازي په مرکز قاهره کي وې، او د هري "شعبې" لپاره ډېره آسانه وه چي هغه په لسو زره ورو، قهرمانو او جنګیالیو اخوانیانو خپله دفاع وکړي، که چیري اخوان داسي کړي وای نو هغه به راپورته شوي وای چي انګرېزانو ئې انتظار کاوه، د دوی تقراشي ته اشاره کول چي د اخوان سره دي هره سختي وکړل شي د همدې غرض تر عنوان لاندي وه، پر اخوان غیر معمولي سختي او د دوی د راپارولو حقیقت هغه وخت څرګند شو چي کله نقراشي(صدراعظم) څو سوه مسلح عسکر او لس زرّه دار موټرونه د اخوان د مرکز د محاصرې لپاره ولېږل چي په مرکز کي د لسو اخوانیانو پرته بل څوک نه وو، او هغوی هم د هیڅ ډول ردِ عمل اراده نه درلوده، د کومي شخړي پرته ئې ځانونه ور وسپارل، مرشد شهید رحمه الله ډېر اصرار وکړ چي دی دي هم د نورو اخوانیانو سره ونیول شي، خو هغوی د دې خبري په کولو سره انکار وکړ چي ګواکي دوی ته داسي امر ندی شوی!!! چي بیا نو مرشد مرحوم وفرمایل: "تاسي مي ځکه نه نیسئ چي زما د وژلو اراده لرئ"، دا خبره په سبا سهار په خبر پاڼو کي نشر شوه او چي څه ئې فرمایلي وو بالاخره همهغسي وشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان يو بل موقف همداسي وو چي په اعتراف كي ئې سر ټيټ شي، دا د هغو اخواني مجاهدينو موقف وو چي هلته د فلسطين په جګړه كي ئې د شجاعت داد وركوي، او دلته د دوی ګوند غير قانوني اعلانوي، په دې وخت كي د جګړي ستر مأموريت دا ګمان وكړ چي اخوانيان بايد د فوځ د مرستي نه لاسونه پورته كړي، خصوصاً چي كله پر فوځ د غلطو پاليسيو په سبب چي پر دوی په قاهره كې ناستو سياسي كسانو د جګړي په ميدان كي كماندړانو ته هدايات وركول، دا ډير سخت وو خو د دغو ټولو وهمونو برعكس اخوان د انتهايي لوړ ظرفيت او بې مثاله وطنيت ثبوت وړاندي كړ، په هره معركه كي په يوه انتهايي جانبازي سره وجنګېدل، او د هيواد په دفاع كي ئې د خپلو وينو آخري څاڅكو د بهولو نه هم ډډه ونكړه، بالخصوص كوم وخت چي يهودي فوځونو د هيواد په مشرقي حدودو باندي حمله وكړه، حتی چي د جنرال فواد صادق"كماندړ انچيف" نه ئې د اخوان په اړه وپوښتل نو هغه د دې اعتراف په ويلو سره ځواب وركړ:"د اخوان المسلمين بې حده زړه ور او جنګيالي سپاهيان ول، دوی په انتهايي ايماندارۍ او قربانۍ سره خپلي فريضې سرته ورسولې."

د دې ډول معنوي برتريو سره اخوان جګړه وكړه چي فوځي سپاهيانو او افسرانو كي د معنوي قوت د پيدا كولو تر ټولو ستر محركين ول، د جګړي پر ختمېدلو دغو مجاهدينو ته چي كومه بدله وركول شوه هغه د دوی د نيولو او بندي كولو حكم وو، بالاخره دوی د رفح(د فلسطين او مصر سرحدي بندر) په چاونۍ كي بندي شول.

دلته موږ د دې پرته چي دا ووايو نشو پاتېدلای چي د فلسطين په جګړه كي د اخوان جهاد تر اوسه پوري د مصريانو لپاره د افتخار موجب دی، او په ټولو عربي هيوادونو كي د مصري شجاعت او ميړاني موضوع د خبرو مهمه نقطه ده، د فلسطين يوه اخواني مجاهد افسر يو كتاب ليكلی دی، "اخوان المسلمين د فلسطين په جګړه كي[1]" دا كتاب د اخوان لپاره د فخر و عظمت يو ځلانده مرقع ده، چي په هغه كي هيڅ ډول خيال آرائي او يا مبالغه نشته بلكي هغه د ستركو ليدلي حالات او واقعات او د جګړه ايېزو معركو سيده ساده بيان دی، لومړی چاپ ئې فوراً وپلورل شو او اوس د دوهم ځل لپاره چاپ شوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي خدماتو د يادولو په ترڅ کي موږ ته دومره ويل حتماً معلوميږي چي اخوان د عرب ليګ د تقويت تر ټولو ستر سبب وو، دوی د عرب دولتونو تر منځ همغږي او ارتباط پيدا کړ او پدې اړه ئې ستر خدمات سرته ورسول.

........................................................

[1]دا د استاد کامل شريف تصنيف دی چه په ۱۹۵۳م کي پر اخوان د جمال عبدالناصر د ظلمونو او د سختيو په سبب اردن ته تللی وو، د هغه ځای تابعيت تر لاسه کړ، دی په پاکستان کي د اردن سفير هم پاتي شوی دی، له څه مودې نه په عمان کي يوه ورځپانه"الدستور" چاپوي، او اوس(۱۹۹۸م) کي په اسلامي دعوت کي مصروف دی، ما ځو ځله د هغوی سره ملاقات کړی دی.. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## ثقافتي خدمات

د مصري ټولني ثقافتي خدمات چي اخوان سرته رسولي دي او رسوي ئې هغه ټول موږ په ځلورو برخو تقسیمولای شو:

١- روحاني تربيتي ٢- اسلامي ثقافت

٣- علمي تعليمي ۴- لاربښوونکي يا تحقيقي مقالې

اوس موږ د هر يوه جلا يادونه کوو:

**١- روحاني تربيتي:** اخوان پر روحاني تربيت ډېر فشار اچوي، په تيرو پاڼو کي د للّهيت او هر اړخيزيت تر عنوان لاندي موږ د هغوی يادونه کړې ده، د کورنيو(اُسُر) چي کوم نظام په اخوان کي دی هغه ٣٩فرائض پر هر اخواني اجباري کړيدي، چي په سر کي ئې دا دي چي هر اخواني به د قرآن تلاوت مسلسل هره ورځ کوي چي تر يوې سپارې به کم نه وي، په غوره انداز کي به تلاوت وکړي او يا ورته غوږ شي او په ژباړه کي ئې غور و فکر وکړي.

دې نظام پر اخوان ۴٠نور فرائض واجب کړيدي، چي د پورته يادو شويو فرائضو سره چندان مختلف ندي، په فرائضو کي آخري دا دي چي هره ورځ تر ويده کېدلو مخکي هر اخواني بايد يو څه وخت مقرر کړي تر څو په دغه وخت کي د خپل نفس سره محاسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي چي تر کومه ځايه ئې دا فرائض سرته رسولي دي، که خير په نظر ورغی نو د الله تعالی جل جلاله حمد دي اداء کړي، او که بيا ځان مقصر وومي نو بيا دي د الله جل جلاله نه ښننه وغواړي او د هغه په لور دي رجوع وکړي.

د اخوان په مرکز کي چي کومه د "کورنيو شعبه" شته هغه د ټول اخوان د روحاني تربيت نګران او ذمه دار ده، او د دې سلسلې ټول هدايات د همدې شعبې له دفتره صادريږي، "کورنۍ"(أُسره) د اخوان د روحاني تربيت عملي ډګر دی.

د "اخوات المسلمات/مسلماني خوېندي" لپاره چي لومړنۍ رساله نشر شوه په هغې کي د دوی لپاره د روحاني تربيت يو بشپړ نظام وو، په هغه کي دا ويل شوي چي د هري "کورنۍ" يا "أُسره" د افرادو شمېر له ۵-پنځو نه نيولې تر ۸-اتو پوري وي او په هفته کي يو ځل د دې اجتماع وکړي، تربيت ئې پر څلورو مراحلو وېشلی دی، او د يوې مرحلې نه تر بلي مرحلې پوري ئې د تلو لپاره امتحانات مقرر کړيدي.

اخوان په خپل روحاني تربيتي پروګرام کي وړوکي ماشومان هم شامل کړيدي. د "جمعي د مدارسو" په نوم چي اخوان د نوي نسل پر اسلامي اصولو د روزلو په نيت کوم مدارس تأسيس کړيدي د هغه په تربيتي نظام کي د هغه صراحت شوی دی، چي په هغه کي به د أُسوهٔ حسنه مقام ممتاز وي، او بايد هڅه وشي چي ماشومان عبادات په شوق او رغبت سره ادا کړي، د ويري او خوف له امله نه، د دوی لپاره د قصو او داسي ترانو نه ګټه پورته کړای شي چي ماشومان په ښه انداز کي ورباندي پوه شي.

په دغو "مدارسِ جمعه وو" کي د روحاني تربيت يو مفصل کورس مقرر شوی دی، چي په هغه کي ديني، اخلاقي او وطني ترانې او قصې ايښودل دي او د هغو د ور لوستلو او ور ښودلو طريقې ښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- اسلامي ثقافت:** په "مرکز" کي چي کومه د "دعوت و اشاعت شعبه" ده، هغه دا خدمت کوي. همدا شعبه د تقریرونو او خطباتو لپاره مبلغین چمتو کوي، د ضرورت مطابق رسالي او اخبار نشروي، اخوان المسلمین چي د دعوت د موضوع په اړه کوم رسائل او کتابونه چاپوي د هغي نشرول تنظیموي، داسي چي کومه رساله د شعبي د مطالعي او منظورېدلو پرته نشر نشي.

د اخوان د مرکز نه تر اوسه لاندي کتابونه او رسالي چاپ شوي او نشر شوي دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱-دعوتُنا | زموږ دعوت | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۲-الی اَیِّ شَئيٍ ندعوا الناس | موږ خلکو ته د څه دعوت ورکوو؟ | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۳-نحو النور | د نور په خوا | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۴-هل نحنُ قوم عملیون؟ | آیا موږ عملي خلک یو؟ | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۵-المنهاج | کاري طریقه | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۶-المناجاة | سرګوشي | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۷-المأثورات | مسنوني دعاوي | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۸-عقیدتنا | زموږ عقیده | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۹-رسالة المؤتمر الخامس | د پنځم کانفرانس پیغام | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۰-الاخوان تحت رایة القران | اخوان د قرآن تر بیرغ لاندي | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۱-العقائد | عقائد الاستاد | حسن البنأ مرحوم |
| ۱۲-الی اخوان الکتائب | د اخواني تربیتي ګروپونو په نوم | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۳-رسالة المؤتمر السادس | د شپږم کانفرانس پیغام | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۴-بین الامس و الیوم | پرونړ او نن | الاستاد حشن البنأ مرحوم |
| ۱۵-نظام الاسر و رسالة التعالیم | د کورنیو نظام او تعلیمي رساله | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۶-مشکلاتنا فی ضوء النظام الاسلامی | زموږ مشکلات د اسلامي نظام په رڼا کي | الاستاد حسن البنأ مرحوم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷-دعوتنا فی طور جدید | زموږ د دعوت نوې مرحله | الاستاد حسن البنأ مرحوم |
| ۱۸-دستورُنا | زموږ قانون | استاد حسن الهظيبي(اوسنی مرشد) |
| ۱۹-الرسالة الاولی للاخوات | د خويندو لومړی رساله | د اخوات المسلمات شعبه |
| ۲۰-کيف ندعوا الناس | موږ خلکو ته څنګه دعوت ورکړو؟ | عبد البديع صقر |
| ۲۱-تذکرة الدعاة | د حق داعيانو ته نصيحتونه | بهي الخولي |
| ۲۲-المرأة بين البيت و المجتمع | په کور او ټولنه کي د ميرمني مقام | بهي الخولي |

۲۳-صفحة من مساوئ الاستعمار فی وادی النيل / د نيل په دره کي د استعمار د تباهيو يو پاڼه محمد عبد الباري

۲۴-المنهج الدراسي الاسلامی الاخوان الأُسر / په "کورني نظام" پوري د منسلکو اخوانيانو د اسلامي مطالعي نصاب

يادونه: [1]يعني د ۱۹۴۹م نه تر ۱۹۴۵م پوري د هغه وروسته جمال عبدالناصر اخوان المسلمين غير قانوني اعلان کړ او ضهيبي رح ئي زندان ته وليږی ډيره موده مخکي وفات شويدی.(ژباړن/۱۹۹۷م)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې شعبې نه اووه کتابچې نشر شولې:

د هغوی نه علاوه د اخوان نور ډیر تأیفات دي خو هغه د مرکز نه ندي نشر شوي چې ځیني ئې په ډول دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱-الاسلام والاوضاع الاقتصادية | اسلام او موجوده اقتصادي مسائل | محمد الغزالي |
| ۲-الاسلام والمنهاج الاشتراكية | اسلام او اشتراکي اساليب | محمد الغزالي |
| ۳-عقيدة المسلم | د مسلمان عقيده | محمد الغزالي |
| ۴-من ههُنا نعلم | له همدې ځایه ئې باید زده کړو | محمد الغزالي |
| ۵-تأملات فى الدين و الحياة | د دین او ژوند څو فکري شیبې | محمد الغزالي |
| ۶-الاسلام و اوضاعنا القانونية | اسلام او زموږ موجوده قانوني مسائل | عبدالقادر عوده(شهيد) |
| ۷-المال و الحكم فى الاسلام | مال او حکومت د اسلام له نظره | عبدالقادر عوده(شهيد) |
| ۸-الاسلام بين جهل أبنائه و عجز علمائه | د عامو مسلمانانو د جهل او د علماوو د علم تر منځ د اسلام ځورونکی حالت | عبدالقادر عوده(شهيد) |
| ۹-التشريع الجنائي فى الاسلام[1] | د اسلام فوجداري نظام | عبدالقادر عوده(شهيد) |

یادونه: [1]د کتاب مؤلف ددې کتاب یادونه نه وه کړې، د موصوف شهید دا یو ضخیم معرکة الآرا کتاب دی چې د اهمیت له امله ئې موږ یادونه مناسبه وبلل.(ژباړن)

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰-العدالة الاجتماعية فى الاسلام | په اسلام کې ټولنیزه برابري | سيد قطب(شهيد) |
| ۱۱-السلام العالمي و الاسلام | د عالَم او اسلام امن | سيد قطب(شهيد) |
| ۱۲-معركة الاسلام و الراسمالية | د اسلام او سرمایه داری جګړه | سيد قطب(شهيد) |
| ۱۳-الاسلامية لا شيوعية و لا رأسمالية | نه کمیونیزم نه سرمایه دارانه نظام بلکې اسلام | بهي الخولي |
| ۱۴-القرآن والذرة | قرآن او "جوهر"(ایټم) | ډاکټر محمود حامد |
| ۱۵-فقه السنة | فقه، حدیث | سيد سابق |
| ۱۶-المعزّلدين الله الفاطمى | معزالدين الله الفاطمي | عبدالرحمن البنّا |
| ۱۷-الهجرة | هجرت | عبدالرحمن البنّا |
| ۱۸-بدر | (غزوهٔ)بدر | عبدالرحمن البنّا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹-ثورة الدم | د ويني بغاوت | عبدالرحمن البنّا |
| ۲۰-روح و ريحان | رحمت و ريحان | احمد انس الحجاجى |
| ۲۱-مع المرأة المسلمة | مسلمانه مېرمن | احمد انس الحجاجى |
| ۲۲-ثلاثة و ثلاث | درې او درې | احمد انس الحجاجى |
| ۲۳-محاكمة | محكمه | احمد انس الحجاجى |
| ۲۴-وثائق | وثائق | احمد انس الحجاجى |
| ۲۵-رجل الساعة | د زماني سړی | احمد انس الحجاجى |
| ۲۶-صوت من جنّة الثورة | د انقلابي جنت نه يو آواز | احمد انس الحجاجي |
| ۲۷-الرجل الذب اشعل | چا چي اور بل کړ | احمد انس الحجاجى |
| ۲۸-الامام([1]الجزء الاول) | امام لومړی برخه | احمد انس الحجاجى |
| ۲۹-الامام(الجزء الثانى) | امام دوهمه برخه | احمد انس الحجاجى |

يادونه: [1]د شهيد حسن البنا د ژوند سوانح(ژباړن)

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰-الاخوان المسلمون فى ميزان الحق | اخوان المسلمين د حق په ترازو کي | انورالجندى |
| ۳۱-فائدة الدعوة | د دعوت ګټه | انورالجندى |
| ۳۲-مع بعثة الحج | د حاجيانو سره وفد | انور الجندى |
| ۳۳-المسألة المصرية | مصري مسئله | انور الجندى |
| ۳۴-تاريخ الرسول | د رسول تاريخ | انور الجندى |
| ۳۵-شمائل الرسول | د رسول شمائل | انورالجندى |
| ۳۶-الزعامة النبوية | نبوي مشرتابه | انور الجندى |
| ۳۷-القيادة و الجندية | قيادت او ډلګۍ | انور الجندى |
| ۳۸-أثر الدعوة الاسلامية فى الصحافة والادب | پر صحافت او ادب د اسلامي دعوت اثر | انور الجندى |
| ۳۹-قضايا الاقطار الاسلامية | د سسلامي هيوادونو مسائل | انور الجندى |
| ۴۰-كفاح الذبيحين-فلسطين و الغرب | فلسطين او غرب د دوو ذبيحو جدوجهد | انور الجندى |
| ۴۱-الاسلام بزحف | اسلام مخ په وړاندي ځي | انور الجندى |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲-الوفد الاخوان فی المیزان | وفد(گوند) او اخوان په ترازو | کي کامل الشافعی |
| ۴۳-دولة الخلق | اخلاقي سلطنت | کامل الشافعی |
| ۴۴-دعوتنا والوحدة الدينية | زموږ دعوت او ديني اتحاد | کامل الشافعی |
| ۴۵-الاسلام يحارب الفقر | اسلام د افلاس دښمن دی | محمد فتحی عثمان |
| ۴۶-مصرع الفقر فی الاسلام | په اسلام کي د افلاس جنازه | علی شحاته |
| ۴۷-قذائف الحق | د حق گولي | محمد جبرالتيميمی |
| ۴۸-مسلاد الخلود | د ابديت د پيدا کېدو ورځ | احمد مختار رمزی |
| ۴۹-الشهدآء | شهداء | شعبهٔ طلاب |
| ۵۰-سلسلة الابحاث الجامعية جزئين | د پوهنتون تحقيقي مقالي | شعبهٔ طلاب |
| ۵۱-فيلسوف من الغرب | د غرب يو فلسفي | شعبهٔ طلاب |
| ۵۲-من انت؟ | ته څوک ئي؟ | شعبهٔ طلاب |
| ۵۳-مجلة البركان | د آتش فشان مجلة | د پورټ سعيد محصلين |
| ۵۴-اخبار السويس | د سويز خبرونه | د سويز محصلين |
| ۵۵-تاريخ القرآن و اداب التلاوة | د قرآن تاريخ او تلاوت آداب | احمد لطفی عبدالبديع |
| ۵۶-انهيار الحضارة الغربية | د غربي تمدن زوال | انور جندی |
| ۵۷-اخوانيات-ديوان شعر | اخوانيات-اشعار | رشيد ابومره |
| ۵۸-من وحی الدعوة-ديوان شعر | د دعوت الهام-اشعار | ابراهيم عبدالفتاح |
| ۵۹-البواكير-ديوان شعر | شگوفي-اشعار | عبدالحكيم عابدين |
| ۶۰-الشيوعية و الاسلام | كمونيزم او اسلام | عمر هندی |
| ۶۱-بين الهدی والضلال | هدايت او ضلالت | لبيب البيومی |
| ۶۲-الرجل المستجاب الدعاء | مستجاب الدعوات انسان | لبيب البيومی |
| ۶۳-تاريخ الدعوة | د دعوت تاريخ | احمد عبدالجليل |
| ۶۴-الاسلام | اسلام(انگريزي) | عبدالسميع المصري |
| ۶۵-القرآن و العلوم الحديثة | قرآن او نوي علوم | احمد كامل ضوء |
| ۶۶-الصراع | كشمكش | عبدالمجيد محمد هيكل |
| ۶۷-القتال فی الاسلام | جگړه په اسلام كي | احمد نار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي ثقافت د اشاعت په نړۍ کي د اخوان هڅي يوازي د دغو کتابونو او رسالو تر چاپ پوري محدودي ندي پاتي شوي، بلکي د تصنيف و تأليف سره ئې نور وسائل هم انتخاب کړل چي ځيني ئې په لاندي ډول دي:

**(۱)- د اسلامي اعيادو او نورو مناسبتونو پر وخت عامي غونډي:**

د دغو جلساتو انعقاد د "فلاح او پرمختګ د شعبې" په غاړه وي، او د"نشرِ دعوت شعبه" بيا په دغو د تقاريرو اهتمام کوي، چي عموماً په عامو ميدانونو کي ترسره کيږي تر څو ټول عوام ګټه تري پورته شي.

**(۲)- منظم دروس او خطبې:**

چي دا نو عموماً اوونيزي وي، او تر ټولو مهم ترين ئې د سه شنبې تقرير وي چي خپله به د حسن البنأ مرحوم له خوا ترسره کېده، او اوس د "نشر و اشاعت شعبه"د دغو تقاريرو اهتمام او نګراني کوي، په همدې توګه په ټولو شعبو کي په هفته کي يو تقرير ترسره کېدل ضروري[2] دی، دا د سه شنبې پرته په بله کومه ورځ ترسره کيږي، تر څو ټول د مرکز په مهمه غونډه[3] کي شريک شي.

**(۳)- اخواني صحافت:**

صحافت په طبعي توګه عوامو ته د نږدې کېدلو، پراخ نفوذ او په عوامي حلقاتو کي د اسلامي ثقافت د عامولو تر ټولو مؤثره طريقه ده، د غير قانوني اعلانېدلو نه مخکي د اخوان لاندني جرائد چاپېدل:

| | | |
|---|---|---|
| ۱- جريدة | الاخوان المسلمون | ورځپانه |
| ۲- مجلة | الاخوان المسلمون | اوونيزه |
| ۳- مجلة | الشهاب | مياشتنی ګڼه |
| ۴- مجلة | الكشكول | اوونيزه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه رسالې چې که څه هم د اخوان باقاعده استازي نه وې خو د دوی د فکري تګلاري نقيب ول، دغه دي:

١- مجلة الدعوة اوونيزه

٢- مجلة منزل الرحى[1] اوونيزه

٣- جريدة منبر الشرق اوونيزه

۴- مجلة المسلمون[3] مياشتنۍ ګڼه

د الشهاب او المسلمون نه پرته ټول رسائل او اخبارات د دواړو يعني اسلامي ثقافت او سياسي خبرونو حامل دي، دغه دواړه رسائل يوازي اعلى اسلامي ادبيات(لټرېچر) وړاندي کوي او معياري دي.

**(۴)- اخواني کتابتونونه:**

په "مرکز" کي يو کتابتون شته، چي په هغه کي ۲۵۰۰ کتابونه شته(چي دا د ۱۹۵۳م شمېر دی. ژباړن/۱۹۹۷م) او دا پر ۲۵ پنځه ويشتو موضوعاتو وېشل شوی دی:

.....................................................

(¹) او (²) دا دواړي رسالې بندي شوي دي،(ژباړن). د دې مرکز سره سره دا کتابتون هم د دښمن له لوري وسوځول شو.(ژباړن)

(³)اوس د ۱۹۵۴م له منځ نه يو ځل بيا"مجلة المسلمون" پيل شوه، "کينه کښ دښمن" دا مجله و نشوه زغملای ځکه هم درې مياشتي وروسته سمدستي بنده شوه.(ژباړن). وروسته بيا همدا مجله سعيد رمضان مرحوم له دمشق نه چاپول پيل کړل.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)اسلامي تاريخ (۲)د شخصيتونو نومونه (۳)نظم (۴)قرآني علوم (۵)فلسفه او منطق (۶)قصص (۷)عمرانيان (۸)سياسيات (۹)پند و نصيحت (۱۰)ژبي (۱۱)فقه (۱۲)نحو (۱۳)اخلاق (۱۴)اصول (۱۵)حديث (۱۶)عقائد (۱۷)اسلاميات (۱۸)قانون (۱۹)ادب (۲۰)بلاغت (۲۱)سيرت (۲۲)تفسير (۲۳)تصوف (۲۴)ملي او سياسي تاريخ (۲۵)د سياسي او ادبي مجلاتو فائل

لکه څرنګه چي د دې فهرست نه ښکاري چي ډيرى کتابونه په اسلامي ثقافت پوري مربوط دي، د اخوان په هره شعبه کي همداسي يوه دارالمطالعه(د مطالعې ځاى) موجوده وي، چي د هري شعبې لپاره لازمي ده، که څه هم هغه هر څومره وړوکې هم وي، "شعبة الأُسر" (د کورنيو شعبې) نن سبا داسي يوه رساله چمتو کړې ده چي په هغه کي د هري شعبې لپاره ضروري کتابونه او د هغوى د انتخاب د اهميت بيان وي، تر څو دغه کتابتونونه په پوره توګه خپل خدمات سرته ورسوي.

### ۳- علمي تعليمي:

په مرکز کي چي کومه د کاسبانو شعبه ده هغه په علمي پلانونو کي ډيره ونډه اخلي، څکه هلته هره پنجشنبه يو اعلى علمي لېکچر ورکول کيږي، چي دا لېکچر د همدې موضوع د کوم ماهر له لوري چمتو او اورول کيږي، تر اوسه د دې شعبې د انتظام او لارښووني مطابق لاندي خطبات ورکول شوي دي:

| تاريخ | موضوعات | مقرّرين |
|---|---|---|
| ۱۳/۱۱/۱۹۵۲ | اسلامي اقتصاديات | ډاکټر محمد عبدالله العربى |
| ۲۰/۱۱/۱۹۵۲ | د ځوانانو په تعمير کي د درسګاه اهميت | استاد سيد قطب |
| ۲۷/۱۱/۱۹۵۲ | د غوره ټولني په لور | استاد محمد العشماوى |
| ۴/۱۲/۱۹۵۲ | د کليو اصلاح | ډاکټر محمد عبدالله العربى |
| ۱۱/۱۲/۱۹۵۲ | د عوامي تعليم انتظام | ډاکټر ابراهيم سلامه |
| ۱۵/۱۲/۱۹۵۲ | زرعي اصلاح او د هغه اساليب | ډاکټر سعيد نجّار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱/۱/۱۹۵۳ | د اسلامي فقهي ځيني خصوصيات | ډاکټر محمد يوسف موسی |
| ۸/۱/۱۹۵۳ | اسلام او ټولنيزه برابري | شيخ محمد ابو زهره |
| ۲۲/۱/۱۹۵۳ | د صحت ترقي | ډاکټر سعيدد عبده |
| ۲۹/۱/۱۹۵۳ | د زرعي شتمنی د وسائلو ترقي | ډاکټر محمد مهدي عزونی |
| ۵/۲/۱۹۵۳ | د اصلاح زراعت پر قانون آزادانه نظر | مصطفی کامل |
| ۲۶/۲/۱۹۵۳ | د اوسني اقتصادي بحران حل | محمد عبدالله العربی |
| ۵/۳/۱۹۵۳ | ټولنه څرنګه په بريا سره د ترقی پړاونه تېرولای شي | سعيد رمضان |
| ۱۹/۳/۱۹۵۳ | کيميايي صنعتونه او د ثروت په اضافه کېدلو کي ئې اثرات | ډاکټر حسن ابراهيم |
| ۲۶/۳/۱۹۵۳ | زرعي او صنعتي توسيع او پر مختلفو ډولونو پيداوارو او ملي درآمداتو باندي ئې اثرات | پروفيس حسن عارف |
| ۲/۴/۱۹۵۳ | زموږ تعليمي سياست | پروفيسر عبدالحميد مطر |
| ۹/۴/۱۹۵۳ | په مصر کي طبي نباتات | پروفيسر عزالدين رشاد |
| ۲۳/۴/۱۹۵۳ | بيمه د اسلام په رڼا کي/مباحثه | پروفيسران:عبدالوهاب خلاف، احمد دانش، |

محمد ابو زهره، احمد غسان، محمد عبدالله دراز، زکريا محمد شفيق، محمد يوسف موسی، عبدالله فکري اباظه، محمود شلتوت، محمد عبدالعزيز، عبدالکريم منصور

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰/۴/۱۹۵۳ | مخکنی مباحثه | ----------ايضا------------ |
| ۷/۵/۱۹۵۳ | د اسلامي د اقتصادي نظام مرکزي صفات | ډاکټر زکي محمود شبانه[1] |

يادونه: [1]د ځينو مشهورو نومونو نه به تاسي ته دا اندازه شوې وي چې په لکچرونو کي حصه اخيستونکي ټول استادان د مصر علمي شتمنی او د علم خاوندان ول. ژباړن

دغو لکچرونو په عمومي توګه د خلکو د اذهانو په سوځولو کي اساسي رول اداء کړ او په پرلپسې توګه ئې د سامعينو شمېر مخ په زياتېدو وو حتی چي په پای کي ئې شمېر زرګونو ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي تصانيفو نه پرته د اخوان د عام نوعيت تصانيف هم شته دي لکه:

| نمبر | د کتاب نوم | مصنف |
|---|---|---|
| ۱- | د جوهر(اټوم) راز | پروفيسر محمود حامد |
| ۲- | علم الاساطير(ميتولوژي) | پروفيسر محمود حامد |
| ۳- | لائټ هاؤس(بحري عمود نور) | احمد عبد الجليل |
| ۴- | آلات چي د عمارتونو د بنيادونو د کيندلو په موخه په مصر کي کارول کيږي | پروفيسر محمد سعيد يوسف |
| ۵- | مظاهرې او جلسې او غونډې | پروفيسر عبدالکريم منصور |
| ۶- | عمومي اسمبلي | پروفيسر عيدالعلوي عبدالهادي |
| ۷- | زموږ تاريې شپې ۱۱/جولای/۱۸۸۲م | پروفيسر محمد منير الجندى |
| ۸- | د کائناتو کتاب | پروفيسر عبدالعزيز زهيري |

تر کومه ځايه چي د تعليمي خدماتو اړيکه ده اخوان په دې ډگر کي پر خپل ځان د بنديز لگېدلو نه مخکي او د هغه وروسته هم ډير مهم رول اداء کړيدی، د پابندئ نه مخکي دوی د تعليم په خپرولو کي په ډير شدت سره برخه واخيستله، چي بالاخره په جون۱۹۴۶م کي د اخوان په مرکز کي د تربيتي کميټې لاندي يوه ثقافتي کميټه جوړه شوه، په مئی ۱۹۴۶م کي ابتدائي او ثانوي او د نجونو او هلکانو د مکاتبو د جوړولو لپاره يوه جلا کميټئ جوړه کړه، په دغو مدارسو کي دغو خبرو ته پاملرنه شوې وه چي دوی به د نورو شخصي مکاتبو په مقابل کي امتيازي حيثيت ولري، چي د همدې لپاره ئې لاندي خدمات سرته ورسول:

۱- لوستل او د ديني ثقافت د عامولو لپاره ئې متعدد مکاتب پرانيستل چي تعليم به ئې بالکل مفت وو.

۲- د قرآن د حفظولو لپاره ئې متعددي مدرسې جوړي کړلې.

۳- د مزدورانو او بزگرانو لپاره ئې د شپې له خوا د مدارسو انتظام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په عامو امتحاناتو کي ئې د ناکامو شاګردانو لپاره خصوصي کلاسونه جوړ کړل چي په هغه کي د هر فن او علم متخصص استادان ئې د تعلیم پر ورکولو مأمور کړل.

۵- د هغو هلکانو لپاره چي په کسبونو کي د لګېدلو له امله د تعلیم نه بې برخي شوي وو، مختلفي تعلیمي شعبې پرانیستلې.

۶- د هلکانو مکاتب ئې جوړ کړل.

۷- د"امهات المؤمنین په نوم مدارس" ئې (د نجونو د تعلیم په موخه) جاري کړې.

۸- د مکاتبو تر څنګ ئې صنعتي روزنيز مرکزونه هم جوړ کړل، تر څو کوم هلکان چي خپل تعلیم نشي بشپړولای هغوی د صنعت د زده کړي نه برخمن شي.

په دغو مختلفو مدارسو او په هغوی کي د شاګردانو او استادانو شمېر معلوم ندی، خو دومره خبر یم چي دغه مدارس د هر سیمه اییز مرکز تر څنګ قائم دي، په همدې توګه په هر مقامي مرکز کي یوه نه یوه تعلیمي اداره حتماً موجوده وي، د بالغانو د تعلیمي مرکز د شاګردانو شمېر نږدې تر سلو پوري ورسېدلی وو، چي په دغو ټولو مدارسو کي ئې شمېر ډېر زیات وو چي صحیح اندازه ئې له دې نه لګولی شو چي په ۱۹۴۶م کي د مصر وزارت معارف د جهالت د ځپلو یو پروګرام جوړ کړ او د هغه نافذول ئې وغوښتل نو دوی په دې اړه د اخوان هڅي او مقبولیت په مخکي اېښودلو سره د هغوی نه د مرستي غوښتنه وکړه.

د اخوان د مقدماتو چي کوم وکیلان دفاع کوي، د هغوی په دفاترو کي د تالاشی کولو او پلټولو وروسته د اسکندریې د اخواني مکاتبو "کاري لائحې" وموندل شوې، چي په پوره توګه دا صراحت پکي شوی وو چي د مکاتبو دغه پلان د یوې شخصي(عوامي) شرکت له لوري چلول کیږي چي د غړو او شرکاوو ئې له دې کار نه کله هم هدف تجارت او بزنس ندی، د دې شرکت غرض یوازي دادی چي د مصري وزارت تعلیم د نصاب مطابق د دې تعلیم او شاګردانو ته د تربیت او روزني ورکولو لپاره مکاتب جوړ کړل شي. چي مرکزي دفتر نمبر(۱) ئې په اسماعیلیه اسکوائر(اسکندریه) کي دی،(دا د ۱۹۵۳م خبره ده.ژباړن) او موده ئې ۲۵ویشت کاله ده، چي د ۱۰مئی۱۹۴۸م نه پیل شوې، د شرکت ابتدایي سرمایه ۴۰۰۰زره مصري پاؤنډه ده(نږدې ۶۰۰۰۰زره روپۍ) به وي، چي زیاتېدلای هم شي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

به پر زرو برخو وېشل کيږي، دې شرکت لومړی د ماشومانو يو ابتدايي مکتب پرانيست، بيا ئې څه ثانوي کلاسونه پيل کړل چې د ترقي کولو وروسته ئې د ثانوي ليسې حيثيت غوره کړ، د دغو(معاهدو) درس ګاوو نومونه په لاندي ډول دي:

۱- د "حضرت عمر فاروق رضی الله عنه مثالي درسګاه"

۲- د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ابتدائي درسګاه

۳- محمديه ثانوي درسګاه

د سياسي پابندي د لري کېدلو وروسته يعني په خپله موجوده وقفه کي اخوان په تعليمي سلسله کي د شپې له خوا مدارسو او جمعي ورځو مدارسو ته ډېره پاملرنه وکړه، په ځينو "مناطقو[1]" کي د دوی نومونه د "نوي نسل مکتب، ابتدايي مکتب، د بالغانو تعليمي مدرسه" کېښودل شوي، د قاهرې په حلقه کي او جيزې تر امر لاندي چي کومي درسګاوي دي شمېر ئې په لاندي ډول دی:

(ليکوال په دې ځای کي يوه تفصيلي نقشه ورکړې ده، د نوم او سيمي د اجنبيت په سبب مورږ د هغوی يادونه دلته ونکړه، نو ځکه ئې هم پر خلاصه باندي بسنه کوو، دا وړوکي او غټي ۳۱مدرسې دي، او د شاګردانو شمېر ئې ۳۳۳۷نفره دی).

| | |
|---|---|
| ثانوي شبانه | ۱۰ |
| شبانه ابتدائي | ۱ |
| د جمعي مدارس | ۱۰ |
| ابتدائي مکاتب | ۷ |
| د بالغانو تعليم | ۲ |
| کامرس مکتب | ۱ |

..............................................

[1]د اخوان د ګوندي تنظيمي د وېش مطابق چي تفصيل ئې مخکي تېر شوی دی، "منطقه" به سيمه اييز مرکز بلل کيږي چي د"حلقې" ماتحت وي.ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۴)- تربيتي عملي تحقيقي:**

د داسي تحقيقاتو انواع په دوه ډوله وي:

(الف) د اخوان يا د عامه ذهنيت د تربيت لپاره د اسلام په رڼا كي پر موجوده پېچلو مسائلو د تحقيقي موادو چمتو كول، د هغه نه ځيني په لاندي ډول دي:

(۱) نظام الاسر(د كورنيو نظام) د هغه نشوو نمو او د هغه مقاصد، دا يوه علمي(سائنسي) رساله ده، چي د اخوان له مركزه نشر شوې ده، په اخوان كي "أُسر" د (كورنيو) چي كوم نظام دی د هغه نه دا بحث كوي، د مصر د سياست عام اړخ توضيح كوي او د هغو داخلي عواملو په لور اشاره كوي چي د اخوان په تعمير كي له پيله په كار اچول شوي دي، او د دوی د ترقيو پر مراحلو اثر انداز شوي وي، هغه د "أُسر"(كورنيو) نظام او د هغه د اركانو تشريح هم كوي، او د نظام تحقيقي كتنه كوي چي د رأيي وركولو وروسته ختميږي.

(۲) المرأة بين البيت المجتمع د استاد بهی الخولي تصنيف، د ميرمني حيثيت په ټولنه او كور كي، دا هم يو علمي كتاب دی چي پكي ويل شوي دي چي په زړو تمدنونو كي د ميرمني كوم حيثيت وو او بيا اسلام كوم حيثيت وركړ، د كورنيو حقوق، واده، ازدواجي تعلقات، طلاق، د يوې نه زياتي مېرمني، د ولادت ضبط كول، د ميرمني ښائست، د اولاد حقوق، د كورنۍ حق، ميرمن او ټولنه، ميرمن او كار(هڅه)، د ميرمني سياسي حقوق، دا ټول موضوعات د دې مباحث كلام دي.

په دغو ټولو پېچلو مسائلو كي دوی د اسلام رأيه وړاندي كړې ده، تر څو دوی د اخوان او ټولو متدينو مسلمانانو لپاره مددگار ثابت شي، او حقيقت خوښوونكي د صحيح اسلام په رڼا كي دوی خپلي كورنۍ او ټولنيز ژوند واچولی شي.

(۳) عقيدة المسلم(د مسلمانانو عقيده) مصنف:محمد الغزالي: دا پر عقيدې يو جامع تحقيقي كتاب دی چي پكي د الوهيت او توحيد، الهي صفات، قضا و قدر، د ايمان بنيادونه، گناه و توبه، رسالت او خلود او داسي نورو... باندي په داسي توگه بحث شوی دی چي د مبالغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکو تحریف، د باطل د خاوندانو تأویل او د دروغو او افتراءاتو جامې ځیري شوي دي.

(۴) الاسلام و اوضاعنا القانونية(اسلام او زموږ قانوني احوال) مصنف: عبدالقادر عوده(مرحوم): په دې کتاب کي مصنف د اروپايي ټولنيزو قوانينو او د هغوی په اړه د اسلام رأيه وړاندي کړې ده، او ویلي ئې دي چي دوی د ټولنيز نظام لپاره تر کومه حده تاواني دي، په بحث کي ئې تقابلي طرز غوره کړيدی، او د اسلام د امتيازي حيثيت په ثابتولو سره ئې د رفاه عامه لپاره د هغه قوانينو د غوره کولو پر ضرورت باندي زور اچولی دی.

(۵) تذکرة الدعاة(د حق داعيانو ته نصيحتونه) مصنف: بهی الخولی: دا يو ډير مفصل کتاب دی، چي د اخوان المسلمين دعوتي کارکوونکو ته مشورې ورکول شوي دي، د يو داعي د مهم(عملياتو) تشريح، د هغه د دعوت اصلي مآخذ، ضروري وسائل، د دعوت توضيح او د هغو مختلفو سرګرميو تعارف شوی دی، چي د هغه نه به يو داعي تيريږي چي په دې کي د تقرير، درس، خطبې، مقالې ليکنه، عامه ويناوو په اړه تفصيلي هدايات ورکول شوي دي.

**(ب)** پر دوهم نمبر هغه علمي تحقيقاتي مقالې يا کتابونه دي چي اخوان د مطلوبه اصلاح په سلسله کي د دولتونو د لارښووني لپاره ليکلي دي، په دې کي د اساسي غلطيو په لور اشاره شوې ده او پر مضبوطو صحيحو علمي بنيادونو باندي د هغوی علاج په ګوته شوی دی.

د دې سلسلې تر اوسه دوه مطبوعات شائع شوي دي:

**۱- السياسة العامة للتربية و التعليم(د تعليم و تربيت عامه پاليسي).**

دا کتاب په مرکز کي د کاسبانو د شعبې "معلمينو انجمن" نشر کړيدی، چي په هغه کي تعليم او تربيت، د تعليم مراحل او د تعليم د نصاب تربيت، د امتحاناتو پر طريقو او د يو صالح استاد روزنه او د لامرکزيت نه د نجات حاصل کوونکو موضوعاتو نه بحث پکي شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- خطوط فی الاصلاح علی ضوع الاسلام(د اصلاح خاکه د اسلام په رڼا کي) د دې دوې حصې دي: لومړی حصه"معاشیاتو" او "محصولاتو" پر موضوعاتو مشتمله ده، چي دا بیا د "کاسبانو په شعبې" پوري مربوط د معاشیاتو ماهرینو لیکلی دی، دوهم زراعت"صنعت کاري(Industrialization)" پر مواصلاتو او تعمیراتو دی، د دې حصې په چمتو کولو کي په هر فن پوري مربوطو شعبو ونډه اخیستې ده، او پر هري موضوع باندي د ماهرانه فني اسالیبو رڼا اچول شوې ده.

د دې ډول تحقیقي لټریچر(ادبیات) چمتو کول د "کاسبانو د شعبې" د فرائضو نه دي، چي کار ئې دا دی چي داسي تحقیقي لټرېچر، منصوبې او اصلاحي پروګرامونه چمتو کړي چي پر اساس ئې د ژوند د مختلفو اړخونو تنظیم د اسلامي اصولو په رڼا کي وشي، دا هم د هغوی د فرائضو نه دي چي دوی خپله کارکردګي د داخلي او بین المللي عامه رأیي لپاره نشر کړي، سیمه اییزو محکمو ته ئې وړاندي کړي او د هغه د نافذولو هڅي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم فصل

## اخوات المسلمات(مسلماني خوېندي)

په ۱۹۳۲م کي د "فرق الاخوات المسلمات" (د مسلمانو خوېندو ګروپ) په نوم د مسلمانو خوېندو لومړنۍ کمېټۍ د اسماعيليې په ښار کي تأسيس شوه، چي د "الاخوان المسلمون" د مجلې په "لومړۍ ګڼه" کي ئې خپله لائحه عمل(اساسي قانون) نشر کړه، په همدې نوم په قاهره کي هم يوه بله کمېټۍ تشکيل شوه، په ۱۹۴۴م کي ځينو"خوېندو" چي د دعوت سره ښه اشنا شوي وې او هغه د دوی په رګ او وينه کي جريان موندلی وو د خپل همدې تحريک له اساسه د تنظيم کولو اراده وکړه، او د نګرانۍ او سرپرستۍ لپاره ئې د اخوان المسلمين"مرکز" انتخاب کړ، د اخوان "مرکز ارشاد"(تنفيذي مجلس) دا ورسره ومنله، او په ۱۲د ربيع الاول ۱۳۶۳ش موافق ۱۴ اپريل ۱۹۴۴م کي لومړنۍ کاري شوری جوړه شوه، د قاهرې پر ۱۷سړک سجز الخازن، محلهٔ حلميه جديده کي ئې خپل دفتر پرانيست، د هغه وروسته د مسلمانو خوېندو دا تحريک نه يوازي په هيواد کي خپور شو بلکي د هيواد نه بهر هم ورسېده، اوس اخواني مرکز د دې خوېندو د شعبې لپاره يو مخصوص قانون چمتو کړيدی چي د هغه سره دا تنظيم لا پياوړی شو، او په پوره هڅو سره ئې د خپل مأموريتMission سر ته رسول پيل کړل.

تر ۱۹۴۸م پوري په هيواد کي د دې شعبې ښاخونه ۵۰ ته ورسېدل، چي ۵۰۰۰زره ميرمني پکي شاملي شوي وې، په دغو ديني مراکزو کي او د خپل دعوت د صحيح فهم درلودونکي قابلي مېرمنو او ځينو علماوو هم تقارير کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دسمبر ۱۹۴۸م کي چي کله اخوان غیر قانوني اعلان شو، نو د مسلمانو خوښندو فعالیتونه هم ودرېدل، خو په دغه دردوونکي وخت کي دوی د بندي شویو اخواني وړونو د کورنیو ساتنه، د هغوی سره راشه درشه او د دوی د زړونو په بیدارولو او ډاډ ورکولو کي مهم رول ولوبوی، دوی داسي کورنۍ د "خپل منځي کفالت" سره آشنا کړې، چي اسلام ئې په اړه امر کړی دی، چي پر اخوان او د دوی پر کورنیو ئې ډېر ښه اثر پرېوتی او د دوی معنوي ځواک لا قوي شو.

بیا چي کله د اخوان نه د قید و بند مشکلات لرې شول او دوی او مسلمانو خوښندو یو ځل بیا خپل دعوتي فعالیتونه پیل کړل نو د مسلمانو خوښندو شعبې خپل د یو مستقل دفتر جوړولو په اړه فکر وکړ خو چون دا کار د سرمایې محتاج وو، نو ځکه هم دوی یوه نمائشي مېله ترتیب کړه چي ۸۰مصري پاؤنډه(نږدې ۱۰۵۰روپۍ) ئې نقده سرمایه ګذاري ورباندي وکړه.

د خوښندو له لوري د دې شعبې سره مختلفي مرستي ترسره کېدلي، یا به د جامو، تارونو او نقدو پیسو په شکل کي، او یا خو به ځینو خوښندو خپل عملي خدمات وړاندي کړل، یعني د جامو د کاټولو، اوبدلو، جوړولو او خیاطي کولو خدمات ترسره کول، دا مېله د اخوان"مرکز" ته مخامخ، د پخوانۍ ورځپاڼي په دفتر کي لګېدلې وه، او د کوم ټیکټ پرته تر یوې هفتې پوري جاري وه، مېلې ته راتلونکو به دا احساس کاوه چي دلته د شیانو نرخ او قیمت تر بازار ډېر ارزانه دی، په دې میله کي د قاهرې نه علاوه د ځینو نورو ښارونو میرمنو هم ونډه واخیستله، اسکندریې یوازي نمایشي شیان او کفرالدوار، منیا، اسیوط او اسماعیلیې بیا نمایشي او د خرڅلاو شیان یعني دواړه وپلورل، په پیل کي هم ویل شوي وو چي د خرڅو شویو سامانونو د قیمت ۲۵٪ فیصد به د مسلمانو خوښندو مرکز تر لاسه کوي خو د دغو ښارونو نماینده ګانو د خپل نوي مرکز د لا مضبوط کولو په موخه د مرستي په توګه پر ۵۰٪ فیصد ورکولو زور وکړ، د دې مېلې وروسته چي حساب، کتاب وشو نو د بازار حساب تري جلا کړل شو خو بیا هم د شعبې په مالیت کي (۳۷۰)مصري پاؤنډه تقریباً (۴۶۵۰) روپۍ پاتي شوې.(دا شمېر د ۱۹۵۳م دی چي هغه وخت دا ډېري زیاتي پیسې وې. ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په پایله کي د مسلمانو خوېندو شعبې د قاهرې په روضه محله ۱۳ملک مظفر کوڅه کي خپل مرکز پرانیست.

په یاده مېله کي چي کوم شیان ایښودل شوي ول، په هغه کي د ماشومانو او مېرمنو جوړي شوي جامي، د نارینه وو قمیصونه، د ماشومانو کوټونه، عطر د خوېندو په لاس جوړ شوی صابن چي د حمامونو او جامو د مینځلو لپاره وو، مربه جات، شربت، تصویري رسمونه، دا هر څه مسلمانو خوېندو چمتو کړي وو.

د خویندو پروګرام او د هغه قواعد او ضوابط:

لومړۍ ثقافتي رساله چي مسلمانو خوېندو نشر کړه هغه"مع المرأة المسلمة"(مسلمانه میرمن) ده، چي په اکتوبر ۱۹۴۷م کي چاپ شوه، په دې رساله کي د مسلمانو خوېندو واضح پروګرام او د هغه د پیغام اړه ډېر مهم بیانات پکي شته دي، چي ځیني ئې په لاندي ډول دي:

اولاً: د موجوده ژوندانه نظام او مروج فکري نظامونو مخالفت، د موجوده خرابو حالاتو اصلاح، د میرمن په اړه د ټولني د لرلید او نقطهٔ نظر تصحیح، د هغې د حقوقو بشپړ اعتراف، هغې ته د احترام او قدر په سترګه کتل، د هغې لپاره به دوې طریقې غوره کیږي یوه ایجابي او دوهمه سلبي.

د ایجابي کارونو طریقه دا ده چي موږ خپلو هڅو ته د عملي جامې په ورواغوستلو سره تعمیري او تربیتي کارونه ترسره کړو، یعني د خپل عمل په ذریعه د یوې صالحي ټولني د تعمیرولو هڅه وکړو، او د مثالي میرمنو نموني وړاندي کړو، چي پر دغو اصولو په تلو سره چي دوی ئې غوښتونکي دي دې ټولني ته استحکام ور وبښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفي هڅې دادي چې موږ خپلې ټولې هڅې د ژوندانه نظام د جرړلو د ویستلو په لار کې وقف کړو، چې د اخلاقو خلاف، د فسق و فجور نقیب او د شرافت و اخلاقو دښمني دي، په واضحو ټکو کې هدف دا دی:

(د موجوده ژوندانه نظامونو په خلاف بغاوت، میرمنو ته د هغوی انقلابي مأموریت د چلولو په موخه روزنه، او د مطلوب اصلاحي مقصد تکمیل) موږ د میرمنو د ساتني او د قوم د ناموس د تحفظ او ساتني په موخه بغاوت کوو، میرمني به خپله د دې بغاوت بیرغ اوچتوي، چې موږ به دا زمینه ورته برابروو، موږ به تر پایه میرمن د انقلاب لپاره هڅوو، د دې هدف لپاره به موږ د هغوی روزنه کوو، او د هغو حقائقو نه به پرده پورته کوو چې د دوی نه پټ ساتل شوي دي، موږ به هغوی ته دا باور ورکړو چې د دې صورتحال او اوضاع همداسي پاتي کېدلو مطلب دا دی چې د دوی د تحقیر او رسوایي سلسله لا هم جاري ده، د دوی د عزتونو د پلورلو هڅې کیږي، دوی ته د سودا په سترګه کتل کیږي، د دوی د خرڅلاو بازارونه لا هم ګرم ساتل شوي دي، دوی د بدکارو، چالبازو او د ټولني د ټېکدارانو په وړاندي لا هم بې وسه وړاندي کیږي، موږ به دا ډاډ ورکوو چې د دې شرمناک او ذلیل صورتحال د همداسي پاتي کېدلو په صورت کې به دوی په هر میدان کې ناکامه وي، او هیڅ به هم لاسته نه ورځي.

دا هغه بنیادي ګام او د اصلاحي پروګرام مرکزي نقطه ده چې هدف ئې د سالمي نسواني بیدارئ پیدا کول، د مېرمنو چمتو کول او د دې تحریک د لاربښووني لپاره د دوی روزنه ده.

ثانیاً: د میرمنو د عامه حقوقو اعلان، د اسلامي نظام د روح او قرآني قانون نه د مأخوذ نظام پر اساس د میرمنو د اصلاح او بیدارئ د قیادت واګي د میرمنو په لاس ورکول، د میرمنو د حقوقو د اعتراف او اعلان په کولو سره د هغوی بشپړه آزادي منل، دوی ته د دوی فطري عام او خاص حقوق ورکول، او په هغو عامو انساني حقوقو کې چې د هغوی د مخصوصو فطري فرائضو سره په ټکر کې نه واقع کیږي، د نارینه سره ئې برابري او مساوات منل.

ثالثاً: د میرمني اصلاحي پیغام او د ژوند د ټولنیزي فریضې تعیین او هغه دادی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د یوې صالحي ټولني تعمیر او د لوړو اجتماعي فضائلو لاندي د هغوی څارنه".

د دې وروسته د میرمني د ژوند فریضه یوه داسي بشپړه او هر اړخیز حقیقت وګرځېدی چي د ټولو نویو نویو تعبیرونو، د ژوند د غوښتنو او ضرورتونو باندي منطبق وي، پدې شرط چي پر دغو ټولو شیانو د اعلی اخلاقو سایه وي، او د اخلاقي فضائلو پر ترازو پوره برابر وی، د دې شرط وروسته که چیري موږ د میرمنو رفاهي خدمات د کارونو لپاره ترلاسه کړو، د دوی د ټولنیزي اصلاحي سرګرمۍ اجازه ورکړو نو دا به د هغوی د ژوند په فریضه کي هم داخل وي، که چیري موږ د یوې میرمني او مور په حیثیت چي د ټولني لپاره یو صالح او کاري فرد وړاندي کوو د کور دننه هغوی ته د د دوی فطري او د ژوند اصلي فریضه ور وسپارو نو دا د دوی د ژوند غوښتنه ده، او که چیري دوی د خپل فطرت سره مناسب په هر یو انساني خدمت کي ونډه اخیستل غواړي نو دا ګډون به د دوی د ژوند د پیغام یو مهم اړخ وي، که د هیواد د جهاد د بوج په سپکولو کي را مخ ته کیږي، او خپل عملي جدوجهد، علم و ثقافت، تجاربو او بصیرت غرض د اشتراک په دغو ټولو صورتونو کي چي د دوی د فطرت مناسب او د عام اسلامي قانون د روح مخالف نه وي برخه اخلي نو دا د دوی فریضه ده، په همدې ډول که میرمني د خپلو حقوقو دغوښتني لپاره ودریږي چي هغه حقوق چي اسلام ئې ورکوي، او د همدې حقوقو د ترلاسه کولو لپاره عملي هڅي کوي او د ظلم او ټولنیزو فسادونو د ودرولو او په خلاف بغاوت کوي نو دا ئې مسلم حق دی بلکي فریضه ئې ده او په ژوند کي چي کوم پیغام هغه ږدي نو دا د همهغه پیغام غوښتنه او تقاضا ده.

رابعاً: د لائحي مطابق د کورني نظام څار او د قانون د طاقت په ذریعه خپله د میرمنو څار او ساتنه:

د دې ټول بحث نه موږ څو داسي حقائقو ته رسیږو چي د اذهانو لپاره نوي دي، یعني د خوېندو او د هغوی سره د هري میرمني لپاره د لاندینیو حقوقو اعتراف کوو:

۱- په عامو انساني حقوقو کي د نارینه او ښځینه وو تر منځ بشپړ مساوات.

۲- یوازي د څیرې او دواړو لاسونو(مړوندو پوري) د ښکاره کېدلو سره میرمن ته د کور نه د راوتلو اجازه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په ټولنيزو مصروفيتونو او خدماتو کي ميرمنو ته د ونډي اخيستلو اجازه، په دې شرط چي کوم فلاحي کار وي او کاري دائره ئې يوازي تر ميرمنو پوري محدوده وي.

همدا اوس د اخوان د حلقي نه يو کتاب نشر شوی دی، چي عنوان ئې دی(المرأة بين البيت والمجتمع) "د ميرمني حيثيت په کور او ټولنه کي" دې کتاب د سابقو حقوقو تر څنګ د لاندينيو حقوقو اضافه هم کړېده:

۱- يوازي د خاوند لپاره ميرمن د هغو نويو آرائشي شيانو استعمال کولای شي چي اثرات ئې زائليږي، خو د ښائست په موخه عمليات کول حرام دي.

۲- هغه ټول تعليمي مراحل چي د نارينه وو لپاره مباح دي، د ميرمنو لپاره هم مباح دي، خو هغه تعليم چي د يوې کورنۍ ميرمني د حيثيت له مخي د دې اصل ژوند ته ډير ګټه ښونکي وي تر مخکني ډير غوره دي.

۳- نارينه ته د خپلي مېرمني سره د تفريح لپاره پارکونو ته د تلو، د تعليمي سينما او بې ضرره تاريخي ډرامو د کتلو اجازه شته، اخوان دا حقيقت لوڅ کړيدی چي په سينما او theater کي په خپل ذات کي کومه خرابی نشته، بلکي خرابي په هغو چټلو فحشو فلمونو کي ده چي هلته خپريږي.

۴- د سخت ضرورت په وخت ميرمن ته د دولتي او غير دولتي کار کولو اجازه شته.

۵- که چيري د ميرمني صحت ته تاوان رسي يا د هغې اقتصادي حالات ئې مجبوروي نو هغې ته د ولادت د ضبطولو حق شته[1].(يادونه: [1]تر کومه ځايه چي زما علم دی په دې اړه اخوانيان متفق ندي.ژباړن)

۶- د ميرمن د سياسي حقوقو اعتراف د دې تشريح سره چي اوس زموږ ټولنه پر دې د عمل کولو لپاره سازګاره او مناسبه نده.

تر کومه ځايه چي د "خوېندو د شعبې" د تأسيس او جوړولو تعلق دی هغه د شعبې په قانون کي مختصراً په دې ټکو بيان شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(الف)** د ديني روح بيدارول، د اسلامي تعليماتو خپرول، چې د داسي سنجيده او تعليم آفته مېرمنو پر چمتو کولو پوره قادر دي، چې په ځان پوري مربوط خدمات او فرائض په احسنه طريقه سره سر ته ورسوي.

**(ب)** د اسلامي اخلاقو او آدابو وضاحت کول، چې روح پاکوي او د نيکۍ او کمال په لور لاربښوونه کوي، ورسره چې د ميرمني کوم حقوق دي او پر هغې کومي ذمه دارئ دي د هغوی نه دوی خبرول.

**(ج)** د صحيحو او ګټورو اسلامي تربيتي طريقو په لور د دوی لاربښوونه چې په ذريعه ئې ماشومان جسماني او ذهني نشونمو وکړای شي او د خراب صحت او کمزور عقل نه خوندي پاتي شي.

**(د)** د کور په اسلامي رنګ کې د رنګولو هڅه، د قرآن کريم، د رسول صلی الله عليه وسلم د سنتونو او د امهات المؤمنين د تعليماتو عامول او د هغو باکماله د تاريخ خپرول، چې اسلامي تاريخ تري ډک دی.

**(س)** د بدعاتو و خرافاتو، د دروغجنو افسانو او قصو، د غلطو افکارو او بدو عاداتو ريښي غوڅول، چې په ميرمنو کې عام او مشهور دي.

**(ص)** د ضروري تعليم او عامو معلوماتو نشرول چې د هغه نه د دوی د عقل و فهم ځلا وي.

**(ط)** پر کورني کارونو پاملرنه، په داسي ډول چې ميرمن کور داسي د خوښۍ جنت وګرځوي چې په هغه کې يوه شريفه کورنۍ پر پاکو او محکمو بنيادونو ژوند تير کړای شي.

**(ف)** د خپلو حالاتو او طاقت مطابق او په خپل ښځينه دائرې کې دننه په ګټه رسوونکو ټولنيزو منصوبو کې ونډه اخيستل.

**د دغو منصوبو او پلانونو نه ئې ځيني دا دي:**

دواخانې(ډسپنسريز)، د وړوکو ماشومانو روزنتونونه(Nurseries)، د ماشومانو ورزشي کلبونه، مدارس، د يتيمانو ساتنه او غريبو کورنيو د مرستي تنظيمول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر پلان لپاره یوه مخصوصه ضابطه جوړه شي، د هغه د چلولو او نګراني کولو لپاره د قانون نمبر ۴۹مجریه ۱۹۴۵م مطابق یو مېنجنګ کمېټۍ جوړیږي او "د عامو رفاهي امورو په وزارت" کي به هغه راجسترد کیږي.

**(ق)** د خویندو د حالاتو او کوښښونو په حدودو کي دننه د هغوی د لوري د اخوان المسلمین د ګوند په بنیادي اصلاحي پروګرام ګي مرسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خویندو کارکردګي

## ۱- د خوېندو اسلامي جامې:

کوم وخت چي د"خوېندو شعبې" په مصري ښځینه(نسواني) حلقې کي د اسلامي دعوت اشاعت پیل کړ نو ډېر مشکلات پیدا شول، چي علت ئې د غربي تمدن هغه طوفاني څپې وې چي مصري میرمني پکي بهیدلي وې، او همدغو څپو دوی د اسلام د صورت او حقیقت دواړو نه لري وړي وې، تر ټولو چي لومړنی کوم مشکل پیدا شو هغه د جامو او لباس مشکل وو، اسلام چي پر میرمن کوم وقار فرض ګرځولی دی د هغه له وجي د خوېندو لپاره د دې فکر کول ضروري وو، حالانکه په پیل کي خو دوی خپل سرونه په هغه څادر پټول چي "طرحه"[1] ورته ویل کېده، په پیل کي دا طرحه د تور رنګ وه چي د هغې له امله خوېندو ته ډېر څه د منلو نه وه، او د عامو میرمنو په لور د ګوتي نیوني باعث، ځکه د تور رنګ په اړه دا ویل کیږي چي دا د رنج و غم علامت دی، خویندو د دې مسئلې حل داسي ومونده چي د تور پر ځای ئې سپین رنګ انتخاب کړ، چي د ټولو لپاره د منلو وړ وو، او په دې اړه نو د اعتراض څه ګنجائش نه شو پاتي، دا لباس دومره عام شو چي په ټولو اسلامي ښځینه انجمنونو کي د معززو او لائقو مېرمنو د یو ستر شمېر لباس شو.

## ۲- د میرمنو دیني او علمي روزنه:

د خویندو شعبې چي تر ټولو لومړی کوم کار وکړ چي په هره محله کي د عامو خطباتو انتظام وو، د دې کار لپاره کله کوم واعظ او کله کوم اخواني مقرّر انتخابیږي، خو له تجربې نه معلومه شوې ده چي د دغو خطباتو کومه څرګنده ګټه نه وي، ځکه دلته د مختلفو استعدادونو میرمني راځي، چي د دوی په عمرونو او علمي صلاحیتونو کي خپل منځي مناسبت نه وي، او دا احساس کړه شوه چي د دوی په عمرونو او علمي صلاحیتونو کي خپل منځي مناسبت نه وي، وړاندیز وشو که چیري خویندي د عمر او علم په مناسبت په جلا جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعو کي ووېشل شي نو بیا به ئې ګټه زیاته وي، د دغو ټولو ټولګیو او مجموعو نه ئې "اُسُر" (کورنۍ)کېښودلې.

د خویندو د نظام کورنیو(اُسُر) د اخوان د کورنیو(اُسُر) د عام نظام پر طریقه جوړ دی چي د هغه لپاره یو مخصوص قانون دی، خو د خویندو سره یو بل مخصوص روحاني نظام هم دی چي یادونه ئې د خویندو په لومړنۍ رساله کي شوې ده، او دا د تعلیم یو بشپړ نظام دی، چي په هغه کي قرآن، حدیث، فقه، تفسیر او اخواني ادبیات شامل دي.

د ۱۹۴۵م نه دا نظام په عملي بڼه کي نافذ کړل شوی دی، او له تجربې نه ثابته شوې ده چي د تعلیمي اعتبار له مخي هم دا ډیر ګټور او کاري نظام دی، او د خپلمنځي میني او مرستي د پیدا کولو په لار کي هم کومکي او مرستندوی دی، نو ځکه هم دا د"مرستندوی نظام" په نوم یادول کیږي. د دې سره سره دا د مېرمنو لپاره هم غوره او د هغوی د مختلفو حالاتو په اړه مناسب دی، "شعبې" دا هم احساس کړه چي د دعوت کار چي چیري ډیر عملي کیږي هغه د تعلیم آفته مېرمنو طبقه ده، او چي په کومه اندازه د دوی تعلیمي کچه ټیټیږي په همهغه اندازه د دعوت هم اثر کمیږي، نو ځکه هم "شعبې" د مکاتبو ، کالجونو او پوهنتونونو محصلینو په لور ډیره پاملرنه وکړه، د دوی لپاره ئې د هري سه شنبې په ورځ د ۵پنځو نه نیولې تر ماښام پوري یوه اجتماع پیل کړه.

## ۳- د انجونو تربیت ګاه(روزنتون):

دا روزنتون د "منیره" په محل کي دبستان پر الفاضل سړک واقع دی، چي لس اطاقونه پکي شته، چي دا د دفتر، کتابي تعلیم، او د کورني اوامرو مثلاً جامې وینځلو، ډوډۍ پخولو، استري کولو او د نورو زده کړي کولو لپاره کارول کیږي، د کور شاته یو لوی غولی(صحن) دی، چي دلته نو ټولي انجوني خپلو درجو(کلاسونو) ته د تللو نه مخکي منظمي ودریږي.

## د روزنتون عملي نظام(لومړۍ دور):

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان د ګوند دغیر قانوني اعلانېدلو نه مخکي د دې روزنتون کاري نظام په لاندي ډول وو:

په پیل کي په روزنتون کي ۴۲انجوني انتخاب شوي وې، چي د دوی له جملي نه یوه هم تر ۱۵کلونو د پورته عمر نه وه، روزنتون د دوی ټولو د خوراک، جامو، هستوګني، تعلیمي او تهذیبي ساتني ذمه دار وو، په نورو الفاظو دا یوه اقامتي درسګاه وه، انجوني ئې په دوه ډلو ویشلي وې چي په هغه کي دوی ته د قرآن حکیم او دین زده کړه ورکول کېده، په دې پروګرام کي خیاطي، ګُل دوزي، لاسي کارونه، د اوبدلو زده کړه او په عملي بڼه کي د کور د چلولو تمرین او ځیني ورزشي مشقونه هم شامل ول، د دې نه علاوه روزنتون لاندیني خدمات ترسره کول:

**(الف)** د انجونو د کورنیو او نورو غریبو کورنیو مرسته، د جامو، د علاج د پیسو او نورو لارو چارو په ذریعه.

**(ب)** په روژه کي د غرباوو او محتاجو خلکو ته ډوډۍ ورکول.

**(ج)** د ژمي د موسم او مختلفو اخترونو په مناسبت په غریبو کورنیو کمپلي او جامي تقسیمول.

**(د)** د تقاریرو په واسطه په ټولنیزو او دیني تعلیمي فعالیتونو کي ونډه اخیستل.

**(س)** په کورونو کي د مېرمنو تر منځ سوله کول.

دا اضافي خدمات د روزنتون د اساسي کار نه علاوه ول چي دا دي، د انجونو یو داسي نسل وروزي چي بشپړه صحیح اسلامي روزنه ورپه برخه وي، وزارت معارف دغه روزنتون ته هیڅ ډول مالي مرسته نه ده ورکړې، ځکه هغوی دا شرط وراندي وضع کړی وو چي په دې روزنتون کي باید حدِاقل درې درجې پرانیستل شي.

**د روزنتون عملي نظام(دوهم دور):**

د اخوان د غیر قانوني اعلانېدلو نه وروسته د "ټولنیز اصلاحي کونسل" په راپور کي ویل شوي دي چي په مارچ ۱۹۴۹م کي هغوی دغه روزنتون په خپله ولکه کي راوستی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د "جمعية اخوات مسلمات" له لوري تأسيس شوی وو، د روزنتون اوسنی کاري نظام تر ډېره حده د سابق کاري نظام سره ورته والی لري، خو اوس د دې روزنتون دائره ډېره پراخه شوې ده، اوس دوی د ۱۲۴انجونو د روزنې خدمات سرته رسوي، خو تر اوسه لا هم دوی ته د ليليي انتظام ندی شو، هر يوه ئې مجبوراً خپل کور ته ځي، په همدې توګه دلته د وزارت معارف له لوري لس استاداني هم په دنده ګمارل شوي دي، مديره، سرمعلمه، ټولنيزه څارونکې او اوه ۷ استاداني، اوس دا روزنتون لاندېني خدمات ترسره کوي:

۱- د ابتدايي مکاتبو پر طرز د انجونو مدرسي تعليم.

۲- ښځينه حرفتي زده کړي، لکه خياطي، ګُل دوزي، استري کول او پرېمنځل.

۳- د محتاجو کورنيو ساتنه په خاصه توګه د لوستونکو انجونو د کورنيو، په مختلفو مناسبتونو کي د هغوی سره عملي، مالي او طبي او اخلاقي مرستي.

دا خبره په خاصه توګه د يادولو وړ ده چي د روزنتون کاري طريقه اوس په ډېرو صورتونو کي د ټولنيزو پروګرامونو حمايت کوي، لکه څرنګه چي دلته د ټولنيزو اومورو يو ناظر او څارونکی شته چي د کورنيو د ټولنيز د حالت څارنه کوي، په همدې توګه دلته اوس يوه داسي اداره هم شته چي په هغه کي د مختلفو ډولونو فني ورزشي او ثقافتي کړنو انتظام شته، "مسلمانو خويندو" چي تر اوسه پوري دغه روزنتون يو ځل بيا لاسته ندی راوړی او يا ئې داسي اراده نده کړې يو دليل ئې دا دی چي د دې روزنتون مصارف(۲۸۲۵مصري پاؤنډه) دي چي نږدې(۲۷۴۳۱روپۍ) دي، چي دا پيسې اوس د "ټولنيز اصلاحي انمجن" له لوري ورکول کيږي، دا دومره زياتي پيسې دي چي د خويندو نوې شعبه ئې لا هم بار نشي اوچتولای، که چيري د خوېندو مالي حالت برابر شي نو د يو ځل بيا ترلاسه کولو په اړه ئې اقدام کولای شي.

### ۴- د طبي معلوماتو خپرول:

د خوېندو په مرکز کي اوس د کورني طبي مرستي په وسائلو د علمي او عملي لېکچرونو انتظام شوی دی، په دې کي د ټپيانو او سوځول شويو اعضاوو پانسمان، انجکشن او نور ورته کارونه ترسره کول شامل دي، دا ډول لېکچرونه يا اسباق د هغو مېرمنو له لوري ورکول کيږي چي د دغو اوامرو ماهريني وي، اضافه تجربه او د کار د توسيع وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښندو شعبه هیله کوي چي یوه دواخانه(ډسپنسري) پرانیستل شي، چي وروسته بیا دا ډسپنسري هم پرانیستل شوه.

**۵- د مبلّغو خوښندو درس ګاه:**

دا شعبه د هغو خویندو نه ده چي د تحریک سره ښه آشنا شوي دي، دوی غوره شخصیات د دې کار لپاره انتخابوي، د دوی له جملې نه د هري يوې"اخت"(خور) دا کار دی چي هغه په عمومي درس کي د انتخاب شوي مقرّر د غير حاضرى په صورت کي د هغې فرائض سرته ورسوي، د اسکندريې د خوښندو مرکز د دې کار لپاره يوه د"مبلغاتو درسګاه" جوړه کړې ده چي پيل ئې په ۱۵تعليم آفته خوښندو سره شوی دی.

**۶- په ښځينه طبقه کي د اسلامي ژوند د نظريې خپرېدل:**

ددې لپاره رسائل او پمفلټ(وړوکي کتابچې او چاپ شوي کاغذونه) چاپول او هغه په مختلفو ښځينه وو حلقاتو کي وېشل، کورونو ته رسيدل، په مکاتبو او پوهنتونونو کي په طالباتو تقسيمول، د اسکندريې خوښندي پدې سلسله کي مصروفي دي، د دې غرض لپاره په کورنو کي ليدني کتني کوي، د همسايه کورنيو سره روابط ساتي، د هغوی جګړي حلوي، او په امکاني حدودو کي مرستي وړاندي کوي.

د اسکندريې د خویندو په يو راپور کي ويل شوي دي چي شعبه په دريو سترو پلانونو فکر کوي:

**۱- د دستکاری مرکز:** چي دلته به انجونو ته د جامو جوړول، ګُل دوزي او د نورو ضروري شيانو زده کړه ورکول کيږي چي يوه انجلۍ ضرورت ورته لري، ورسره ورسره د ديني تعليم او حميده اخلاقو روزنه هم ورکول کيږي.

**۲- ښځينه محتاجي کورنۍ:** چي د غريبو او يتيمو انجونو پرورش وکړي او د هغوی هر ډول ذمه داري په غاړه واخلي او اسلامي روزنه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- په مېرمنو کي د جهالت د ختمولو لپاره د يوې مدرسي جوړول:** د اسلامي خوېندو شعبه د ثقافت د خپرولو او اسلامي نظريې د تبليغ لپاره په ښځينه طبقه کي د هفته وارو درسونو انتظام کوي چي په لاندي ډول دي:

| شمېر | ورځ | وخت | ځای | کيفيت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شنبه | ۱۰ بجي سهار | د اخوان ډسپنسری، عباسيه محل، عبده پاشا څړک | |
| ۲ | شنبه | ۱۰ بجي سهار | ۶ – شارع رفعت، عباسيه | |
| ۳ | يکشنبه | ۳ بجي غرمه | سبيه | |
| ۴ | دوشنبه | ۳ بجي غرمه | ۸ – شارع بستان الفاضل-منيره | |
| ۵ | دوشنبه | ۱۰ بجي سهار | نادی الاخوان، بين السزايات | |
| ۶ | سه شنبه | ۱۰ بجي سهار | ۳- شارع الجنينيه | |
| ۷ | سه شنبه | ۳ بجي ماپښين | مسجد الخوان- عابدين | |
| ۸ | سه شنبه | ۳ بجي ماپښين | ۱۴- شارع سعيدي جابر- نوی مصر | |
| ۹ | چهارشنبه | ۱۰ بجي سهار | الجامع الجديد- سوق الامبابه | |
| ۱۰ | چهارشنبه | ۳ بجي ماپښين | عجوزه | د انجونو درس |
| ۱۱ | چهارشنبه | ۱۰ بجي سهار | منطقه الاخوان- جماليه | |
| ۱۲ | چهارشنبه | ۱۰ بجي سهار | شارع النصوح- زيتون | |
| ۱۳ | پنجشنبه | ۳ بجي ماپښين | منطقه الاخوان- حناط- شارع فيل الروضه | |
| ۱۴ | پنجشنبه | ۳ بجي ماپښين | ۱۰شارع شيخ بغال- سيده زيب | |
| ۱۵ | پنجشنبه | ۱۰ بجي سهار | شارع اجهوری- حدائق القبه | |
| ۱۶ | پنجشنبه | ۳ بجي ماپښين | شعبه جيزه- شارع ملکه | |
| ۱۷ | پنجشنبه | ۳ بجي ماپښين | عشيره ورب السعاده | |
| ۱۸ | جمعه | ۳ بجي ماپښين | شارع الميزان- سرای قبه | |

ددې ټولو نه دا اندازه لګولی شو چي اخوان د ټولني د آخري نيمايي نه لاپرواهي نده کړې بلکي د امکان تر حده ئې د هغه د ساتني او پرمختګ لاري چاري برابري کړيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## اقتصادي خدمات

اخوان چي په مصري ټولنه کي کوم اقتصادي خدمات ترسره کړيدي موږ هغه په دوو ځرګندو برخو وېشلای شو:

(۱) د ملي اقتصادياتو استحکام

(۲) د ادنی او متوسطو طبقو د پس اندازۍ لپاره همت افزايي

اوس موږ د هر يوه په اړه په تفصيل سره بيان کوو:

**(۱) د ملي اقتصادياتو استحکام:**

د اخوان په قانون کي د دې خبري صراحت شويدی چي د ملي شتمنی زياتول، د هغې ساتنه او آزادي هم په هغو اهدافو کي شامل دي، لکه ځرنګه چي د هر اخواني کار کوونکي لپاره په فرائضو کي شته چي حتماً به يو کار نه يو کار انتخابوي که څه هم دی هر څومره سرمايه دار وي!!! آزاد کار ته ترجيح ورکړي که څه هم وړوکی کار وي، او خپل علمي سويې ته د کتلو پرته دي د هغه په لور وړاندي شي، پر ده دا هم لازمه ده چي د عامي اسلامي شتمنۍ د اضافه کولو لپاره هڅي او خدمات ترسره کړي، د دې هدف لپاره دي د اسلامي صنعتونو او اسلامي اقتصادي فورمونو لپاره خلک را تشويق کړي چي د ده يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيسه هم غيراسلامي لاسونو ته ولاړه نشي، د خپل اسلامي هيواد نه علاوه د خارجي اشياوو د استعمال نه ډډه وکړي، اخوان يوازي پر همدې بسنه نده کړې بلکي دغو اوصولو ته ئي د بشپړي بڼي ورکولو هڅه کړېده، او د ملي سرمايې د استحکام په موخه دوی لاندېني شرکتونه جوړ کړيدي:

**١- د اسلامي معاملاتو شرکت:**

په ١٩٣٩م کي ئې د ٤٠٠٠زره مصري پاؤنډونو(تقريباً ٤٠٠٠٠روپۍ) په ارزښت او سرمايه باندي دا شرکت پرانيست، په ١٩٤٩م کي ئې ډير پرمختګ وکړ، اخوانيانو او غير اخوانيانو د دې شرکت حصې(Shares) په ډير شوق سره رانيولې او اوس ئې نو سرمايه لوړه شوه يعني تقريباً ٢٠٠٠٠شل زره مصري پاؤنډه چي (نږدې٢٦٥٠٠٠روپۍ) کيږي، دې شرکت د ټراسپورټ(Transport) سهولتونه پيل کړل، د اوسپني(Metal) يو ستر شرکت ئې جوړ کړ چي بشپړي چولې(Stoves) او د هغې مختلفي پرزې ئې جوړولې، دا ګازي چولې د هيواد په داخلي او خارجي بازازونو کي ډيري مشهوره شوې، بالخصوص په همسايه عربي هيوادونو کي.

**٢- د عربي کانونو(Mining) د کېندلو شرکت:**

دا په ١٩٤٧م کي د ٦٠٠٠٠زرو مصري پاؤنډو(تقريباً ٨ اته لکه روپۍ) په لګښت جوړ شو، په ١٩٤٨م کي دا په "اسلامي معاملاتي شرکت" کي مدغم کړل شو، تر څو په دواړو شرکتونو کي چي کوم ارتباط دی پر هغه اساس دا ټولي هڅي پر يوه محور سره را جمع کړل شي څکه د "معاملاتي شرکت" سره خپل موټرونه(Trucks) شته دي، د امريکايي موټرانو ايجنسي لري او د هر ډول ټائلز او مصنوعي فرشي ډبرو د جوړولو يو شرکت شته او هغه د "کانونو د کيندلو او غرونو د توړلو شرکت" کيندل شوي ډبري استعمالوي، د دې نه علاوه د دوی سره يو د اوسپني(Metal) او مسو(Copper) شرکت او يو د ماشينونو د جوړولو ورکشاپ شته دی.

د کانونو د کيندلو شرکت د مرمرو د ډبرو د کاټولو او پاکولو نوي مشينونه راغوښتي ول، خو دا ټول مشينونه چي بيه ئې زرګونه پاؤنډه ول د اخوان تر غير قانوني اعلانولو وروسته د نظارت په موده کي دباندي همداسي بې سرپرسته پاتي شول، او بيا په کمه کمه اندازه خرڅ کړل شول، چي له دې نه شرکت ته زبردست مالي تاوان ورسېدی، نن سبا د دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاوان د غوښتلو په موخه اخوان د حفاظتي او ساتونکو پولیسو(Watch Guards) په خلاف محکمې ته عارضه کړې ده.

### ۳- د اخوان المسلمين ټيکسټائل مل(Textile Mills):

دا شرکت په ۱۹۴۸م کي د ۸۰۰۰زرو پاؤنډو(تقريباً ۱۰۴۲۰۰ روپۍ) په لګښت جوړ کړل شو، چي په هغه کي بالفعل ۶۵۰۰پاؤنډه جمع شول او د اخوان تر غير قانوني ګرځولو پوري ئې دروازه پرانيستې وه، مل خپل کار پيل کړ چي هغه وخت ئې د مزدورانو شمېر ۶۰شپېته کسان وو، او دا ټول د مِل شريکان(Share Holders) ول، په دې مياشت کي مزدورانو ته ۲۷۰۰پاؤنډه(تقريباً ۳۵۸۰۰ روپۍ) مزدوري ورکول شوه، چي د اصلي راغونډې شوي سرمايې تقريباً د نيمي برخي برابر ده، د دې باوجود په دې مختصره وقفه کي د کمپنۍ خالصه ګټه ۱۴۰۰پاؤنډه(تقريباً ۱۸۵۵۰ روپۍ) وه، د دې مِل کار ناتراشلي ډبري، د بدني زينت سامان، او د ورېښمو جامې تيارول ول، او د دوی جوړي شوي جامې د نورو په مقابل کي ډيري ارزانه پلورل کېدلې، پر اخوان د پابندۍ په دوران کي حفاظتي پوليسو د مِل حساب کتاب وکړ او هغه ئې وپلوری، شرکت وروسته پر پوليسو دعوه وکړه چي محکمې د اخوان په حق کي فيصله وکړه.

### ۴- اسلامي پريس او ورځپاڼه:

په دې کي د هر يوه جلا جلا شرکت وو، د لومړي شرکت نوم"اخوان پرنټنګ پريس" چي ابتدائي سرمايه ئې ۷۰۰۰۰زره پاؤنډه(تقريباً ۹۲۷۵۰۰ روپۍ) وې او د دوهم شرکت نوم "اخوان صحافتي شرکت" ايښودل شوی وو، صحافتي شرکت فوراً د خپل کار په پيلولو سره په ۵ مئي ۱۹۴۶م کي د خپلي ورځپاڼي لومړنۍ ګڼه نشر کړه، خو"اخوان پرنټنګ پريس" خپل کار وروسته پيل کړ، ځکه دې شرکت له خارج نه چاپي ماشينونه راوغوښتل، په همدې موده کي پر اخوان پابندي ولګېده او ټول اخواني شرکتونه وتړل شوه.

### ۵- ټرېډنګ(Trading) او انجينرنګ شرکت(اسکندريه):

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د څوارلسو زرو پاؤنډو(تقريباً ۱۸۵۵۰۰ روپۍ) په لګښت جوړ شو، چي پر ۳۵۰۰ حصو(Shares) وېشل شوی وو، دا د تجارتي او انجينرنګ کار لپاره جوړ شوی وو.

**۷- ټرېډنګ ايجنسيز شرکت:**

دې شرکت په پيل کي د سويز په ښار کي خپل تجارتي پلان پيل کړ، او د هغه کار پرمختګ وکړ چي تجارت، باراوچتونکي(موټرونه) او اشتهاري فن(Advertising) پوري ورسېدل، او په قاهره کي ئې مرکز جوړ شو، د هيواد په لنډو او اوږدو کي ئې ښاخونه جوړ شول يعني په اسکندريه، پورټ سعيد، اسماعيليه، سويز، فيوم او بني سويف کي، نن سبا دا شرکت د يو مرستندويه اقتصادي پلان په جوړولو مصروف دی چي منشأ ئې دا ده چي اخوان ته د کورنيو ضروري شيانو او روزمره ضرورتونو سامان په کمه او ارزانه بيه برابر کړي.

**۷- د عربي اشتهاراتو شرکت:**

ياد شرکت په پوره پابندي سره يو کال مخکي جوړ شو، او کار ئې دا وو چي په اخبارونو کي اعلانات نشر کړي، د سينما په ذريعه اشتهارات ورکول، د اشتهاراتو په موخه فني تصويرونه جوړول، د کتابونو او مجلاتو سرورق(Titles)، لوحې او د دکانونو بېنرونه او نمائشي نمونې جوړول، د دې سره ئې د عربي هيوادونو يوه تجارتي ډائرېکټري چمتو کول پيل کړي ول چي پر اخوان د پابندي لګولو په وجه بشپړ نه شو او د هغه وروسته د شرکت ټول کاروبار وځنډېدی.

د دې نه علاوه نور په سلګونو اخواني شرکتونه دي چي د هيواد په ګوټ ګوټ کي خپاره شوي دي چي اخوان په شخصي بڼه کي د اشتراک او مرستو په مټ جوړ کړيدي چي شمېرل ئې ممکن ندي.

**ثانياً؛ په ادنی او منځنی طبقه کي د پس اندازۍ همت افزايي:**

څرنګه چي د ټولو شرکتونو يادونه پورته وشوه د هغو ټولو حصې(Shares) يو ستر تعداد په حصه دارو تقسيمېږي، د مصر د هغو ټولو شرکتونو برعکس چي ډيري حصې ئې په څو سرمايه دارو وېشل شوي وي او هغه د دغو شرکتونو مالکان وي، د دوی څرګند مثال "د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان ټېکسټائل مل" دی چي حقيقي جمع شوې سرمايه ئې ۶۵۰۰مصري پاؤنده(۸۶۱۲۵ روپۍ) وو او د حصه دارو(Share Holders) شمېر ئې ۵۵۰تنه وو، او په دوی کي ئې زياتره د همدې مِل مزدوران ول، چي ۲۵"قرشه"(تقريباً درې نيمي روپۍ) هره مياشت ورکول کېدې، په همدې ډول سره د شرکت د هغه طبقاتو لپاره د پس اندازۍ يوه ذريعه وه چي د هغه عادي نه ول، او دا د دوی لپاره د يو صنعتي سرمايې د قائمېدلو بريالۍ طريقه وه.

مونږ دلته هم دا واضح کول غواړو چي پس اندازي په اخوان المسلمين کي يو ضروري شی دی، د يو اخواني په فرائضو کي دي چي هغه د خپل آمدن نه د ناڅاپه ضرورتونو لپاره څه نا څه حتماً پس انداز کړي او د غير ضروري شيانو په استعمال کي اسراف ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

## طبي خدمات

د اخواني ځارندویه(Scout) د سرگرمیو او خدماتو په یادولو سره په تیرو پاڼو کي موږ د هغو هڅو په لور اشاره کړې ده چي ځارندویانو د وبائي امراضو په مهال او د صحت د ساتني په ارتباط د اوصولونو په خپرولو او عاملو کي وکړل، د اخواني د"اخوان المسلمين د مرستو او ټولنيزو خدماتو شبکي"د دې تحریک د غیر قانوني اعلانېدلو نه مخکي یوه طبي شعبه جوړه کړې وه چي په لائحه عمل کي ئې دا یادونه شوې وه چي د یادي شعبې اغراض و مقاصد په لاندي توگه دي:

**(الف)** د مطب، دواخانې او شفاخانې جوړول او هغوی تر خپل نظارت لاندي چلول.

**(ب)** د اخوان لپاره د صحت د بیمې لار هوارول.

**(ج)** د صحت د اوصولو نشرول او خپرول او د ټولو ممکنو وسائلو په مټ د عوامو د ټولو طبقاتو د صحت معیار اوچتول، د وبائي او ساري امراضو په کمولو کي د دولتي او عوامي انجمنونو او ټولنو سره مرستي او د خبرولو او خپرونو په مرسته د دوی سره کاري مرسته کول.

**(د)** د مصر او د مصر نه بهر د طبي مرستندویه انجمنونو سره روابط برابرول، د دې کار لپاره د هیئتونو او طبي مِشن او پلانونو لېږل، په کانفرانسونو کي شرکت کول، خپله ئې منعقد کول او د هغوی د نماینده گانو ښه راغلاست کول.

په کاري لائحه کي د دې خبري وضاحت شوی دی چي دا شعبه د سیاسي او گوندي مسائلو سره حتی چي په اخوان پوري مربوط وي هم څه اړیکه نه ساتي، د اخوان طبي شعبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵/نومبر/۱۹۴۴م کي پر ډاکټرانو باندي د مشتمل يو جماعت چي صدارت ئې احمد سليمان کاوه جوړ شو، او په همدې تاريخ د موصوف ډاکټر په مطب(کاري ځای) کي د يوې دواخانې افتتاح وشوه، د يوې مياشتي وروسته د دغه ډسپنسرۍ لپاره د اخوان د مرکز يوه حصه انتخاب کړل شوه او په دې توګه په بشپړه سرګرمی سره په ډسپنسري کي طبي کار پيل شو، تر داسي حده چي په ۱۹۴۵م کي د دې شعبې تر علاج لاندي د مريضانو شمېر ۲۱۸۷۷نفرو ته ورسېدی، په سپتمبر ۱۹۴۶م کي د دې لپاره په خير بن احمد سړک باندي چي د حلمية جديدة په محل کي واقع دی يو ستر اپارتمان ونيول شو او هلته ئې د دواوو يو لابراتوار هم جوړ کړ چي نګران او څارونکی ئې يو ماهر کېمسټ وټاکل شو، په دغه کال په ډسپنسري کي د علاج کوونکو شمېر ۳۹۰۳۹نفرو ته ورسېده او په ۱۹۴۷م کي ئې شمېر ۵۱۳۰۰شو.

د ۱۹۴۵م په پای کي د ډاکټر محمد المأمون حبيب په نګراني کي يوه دواخانه په طنطا(د شمالي مصر يو ستر ښار) کي جوړه شوه چي هلته د علاج کوونکو شمېر په ۱۹۴۶م کي پنځه زره او په ۱۹۴۷م کي اته زرو ته ورسېدی.

"طبي شعبې" د ډاکټر محمد نامي محلّاوي په ادارت کي په ۱۹۴۶م کي يوه دواخانه په شُبرا محل کي پرانيسته چي هلته په ۴۶ و ۱۹۴۷م کي د علاج کوونکو شمېر ۲۷زرو مريضانو ته ورسېده، وروسته شعبې دا پريکړه وکړه چي يوه شفاخانه به جوړه کړي چي هلته به د خارجي علاج کوونکو لپاره د اقامت او علاج دواړو انتظام شوی وي، په اپريل ۱۹۴۸م کي دا شفاخانه په عباسيه محل کي په عبده پاشا سړک باندي پرانيستل شوه، د دې شفاخانې تر علاج لاندي د مريضانو شمېر په ابتدائي مياشتو کي په لاندي ډول وو:

اپريل/۱۴۶۵ مئي/۲۶۷۳ جون/۲۹۰۸ جولائي/۲۲۸۷ په ۱۹۴۸م کي د "طبي شعبې" بوديجه ۲۳زره پاؤنډه ته ورسېدی چي تقريباً ۳۰۵۰۰۰ روپی کيږي.

زما د جناب ډاکټر محمد احمد سليمان سره ليدنه شوې ده، چي د اخوان د ټولو شفاخانو او دواخانو لوی نګران او څارونکی وو، نو موصوف ماته وويل چي په کومه شپه چي د اخوان د تنظيم د غير قانوني اعلانولو خبر خپور شو پوليسو په زور او ظلم باندي ۲۰ شل تنه داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مريضان د عباسيه د شفاخانې نه په زور وايستل چي عمليات(جراحي) شوي ول او تر اوسه ډاکټرانو نه ول رخصت کړي، شفاخانه تر لسو مياشتو پوري تړلې وه او لکه څرنګه چي حکومت اعلان کړی وو نو په لومړی ورځ نشوه ليلام بلکي لس مياشتي وروسته ئې شيان خرڅ کړل شول، او د ۱۴زرو پاؤنډو(تقريبا نوي زرو روپيو) سامان ئې په ۶۰۰ شپږ سوه پاؤنډه وبهوی، چي په دغو ۶۰۰وو پاؤنډونو د شفاخانې د لسو مياشتو کرايه هم اداء نشوه، ځکه د هغه ۷۵۰۰ پاؤنډه کرايه(۷۵پاؤنډه د مياشتي حساب) له مخي واجب الاداء وه.

د يو ځل بيا آزادېدلو وروسته چي کله اخوان خپل کار پيل کړ نو د شفاخانې او دواخانې د پرانيستلو په لور ئې ډېره پاملرنه وکړه، اوس په هر ولايت کي د اخوان يوه دواخانه حتماً موجوده وي، ما په پوره توګه و نه شمېرلای شوې ځکه اوسنی شمېره ئې نشته خو يوازي په قاهره او جيزه کي چي اخوان څومره ډسپنسرياني جوړي کړيدي چي ما وشمېرلې په لاندي ډول وې:

ليکوال دلته يوه تفصيلي نقشه وړاندي کړې ده، چي نقلول ئې موږ ضروري ونه بلل چي خلاصه ئې داسي ده:

په قاهره کي د اخواني مرکزي شفاخانې پرته هم نوري ۱۶ دواخانې موجودي دي، چي په يوه کي ئې د اقامتي علاج و معالجې انتظام هم شته دی، په دغو ډسپنسريانو کي ټولي دواوي موندل کيږي، او په زياترو کي د جراحي او عملياتو پوره انتظام شته، کلنی اوسط علاج ئې د ۱۴۷۱۰۰مريضانو دی. ژباړن

دا خبره د يادوني وړ ده چي په دغو دواخانو کي د ټولو خلکو لپاره د علاج او معالجې خدمات وړاندي کيږي، که هغه مصري وي او يا غير مصري، مسلمان وي او که غير مسلمان، لکه څرنګه چي ګمان کيږي چي دا به يوازي د اخوان د معالجې او علاج لپاره وي خو داسي بالکل نده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم باب

# تبصره، تنقید او وړاندیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم باب

## تبصره، تنقيد او وړانديزونه

په تيرو دوو بابونو کي مي وويل چي اخوان المسلمين څوک دي؟ او په مصري ټولنه کي د دوی سرګرمۍ څه دي؟ زه فکر کوم چي کوم نهضت چي کوم خدمات ترسره کوي هغه به په پوره وضاحت سره د لوستونکو مخي ته راغلي وي، په همدې توګه به دا اندازه هم ورته شوې وي چي په مستقبل او راتلونکي کي کوم مختلف اصلاحي خدمات سرته رسولی شي او د قوم او هيواد د ذمه دارانو د دوی په لور پاملرنه کول او د دوی لپاره ممکن وسائل چمتو کول څومره ضروري دي، تر څو د مطلوبي اصلاح د خوب تعبير وشي، نه دا چي مخالفت ئې وشي او په لار کي ئې ازغي وکرل شي، لکه د تيرو دولتونو په وخت کي چي وشول.

د تنظيم د پروګرام په اړه موږ هيڅ هم نه وايو، ځکه هغه ډير جامع او هراړخيز دی، هغه د مسلمان ورور د انفرادي روزني نه نيولې بيا تر نړيوالي مرستي پوري رسيږي، لکه څرنګه چي ئې په اساسي قانوم کي وضاحت شويدی، خو د اخوان پر عام داخلي دستورالعمل(اساسي قانون) او پر هغو نقاطو د نظر اچولو وروسته چي د دې کتاب د چمتو کولو په وخت ظاهر شوي دي موږ لاندي تجاويز او وړانديزونه ورته لرو:

**(۱)** د "شعبو" "منطقو" او "حلقاتو" د منتظمه مجالسو چي تر کومه ځايه د انتخاب تعلق دی، تر هغه به دا غوره وي چي اخوان دا هر څه په ښکاره وکړي، تر څو عامو عوامي حلقاتو ته دا پته ولګيږي چي اخواني تنظيمات د انتخابي شورايي تګلاري له مخي ترسره کيږي، او د دغو غلطو پروپاګندونو نفي به وشي چي وايي" اخوان د امريت، فسطائيت او نازيت لاروی دی". چي له دې وجي حريت او آزادي خوښوونکي خلک له "جماعة" نه نفرت پيل کړي، په دې کي څه حرج نشته چي د غيراخواني سيمه اييزو خلکو په حضور کي د انتخاب عمل(Prosses) تر سره شي، بلکي په دې تګلاري سره د هغو خلکو تعليمي خدمت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي، یعني هغه خلک د دې انتخاب او غوراوي د طریقې په لېدلو سره د غوره انتخاب طریقه زده کولای شي، او دا هم عیناً ممکن ده چې له دې لارې نور خلک په جماعة کې د شاملېدلو لپاره وهڅول شي، تر څو دوی ته هم د رأیي د ورکولو حق ورپه برخه شي، دا انساني فطرت دی چې هغه د نامعلوم شي سره زړه لګوي، د هغه وروسته به دا د اخوان وظیفه وي چې هغه د دوی دیني او ټولنیزه روزنه وکړي تر څو د هغه وروسته دوی مخلص اخوانیان شي.

**(۲)** د جماعة اخوان په داخلي دستورالعمل کې د مرکز لاندې د جوړو شویو شعبو په یادولو سره دا وضاحت شوی دی چې:

"د شعبې په مقاصدو کې دا هم دي چې دوی په خپلو حدودو کې دننه د دعوت د توسیع او پراخولو کار هم وکړي" حالانکه باید داسې شوي وای چې د توسیع او پراخولو کار یوازې د "دعوت د توسیع د شعبې" ترسره کولای، ځکه د دعوت پراخول په همدې شعبې پورې مربوط دي، نو ځکه هم باید دا کار په همدې شعبې پورې متعلق و اوسي.

د کار وېشلو پر اوصولو په عمل کولو سره به د اخوان د دعوت د توسیع نه علاوه دا شعبه د نورو شعبو تر منځ د اختلافاتو هغه خلیج هم بندولای شي چې په ظهور سره ئې د دعوت په وسېلو کې د اختلاف رامنځ ته کېدلو په سبب امکان شته، د هرې شعبې دا فریضه ده چې هغه خپله کاري دائره په هغو حدودو کې محصوره وساتي چې د هغې شعبې په اساسي قانون کې ئې صراحت شویدی چې مخته به ئې موږ وضاحت هم وکړو، "د توسیع دعوت د شعبې" یو اهل نماینده باید په هره شعبه کې موجود وي، د دغو نورو شعبو کار د توسیع دعوت په سلسله کې یوازې همدومره وي چې هغه د هرې ممکني ذریعې نه د مذکور نماینده مرسته وکړي، او د خپلو اجتماعاتو لپاره مناسب مواقع تنظیم کړای شي تر څو دوی په احسنه توګه خپل عملیات پر مخ یوسي چې هغه د دعوت د توسیع کار دی، د مرکز له لوري د ټولو شعبو د منظم کولو لپاره به دا تر ټولو ګټور ګام وي، چې د هغه وروسته به د ډېرو کمو کمو کوښښونو نه ډېر ګټور ګټور نتائج ترلاسه کړای شي.

**(۳)** په تېرو وړاندېزونو کې چې "د دعوتي توسیع د شعبې" په پروګرام کې موږ کومه اضافه کړې ده د هغه بوج د سپکولو لپاره ضروري ده چې د دعوتي شعبې په پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري متعلق د اساسي قانون په (۵۸) ماده کي د (د) فقره حذف کړای شي، چي په هغه کي ویل شوي دي چي د شعبې په اهدافو کي د "اخوان د جسماني، روحاني، قلمي او نورو روزنه په اسلامي اوصولو ترسره کول وي، په دې اړه د تقاریرو انتظام او پر ضروري موضوعاتو د رسائلو چمتو کول او د داسي ګټورو کتابونو د لوستلو په لور لارښوونه کول چي د دوی په اسلامي ثقافت کي اضافه وکړای شي او په اخواني حلقه کي ورزشي روح بیداره کړي، پر دوی واجب ده چي د هغوی د بدنونو د قوي کولو او د صحت د لا غوره کولو په موخه د مناسبو ورزشي لوبو انتظام وکړي". دا پوره فقره د دې شعبې د کاري دائرې نه بهر ده، پر دې شعبې دا یو ستر بوج دی ځکه هم باید د اخوان د جسماني تربیت کار"د بدني روزني او څارندویي د شعبو" پر اوږو وي، او د دوی د روحاني روزني کار"د کورنیو شعبې" په ذمه وي، تر کومه ځایه چي د دوی د علمي روزني کار دی نو په هغه کي د کورنیو شعبه(چي د کتابتونونو څارونکې هم ده) "د کاسبانو شعبه"(چي هلته د هر علم و فن ماهرین هم موجود دي) او د "طلبه وو شعبې" شریکي دي، په همدې ډول دا هم ضروري دي چي د کار وېش په داسي ډول سره وشي چي "د دعوت د توسیع د شعبې" کار د هغو فرائضو علاوه چي د کوم یادونه په دستور العمل کي شوې ده، په غیر اخواني حلقاتو کي د دعوت پر توسیع او تبلیغ منحصر وي، خو د دې سره سره "د کورنیو شعبه" د اخوان په صفونو کي د دعوت د حقائقو د څلولو او.په زړونو کي د ځایولو کار وکړي، دا طریقه د سلیم منطق بالکل مطابق ده چي د هري شعبې فرائض د هغوی د نومونو مطابق وي او هغه پر نورو شعبو مسلط نه وي.

**(۴)** د ټولنیزو خدماتو د نویو وسائلو نه کار اخیستل، ځکه د اخوان د مقصد په لار کي د ټولنیز خدمت میدان ته تر ټولو نږدې اصلاحي میدان دی، نو ځکه هم باید دوی د هغو تازه ترینو وسائلو او ذرائعو نه هم د نظر تر حده ګټه اوچته کړي، ضروري ده چي د اخوان سره د ټولنیزو امورو د ماهرینو یو جماعة وي چي د هغه نه دوی د مختلفو شعبو په تنظیمولو کي مرسته وکولای شي، بالخصوص"د فلاح او پرمختګ او ټولنیزو خدماتو شعبه"چي د ټولنیزو خدماتو د حقیقي میدانونو نه یو اهم میدان دی، که داسي وشول نو پورته یاده شوې شعبه د مصري ټولني ډېر ښکاره خدمات ترسره کولای شي، او پدې ډول به هغه د جماعة د تعارف ډېره معقوله ذریعه وي او د هغه اثرات لا پراخولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان په ادارتي تنظيم کي موږ د دې شعبې په اړه اشاره نده کړې، ځکه هغه د خپل انتظامي امورو له اعتباره د اخوان د تنظيم نه عليحده يوه مستقله اداره ده، او"د عامو امورو د رفاهي وزارت" تر څارني لاندي او رفاهي ادارو د قانون تابع دی.

"د ترقۍ او ټولنيز خدمت" د ادارو ډائرېکټر جنرل د هغوی مشر وي او سيده د "عام مرشد"(د اخوان عمومي مشر) تر نظارت او حکم لاندي وي..

**(۵)** "د کاسبانو شعبه" مرکز د خپلو اوسني خدماتو سره لانديني خدمات هم سرته رسولای شي:

**(الف) د عمرانياتو د ماهرينو ښاخ:** دي يو مشورتي دفتر پرانيزي چي په خالصو علمي بنيادونو اخوانيانو ته د واده نه مخکي او وروسته د ازدواجي مسائلو او اولاد د تربيت په اړه د مشکلاتو د حل لپاره مشورې ورکړای شي يا په همدې ډول نور ټولنيز مشکلات کېدای شي، په هغو کي دي د دوی لارښوونه وکړي.

او پدې کي څه حرج نشته چي د دغو مشورو دغه ښاخ دی فيس مقرر کړي، تر څو د دې نه وروسته د يو"نفسياتي مطب" د پرانيستلو لپاره سرمايه جمع کړای شي، زه باور لرم چي دا ډول کار به د اخوان لپاره ډېر ګټور وي او د دې لپاره "د عمرانياتو د ماهرينو ښاخ" او "د پرمختګ او ټولنيزو خدمانو شعبې" تر منځ کوم اختلاف او تعارض واقع نشي ځکه د دې ښاخ کارکردګي او خدمت ميدان به يوازي اخوان وي، د عمومي ټولنيزو خدماتو ميدان به په هر حال د "پرمختګ او ټولنيز خدماتو د شعبې" لپاره پاتي وي.

**(ب) د معلمينو ښاخ:** ضروري ده چي د خپل اوسني پروګرام سره سره دا "ښاخ" د "جمعي د مدارسو" په واسطه د روزل شويو مدرسينو د پيدا کولو او چمتو کولو لپاره روزنيز مرکز(ټريننګ مکتب[1]) پرانيزي، چي دوی به د فني او تربيتي اصولو مطابق روزل کيږي، چي د هغه وروسته دوی پر صالحو تربيتي بنيادونو د نوي نسل پر روزلو قادر شي او د دغو مدارسو روزنه او پالنه يوازي د هغو اخوانيانو په ذمه نه وي چي خالي وخت ولري، يا په هر صورت يو کار نه يو کار کول غواړي، خو د ماشومانو د روزني د خدماتو د ترسره کولو په سلسله کي د دوی کوم خاص لياقت او تياري نه وي ځکه د داسي نا اهلو خلکو تر نګرانۍ لاندي د ماشومانو په روزنه کي چي کوم خطرات وي هغه ظاهر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ج) د اقتصادياتو د ماهرينو ښاخ:** د خپلي شعبې په دفتر کي يو"د حسابونو دفتر" پرانيستلای شي، چي د اخواني شرکتونو او فرمونو يا د نورو اسلامي شرکتونو(چي پر اخوان باور کوي) د کلنيو حسابونو کار کولای شي، او په دې توګه دا دفتر ډېر خدمات سرته ورسولای شي، او ورسره د آډيټنګ په اړه د اخوان د "کاسبانو د شعبې" لپاره د درآمد ذريعه هم ثابتېدلای شي.

**(د) د زراعت د ماهرينو ښاخ:** د نموني په فارمونو کي (Model Farms) چي کومي نوي طريقې چليږي کار پيلولای شي، او د دغو فارمونو په ذريعه پر نويو طريقو باندي د ترسره کېدونکي زراعت په لور بزګران تشويق کولای شي، او دا مسلّمه خبره ده چي د عوامو پر افکارو او ميلاناتو تر اخوان زيات بل کوم تنظيم مؤثر نشي کېدلای، ځکه هغه د دوی لپاره بيګانه ندي، که چيري دا فارمونه برياللي شي نو د هغه وروسته زراعتي صنعتي شعبې قائمي کړي لکه شيدې او نورو نه تيار شوي شيان، دا طريقه به د زبردست اقتصادي طريقې ذريعه وي او په زرعي اقتصاد کي به يو عظيم انقلاب راپورته کړي چي د هغه نه به د ژوند معيار لا اوچت کړل شي، او د ملي اوسط په درآمد کي به اضافه وشي، دا خبره په خاصه توګه د يادولو وړ ده چي دغه ښاخ بايد په دې سلسله کي عملي طريقه اختيار کړي ځکه تر عملي مثالونو زيات مؤثر خصوصاً د کليو د خلکو لپاره بل هيڅ نشته.

**(۶)** شماريات(Statistics): اخوان په پيل کي د دې اړخ په اړه کومه پاملرنه نه وکړه، ډيره ممکن ده چي دوی قصداً همداسي کړي وي، ځکه د تيرو دولتونو سره د دوی هره ورځ جنجالونه ول چي د دوی ريکارډونو ته ئې د خپل زړونو مطابق ژباړي ورکولې، که په څه هم هغه د حقيقت نه ډيري لري وې، دا هم ممکن ده چي دا داخوان په دعوتي کار د سخت مشغوليت په وجه وي، او دغه کار يعني ريکارډ ته د اشاعت او دعوت په مقابل کي د دوی د دوهمي درجې شی بللي وي، خو د "اعداد و شمېر" د جماعة په تعارف کي ډير ستر خدمت سرته رسولای شي، خصوصاً په داسي صورتحال ک چي کله مادي منطق پر اذهانو مسلط شوي دي، او د هندسي ژبه ئي په خبرو اترو کي ډير مؤثره او د رأيي اوصولو پر قوت باندي دلالت کوونکي بللې ده، "جماعة" بالفعل په قوم باندي ډير خدمات ترسره کوي، خو پر هغه نه محسوسيږي، ځکه اخوان د دوی پر شمارياتو او بيا د عوامو په مخکي د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسابونو د وړاندي کولو په لور پاملرنه نه کوي، او په دې توګه ئې ډېر ثمرات ضايع کيږي، او دا ثمرات تر هغه پوري په پوره توګه نشي تر لاسه کېدلای تر کومه دا خدمات عام منظر ته نه راوړل شي، ځکه همدا اعداد و شمار دي چي د هغو پرته دا په ټوله مصري ټولنه کي ورک پاتي کيږي او هيڅوک به ئې حتی محسوس هم نکړای شي.

په تيرو ورځو کي د اخوان په"مرکز" کي د "اعداد و شمېر يوه کميټۍ" جوړه کړېده، خو د ضرورت مطابق د کارکوونکو نه موجوديت د دې باعث شوی چي دوی تر اوسه په دغه کار کي ندي بريالي شوي.

**(۷)** د جماعة مشران ذمه داران لکه"عام مرشد"، نائب مرشد، سيکرټري جنرل بايد د بشپړ دعوت د کار لپاره فارغ وي، د دوی لپاره ډېره ضروري ده چي دوی يوازي د دعوت کار پر مخ يوسي او د بل کوم کار مشغوليت دوی مصروف نکړای شي، اوس دا ذمه داري د جماعة ده چي هغه د دوی لپاره د مناسب او معقول ګذر اوقات(ټائم ټېبل) انتظام وکړي، تر څو دوی د دعوت لپاره بالکل فارغ وي، ځکه اوس د دعوت د خپرېدلو وروسته د دې ډېر ضرورت شته، چي د دغو يادو شويو اشخاصو نه هر يو د بشپړ دعوت لپاره فارغ شي، که اوسنی"مرشد" د دې کار لپاره فارغ کړل شي، او ضرورت دی چي د مشر نائب او جنرل سيکرټري هم داسي فارغ کړل شي، جماعة ته ښايي چي هغه په دوی پوري د مربوطو درندو ذمه داريو بوج خپله اوچت کړي.

**(۸)** په "مرکز" کي د کارکوونکو کمبود دی، د يو عظيم ترين ګوند مرکز تر اوسه بالعموم د رضا کارانو په ذريعه خپل کار چلوي، چي د خپل ماښامني آرام له وخته يوڅو ساعتونه وباسي او دا ظاهر ده چي پدې ډول سره يو خوندور کار چي د اخوان د مرکز پر ذمه دی په پوره توګه نشي سرته رسېدلای.

**(۹)** د ملت سره د ارتباط پيدا کولو وسائل بشپړ ندي، اخوان پدې اړه يوازي پر اخبارونو او اجتماعاتو بسنه کړېده، او د اخوان صحافت د دې مهم رول د اداء کولو نه قاصر او کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریالی پاتي شویدی، چي د هري هغي ژوندانه نظریې لپاره ضروري دی چي په کومه ټولنه بلکي پر ټولي اسلامي ټولني خپرېدل غواړي، د عمومي رابطې مؤثر ترین وسائل به دا وي:

اخبارات، پمفلټ، نشریات(رېډیو)، کانفرانسونه، ډرامې، سینما او په مختلفو لارو چارو په ذریعه د خپلو سرګرمیو تشهیر، ضروري دی چي اخوان په دې اړه ډېره توجه وساتي، او په متعینه توګه دا د "توسیع دعوت د شعبې" فریضه ده چي هغه په دې اړه غور و فکر وکړي، ځکه دا ئې اساسي وظیفه ده او د هغې د کار اصل میدان، د نورو شعبو فریضه ده چي هغه به خپلو سرګرمیو کي مفصل راپورونه او اعداد و شمېر وړاندي کړي.

**(۱۰)** راحت او لطف اندوزي(Recreation): د افرادو د ټولنیز شعور په سوځولو او هغوی د ذلت او ګمنامۍ له غار نه د راویستلو او د ټولنیز ژوند نه د مائوس کولو لپاره د راحت ډېر اهمیت دی، اخوان ته اوس د دې اړخ د اهمیت اندازه شوې ده، لکه څرنګه چي دوی د سمندر پر ساحلونو باندي د میلې لپاره کمپونه جوړ کړیدي، خو هغه تر اوسه ناکافي دي او ورسره باید په دغو وړوکو کمپونو کي د راحت او آرام ته مناسب ځای ورکول شي، ځکه دا کمپونه واقعتاً یوازي د تربیتي کمپونو حیثیت لري، نو ځکه هم پدې اړه د ډېري پاملرني ضرورت شته، چي دا به د اخوان د نفسیاتي صحت یو اهم عامل وي.

**(۱۱)** د غیر اخواني افرادو د صلاحیتونو نه استفاده: څه شک نشته چي په اخوان کي د امت ټول طبقات او د هغوی مختلف علمي او حرفتي طبقاتو ټول نمائنده ګان موجود دي، خو په هر حال د دغو ټولو اقسامو موجوده صلاحیتونه او هغه چي د دعوت په غېږ کي روزل شوي دي د یو داسي زبردست جماعة درووند او قیمتي بار د اوچتولو نه قاصر دي، او په دې کي څه حرج نشته چي د ځینی معروف اهل شخصیتونه اوچت کړای شي، که څه هم په هغوی کي ټول اخواني شرائط موجود نه وي او یا د ضرورت غوښتنه وي نو د پیسو په بدل کي دي کار تري واخیستل شي. "الله تعالی جل جلاله د دې دین مرسته د یو فاجر سړي په ذریعه هم کولای شي."

**(۱۲)** استاد حسن البنأ رحمه الله چي کوم څه لیکلي دي هغه ټول په یو جلد کي را غونډ کړای شي او اوسني وړوکي وړوکي متفرقي رسالې کافي ونه بلل شي، تر څو طالبعلمان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محقیقینو لپاره معلومات حاصلول آسان وي، او په متعددو رسائلو کي هغوی ونه لټول شي، چي دا ټول اوس یو ځای پیدا کول مشکل دي، ځکه اکثراً ځیني رسالي ختمي شوي وي او بیا چاپ ته ئي ضرورت وي[1]، دا شی د موصوف مذکور او د هغه د دعوت دواړو په اړه د تصنیف و تألیف کار آسانوي.

**(۱۳)** ضرورت دی چي د لوړي درجې د معاصرو اخوانیانو نه څوک د دعوت د مفصل تاریخ لیکلو عزم وکړي، اخوان د دې اړخ په اړه د ډېر غفلت نه کار اخیستی دی، حال دا چي دا یو ډېر مهم کار دی، زه د دعوت د تاریخ د لیکلو په وخت د ډېرو مشکلاتو سره مخ شوم او ډېري میاشتي مي د مرحوم حسن البنأ رحمه الله د ډائرئ په تلاش کي ضایع کړې، چي تر اوسه په مصر کي نده چاپ شوې، البته په سوریه کي چاپ شوې ده چي مصر ته ئې یوازي د ګوتو په شمېر یو څو نسخې رارسېدلي دي، په هر صورت دا یوه واقعي کمي ده چي په دې اړه باید فوراً پاملرنه وشي.

یادونه: [1]دا ئې تصنیفي کار کړیدی.ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب له متن څخه

هر څوک چي د اخوان المسلمين د تحريک په څېلو کي د امريکا او جمال عبدالناصر تر منځ په تعاون او مرسته کي شک لري هغه دي د امريکا د استخباراتي شبکې(CIA) د مؤسس "مائلز کوپلېنډMiles Coopland " کتاب(The Game of Nations) "د قومونو لوبه" مطالعه کړي، چي تفصيلاً پکي ليکل شوي چي څرنګه امريکا په سوريه کي په ۱۹۴۹م کي د فوځي انقلابونو سلسله پيل کړه، او دغه ستر امريکايي جاسوس په دغو لوبو کي کوم کردار ولوبوه، او بيا ده څرنګه جمال عبدالناصر او د هغه د ځينو نږدې ملګرو سره تعلقات پيدا کړل او په مصري فوځي انقلاب کي ئي څومره ونډه او رول درلود، دی جمال عبدالناصر ته څومره نږدې وو، دا کتاب د ۶۰شپيته ايمي لسيزي په پيل کي چاپ شوی وو، مصر، سوريې او عراق ته ددغه کتاب راوړل سخت منع وو، په عربي هم دغه کتاب د "لعبة الامم" په نوم وژباړل شو او بيروت چاپ کړ.



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**